

# بدلون

لیکواله: میشل اوباما

Ketabton.com

ژباړن: عبیدالله سدید

(c) ketabton.com: The Digital Library

# BECOMING

## Michelle Obama

# بدلون

لیکواله: میشل اوباما

ژباړن: عبیدالله سدید

ډیزاین: ع. سدید

د آنلاین خپرېدو کال: ۱۴۰۱ هـ ش/ ۲۰۲۲ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

**د ۲۰۱۷ کال مارچ**

**په ماشومتوب کې مې ساده هیلې لرلې. یوه هیله مې دا وه چې یو سپی ولرم او بله هیله مې دا وه چې کورنۍ مې دوه پوړیزه بنګله ولري. د پلار مې له هغه موټر سره جوړه وه چې دوې دروازې یې درلودې، خو زما نه خوښېده، ځکه ما غوښتل یو بس ولرو چې څلور دروازې ولري. هغه مهال به چې هر چا رانه پوښتل چې په راتلونکي کې غواړې څه شی شې، نو ما به ویل چې غواړم د ماشومانو ډاکټره شم. هر چا به چې دا ځواب واورېده نو راته کړل به یې چې ولې؟ ما به وویل، ځکه دا مې ډېر خوښېږي چې شاوخوا کې مې ماشومان وي. ډېر ژر مې دې ته پام شو چې د لویانو هم دا ځواب خوښېده.**

**کله به چې هغوی دا خبرې واورېدلې، نو ویل به یې: «اوه، غواړې ډاکټره شې! څومره ښه!»**

**هغه مهال مې خپل وېښته د لکۍ په شان تړل، خپل مشر ورور ته به مې د یو کار د کولو او نه کولو امر کولو او هغه ته به مې ویل چې داسې وکړه او هغسې وکړه یعنې دی به مې کنټرولولو. تل به مې په ښوونځي کې ښې نومرې ګټلې. په ماشومتوب کې ډېره جاه‌طلبه او بلندپروازه وم، خو په سمه توګه نه پوهېدم چې موخه مې څه ده او غواړم څه. اوس دا فکر کوم چې دا پوښتنه «کله چې لوی شوې نو څه کاره کېږې؟» چې لویان یې له ماشومانو کوي، یوه ډېره معنا لرونکې پوښتنه ده. داسې ښکاري، ټول انسانان چې یوه ځانګړې سن ته ورسېږي، په لویانو کې شمېرل کېږي او بیا داسې څه نشته چې وغواړي تر لاسه یې کړي.**

**زه تر اوسه پورې په خپل ټول ژوند کې وکیله وم، د یو روغتون مرستیاله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رییسه وم، همدارنگه د یوې خپلواکې موسسې مدیره وم چې له ځوانانو سره یې مرسته کوله او هغوی یې هڅول چې په خپل ژوند کې داسې یوه حُرفه پیل کړي چې موخه ولري او باثباته وي. همدارنگه په پوهنتون کې د کارگرې طبقې یوه تور پوستې محصله وم. زموږ په پوهنتون کې زیاتره محصلین سپین پوستي وو، یعنې ما په داسې یوه پوهنتون کې درس ویلی چې گواکي یوازې زه پکې تور پوستې وم. همدا ده چې یوازینۍ تور پوستې یم چې هر ډول وضعیت مې تجربه کړی. ناوې وم، مضطربه او پراسترسه مېله وم، رنځېدلې او خواشینې نجلۍ وم او تر دې وروستیو پورې د امریکې د متحده ایالتونو لومړۍ مېرمن وم چې که څه هم یوه رسمي دنده نه شمېرل کېږي، خو بیا هم زه یې له داسې یوه حالت سره مخ کړم چې حتا زما په خوا او خاطر کې هم نه راته. زه یې له چالشونو سره مخامخ کړم، زه یې وټکولم او زما غرور یې له خاورو سره خاورې کړ. بیا یې پورته کړم او بیا یې په ځمکه راوویشتم. کله کله به یې دا بلاوې همهاله راباندې راوستلې. دا دی دا اوس اوس هغه پېښې هضموم او درکوم چې په تېرو کلونو کې مې تجربه کړې. یعنې د ۲۰۰٦ کال د باراک د ولسمشریزو ټاکنو له نوماندۍ نیولې د سږ کال د ژمي تر هغه سهاره پورې چې له مېلانیا ټرمپ سره په یوه لېموزین کې سپاره شوو او له هغې سره یو ځای مو د هغې د مېړه د معرفۍ په مراسمو کې گډون وکړ. دا له ډېرو لوړو او ژورو یو ډک سفر و!

زه د مرستو د راټولولو په خاطر د نیکو افرادو کورونو ته تللې یم چې د هنري موزیمونو په شان وو او د حمامونو تیونه یې له گرانبیه ډبرو جوړ شوي وو. له بل پلوه مې داسې کورنۍ هم لیدلې چې هر څه یې کاترینا توپان کې له لاسه ورکړل، د دوی اوښکې بهېدلې، خواشینې وو او دا هڅه یې کوله چې یو یخچال او د پخلي لپاره یو منقل پیدا کړي چې خپل ژوند ته ادامه ورکړي. له داسې کسانو سره مخ شوې یم چې دوه مخي وو او سطحي فکرونه یې درلودل. له بل پلوه له ښوونکو، د پوځیانو له مېرمنو او داسې زیاتو نورو کسانو سره آشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې یم چې ډېره قوي روحیه یې درلوده او زه ورته حیرانه وم. د نړۍ په بېلابېلو برخو کې مې له داسې ماشومانو سره ملاقات شوی چې زه یې خوشحاله کړې یم او زما زړه یې هیله‌من کړی دی. کوم ماشومان به چې راسره وو، له هغوی سره به مې مرسته کوله چې په یوه بڼ کې ګلان او بوټي وکرو، په دې حالت کې به زما له یاده ووتل چې زه څه یم، خپل مقام او منزلت به مې هېر شو او دوی به زما صمیمي ملګري شول.

له ټولنیزو رسنیو سره مې جوړه نه وه، خو زړه نازړه پکې ښکېل شوم. کله مې چې له ټولنیزو رسنیو سره سرو کار شو نو ومې لیدل چې ځینو به نړیوالو ته د نړۍ د ځواکمنې مېرمنې په توګه ورپېژندلم. له بل پلوه ځینو نورو بیا د «قهرجنې تور پوستې مېرمنې» په نامه یادولم او ماته یې سپکاوی کوولو. زړه مې غوښتل چې له بدغوښتونکو وپوښتم چې د «قهرجنې تور پوستې مېرمنې» د اصطلاح کومه برخه د دوی لپاره ډېر اهمیت لري: زما ښځمني، زما توروالی او که زما قهرجن‌والی؟ د داسې کسانو په څنګ کې درېدلې یم او له هغوی سره مې انځور اخیستی چې په دولتي تلویزیون کې یې زما په مېړه پسې بدې خبرې کړې، مګر له دې سره سره بیا هم دوی غوښتل چې زموږ یو چوکاټ شوی انځور له ځان سره ولري او په خپل کور کې یې کېږدي. د سرېښو ډنډ یعنې انټرنټ کې زما په اړه بېلابېلې پوښتنې رامنځته شوې، لکه زه ښځینه یم یا نارینه. حتا د امریکا د کانګرس یوه استازي زما په کوناټیو باندې هم ریشخند وهلی و. کله به چې ما دا مطالب ولوستل نو احساسات به مې زیانمن شول، زړه به مې بد شو، په غوسه به شوم، مګر هڅه مې کوله چې دې خبرو او چلنونو ته وخاندم چې له سپکاوي او ریشخند څخه ډک وو. تر اوسه د راتلونکي ژوند او امریکا په اړه داسې زیات شیان دي چې زه یې په اړه هېڅ نه پوهېږم. مګر خپل ځان ښه پېژنم. زما پلار فریزر ماته رازده کړي چې زیاته هڅه وکړم، مسکۍ واوسم او په خپلو ژمنو ودرېږم. زما مور ماریان، ماته راښودلي چې څنګه د ځان په اړه فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم او څنګه له خپلو خبرو کار واخلم. موږ د شیکاګو په جنوبي برخه کې یو کوچنی اپارتمان درلود. دوی په دې کوچني اپارتمان کې له ما سره مرسته کړې چې په خپل ژوند، د خپلې کورنۍ په ژوند او د خپل هېواد د خلکو په ژوند کې معنوي ارزښتونه ووینم. حتا په داسې وختونو کې چې ژوند ښکلی یا بشپړ نه وي. حتا په داسې شېبو کې چې تر هغې ډېرې واقعي وي چې ته یې غواړې. د هر چا د ژوند کیسه هغه څه ده چې دی یې لري، تل ورسره پاتې کېږي او هماغه څه ده چې دی یې خاوند دی.

ما اته کاله په سپینه ماڼۍ کې ژوند کړی، دا داسې ځای و چې زیاتې زینې یې درلودې او ما نشوای کولی چې ویې شمېرم. له دې سره سره یې څو لفتونه او د بولینګ یو سالون هم درلودل. زه په داسې یوه کټ ویدېدم چې روجایي او کمپلې یې له ایټالیایي کتانه جوړ شوي وو. زموږ خواړه د څو نړیوالو اشپزانو له خوا چمتو کېدل او بیا به د داسې حرفه یي کسانو له خوا په میز اېښودل کېدل چې د پینځو ستورو په رستورانونو کې یې کار کړی و. امنیتي چارواکي د کور شاوخوا ګرځېدل چې غلې او بې تفاوته څېرې یې درلودې او وسلې او مخابرې ورسره وې. دوی زیاته هڅه کوله چې زموږ کورني ژوند ته مزاحمت ونه کړي. موږ په تدریج سره د خپل کور له دې عجیبو شیانو او همدارنګه د نورو له دایمي او غلي شتون سره روږدي شوو.

سپینه ماڼۍ داسې یو ځای دی چې زموږ لور یې په سالونونو کې لوبې کولې او په هغه ونو کې به ختلې چې په جنوبي انګړ کې وې. دا داسې ځای و چې باراک به د شپې تر ډېره وخته پکې ویښ پاتې کېده ګزارشونه به یې مطالعه کول او د خپلو ویناوو مسودې به یې لیکلې. داسې ځای چې کله کله به زموږ سپي ساني په ځینو قالینو متیازې کولې. زه به ځینې وخت په تخت‌بام کې درېدلم او دا به مې لیدل چې سیالانیان راځي او په خپلو مبایلونو له سپینې ماڼۍ سره خپل انځورونه اخلي. دوی د وسپنیزو پنجرو له شا څخه راکتل او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅه یې کوله چې په دې پوه شي چې په دې ماڼۍ کې څه تېرېږي. کله به د امنیتي مسایلو په خاطر داسې ورځې راغلې چې ما حق نه لاره کړکۍ پرانیزم څو خونې ته پاکه او تازه هوا راشي. په دې خاطر ما د زندۍ کېدلو احساس کولو. مگر داسې ورځې هم وې چې په انګړ کې به مې د ماګنولیا ګلونه، د حکومتي چارواکو تګ راتګ او د پوځي ښه راغلاست برم او پرتم لیدل او زه به په حیرانۍ کې ډوبه وم. کله کله به ورځې، اونۍ او میاشتې هم له سیاسته لرې کېدم او کله به د دې هېواد او د دې هېواد د خلکو ښکلا ته داسې حیرانه شوم چې ویلی یې نشم.

بیا نو یوه ورځ هر څه پایته ورسېدل. که څه هم پوهېدم چې دا دي مورړ پای ته نژدې کېږو او وروستۍ اونۍ هم په احساساتي مخه‌ښو تېرې شوې، مگر بیا هم په رښتینې توګه نشم کولای چې وروستۍ ورځه رایاده کړم. لاس په سپېڅلي کتاب اېښودل کېږي او لوړه تکرارېږي. د یوه ولسمشر توکي له ماڼۍ څخه ایستل کېږي او د بل ولسمشر توکي دننه راوړل کېږي. د ماڼۍ خوب‌خونو کې نوي سرونه په بالښتونو اېښودل کېږي او نوې هیلې او رویاوې خپله ښه مومي. کله چې دا هر څه پای ته رسېږي او د ورستي ځل لپاره له یوې نوموتې ماڼۍ څخه راوزې، نو ځان په زرهاوو لارو کې سرګردانه وینې او باید هڅه وکړې چې بیا خپله لار پیدا کړې.

په دې اساس اجازه راکړئ چې په هغو پېښو یې پیل کړم چې له ماڼۍ څخه له وتلو څه مهال وړاندې پېښې شوې. مورړ داسې کور ته ولېږدېدو چې له سرو خښتو جوړ شوی و. زمورړ د پخواني کور او اوسني کور ترمنځ شاوخوا دوه مایله واټن و. دا کور په یو غلي او ګوښه ځای کې و. په بشپړه توګه په کور کې دېره شوي نه وو. د سالون مېزونه او کوچونه مو داسې برابر کړل لکه په سپینه ماڼۍ کې مو چې برابر کړي وو. دې کور کې مو هغه توکي او یادګارونه درلودل چې مورړ ته یې تېرې پېښې رایادولې او دا یې رایادول چې ریښتا هم داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې پر موږ تېرې شوې: د ډېوېډ پېډګالي (کمپ) کورني انځورونه، په لاسو جوړې شوې ګلدانۍ چې سور پوستو زده کوونکو ماته د ډالۍ په توګه راکړې وې او هغه کتاب چې نېلسون منډېلا لاسلیک کړی و. هغه شپه له ما پرته بل څوک په کور کې نه وو. باراک چېرته په سفر تللی و. زما لور ساشا له خپلو ملګرو سره بهر ته تللې وه. زما بلې لور مالیا په نیویارک کې ژوند او کار کولو او پوهنتون ته تر ورتللو وړاندې دوره یې تېروله. یوازې زه وم او زموږ دوه سپې. کور کې داسې چوپه چوپتیا وه چې په تېرو اتو کلونو کې ما د هغې په شان هېڅکله نه وه لیدلې.

وږې وم. له سپیانو سره یو ځای د خپل خوب له خونې راووتم. له زینو رابښکته شوم. پخلنځي ته ننوتم، یخچال مې راخلاص کړ، دوې ټوټې ډوډۍ مې ترې راواخیستې او د ډوډۍ ګرمولو ماشین کې مې کېښودې. د الماری یوه پله مې راخلاصه کړه او یو قاب مې ترې راویست. ښایي چې ډېره عجیبه راته ښکارېده، مګر کله مې چې د پخلنځي له الماری قاب راواخیست، څوک مې په څنګ کې هم نه و چې ټینګار وکړي چې هغه راته راواخله، د ډوډۍ ګرمولو ماشین خوا کې یوازې ولاړه وم او دا مې لیدل چې ډوډۍ قهویي کېږي. ما دا احساسول چې خپل پخواني ژوند ته ورنژدې شوې یم. یا ښایي چې دا زما نوی ژوند و چې ماته یې مخ رااړولو.

بلاخره دا چې کله ډوډۍ ګرمه شوه، لږ خوندوره پوڅه (پنیر) مې د هغې منځ کې ومومښله. بیا مې د ډوډۍ او پوڅې سندیویچ په مایکروېو کې کېښود چې پنیر په بشپړه توګه ویلې شي. بیا مې قاب راواخیست، د کور انګړ ته لاړم او د اصلي وره د زینو په مخ کې کېناستم. لمر ځلېدلو، لوېدلی نه و، کله مې چې په ډبرینو زینو پښې کېښودې نو د هغې ګرموالی مې حس کړو. لنډ بلوز مې اغوستی و. د ژمي ساړه پایته رسېدلي وو. د کور د شاتیني انګړ په دېوالونو کې د زنبق ګلونو بوټي راځړېدلي وو، ګلان پکې رازرغون وو او ښکلي ځلېدل. د هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library




له وړمه دا احساسېدل چې پسرلی دی. د یوه سپي غپا له لرې اورېدل کېده. زما سپیانو غوږونه بوخ نیولي و او داسې ښکارېدل چې د څو شپېو لپاره ګنګس دي. دا غږونه د دوی لپاره ناڅاپي وو، ځکه زموږ شاوخوا کورونه نه وو او ګاونډیان مو نه درلودل، نو ښکاره ده چې د سپیانو غږونه هم نه اورېدل کېدل. هغوی هم دلته نوی ژوند پیل کړی و. کله چې سپیان د انګړ بلې خوا ته لاړل، ما هم سندیویچ راواخیست او په تیاره کې مې د هغې په خوړلو پیل وکړ. د یوازیتوب خوند مې څکلو. نور مې د وسلوالو امنیتي چارواکو په اړه فکر نه کولو چې معمولاً به د موږ په سل متری کې د ماښې په ګراج کې کېناستل. یا په دې مې هم فکر نه کولو چې اوس هم نشم کولای چې له ساتونکي پرته سړکونو ته لاړه شم. حتا اوسنی ولسمشر او یا پخوانی ولسمشر مې هم له خپل ذهنه وایستل.

د دې په ځای مې په دې فکر وکړ چې څو دقیقې وروسته کور ته دننه شم، خپل قاب د لوښو مینځلو په ځای کې ومینځم، د خپلې خونې د خوب کټ ته لاړه شم او ښایي چې یوه کړکۍ پرانیزم چې د پسرلي هوا تنفس کړم. دا ټول څومره ښه وو. همدارنګه په دې موضوع مې فکر وکړ چې د کور داخلي چوپتیا ماته دا موکه راکړې چې د لومړي ځل لپاره په فکرونو کې ډوبه شم. کله چې لومړۍ مېرمن وم، نو هره اونۍ ډېره ژر تېرېده او زه به بوخته وم. یو چا باید ماته یادونه کړې وای چې اونۍ اصلاً څنګه پیل شوې وه. مګر اوس مې د وخت تېرېدلو په اړه بل شان احساس درلود. زما لوڼې چې سپینې ماڼۍ ته ننوتلې نو له نانځکو، څادر او د ټایګر په نامه د لوبو له یوه پړانګ سره دننه شوې، خو اوس پېغلې وې او هرې یوې ځانته خپله برنامه او خپل کار درلود. مېړه مې هم یوه برنامه جوړوله چې له سپینې ماڼۍ څخه وروسته څنګه ژوند وکړي، آرامه ساه وباسي او د هغو کلونو ستړیا له ځان لرې کړي. زه هم په خپل نوي کور کې ناسته یم. ډېر څه شته چې غواړم ویې وایم او ویې لیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱

په ماشومتوب کې مې زیاتره وخت د موسیقي غړونه اورېدل چې ډېر بد او زړه بوږنوونکي وو. ځکه زموږ په لاندې پوړ کې د موسیقۍ زده کړې کېدلې او ما به د دوی غږونه د کوټې له غولي اورېدل. د روبي ترورۍ د شاګردانو ډنګ ډنګ به و چې په لاندې پوړ کې به کېناستل او د موسیقۍ نټونه به یې په ډېره هڅه او زیار زده کول. کورنۍ مې د شیکاګو په جنوبي برخه کې اوسېدله. موږ په داسې کور کې اوسېدلو چې له مرتبو او منظمو خښتو جوړ شوی و. دا کور د روبي ترورۍ او د هغې د مېړه و چې تري نومېده. دوی د کور په لومړي پوړ کې اوسېدل او زما مور او پلار د دې کور دویم پوړ په کرایه نیولی و. روبي زما د مور ترورۍ وه. په ډېر سخاوت او ښښنې یې زما د مور ملاتړ کلونه کړی و، مګر زما لپاره یو ویرونکی موجود و. ډېره جدي وه او تریو تندی یې درلوده چې د سیمه‌یزې کلیسیا د موسیقۍ د ډلې سرپرستي یې هم کوله او په عین حال کې یې پیانو هم تدریسوله. د لوړو کوریو بوټونه یې په پښو کول. د مطالعې عینکو یې یو زنځیر درلود چې په غاړه کې به یې اچولی و. تل به یې له شوخۍ ډکه مسکاه په خوله وه، خو په ټوکمارۍ کې هېڅکله زما مور ته نه رسېده. کله ناکله به مې اورېدل چې خپل زده کووونکي به یې د نه تمرین په خاطر ملامتول او یا هم د دوی په والدینو به یې هم نیوکه کوله چې ولې زده کوونکې په خپل وخت زده کړو ته نه رارسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه مهال به يې په غوسَناک حالت چيغې وهلې: «شپه پخير!» چې هر چا به ليدله، نو په خپل زړه کې به يې ويل چې: «بوډۍ د خدای په خاطر نوره غلې شه!». داسې ښکارېدل چې ډېرو کمو کسانو کولای شول چې د روبي له ستندردونو سره سم ژوند وکړي.

په هر حال، د هغو ماشومانو زړه بوږنوونکي غږونه زموږ د ژوند د سندرو متنونه وو چې له پيانوګانو څخه به يې پورته کول. موږ سهار او ماښام د پيانو ډنګ ډنګ غږونه اورېدل. کله به څو مېرمنې هم له کليسا څخه کور ته راتلې، چې خپل مذهبي سرودونه تمرين کړي او خپله تقوا او پرهېزګاري زموږ د کور په وره او ورباېه وشيندي. روبي ترورۍ ځانته خپل ځانګړي قوانين درلودل. ماشومان به چې پيانو زده کولو ته ورته راتلل، نو تر هغې به يې يوه ټوټه تمرين کوله چې ښه به يې زړه کړې نه وه. زه به په خپله خونه کې کېناستم او د هغوی زياتو هڅو ته به مې غوږ نيولو. دوی به نټونه يو په بل پسې زده کول چې د روبي ترورۍ رضايت ترلاسه کړي او وشي کولای چې د «هات کراس بونز» له ټوټو تېر شي او د « براهامز لولاباۍ » سندرې ته ورسېږي. مګر دا کار به يوازې له زيات تمرين وروسته ترسره کېده. د هغوی د موسيقۍ انګازې زړه وهونکې نه وې، مګر په هره توګه تکراري وې. د دوی د موسيقۍ غږونه د زينو له لارې پاس پوړ ته راتلل. په پسرلي که به بيا د دوی غږونه د کړکيو له لارې زموږ کوټو ته رادننه شول. دا به داسې وخت و چې ما به له باربي نانځکو سره لوبې کولې، يا به مې له پلاستيکي توکو ودانۍ جوړولې او په فکرونو کې به ډوبه وم چې يو دم به دا غږونه زما غوږونو ته راغلل. يوازې هغه وخت د ماشومانو د پيانو له ډنګ او ډونګه خلاصېدم چې پلار به مې له کاره راغی. ده د ښار د اوبو د تصفيه کولو په فابريکه کې کار کاوه او چې کور ته به راغی، نو تلوېزون ته به کېناست او د کابانو (د بېس‌بال لوبې ټيمونه دي) د ټيمونو لوبې به يې کتلې. ده به د تلويزون غږ يې دومره لوړ کړ چې هر شېبه به موږ فکر کولو چې کېدی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلویزون وچوي.

په شیکاګو کې له ۱۹٦۰ کال څخه د کابانو د ټیم هلکانو بده لوبه نه کوله، خو چنداني عالي هم نه وو. زه به مې د پلار په پښو کېناستم او د پلار خبرو ته به مې غوږ نیوه چې د لوبې په اړه یې کولې او ویل یې چې هلکان په لوبه کې څنګه لوبېږي ښه یا بد. هغه به ماته د دې ستاینه کوله چې ولې د بیلي ویلیامز د چپ لاس ضربې داسې غوره او ښې دي چې موږ ته نژدې په کانستنس سړک کې یې ژوند کولو. هغه مهال امریکا د سترو او زیاتو بدلونو پر وړاندې ولاړه وه. کېندییان مړه شوي وو. په کشر مارتېن لوتر کېنګ هم هغه وخت برید وشو چې په ممفیس کې د یوې ودانۍ په بالکون کې ولاړ و او هغه لاریونونه یې آرامول چې په شیکاګو کې پیل شوي وو. دی په برید کې وژل شوی و. په ۱۹٦۸ کال کې د دیموکراتانو ملي غونډې وځپل شوې. زموږ په سیمه کې د ویتنام د جګړې د مخالفت په خاطر لارین شوی و چې پولیسانو د وسلو او اوښکو بهوونکو ګازونو په واسطه پرې برید وکړ. همدا وخت له ښاره سپین پوستې کورنۍ ډلې ډلې ووتلې او هغو مېنو ته لاړې چې دولت ورته ټاکلې وې. دې ښارونو د غوره ښوونځیو او ښه چاپېریال اسانتیاوې درلودې. همدارنګه دې ښارونو کې سپین پوستي ګاونډیان هم زیات وو.

مګر دې ټولو پېښو ماته کومه معنا نه درلوده. هغه مهال زه یوازې یوه کم عمره نجلۍ وم چې له خپلو باربي نانځکو او پلاستیکي توکو سره به مې لوبې کولې او کلاوې او بېلابېل شیان به مې ترې جوړول. هغه نجلۍ چې له مور او پلار پرته یې یو مشر ورور هم درلود او په شپه کې به یې په هغه بالښت سر اېښود چې د دې له بالښت څخه یې یو متر واټن درلود.

زما نړۍ زما کورنۍ وه. ما یوازې دوی ته پاملرنه کوله. مور مې ډېر ژر راته لیک لوست راوښود. زه به یې ځان سره یوځای پلې کتابتون ته بېولم. دا به کېناستله، زه به یې څنګ ته ورسره کېنولم او راته ویل به یې چې کتاب راته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ غږ ولوله. پلار به مې د ښار د کارګرانو آبي یونوفورم اغوسته او هره ورځ به خپل کار ته تلو، مګر هر شپه یې له جاز موسیقي او هنر سره خپله مینه موږ ته راښودله. په ځوانۍ کې یې د شیکاګو په پوهنتون کې زده کړې کړې وې. د ښوونځي په دوره کې یې نقاشي او مجسمه جوړونه هم زده کړي وو. څو څو واره یې د سوکوهنې او لمبا په سیالیو کې هم ګډون کړی و. اوس په زړبودۍ کې به چې له تلویزیونه کوم ورزشونه خپرېدل له ټولو سره یې علاقه درلوده. ده ته ګلف او هاکي او داسې نورو لوبو هېڅ توپیر نه درلود. د غوره ورزشکارانو په بریا به ډېر زیات خوشحالېده. کله چې زما ورور کرېګ باسکټبال ته مخه کړه، نو پلار مې په پخلنځي کې د یوې الماری په سر یوه سکه کېښوده او هغه ته یې ویل چې ټوپ کړه او سکه راوغورځوه.

هر هغه څه چې په موږ پورې اړه درلوده، زموږ کوچني چاپېریال کې خلاصه کېدل؛ لکه زما نیا او نیکه، زما خپلوان، د سیمې کلیسا، زموږ د سیمې تېلو پمپ چې کله به زه مور هلته لېږلم او له ما به یې غوښتل چې سګرېټ ورته واخلم او زموږ د سیمې په دوکانونو کې له الکولي څښاک پرته، ډوډۍ، خواږه او شیدې هم پلورل کېدل. د پسرلي په ګرمو ورځو کې به ما او کرېګ د هغو کسانو غږونو او جنجالونو ته غوږ نیوه چې زموږ کور ته په نژدې پارک کې به یې لوبې کولې. په دې حالت کې به موږ ویده شو. دا هغه پارک و چې موږ دواړه به هر سهار هلته تلو او په مځکه به مو له نورو ماشومانو سره لوبې کولې.

زما او کرېګ ترمنځ سني توپیر له دوو کلونو هم کم دی. هغه ته زما د پلار مهربانه سترګې او خوشبیني او زما د مور ناآرامي په میراث پاتې شوي. زه او زما ورور یو بل ته ډېر نژدې وو. ښايي دا په دې خاطر چې هغه له همغې پیل څخه زما پر وړاندې د وفادارۍ او ملاتړ حس درلود. یو پخوانی تور او سپین انځور لرو چې څلور واړه په یوه کوچ کې ناست یو. زه مې د مور په غېږه کې یم او کرېګ مې د پلار په غېږه کې دی چې ډېر جدي ښکاري. مور مې موسکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اغوستلو جامو مو څرګنده ده چې غواړو کليسا ته لاړ شو او يا هم د واده مراسمو ته. په انځور کې د اتو مياشتو يم. ډېر مخ لرم او داسې نه ښکاري چې له خپل پمپر سره دې ستونزه ولرم. سپينې، صافې او مرتبې جامې مې اغوستې او داسې ښکاري چې هر شېبه کېدی شي چې د مور له لاسونو راخوشي او پر ځمکه راولوېږم. له دې سره سره د کامرې سترګی ته داسې ځير يم لکه غواړم چې خوله پرې ولګوم. کرېګ زما څنګه ته ناست دی، په غاړه کې يې بو ده او ډېر ښاغلی او مؤقر ښکاري. که څه هم په دې انځور کې يوازې دوه کلن دی، خو د ټولو غيرتي ورونو په شان ښکاري، ځکه لاس يې ماته رااوږد کړی او د ساتنې په خاطر يې زه له لاسه نيولې يم.

دا انځور په هغه مهال پورې اړه لري چې مور ګاردنز استوګنيزو ودانيو کې ژوند کولو او زموږ کور زما د پلارني نيکه او پلارنۍ نيا کور ته مخامخ و. زموږ د استوګنې ځای ارزان بيه و چې په ۱۹۵۰ کال کې د شيکاګو په ساحل کې جوړ شوی و او د مُدرنو اپارتمانونو په نامه پېژندل کېده. دې ځای جمعي مالکيت درلود چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د کورونو د نشتون په خاطر تور پوستو کارګرانو ته ورکړل شوي وو. مګر وروسته په دې سيمه کې د جنايتکارانو د فشار له امله بېوزلي او تاوتريخوالی زيات شول او دا سيمه په يوه خطرناکه سيمه بدله شوه. زما مور او پلار تنکي زلميان وو چې له يو بل سره اشنا شوي وو او په څو ويشت کلنۍ کې يې واده کړی و. زه نوې په ګرزېدو راغلې وم چې دوی د روبي تروری وړانديز منلی و او د دې او د دې د مېړه تري کور ته لېږدېدلي وو چې يوه ښه سيمه شمېرل کېده.

موږ دواړو کورنيو يو ځای په يوه داسې کور کې ژوند کولو چې دومره ستر نه و. دې کور په يوکليد سړک کې موقعيت درلود. کور داسې جوړ شوی و چې دويم پوړ يې يوازې د يوه يا دوو کسانو د اوسېدو لپاره بسيا و. مګر هر څنګه چې کېدل موږ څلور واړو پکې ژوند کولو. پلار او مور مې د خوب ګوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ویده کېدل او زه او کرېگ سالون کې. کله چې یو څه غټان شو، نو پلار او مور مې یو ترګانۍ راوست چې پرنل شېلدز نومېده. دی که څه هم دومره ماهر نه و، خو په ډېر شوق سره یې خپل کار کولو. ده ارزان بیه دړې او لرګي راوړل او سالون کې یې یو لرګین دېوال نصب کړ چې له امله یې دا خونه د ماشومانو لپاره په دوو خونو ووېشل شوه. بیا یې د هرې کوټې لپاره بېلې دروازې جوړې کړې او یوه برخه یې هم د لوبو لپاره جوړه کړه چې مور به پکې لوبې کولې او کتابونه به مو پکې لوستل. که څه هم په دې خونه کې د خوب یو کوچنی کټ او د لیکلو یو کوچنی مېز و خو ما ورسره ډېره مینه درلوده. خپلې ټولې نانځکې به مې د خوب کټ ته راوړلې او داسې به مې له ځان سره نژدې برابرولې چې ګواکې غواړم مذهبي مراسم پرې اجرا کړم. د دې لرګینې خونې هغې خواته کرېګ خپل کټ له دېوال سره چسپولی و او مور به له شپې کولای شول چې له یو بل سره خبرې وکړو. څنګه چې د دېوال سر کې خلاصه فضا وه، نو مور به کله کله چرابې کلوله کړې او یو بل ته به مو ورغورځولې.

روبي تروری خپل کور د یوې مقبرې په شان سینګار کړی و. سالون کې یې چې کوم کوچونه او مېزونه وو تر ټولو یې پلاستیکونه تاوو کړي وو. زه به چې کله ورغلم او په هغې به کېناستم، نو لوڅې پښې به مې یخ وهلې. د کمود پر سر یې چیني مجسمې راځوړند کړې وې چې هېڅکله چا د دې اجازه نه درلوده چې لاس پرې ووهي. روبي تروری ځینې ډېرین سپي هم په کور کې ایښي وو، چې ما به کله کله پرې لاس واهه، خو له ډاره به مې ډېر ژر لاس ترې را ایسته کړ. کله به چې روبي تروری زده کوونکي نه درلودل، نو لومړي پوړ کې به چوپه چوپتیا وه. هغې به هېڅکله تلوېزون نه روښانه کولو او رادیو ته یې هم غوږ نه نیوه. ما شک درلود چې آیا له مېږه سره یې هم خبرې کوي او که نه. مېږه یې ویلیام ویکتور تري نومېده. مګر زه نه پوهېدم چې مور په څه دلیل هغې ته په کورني نوم غږ کولو. تري د یوې سېرې په شان و. ډېر باوقاره سړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اونۍ ټولو ورځو کې به یې رسمي دریشي اغوسته او داسې ښکارېده چې ګنې یوه کلمه هم هېڅکله له خپلې خولې نه راباسي.

په همدې خاطر زموږ د کور په لومړي او دویم پوړونو کې دوې بېلابېلې نړۍ وې چې د دوو متفاوتو حکومتونو له خوا اداره کېدلې. پورتنی پوړ له شور او زوږه ډک و. ما او کرېګ له شرم پرته پکې لوبې کولې او چیغې او نارې مو وهلې. د خپل کور په لرګین غولي به مو د ځلا ځانګړي تېل موښل چې له جرابو سره پرې ښه وښوويږو. کله ناکله به مو له دېوال سره هم ټکر کولو.

یوه کرسمېس اختر کې پلار موږ ته د سوکوهنې دستکشې اخیستې وې، موږ په پخلنځي ته تلو او سوکوهنه به مو کوله. له یو بل سره به مو له وړاندې دا جوړوله چې څنګه یو بل په سوکونو ووهو. شپه مهال به څلور واړو قطعې کولې، یو بل ته به مو کیسې کولې  او د جکسون فایو د سندرو البومونه به مو ټېپ ته وراچول، د هغې غږ به مو لوړاوه او ورته غوږ به وو. کله به چې روبي تروری زموږ له شور او زوږه په تنګ شوه، نو هغه برقي بټنه به یې وهله چې د کور په ګډه زینه کې وه. د ګروپ دې سوچ به د پورتني پوړ دهلېز لګولو او ګلولو. هغې په دې توګه هڅه کوله چې زموږ شور او زوږ بند کړي.

روبي تروری او د دې مېړه تري زموږ څخه لویان وو او په داسې دوران کې پیدا او ستر شوي وو چې زموږ له دوران سره یې کاملاً توپیر درلود. نو دا طبیعي ده چې د دوی علاقې او سلیقې به هم زموږ سره توپیر درلود. هغوی داسې پېښې له سره تېرې کړې وې چې زما مور او پلار پرې خبر هم نه ول. هر کله به چې زه او کرېګ د روبي تروری او تري له بداخلاقیو په تنګېدو، نو مور به مې موږ ته ویل چې موږ له هغو شرایطو هېڅ خبر هم نه یو په کومو کې چې دوی ژوند کړی. په دې خاطر موږ باید دوی ته درناوی ولرو. زه بیا وروسته پوه شوم چې روبي تروری په ۱۹۴۳ کال کې د موسیقۍ له یوې ډلې سره تللې وه چې په نورتوېسترون پوهنتون کې موسیقي اجرا کړي، خو هلته دې ته اجازه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ورکړل شوې چې د نجونو په ليله کې ويده شي. هغې ته ويل شوي و چې ته بايد هغه ځای کې کور ونيسې چې هلته تور پوستي اوسېږي. په همدې خاطر هغې له دې پوهنتون څخه د نژادي تبعيض په خاطر شکايت وکړ. همدارنګه د تري په اړه په دې پوه شوم چې هغه په هغه اورپټلۍ کې کار کولو چې مسافرين يې له شيکاګو څخه بېول. ده ښه معاش هم نه درلود. مګر په هر حال مناسبه دنده يې درلوده. يعنې هغه کار چې تل به تور پوستو نارينه‌وو ترسره کاوه. هغوی به د مسافرانو توکي وړل او راوړل او له دې سره سره يې د هغوی نورې اړتياوې هم پوره کولې. لکه دوی ته يې خواړه راوړل، د دوی بوټونه يې رنګول او داسې نور کارونه يې هم کول. خو په هر حالت کې بايد دوی پاکې جامې اغوستلې وای. که څه هم کلونه کېدل چې تري خپله دنده پرېښې وه خو بيا هم ده خپل پخواني عادتونه ساتلي وو. تل به يې پاکې جامې اغوستې. لږ نوکر ډوله حالت يې درلود او په خپل حق او حقوقو خبر نه و. يعنې د خپلې بقا په خاطر له ځينو شيانو تېرېده. هغه به مې ليدلو چې چرمي بوټونو به يې په پښو و، بندداره پتلون به يې اغوستی و پيکداره خولۍ به يې په سر وه، لاسونه به يې ښه وهلي نه وو او د کور مخ کې به يې تازه چمن لنډولو. هره ورځ يې يو سګرېټ څکولو او هره مياشت يې يو بوتل شراب څښل. زما د مور او پلار په شان نه و چې په څښلو کې به يې زياتی کولو او خپله مخه به يې نشوی نيولای. ما تل دا هيله لرله چې د ده په تېرو کيسو پوه شم. ما په دې کې شک نه درلود چې تري به د امريکا زياتره ښارونو ته نه وي تللی او د ويلو لپاره به کيسې نه لري. مثلاً هغې ويلی شوای چې په اورپټلۍ کې شتمنو څنګه چلن کاوه او داسې نور... مګر هغه په هر دليل چې وو موږ ته خپلې خاطرې هېڅکله نه ويلې.

د څلورو کلونو شاوخوا کې وم. ومې پتېيله چې پيانو زده کړم. کرېګ لومړي ټولګي ته تللی و او په اونۍ کې به يو ځل لومړي پوړ ته تلله، د پيانو شاته به کېناسته او له روبي تروری څخه به يې پيانو زده کوله او تل به سم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالم خپل کور ته راتله. هغه مهال داسې ښکارېدل چې زه هم دې ته چمتو يم چې پيانو زده کړم. په خپله نړۍ کې به مې دا فکر کولو چې د روبي ترورۍ د شاګردانو تمرين ته مې غوږ نيولی او نوره مې پيانو زده کړې ده. يعنې موسيقي مې مغزو ته لاره موندلې ده. مګر زما خوښه دا وه چې لانديني پوړ ته لاړه شم او سختګيرې او د تريو تندې درلودونکې يعنې روبي ترورۍ ته وروښيم چې بااستعداده نجلۍ يم.

د کور شاته يوه مربع کوټه وه. د روبي ترورۍ پيانو هم په همدې کوټه کې کړکۍ ته نژدې اېښودل شوې وه. د کوټې کړکۍ غلي انګړ ته خلاصېده. د خونې په يوه ګوښه کې يوه ګلدانۍ وه او په بله ګوښه کې يې يو کوچنی مېز و چې زده کوونکو به د زده کړې کتابچې پرې اېښودلې او د موسيقي نټونه به يې پکې ليکل. روبي ترورۍ به د موسيقۍ د زده کړې په وخت کې په خپله لوړه څوکۍ کې استواره کېناسته، په خپلې ګوتو به يې نټونه راښودل، سر به يې ښورولو او دې ته به په تمه وه چې يو زده کوونکی کوم نټ غلط کړي. آيا زه له روبي څخه وېرېدلم؟ نه هېڅکله نه. مګر په هر حال هغې وېرونکې څېره درلوده او په ډېر ځواک يې درس ورکاوه چې ما د دې په شان داسې څوک نه دي ليدلي. له زده کوونکو يې غوښتل چې درسونه ښه تمرين کړي. ما داسې انګېرل چې دا زما سياله او رقيبه ده او هيله مې درلوده چې زه ترې مخکې شم. کله به چې د دې پر وړاندې وم نو تل به مې دا احساس کولو چې دې ته ځان ثابت کړم.

د پيانو په لومړي درس کې زما پښې د پيانو له چوکۍ څخه ځمکې ته نه رسېدې او همداسې ځوړند وې. روبي ماته د زده کړې پاڼې راکړې. زه ډېره هيجاني شوم. بيا يې ما ته رازده کړل چې خپلې ګوتې څنګه په بټنو کېږدم او هغه وغږوم. يعنې په همغې پيل کې، له درس وړاندې هغې ماته په آمرانه ډول وويل: «ډېر ښه، پام وکړه چې سي بټن پيدا کړې. زه درته ګورم».

کله چې څوک ماشوم وي نو داسې ورته ښکاري چې پيانو زرګونه بټنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، خو داسې نه ده. ما هم همدا فکر درلود. پیانو تورې او سپینې بټنې لري. لنډه دا چې د پیانو زده کړه مې پیل کړه. لږ وخت تېر شوی نه و چې سي بټنه مې په واقعي توګه پیدا کړه چې د زیر او بم بټنو په منځ کې ده. که یو څوک خپله بټه ګوته په سي بټنه کېږدي، نو نورې ګوتې به یې په خپله نورو نورو بټنو ته وروړسېږي. د روبي ترورۍ په پیانو ډېر وخت تېر شوی و. بڼه یې بدله شوې وه او بټنو یې خپل رنګ بایللی و. دا بټنې داسې ښکارېدې له بې نظمه غاښونه. له نېکه مرغه د سي بټنې یوه څنډه لوېدلې وه. په همدې خاطر ډېر ژر مې پیدا کولای شوه.

په دې توګه ډېر ژر راته څرګنده شوه چې له پیانو سره ډېره مینه لرم. هر کله به چې د هغې شاته کېناستم، نو ښه حس به مې درلود. البته زموږ په کورنۍ په ځانګړې توګه زما د مور په خپلوانو کې زیات کسان موسیقۍپوهان وو او یا یې له هغې سره مینه درلوده. حتا زما یوه تره د موسیقۍ په یوه مسلکي ډله کې د موسیقۍ ځینې الې غږولې. زما ځینو ترورۍګانو د کلیسا د موسیقۍ ډله کې سندرې ویلې. لنډه دا چې که څه هم روبي ترورۍ د کلسیا د موسیقۍ د ډلې سرپرستي کوله، له دې سره سره یې موسیقي هم تدریسوله. د اُپروټ په نامه یې یو ښوونځی هم درلود چې ماشومانو ته د یوه موزیکال تیاتر په شان و. دا ښوونځي د کلیسا په ځمکتل کې و او زه او کرېګ به هره اونۍ د شنبې سهار کې ورتللو. مګر د کورنۍ د موسیقۍ ستر استاد زما نیکه او د روبي ترورۍ ورور شېلډز و چې ترګاڼي یې کوله. دا سړی بېخیاله، ستر خېټې او خنده رویه و. لږه ږیره یې درلوده چې خاکستري وه. زما په ماشومتوب کې هغې د ښار په لوېدیزه برخه کې ژوند کولو. په همدې خاطر ما او کرېګ ساوت سایډ بللو. مګر کوم کال مې چې د پیانو زده کړې پیل کړې، نو دی هم زموږ سیمې ته راکډه شو او موږ د تېر په شان د ساوت سایډ په نامه یادولو.

ساوت سایډ کلونه وړاندې هغه وخت زما له نیا څخه بېل شوی و چې مور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ځوانه وه. هغه زما د مور له مشرې خور کارولين ترورۍ او زما د مور له کوچني ورور سټيو ماما سره يو ځای په تنگ خو هوسا کور کې اوسېده چې زموږ له کوره يې يوازې دوه کوڅې واټن درلود. ساوت سايډ په خپل کور کې د موسيقۍ لپاره هر ځای د برېښنا مزي غځولي وو، په ټولو خونو او حتا په حمام او تنشاب کې يې هم لاسپيکرونه لگولي وو. سالون کې يې يوه الماری جوړه کړې وه چې څو پلې يې درلودې او هلته يې خپله استريو دستگاه ځای پر ځای کړې وه. همدارنگه ځينې هغه شيان يې هم پکې اېښي وو چې د سيمې له کورني ليلام څخه يې اخيستي و. لکه گرامافون، د ثبتولو يوه پخوانۍ دستگاه او يو شمېر د موسيقۍ ډېسکونه او پاڼې چې د څو کلونو په اوږدو کې يې ټول کړي وو.

په دنيا کې داسې زيات شيان وو چې ساوت سايډ پرې بې باوره و. هغه يو پخوانی او سُنتي سړی و او داسې يې انگېرل چې ټول په ده پسې توطيې کوي. د غاښونو په ډاکټرانو يې هېڅ باور نه درلود. په همدې خاطر د ده غاښونه وراسته شوي او لوېدلي وو. په پوليسو بې باوره و ځکه د جورجيا يو تور پوستی غلام و. څه وخت يې په آلاباما کې تېر کړی و. بيا په ۱۹۳۰ کال کې شيکاگو ته راغلی و او د نژادي بېلتون ټول قوانين يې تجربه کړي وو. په همدې خاطر يې په هېڅ يو سپين پوستي هم باور نه درلود. کله چې د ماشومانو پلار شو، نو د هغوی ډېره جدي ساتنه يې کوله او هغوی ته يې د تور پوستو ماشومانو په اړه واقعي او خيالي کيسې کولې چې دوی تېروتنه وکړه او داسې ځای ته دننه شول چې هلته د تور پوستو ورتگ بند و. هغوی ته يې په ټينگار ويل چې په پوليسو هېڅکله باور مه کوئ.

داسې ښکارېدل چې موسيقي ده ته ارمتيا وربښله او د ده اندېښنې يې تسکينولې. کله به چې ساوت سايډ د خپلې ترکانۍ پيسې ترلاسه کړې، نو لاړ به او د ځان لپاره به يې د موسيقۍ يو نوی البوم اخيسته. په پرلپسې توگه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ مېلمستیاوې کولې. په دې مېلمستیاوو کې به یې د موسیقۍ استریو دستگاه چالانوله او د هغې غږ به یې دومره لوړاوه چې مېلمانه به مجبور شول چې له یو بل سره په ډېر لوړ غږ خبرې وکړي. مور به د خپل ژوند ډېر مهم مراسم د ساوت سایډ په کور کې لمانځل. لکه د کرسمېس مراسم چې هر کال به مو د ده په کور کې لمانځل او له ده نه به مو د مشهورې امریکایي سندرغاړې اېلا فیتزجرالد د موسیقۍ البومونه د ډالۍ په توگه ترلاسه کول. د زیږېدو د کلیزو په مېلمستیاوو کې به مو د مشهور ساکسیفون غږوونکي کولترین د سلامتیا په خاطر شمعونه بلول. مور مې ویل چې ساوت سایډ د جاز موسیقي د خپلو اوو واړو اولادونو په وجود کې اغږلې وه. ځکه کله به چې راپاڅېد، نو د کورنۍ غړي به یې د موسیقۍ په لوړ غږ سره راویښ کړل.

له موسیقۍ سره د ده زیاته مینه د ساري ناروغۍ په شان وه چې ټول پرې اخته کېدل. کله چې زموږ سیمې ته راغی، زه هره ورځ مازیگر مهال د دوی کره ورتللم. د موسیقۍ هر ډېسک به مې چې غوښته، له البومه مې را اخسته په دستگاه کې مې اچولو او ورته غوږ مې نیوه. که څه هم هغه مهال ماشومه وم او د ده د موسیقۍ البومونه به مې رااخیستل خو دی به هېڅ کله نه غوسه کېده. د موسیقۍ لومړنی البوم ده راته واخیست چې د «غږېدونکي کتاب» په نامه او د ستېوي وندر اثر و. د دې البوم موسیقي زما د خوښې موسیقي وه. کله به چې وږې کېدم، ماته به یې مېلک شیک راکول، یا به یې د چرگ غوښه راته سره کوله او د خوړلو په وخت کې به مې موسیقۍ ته هم غوږ نیوه. لنډه دا چې ماته د ده کور د جنت په شان و او په هغه عمر کې ما داسې فکر کولو چې جنت داسې ځای دی چې له جاز څخه ډک دی.

خپل کور کې به مې د موسیقۍ د زده کړې د پرمختگ په خاطر تل تمرین کولو. دا مې سم انگېرلي وو چې د موسیقي نټونو زما په ځان کې په غیرمستقیمه توگه خپل ځای موندلی دی. څنگه چې مور پیانو نه درلوده، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبوره وم، چې د تمرین لپاره لاندې پوړ ته لاړه شم او د روبي تروري پیانو وغږوم. په همدې منظور هره ورځ په تمه وم چې د روبي تروري زده کوونکي لاړ شي او بیا به زه له خپلې مور سره لاندې پوړ ته تلم. زړه مې غوښتل چې د پیانو وهلو په وخت کې زما مور په همغه لوړه څوکۍ کې کېني او زما موسیقۍ غږولو ته غوږ شي. د هغه کتاب له مخې به مې تمرین کولو چې روبي تروري راکړی و. کله به مې چې یوه پارچه زده کړه، نو بیا به بلې پارچې ته تلم. له شک پرته ویلی شم، چې زما کار هم له نورو زده کوونکو څخه ښه نه و، مگر په دې بیا ډاډه یم چې له هغوی څخه مې زیاته هڅه کوله. د موسیقي زده کړه زما لپاره یو جادویي کار و. هر ځل به مې چې نوي څه زده کړل، د خوشحالۍ احساس کې به ډوبېدم. د زده کړې په وخت کې به مې دې ته هم پام کېده چې د روبي تروري په چلن کې بدلون راځي. هر کله به مې چې یوه پارچه موسیقي له تېروتنې پرته غږوله او یا به مې په چپه لاس بټنې خوځولې او په ښی لاس به مې اکورد نیولی و، نو دې به خپل احساس داسې پټولو چې گواکې هیجاني شوې ده. مگر زما به د سترگو په کونجونو کې دې ته پام کېده چې راضي ده، ځکه نور یې پر خپلو شونډو فشار نه راوسته. زما او د روبي تروري تر منځ به داسې شیبې، د دوستۍ او صمیمیت طلايي شیبې وې. که ما د هغې ښوونیز قوانین ښه رعایت کړي وای، نو ښایي چې دا دوستي به لا نوره هم پسې غځېدلې وه. مگر د هغې ښوونیزې پاڼې زښته زیاتې وې او د لمړنیو پارچو په زده کړو کې هم چندان چټکه نه وم، نو داسې ورځې به هم راتلې چې نور به مې حوصله ختمېده، پاڼې به مې اړولې رااړولې، وروستیو پاڼو ته به رسېدم او خپل وخت به مې د مشکلو او پېچلو پارچو په تمرین تېراوه. لنډه دا چې یوه ورځ مې روبي تروري ته یوه سخته پارچه په ډېر غرور وغږوله چې له امله یې زیاته په غوسه شوه او په سخت حالت کې یې راته وویل: «شپه په خیر.» او بیا یې ماته هم د نورو زده کوونکو په شان جزا راکړه او ملامته یې کړم. زما د دې کار انگېزه دا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغې ته خپله توانايي وروښيم. مګر هغې داسې ونګېرل چې ما يو ستر جنايت ترسره کړی دی.

خو ما چې کوم کار کړی و، پرې پښېمانه نه وم. په اصل کې مې له همغې ماشومتوب څخه دا غوښتل چې هر څوک زما پوښتنو ته په منطقي توګه ځواب راکړي. د وکيلانو په شان وم او د نورو ديکتاتوري مې نه منله. زما د زور ويلو او ځواک يوه نښه دا وه چې په ورور به مې امر کولو او ورته ويل مې چې زموږ د لوبو له ګډې خونې لاړ شه. هغې به هم زما خبره منله. لنډه دا چې هر کله به مې ذهن ته کوم نوی فکر راته، نو دا مې نه غوښتل چې له دليل پرته څوک له ما سره مخالفت وکړي. همدا کار هم د دې باعث شو چې زما او تروری تر منځ خبرې اترې راشي. له هغې مې پوښتنه وکړه:

- په دې خاطر غويه شوې يې چې يوه نوې پارچه مې زده کړې؟

- هو، ځکه ته تر اوسه دې ته چمتو نه يې چې داسې سختې سندرې وغږوې.

- مګر تا وليدل چې ما ډېره ښه وغږوله.

- نه، داسې نشې کولای چې خپلې لارې ته ادامه ورکړې.

- نو ولې؟

څنګه چې ما د روبي تروری ټاکل شوي قواعد او قوانين په سمه توګه نه منل، نو له دې امله د پيانو د زده کړې ټولګی د جګړې ميدان ته ورو ورو ورته کېده. داسې ښکارېدل چې دواړې له خپل ضده نه تېرېدو او دواړو حق هم درلود چې داسې وکړو. ما به پيانو داسې غږووله، څنګه مې چې زړه غوښته او هغې به هم ورته غوږ نيوه او په ما به يې نيوکې کولې. هغه په دې باور وه چې زه داسې کوم پرمختګ نشم کولی او زه هم په خپلې عقيدې ولاړه وم او ويل مې چې زه پرمختګ کوم. البته خپل پرمختګ مې د هغې د ښوونې په خاطر نه ګاڼه. زموږ ټولګی همداسې پر مخ تله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د پلار، مور او ورور باور دا و چې زما او روبي ترورۍ کارونه د خندا وړ دي. کله به مو چې ماښام ډوډۍ خوړله او ما به دوی ته ویل چې زما او روبي ترورۍ ترمنځ داسې خبرې اترې تېرې شوې، نو دوی به ډېر خندل. کرېګ له روبي سره هېڅ ستونزه نه درلوده او د هغې لپاره یو ښه زده کوونکی و، ځکه خوشحاله و، قوانین یې منل او له ښوونیزو پاڼو یې پیروي کوله. زما مور او پلار نه د روبي پلوي کوله او نه هم زما. په ټُلي توګه هغوی داسې کورنۍ وه چې د خپلو اولادونو په کارونو کې یې لاسوهنه نه کوله او پر دې باور وو چې زه او زما ورور باید خپله له خپلو مسایلو او ستونزو سره مخامخ شو. البته زموږ د کارونو پوښتنه به یې کوله، زموږ خبرې به یې اورېدې او له موږ سره به یې همغږي څرګندوله. نور پلرونه او میندې داسې ول چې که اولادونو به یې له ښوونکو پیروي نه کوله، نو ملامتول به یې، مګر زما مور او پلار زما سره کوم کار نه درلود. مور مې له شپاړس کلنۍ راهیسې له روبي ترورۍ سره ژوند کړی و او او د دې له وسواسي قواعدو سره یې پوره آشنایي درلوده. داسې ښکارېدل چې مور مې زما او روبي ترورۍ نانډرۍ ویني او دا ویني چې زه د هغې پر وړاندې درېدلې یم او قوانین یې نه منم، نو په زړه کې راضي وه او خوشحالېدله. کله چې اوس د هغو ورځو په اړه فکر کوم، وینم چې مور او پلار مې زما سرکښه او خپلواکه روحیه درکوله. په دې خاطر یې مننوویه یم. داسې ښکارېدل چې زما په وجود کې یوه رڼا وه، د دوی خوښېده او غوښتل یې چې تل دا لمبه روښانه وساتي.

روبي به هر کال داسې مراسم جوړول چې د موسیقي یوه اله به پکې غږول کېده. دا مراسم یې په دې خاطر نیول چې زده کوونکي یې موسیقي وغږوي، خپله وړتیا وښیي او خلک یې واوري. نه پوهېږم چې دا کار یې څنګه ترتیبولو خو فکر کوم چې د شیکاګو په مرکز کې یې د شیکاګو پوهنتون یو سالون په کرایه نیولو. دا سالون په یوه ستره او ډېرینه ودانۍ کې جوړ شوی و او په میشیګان سړک کې یې موقعیت درلود. همدارنګه د شیګاکو د سمفوني ارکستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کنسرتونو ورکولو ځای ته هم نژدې و. کله به مې چې دا فکر کولو چې زه هم ورځم، نو فکر به مې ګډوډېدلو. زموږ اپارتمان د ښار په جنوبي برخه کې و او د شیګاکو له مرکز او د هغې له خرابو ودانیو او له بیرباره ډکو سړکونو سره یې ډېر توپیر درلود. موږ به هر کال یوازې یو ځل د ښار مرکز ته تلو او هلته به مو د هنر او تیاتر موزیم لیدلو. هغه هم څلور واره چې د پلار په بیوک موټر کې به سپاره شوو او د موټر له شیشو څخه به مو بهر ته داسې په تعجب او حیرانیتا کتل لکه فضایي انسانان چې په فضا کې سفر کوي.

پلار به مې د موټر چلولو په خاطر له هرې پلمې ګټه اخیسته. ځکه له خپل موټر سره یې مینه درلوده او د ده موټر الکترا ۲۲۵ بیوک موډل او نقریي رنګه و چې دوې دروازې یې درلودې. تل به د خپل موټر شاوخوا تاوېده راتاوېده او داسې به یې پاک ساتلو چې ځل بل به یې کاوه. مور مې هم ده ته ورته وه. ځکه دې به هم موږ ته پاکې جامې رااغوستې او ډاکټر ته به یې د چېک‌اب لپاره بېولو چې له روغتیا مو ډاډه شي او پلار به مې هم موټر ورکشاب ته بېولو او د هغې موبلایل او ټیرونه او داسې نور څه به یې جوړول. البته زموږ هم له موټر سره ډېره جوړه وه. ځکه په ظاهري توګه پاک او ځلېدونکی و او ډېر ښکلي څراغونه یې درلودل. منځ یې هم پراخه و. کله به چې موږ پکې کېناستو، نو داسې فکر مو کولو چې په کور کې یو. ما په موټر کې کولای شول چې په دوو پښو ودرېږم او خپل لاس د هغې پر چت ووهم چې له ټوکر څخه جوړ او نرم و. هغه مهال د ساتنې کمربندونه لا اجباري نه وو. زه او کرېګ به اکثره مهال پر څوکیو ښکته او پورته غورځېدو او که به مو له مور او پلار سره خبرې کول غوښتل، نو مخکې به تلو او د دوی څوکۍ شاتنۍ برخه به مو کلکه رانیوه. ما به خپل مخ مخکې کاوه او په څنګ به مې د پلار له مخ سره چسپاوه. دا کار مې ځکه کاوه چې له هغه سره خبرې وکړم او هغه منظرې وویم چې هغه یېویني.

همدارنګه دې موټر زموږ د کورنۍ په منځ کې د مینې او محبت فضا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کړې وه. مور ته به یې د دې وخت راکولو چې په سفر کې له یو بل سره خبرې وکړو. هره شپه به له ماښامي وروسته ما او کرېگ پلار ته زارۍ کولې چې مور په موټر کې بهر ته بوزه. د پسرلي په شپو کې به هغې سینما ته تلو چې زموږ د سیمې په جنوب لوېدیزه برخه کې وه. دا سینما داسې وه چې له موټر سره یو ځای هم دننه ورتللو او په بیوک کې هوسا کېناستلو او د شادیانو د سیارې فلم مو کتلو. مور به مې چرکوړي او کچالو سره کول او د ساندویچ په شان یې جوړول، بیا یې ما او کرېگ ته راکول چې ویې خورو. د خوړلو په مهال کې به مو دې ته پام و چې خپل غوړ لاسونه د دستمال په ځای د شا په سیټ پاک نه کړو.

کلونه تېر شول چې په دې پوه شوم چې پلار مې ولې له موټر چلولو څخه داسې خوند اخلي. په همغه ماشومتوب کې مې دا احساس کړل چې هغه کله د موټر شترېنگ ته کېني، نو د آزادۍ احساس کوي. کله به چې د موټر ټیرونه په حرکت شول نو دی به ډېر خوشحاله و. دی د خپل عمر په دېرشمه لسیزه کې و ډاکټر ورته وویل چې ستا د یوې پښې د کمزورۍ احساس د یوه ډول فلج لومړنۍ نښه ده او داسې ښکاري چې د مغزو عصبي سلولونه دې په اختلال اخته دي او کېدی شي، داسې ورځ راورسي چې نور په دې ونه توانېږي چې په پښو وگرزي. نه پوهېږم چې کوم کال و خو هر کال چې و پلار مې په ام‌اس ناروغۍ اخته شو. په هر حال د ده موټر ده ته د لکنې په شان و. خو پلار مې ډېر کلک و او دا حقیقت یې هېڅکله هم پر خوله نه راوړه چې موټر ورته د لکنې په شان دی.

زما مور او پلار د دې ناروغۍ په اړه په څه نه پوهېدل. هغه مهال د اوس په شان انټرنټ او گوگل نه ول چې د دې ناروغۍ نوم پکې ولیکو او د دې ناروغۍ په اړه زیات معلومات ومومو. البته په دې ډاډه یم چې پلار مې نه غوښتل چې د خپلې ناروغۍ په اړه په څه پوه شي. که څه هم هغې په کلیسا ایمان درلود، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅکله يې دعا نه کوله چې خدای يې روغ کړي او هېڅکله يې د خپلې ناروغۍ د درملنې هڅه ونه کړه. البته خپل جېنونه يې هم نه ملامتول. زما کورنۍ ناوړه خبرونه تل په خپل زړه کې ساتل او هڅه يې کوله چې هېر يې کړي. مثلاً مور په دې نه پوهېدو چې کله زما پلار ډاکټر ته لاړ، نو له دې وړاندې يې څومره وخت د پښې دا کمزورتيا زغملې وه. هغه نه غوښتل چې ډاکټر ته لاړ شي. زړه يې نه غوښتل چې مور په خپلې ناروغۍ خبر کړي. له درد او ستونزو سره يې همغږي کوله او خپل ژوند يې تېراوه.

دې کې مې شک نشته چې کله د موسيقۍ د غړولو په خاطر سالون ته تلم، نو دی څه نا څه ګوډ ګوډ کېده. څو وارې مې ليدلی و چې کله به په زينو کې پورته کېده، لږ دمه به يې وکړه او بيا به په ډېرې سختۍ پورته شو. کله به چې د پېرلو (اخيستلو) لپاره سترو پلورنځيو ته تلو، دی به زياتره وخت په چوکۍ کېناسته او مور ته به يې ويل چې څو چې تاسو راګرځئ، زه دلته درته په تمه يم.

هغه ورځ چې مور د موسيقۍ د يوې آلې د غړولو مراسمو ته تلو، نو زه د موټر شاتني سيټ کې کېناستلې وم. ښکلې جامې مې اغوستې وې. ګلالي چرمي بوټونه مې په پښو کړي وو او وېښتان مې د لکۍ په شان کوڅۍ کړي وو. په دې مراسمو کې لومړی ځل وو چې په استرس اخته او خولې شوم. که څه هم په کور کې مې په څو څو واره هغه پارچه د روبې تروري په پيانو تمرين کړې وه، خو بيا هم ډېره اندېښمنه وم. کرېګ هم درېشي کړې وه او هغه شپه يې په څېره کې د خپګان هېڅ نښې نښانې نه وې. حتا په شاتني سيټ کې ويده شوی و. څېره يې تازه او له هر ډول اندېښنې پاکه وه. کرېګ تل داسې خونسرد و. ما به تل د دې خونسردۍ په خاطر ستايه. هغه مهال يې د باسکټبال په لوبغالي کې هم لوبې کولې او هره اونۍ به يې سيالي درلوده. داسې ښکارېدل چې له سيالۍ وړاندې له دې اندېښنو سره روږدی شوی، ځکه داسې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیالۍ یې کړې وې.

پلار به مې تل خپل موټر د پارک په نژدې ځای کې درولو. حتا زیاتې پیسې یې هم ورکولې چې دې ته اړ نه وي چې په خپلو گوډو او کمزورو پښو زیات واټن ووهي او موټر ته ورشي. هغه ورځ چې کله د روزولټ د پوهنتون ستر سالون ته دننه شوو، نو د هغې د سترواليي پر وړاندې مې د کوچنيوالي احساس وکړ. سالون سترې کړکۍ درلودې چې د سیمې پراخه چمن ترې ډېر ښه ښکارېده. په سالون کې منظمې فلزي څوکۍ اېښودل شوې وې چې اندېښمن ماشومان او د هغوی کورنۍ به راتلل او په څوکیو به کېناستل. د سالون په ستېج کې دوې پیانوگانې اېښودل شوې وې چې دروازې یې د یوه الوتونکي د وزرو په شان پرانستل شوې وې. روبي تروري گلداره جامې اغوستې وې او اوتر اوتر یو خوا او بل خوا ته تله راتله او خپل زده کوونکي یې کنټرولول چې وگوري چې د نوټونو پاڼې یې راوړې او که نه. بلاخره کله چې د اجرا وخت راورسېد، نو ټولو ته وویل شول چې غلي شي.

سم مې په یاد نه دي، چې هغه ورځ لومړی چا موسیقي وغږوله. یوازې په دې پوهېږم چې کله زما وار راورسېد، نو له څوکۍ راپاڅېدم او د سالون مخې ته لاړم. په زینو پورته شوم په سترو پیانوگانو کې د یوې پیانو شاته کېناستم. چمتو وم. که څه هم روبي یو تروه او سختگیر ښځه وه، خو هغه شېبه کې راته یوه مرستندویه شمېرل کېده. له هغې پارچې سره هم په پشپړه توگه بلده وم چې غږوله مې. یوازې مې باید ښځو ته فشار ورکړی وای.

مگر ډېر ژر مې دې ته پام شو چې یوه ستونزه شته. زه د یوې دقیقې او په بشپړه توگه مسلکي پیانو شاته ناسته وم چې په ډېر دقت برابره شوې وه. خو زه له داسې روغې پیانو سره روږدې نه وم. تل مې د روبي تروري په کوچنۍ پیانو تمرینونه کړل چې ژېړې او کږې وږې ښځې یې درلودې او د سي ښځۍ یې یوه څنډه هم ماته شوې وه. یعنې ماته د پیانو معنا همغه د روبي تروري گوډه ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیانو وه. همغه شان چې ماته د ژوند سیمه د خپلې سیمې په معنا وه. یا زما د پلار معنا، زما همغه پلار و.

دا مهال مې ناڅاپه هغو لیدونکو ته پام شو چې په څوکۍ ناست وو او په ځیر ځیر یې راکتل. نه پوهېدم چې خپلې ګوتې مې په کوم ځای کېږدم او خپله پارچه پیل کړم. ټروره وم او زړه مې په ډېر شدت درزا کوله. هڅه مې کوله چې د خپلې مور څېره پیدا کړم، مګر د هغې په ځای روبي ترورۍ وه چې له خپل ځایه راپورته شوه او زما خواته راغله. ګواکې په دې پوه شوې وه چې وېرېدلې یم. په هر حال د دې لپاره چې خپله اجرا ترسره کړم، نو خپله ګوته یې په ډېر ظرافت د پیانو په منځ کې په سي بېمن کېښوده، چې زما پام شي چې باید خپل کار له کوم ځایه پیل کړم. بیا په ډاډه زړه راته مسکه شوه، چې زړه یې راکړ او لاړه په خپل ځای کېناسته چې زه خپل موسیقي غږول پیل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲

د ۱۹٦۹ کال په پسرلي کې په برین ماور ښوونځي کې شامله شوم. هلته مې د نورو په پرتله دوې ځانګړنې درلودې، لومړی دا چې لوستل مې کولای شول او بل دا چې یو مینه‌ناک ورور مې درلود چې دویم ټولګي کې و او له ما سره یې مرسته کوله. ښوونځي څلور پوړه درلودل او له خښتو جوړ شوی و. مخکې یې انګړ و او یوازې څو کوڅې یې زموږ له کور سره واټن درلود. د دوو دقیقو پلي تګ لاره یې درلوده. خو که د کرېګ په شان مې منډې وهلې وای، نو په یوه دقیقه کې ښوونځي ته رسېدم.

له همغې پیله مې ښوونځی ډېر خوښ شو. همدارنګه خپله ښوونکې مې هم خوښه شوه چې مېرمن بوروز نومېده. دا سپین پوستې او له جثې وړه وه، داسې ښکارېده لکه زړه، خو زړه نه وه، بلکې عمر یې د څو پنځوسو کالو په شاوخوا کې و. زموږ ټولګی ستر و او داسې کړکۍ یې درلودې چې ډېر ښه لمر ترې راته. هلته زیات شمېر نانځکې هم وې چې موږ پرې لوبې کولې. ډېر ژر له خپلو ټولګیوالو سره ملګرې شوم، د دوی هم ښوونځی ډېر خوښېده. مور مې د کتابتون غړیتوب درلود. د هغې له کارته مې ګټه اخیسته او د «ډېک او جین» کتابونه مې کورته راوړل او ټول مې څو څو ځله لوستل. پر دې اساس کله چې په ښوونځي کې پوه شوم چې نوې کلمې باید د انځورونو له مخې زده کړم، نو ډېره خوښه شوم. لومړی مې باید د سره، آبي، شنه، تور، نارنجي، بنفش او سپین رنګونو نومونه د انځور له مخې زده کړي او لیکلي وای. مېرمن بوروز به بېلابېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارتونه پورته کړل او له موږ هر یوه به یې وغوښتل چې په کارت د کوم رنګ کلمه لیکل شوې، په لوړ غږ یې ولولو.

هر چا به چې پام وکړ او سم ځواب به یې ورکړ، نو د ښوونکې په امر په یوه ځانګړي ځای کې کېناسته. داسې ښکارېدل چې دا یوه لوبه ده، خو داسې نه وو، بلکې په دې لوبه کې ځینې ماشومان تحقیرېدل، ځکه ځینو زده کوونکو نشول کولای چې حتا یوه ساده او اسانه کلمه هم ووایی. لکه سور. البته دا موضوع په ۱۹٦۹ کال او د شیکاګو په یوه پخواني ښوونځي پورې اړه لري چې یو دولتي ښوونځی و.

هغه مهال چا لا د ماشومانو ځانباورۍ (عزت نفس) ته پاملرنه نه کوله. که کوم ماشوم به په کور کې ژر لوستل زده کړل، نو په ښوونځي کې به یې زیات امتیازونه ترلاسه کول. هغه ته یې هوښیار ویل او له دې امله یې ځانباوري زیاتېده. زموږ په ښوونځي کې هم دوه هوښیار زده کوونکي وو. یو د ټدي په نامه یو کوریایي- امریکایي هلک او بله هم د چیاکا په نامه یوه تور پوستې نجلۍ. ما هڅه کوله چې هغوی ته ځان ورورسوم. کله چې د کارتونو د لوستلو وار ماته راورسېد، له ځایه پورته شوم او له ستونزې پرته مې په پرلپسې توګه د سره، شین او آبي رنګونو نومونه وویل. بیا له لږ مکث وروسته مې د بنفش کارت او همدارنګه د نارنجي کارت نومونه هم واخیستل. مګر کله یې چې سپین کارت راته راواخیست، نو په خپل ځای مېخ شوم. ماغزه مې له کاره ولوېدل. خوله مې په عجیبه توګه کږه وږه شوه. هر څومره مې چې هڅه وکړه، ومې نشول کولای چې د سپین رنګ کلمه ادا کړم. ګونډې مې سستې شوې او داسې مې حس کړل چې دا دی په ځمکه لوېږم. له نېکه مرغه مېرمن بوروز راته وویل چې کېنه. کله چې په خپل ځای کېناستم، نو د سپین رنګ کلمې زما په مغزو کې د سوټک وهلو په څېر غږ وکړ. مګر نور وخت تېر شوی و. هغه شپه چې کله کورته لاړم او په کټ کې اوږده وغځېدم، نو یوازې د سپین رنګ په کلمې مې فکر کولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل حماقت ته خندېدلم چې ولې مې ونشول کولای چې دا کلمه په ټولګي کې په خوله راوړم. زړه مې ډېر غوښتل چې بریالی شم، خو اوس مې نور شک نه درلود، چې ښوونکې به ما یوه ټنبله زده کوونکې ګڼي. تل به د هغو طلایي ستورو په فکر کې وم، چې هغه ورځ مېرمن بوروز ټَدي او چیاکا ته ورکړي وو چې په خپلو ټټرونو یې راځوړند کړي. دا د دوی یوه نښه وه چې زیات هوښیاران دي او د ټولګي نور زده کوونکي کندذهنه. په هر حال هغوی ټول هغه کارتونه فوراً لوستلي وو چې ښوونکې ورښکاره کړي وو.

بله ورځ مې بیا له خپلې ښوونکې هیله وکړه چې له ما نه بیا ازموینه واخلي. مګر مېرمن بوروز زما خبره ونه منله او راته کړل یې چې موږ زیات نور کارونه هم لورو چې باید ترسره یې کړو. خو ما زیات ټینګار وکړ او دې هم زما څخه دویم ځل ازموینه واخیسته. دا ځل مې خپله خونسردي وساتله. کله به مې چې یو کارت ولوستلو، تازه ساه به مې واخیستله چې ماغزه مې فعاله شي. لنډه دا چې بریالی شوم او ومې کولای شول چې د تور، نارنجي او بنفش او سپین رنګونو نومونه له هر ستونزې پرته بیان کړم. هیله مې درلوده چې مېرمن بوروز دا کوچنۍ تور پوستې نجلۍ تشویق کړي یا مې زړه غوښتل چې ټَدي او چیاکا هم زما بریالیتوب ووینې. په هر حال، هغه ورځ مازیګر چې له ښوونځي څخه کور ته راتلم، نو هغه طلایي ستوری مې هم په ټټر ټومبلی و او له غرور څخه په ډک حالت کې کور ته لاړم.

کله چې کور ته تلم، په لار کې په خیالونو کې ډوبه وم او د خپلو نانځکو سره مې بېلابېلې پېښې انځورولې. نانځکو زما د ماشومتوب په خیالي دنیا کې ماشومان زېږول، یوې او بلې ته یې توطیې جوړولې، له یوې او بلې سره یې خیانت کولو، له یو او بلې سره به یې جګړې کولې او کله به هم په هیله او کله به هم په کرکه اخته کېدې. کله چې کور ته لاړم، تر ماښام پورې څه وخت و. ما غوښتل چې د خپلې خونې او د کرېګ د خونې په منځ کې مشترکې فضا ته لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شم، په ځمکه خپلې باربي نانځکې کېږدم او له هغوی سره داسې کیسې جوړې کړم چې له واقعیت سره نژدې وي. کله کله به مې د کریګ پلاستیکی سرتېري هم رااخیستل او په خپل نمایش کې به مې ځای ورکولو. زما د نانځکو کالي په یوه کوچني پلاستیکي بکس کې وو چې په مخ یې ما څو ګلان هم چسپولي وو. زموږ کره د لرګیو الفبې وې چې پخوا وختونو کې به میندو خپلو اولادونو ته د دې په واسطه الف بې ورزده کول. ما به رااخیستل او باربي نانځکو او جنګي سرتېرو ته به مې ځینې شیان ورزده کول. هر یوه ته مې ځانګړی نوم او ځانګړې شخصیت ورکړی و. زموږ د ګاونډیانو ماشومان به چې له ښوونځي څخه کور ته راغلل، نو لږ استراحت به یې وکړ، یو څه به یې وخوړل، بیا کوڅې ته به لاړل چې له یو بل سره لوبې وکړي. مګر زه به دوی ته نه ورتلم او همدارنګه د ښوونځي هېڅ کومه ملګرې مې هم کور ته نه راوسته، ځکه وسواسي وم او نه مې غوښتل چې څوک زما په نانځکو لاس ووهي. مخکې د خپلې یوې یا دوو ملګرو کور ته تللې وم او لیدلي مې و چې د هغوی د باربي نانځکو وېښته څنګه پرې شوي او په مخونو یې په قلم کرښې راایستلې دي. د ماشومانو په لوبو کې به تل خرابکاري، ګډوډۍ او حسادتونه ول. ما نه غوښتل چې له ښوونځي وروسته داسې شیان وزغمم. له هغوی سره د لوبو په ځای به په خپله کوچنۍ نړۍ کې ډوبېدم.

که په داسې وخت کې به حتا کریګ هم راغی او زما په نانځکو به یې لاس وواهه، نو ورته غوسه به شوم او په چغو او سورو به مې له ځانه لیرې کړ. حتا کله کله به مې کار دې ته هم رساوه چې ویې وهم. په هر حال نانځکو او لرګینو الفباوو دې ته اړتیا درلوده چې ژوند وروښیم او د خپل ژوند ماجراوې او ښکېلتیاوې په هغوی کې نندارې ته وړاندې کړم. زه هغوی ته د ښه خدای په شان وم، چې د هغوی درد، رنځ او وده مې لیدل.

له دې سره سره مې داسې هم کولای شول چې د خپلې خونې له کړکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ووینم چې په یوکلید سړک کې څه پېښېږي. ښاغلی ټامسون یو تور پوستی و چې د سړک بلې غاړې ته یې یوه درې پوړیزه ودانۍ درلوده. ده هر مازیګر معمولاً خپل ګیتار را اخیسته، د خپل کادیلاک (د یوه برند نوم دی: ژباړن) موټر په شا کې به یې اېښود او د ښار یوه لوبغالي ته به تله چې موسیقي وغږوي. همدارنګه زموږ د څنګ ګاونډیان د مندوزا کورني وه چې مکزیکیان وو. دوی به چې کله یوه ودانۍ رنګ کړه، نو یوه ورځ وروسته به له خپلې پیکپې سره راغلل چې له زینو او د رنګولو له وسایلو به ډکه وه. سپیانو به یې ښه راغلاست ته ورودانګل او ورته غپېدل به.

زموږ په سیمه کې د ټولنۍ د منځنۍ طبقې بېلابېلو کسانو ژوند کولو چې بېلابېل نژادونه یې لرل. ماشومانو به خپل ملګري د پوټکي د رنګ پر اساس نه موندل، بلکې هر څوک به چې له کوره راووتل او لوبه به یې کوله، نو دوی به ورسره ښکته او پورته کېدل او لوبې به یې ورسره کولې. زما یوه ملګرې ریچل وه چې سپین پوستې مور یې درلوده او د انګلیسانو په لهجه یې خبرې کولې. بله ملګرې مې سوزي وه چې سره او چنکچنکي وېښتان یې درلودل. همدارنګه د مندوزا د کورنۍ لمسې مې هم ملګرې وه چې هر کله به د خپل نیکه او خپلې نیا لیدلو ته راغله، نو ما به ورسره لوبې کولې. زموږ کورنیو هم بېلابېل نومونه درلودل: کانسوپانټ، ابوعاصف، یاکر، رابینسون او داسې نور. موږ ډېر کوچنیان وو او همدا لامل و چې د خپلې شاوخوا نړۍ په ډېریو بدلونونو چندان نه پوهېدو. په ۱۹۵۰ کال کې یعنې ۱۵ کاله مخکې له دې چې زما کورنۍ د شیکاګو جنوبي برخې ته کډه وکړي، د دې ځای مېشت وګړي کابو ۹۶ سلنه سپین پوستي و. مګر کله چې زه په ۱۹۸۱ کال کې پوهنتون کې شامله شوم، نو د دې ځای مېشت وګړي کابو ۹۶ سلنه تور پوستي وو.

زه او کرېګ د دې مختلفو بدلونونو او تحولاتو په جریان کې ستر شوو. اوس زموږ سیمه له یهودي مهاجرانو، له دوه رګه تور پوستو او له بېوزلو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځنۍ طبقې له افرادو هم ډکه شوې وه. مګر دوی ټولو د خپلو کورنو د مخې د چمن ښه پالنه کوله. همدارنګه خپل ماشومان یې هم روزل. ځینو به روبي ته چک ورکولو چې اولادونو ته یې پیانو ورزده کړي. په حقیقت کې زما کورنۍ یوه بېوزله کورنۍ وه. مور د کور خاوندان نه وو او یوازې دا ګټه مو کړې وه چې د روبي د کور په دویم پوړ کې مېشت شوي وو. زمور سیمه د نورو سیمو په شان نه وه شوې چې ډېری نسبتاً شتمن مېشت کسان یې د ښار شاوخوا ته کډه وکړي. البته شرکتونه یو په بل پسې له منځه تلل او اقتصادي ځوړتیا د پراختیا په حال کې وه.

مور د دې بدلونونو اغېزې په خپل ښوونځي کې احساسولې. کله چې دویم ټولګي ته لاړم، نو زده کوونکو به تل غالمغال کولو او یو بل به یې په ګچ ویشتل. ما او کرېګ له دې واړندې داسې څه نه وو لیدلي. زمور ښوونکي نشو کولای چې ټولګی کنترول کړي. داسې ښکارېدل چې د ماشومانو ټولګی چندان نه خوښېږي. ځوک نه و چې ماشومانو ته لارښوونه وکړي. په دې خاطر مور یې هغه ټولګي ته تبعید کړو چې په ځمکتل کې و او کمه روښنایي یې درلوده. هغه ځای مور ته د دوزخ په شان و. ما به یوازې دا هیله کوله چې د تفریح زنګ هر څومره ژر ووهل شي چې کور ته لاړه شم، ساندویچ وخورم او په مور ته مې ګیلې وکړم.

په یاد مې دي چې کله به په ماشومتوب کې د کومې موضوع له لاسه په غوسه شوم، نو خپل دوکمن زړه به مې په خپله مور خالي کاوه. هر کله به چې له ښوونځي راغلم، په ډېر غوسَناک حالت به مې په خپل نوي ښوونکي پسې خبرې کولې. مور مې رانه غوښتل چې ارامه واوسم او په خپل ښوونکي پسې داسې بدې خبرې ونه کړم. مګر هغې په ډېره ښه توګه زه درکولم. په همدې خاطر څو ورځې وروسته ښوونځي ته لاړه او د هغې له مسئوولینو سره وغږېده. دا کار د دې لامل شو چې له ما او زمور د ټولګي له دوو نورو زده کوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازموینه واخیستل شوه او مورِ یې د دویم پوړ ټولګي ته بوتلو چې رڼا یې درلوده او ښوونکې یې خندنۍ او پوه ښوونکې و.

همدې کوچني بدلون زما په ژوند کې مهمه ونډه ایفا کړه. هغه مهال ما تر ډېره د هغو ماشومانو په اړه فکر کولو چې همالته د ځمکتل په ټولګي کې پاتې شول. اوس چې پخه او بالغه شوې یم، نو په ښه توګه پوهېږم چې په هماغه وړکتوب کې ماشومان بې پروایي او نادیده انګېرل زده کوي. همدا چاره ده چې د دې باعث کېږي چې سر کښه شي. په هر حال زه هغه مهال له دې موضوع ډېره خوشحاله وم چې له هغې دوزخي ټولګي وژغورل شوم. څو کاله وروسته پوه شوم چې مور مې یوه سرسخته او رښتیانۍ مېرمن ده. ځکه هغه مهال یې د دویم ټولګي ښوونکي ته په زغرده او ملایم لحن ویلي وو چې ته ښوونکی نشې کېدلای او ښه دا ده چې له دې ځایه لاړ شې او چېرته د خزانَدار په توګه کار وکړې.

مور مې په تدریجي توګه دې ته هڅولم چې کوڅې ته لاړه شم او له ماشومانو سره لوبې وکړم. زړه یې غوښتل چې د وړور په شان مې له خلکو سره په اسانۍ اړیکه ټینګه کړم. کرېګ په ډېره ښه توګه کولای شول چې پېچلي شیان په ساده شیانو بدل کړي. شوخ او پرتحرکه و او ونه یې د لوړېدو په حال کې وه او لوړېدو. پلار مې تل کرېګ دې ته هڅولو چې په سختو سیالیو کې ګډون وکړي، ځکه غوښتل یې چې په راتلوونکې کې کرېګ د ښار له ډېرو غورو لوبغاړو سره لوبې وکړي.

کرېګ به تل د باسکټبال توب له ځان سره اخیسته او له داسې سیمې به تېرېده چې ډېرې ونې پکې وې او هغه پارک ته به تله چې زموږ کور ته نژدې و. هغه له ونو ډکه سیمه تل له مستو، لوچکو او جنایتکارو کسانو ډکه وه. مګر کرېګ په دې باور و چې هغوی دومره هم جنایتکاره نه دي څومره چې زه فکر کوم. د باسکټبال لوبه زما د وړور لپاره داسې یوه وسیله وه چې له امله یې کولای شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له نورو سره ملګرې شي، په سياليو کې ګډون وکړي، د ځينو ګاونډيانو د شايعاتو دروغ ثابت کړي او همدارنګه زما د پلار دا خبره تاييد کړي چې که له چا سره ښه چلن وشي، نو ښه انسان به ترې جوړ شي.

لنډه دا چې هغه له ټولو سره جوړ و. حتا له جنايتکارو او لوچکو کسانو سره هم چې د شراب پلورنځيو شاوخوا به وو او کله به يې چې کريګ وليد، له ده سره به يې په لاسو سترې مشي کولې او د يو بل پوښتنه به يې کوله.

ما به په داسې حالت کې ترې پوښتنه کوله چې: «آيا هغوی پېژنې؟»

هغه به هم اوږې پورته واچولې او ويل به يې: «نه پوهېږم، خو داسې ښکاري چې هغوی ما پېژني.»

د لسو کلونو شاوخوا کې وم چې ما هم لږ لږ بهر ته تګ پيل کړ. نور په کور کې راته پاتېکېدل ګران او خسته کېدم به. کله به چې ښوونځي رخصت شول، نو هره ورځ به زه او کريګ د ميشګان سمندرګي په بس کې سپاره کېدو او هغه پارک ته به تلو چې ساحل ته مخامخ و او له تياره کېدلو څخه به څلور ساعته وړاندې بېرته کور ته راتلو. نور ماته له نانځکو سره لوبې خوندورې نه وې. څنګه چې زموږ اپارتمان کولر نه درلود، نو کله به چې لمر ولوېد، زموږ کور به ډېر ګرم شو.

په همدې خاطر، هر چېرې به چې کريګ تله، زه به هم ورسره تلم، په دې توګه له داسې ماشومانو سره اشنا شوم چې په ښوونځي کې مې ورسره ملګرتيا نه درلوده. زموږ کوڅې ته نژدې يو ښکارګوټی و چې پنځلس کورنه يې درلودل. دا ښارګوټی ډېر ښکلی و او شنه او سمسوره فضا يې درلوده. زړه مې غوښتل چې هلته لاړه شم او د هغې ځای له نجونو سره رېسمان بازي وکړم يا هلته په څوکيو کې کېنم. هلته د ډي‌ډي په نامه يوه نجلۍ وه چې د کاتوليکانو په ښوونځي کې يې زده کړې کولې او ښوونځی يې کور ته نژدې و. ډي‌ډي يوه ورزشکاره او ښکلې نجلۍ وه، مګر له چا سره يې ښه چلن نه کاوه. هغې يوه ملګرې درلوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دېنین نومېده. دا به له خپلې ملګرې سره تل د خپل کور په مخ کې په زینو ناسته وه. داسې نه ښکارېدل چې د ډېډي دې زه خوښه شم، مګر دې له ما سره ښه چلن کاوه. ډېډي به چې کله ولیدم، نو په ملنډو به یې پیل وکړ او پر ما به یې ملنډې وهلې. زه به ډېره خواشینې او خوابدې شوم. اوس نو زما لپاره دوه انتخابه راپاتې وو، یو دا چې له دوی سره یو ځای شم چې تل راپورې ملنډې ووهي او بل دا چې هلته تګ بند کړم او بیا په خپل کور کې پاتې شم او له خپلو نانځکو سره لوبې وکړم. البته یوه بله لاره هم وه، هغه دا چې له ډېډي سره خبرې وکړم او یو ډول نه یو ډول ورسره ملګرتیا پیل کړم یا هم دا چې له هغې سره شخړه وکړم.

ما دویمه لار انتخاب کړه. یعنې کله چې بل ځل د تېر په شان ډېډي پر ما ملنډې ووهلې، نو په هغې مې داسې ورودانګل لکه څنګه چې پلار مې راښودلي وو. له هغې سره مې جګړه پیل کړه. دواړه سره په جنګ شوو، لاندې په ځمکه راوغورځېدو او یو بل ته مو سوکان ورکول. لنډ وخت نه و تېر شوی چې د پارک د شاوخوا ماشومان هم راورسېدل موږ ته ودرېدل او د لومړني ښوونځي د زده کوونکو په شان یې شور ماشور پیل کړ. په یاد مې نه دي چې چا سره بېل کړو. ښایي چې زما ورور به و، یا به هم د ماشومانو د کورنۍ کوم یو غړی و. کله چې زموږ جګړه ختمه شوه، نو شاوخوا چوپه چوپتیا شوه. په دې توګه زه په رسمي توګه د دې ماشومانو له ډلې سره یو ځای شوم. زه او ډېډي ژوبلې نه شوو. یوازې کالي مو په خاورو ولړل شول. ډېرې ستړې شوو او ستمېدو. که څه هم هېڅکله له هغې سره صمیمي ملګرې نه شوم، خو دا شخړه لږ تر لږه د دې باعث شوه چې له دې وروسته ماته درناوی وکړي.

زما د پلار موټر موږ ته یو پناه ځای و چې کله ناکله به پکې کېناستو او د هغې د ښیښو له شا څخه به مو نړۍ لیدله. موږ به هره یکشنبه او د پسرلي په ګرمو شپو کې په موټر کې بهر وتلو او له مقصد پرته به مو په سړکونو کې تګ او راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه. کله کله به له پیل هیل سیمې هم تېرېدو چې جنوبي سیمه وه او هلته ځینې تور پوستي ډاکټران مېشت وو. دا ځای د جنوبي ساحل یوه ښکلې او شتمن مېشتې سیمه وه چې تقریباً ټولو کورونو یې یو یا دوه موټرونه درلودل. د کور په مخ کې به یې ښکلي ګلان او بوټې لیدل کېدل.

پلار مې شتمنو ته تل د شک په سترګه کتل. مغرور کسان یې هېڅ نه خوښېدل. په یاد مې دي چې یو وخت یو کور پلور ته وړاندې شو. دا کور د روبي تروری کور ته نژدې و. مور او پلار مې وپتېیله چې دا کور واخلي. یوه ورځ د املاکو د ادارې له یوه کارکوونکي سره د دې کور لیدلو ته ورغلل. مګر له لنډ مهال وروسته یې تصمیم بېرته بدل شو. ما د داسې کور درلودلو هیله درلوده. له ځان سره به مې ویل چې که زموږ کورنۍ داسې یو کور ولري، نو څومره ښه به وي. مګر زما پلار یو ډېر محتاط انسان و. د راکړې ورکړې او سوداګرۍ په اړه چندان نه پوهېده او په دې نه پوهېده چې څنګه د خپلې راتلونکې لپاره پیسې ذخیره کړي. ده ویل که خلک بانکي پس اندازونه له لاسه ورکړي، نو پوروړي به شي. ویل یې که دا کور واخلو، نو مجبوره یو چې د هرې میاشتې تنخا د کور خاوند ته ورکړو. موږ ته بیا هېڅ نه پاتې کېږي.

پلار او مور مې له موږ سره تل د مشرانو په شان چلن کاوه. موږ ته یې نصیحتونه نه کول، په زغم یې زموږ خبره اورېده او زموږ بې ځایه پوښتنو ته یې ځوابونه راکول. کله به چې سره کېناستو، نو څو ساعته به مو خبرې کولې او ما او کرېګ به له فرصته ګټه اخیسته او د هغو شیانو په اړه به مو له دوی پوښتنې کولې چې نه پرې پوهېدو. مثلاً پوښتنه به مو کوله چې خلک ولې تشناب ته ځي، یا ولې خلک کار کولو ته اړتیا لري. لنډه دا چې په دې شان پوښتنو موږ د دوی سر په دردولو. مګر ما بلاخره له دې سقراطي پوښتنو او ځوابونو څخه وکولای شول چې یوه عالي پایله واخلم. ومې پوښتل موږ ولې باید د سهارې لپاره د چرګې هګۍ وخورو؟ بحث دې ته لاړ چې زموږ بدن پروټینو ته اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او ما بیا پوښتنه وکړه چې ښه مور، ولې د پروټینو د ترلاسه کولو په خاطر د پلیو له مربا ګټه نه اخلو. په پای کې زما مور دې ته اړ شوه چې د چرګې د هګۍ په اړه له خپل تعصبناک لیدلوري تېره شي. له هغې ورځې بیا تر نهو کلونو پورې ما هره ورځ د چرګې د هګۍ په ځای یو سندویچ خواړه چې د پلیو له مربا او له نورو مرباګانو څخه به ډک و.

کله چې لږ څه لویان شوو، نو د نشه‌يي توکو، جنسي اړیکو، د ژوند د خوښوونو، نژادونو، بې عدالتیو او سیاست په اړه به مو پوښتنې کولې. مور او پلار مې له مونږ څخه تمه نه درلوده چې د مقدسو کسانو په شان پاک او سپېڅلي واوسو. په یاد مې دي چې پلار مې تل ویل چې په هر حال جنسي مسایل طبیعي کار دی او باید په همدې شان ورسره برخورد وشي. همدارنګه هغوی د دې هڅه نه کوله چې له موږه د ژوند سختۍ پټې کړي او یا هر څه ته ښه او ښکلي ووایي.

مثلاً د یوه کال په پسرلي کې زما مور او پلار کریګ ته بایسکل واخیست. هغې بایسکل راواخیست او د میشګان سمندرګي ساحل ته لاړ. د ساحل په یوه پاخه سړک کې یې بایسکل ځغلولو او د ساحل له تازه هوا یې خوند اخیسته چې مخه یې یوه پولیس ونیوه، بندي یې کړ او پر دې یې تورن کړ چې بایسکل یې غلا کړی. پولیس دا نشو منلای چې یو تور پوستی ځوان دې بایسکل واخلي او چکر دې پرې ووهي. پولیس خپله تور پوستی و او په پای کې چې کله زما مور ورسره خبرې وکړې، نو له کریګ څخه یې ښښنه وغوښته. دا ډېره بې عدالتي ده، خو موږ هر ځل ورسره مخ کېږو. هغه موږ ته په ټینګار وویل چې همدا د پوټکي رنګ دی چې تل موږ له زیان او تاوان سره مخ کوي.

زما په اند، کله چې مې پلار د هیل پیل سیمې ساحلي سیمې ته بوولو، نو له دې کاره یې یوه موخه درلوده. هغوی غوښتل چې موږ ته راوښيي چې که یو څوک ښه درس ولولي او لوړې زده کړې ولري، نو کولای شي چې هوسا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند وکړي. زما مور او پلار تقریباً خپل ټول وخت د شیکاګو په بېوزل مېشته سیمو کې تېر کړی و. مګر زړونو یې نه غوښتل چې زه او کرېګ هم د دوی په شان ژوند ولرو. هغوی له واده وړاندې د لنډمهال لپاره سیمه‌یز پوهنتون ته تللي ول. مګر له ډیپلوم اخیستلو وړاندې یې پوهنتون پرېښی و. مور مې په پوهنتون کې د ښوونې او روزنې څانګه ټاکلې وه چې ښوونکې شي او درس ورکړي. خو بیا وروسته یې خوښه بدله شوه او غوښتل یې چې مدیریت څانګه ووایي. په همدې خاطر یې لوړې زده کړې پرېښودې. پلار مې هم فیس نشو ورکولای او په ځای یې له پوځ سره یو ځای شوی و. زموږ په کورنۍ کې داسې څوک نه وو چې په دوی ټینګار وکړي چې باید خپل درسونه پای ته ورسوي. په همدې خاطر زما پلار دوه کاله نظامي خدمت کړی و. په داسې حال کې چې د ده هیله پوهنتون او هنرمن کېدل وو. مګر له خپلې ګټې تېر شو او د خپلې تنخا یوه برخه یې خپل ورور ته ورکړه چې هغه په معماري کې زده کړې وکړي او ډیپلوم واخلي.

اوس مې نو پلار د ډېرش کلنۍ په وروستیو کې و او ټول فکر یې دا و چې خپلو ماشومانو لپاره پیسې ذخیره کړي. هغه نه غوښتل چې د کور په اخستلو یې لاس تش شي او بیا ونه شي کولای چې زموږ د زده کړو له ادامې سره مرسته وکړي. هغو ورځو کې یې ناروغۍ هم پرمختګ کړی و او کله چې ما د ښوونځي لومړۍ دوره پای ته ورسوله، نو لکڼه یې د تخرګ د لاندې په لرګي بدله شوې وه او د یوې په ځای یې د تخرګ له دوو لرګیو استفاده کوله. پلې یې په تدریجي توګه وچېدلې او دې ټولو ته یې د شخصي چالش په توګه کتل او په چوپتیا کې له خپلې ناروغۍ سره په مبارزه بوخت و. موږ د کورنۍ په توګه په کوچنیو خوشحالیو قانع وو.

کله به چې کال پایته ورسېد او ما او کرېګ به په ښوونځي کې پارچې واخیستې، نو پلار او مور به مې له یوه ایټالیایي رستوران څخه پیزه راوغوښته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه به مو خپله بریا لمانځله. زموږ ټولو د دې رستوران خواړه خوښېدل. په پسرلي کې به مو چې آیسکریم اخیستل نو ډېر به مو اخیستل او د هغې ککوي، چارمغزي او د سرکیو (آلوبالو) طعمونه به مو خوښول. دا آیسکریم به په یخچال کې وو او ځو ورځې به مو خوړل. سربېره پر دې، هر کال داسې ځایونو ته هم تلو چې تازه هوا تنفس کړو. لکه هغه کلني نندارتون ته به تلو چې د میشګان سمندرګي په مخه کې به جوړېده. دې ځای ښکلې هوا او پاکه فضا درلوده او ښکلې ننداري به هم پکې وړاندې کېدې. دلته به جنګي جټ الوتکو هم د اوبو په سر خپل ننداریز تمرینات اجرا کول. لنډه دا چې د لیدنې وړ ځای و. موږ به په موټر کې هلته تلو او د مېلې وسایل به مو هم له ځانه سره وړل. څنګه چې د کارکوونکو کورنیو ته یې په چمن کې د ناستې اجازه ورکوله او زما پلار هم د اوبو د تصفیې په کارخانه کې کار کولو او دنده یې دا وه چې د اوبو نلونه جوړ کړي، نو له دې امله موږ هم کولای شول چې هلته لاړ شو.

له دې سره سره هر کال زما پلار په جولای میاشت کې یوه اونۍ رخصتي اخیسته. په دې رخصتي کې به له موږ سره زما تروری او د هغې کوم زوی یا لور هم یو ځای شول چې اووه کسه به شوو، په بیوک کې به سپاره شوو او له سترې لارې څخه به له شیکاګو بهر ووتلو. کله به چې له میشګان سمندرګي تېر شو، نو یوه هوټل ته رسېدلو چې د «ډوکس هَپیي هالډې» په نامه و. دې هوټل د لوبو لپاره یوه خونه، د خرڅلاو یوه خپلکاره دستګاه چې د مېوې اوبه ترې اخیستل کېدې او تر ټولو یې لا ښه دا چې یو سرخلاصی حوض یې درلود. موږ به تل داسې کوټه نیوله چې پخلنځی به یې درلود. د ورځې په لمبا او تفریح ته تلو. پلار او مور به مې کباب پخولو، سګرېټ به یې وهل او له تروری سره به یې قطعې کولې. البته کله کله به مې پلار له موږ سره حوض ته هم تله او لمبل به یې. ده ښه څېره درلوده او د شونډو شاته یې د لور په شان برېت درلودل. دی هډور و او سینې یې راوتلې وې. له دې ښکارېدل چې مخکې یې ورزش کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حوض کې به تله راتله، مور به یې پورته اچولو او د یوې شېبې لپاره به یې خپل معلولیت هېراوه.

هر کار چې نیمایي ته رسېدلی وي نو زوال ورته بد دی. هر کال به چې د سپټمبر په میاشت کې زه او کرېګ بیا برین ماور ښوونځي ته تلو، نو په سړکونو کې به مو ډېر کم سپین پوستي ماشومان لیدل. ځکه ځینې د کاتولیکانو ښوونځي ته تلي وو چې په همغه سیمه که و. خو زیاترو یې کډه کوله او له ښوونځي تلل. په پیل کې به یوازې تور پوستې کورنۍ زموږ له سیمې تلې، مګر په تدریج سره به چې هر چا شتمني ترلاسه کوله او توانایي به یې درلودله، نو دا ځای یې پرېښوده. دا کډې به په ډېر ناڅاپي توګه تللې. ناڅاپه به مو د کور په مخ کې د خرڅلاو تابلوګانې لیدلې. لږ مهال وروسته به د بار وړلو یو موټر د کور په دروازه کې راښکاره شو او بله ورځ به خلک تللي ول.

زما مور هغه وخت زیاته خواشینې شوه چې ملګرې یې ولما سټوارټ ورته وویل چې موږ غواړو له ښاره بهر د فورسټ پارک سیمې ته کډه وکړو. هلته یې قسطي کور اخیستی و. سټوارټانو دوه ماشومان درلودل او کور یې د یوکلید سړک په وروستۍ برخه کې و. زموږ په شان یې په یوه کرایي کور کې ژوند کولو. مېرمن سټوارټ ډېره شوخه او ټوکي وه او کله به یې چې وخندل نو خندا به یې نورو ته هم سرایت کاوه. هغې او زما مور به تل یو بل ته د خوړو پخولو لارې چارې ورزده کولې او په خبرو به بوختې وې. مګر هېڅکله یې د نورو ګاونډیو مېرمنو په شان د دې او هغې غیبت نه کاوه. د مېرمن سټوارټ زوی داني نومېده، چې د کرېګ همزولی او د ده په شان ورزشکار و. همدې کار دوی سره زیات ملګري کړل. مګر د داني خور پاملا نوې پېغله شوې وه او له ما سره یې چندان نه لګېده. د ښاغلي سټوارټ په اړه مې یوازې دا په یاد دي چې د یوې بار وړونکې لارۍ موټروان و، د ډوډۍ پخولو په یوه ستره کارخانه کې یې کار کولو، د دوی توکي به یې له یو ځایه بل ځای ته وړل او په نورو به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلورل. د ده او د ده د مېرمنې او اولادونو رنګ ډېر تور و، چې ما تر هغې وخته داسې تور تور پوستان نه ول ليدلي.

زه په سمه توګه پر دې نه پوهېدم چې دوی څنګه په دې توانېدلي چې په هغه سيمه کې کور واخلي. فورسټ پارک د هغو ښارګوټو له ډلې و چې د لومړي ځل لپاره په امريکا کې جوړ شوي او پلان داسې و چې دا ښارګوټی به شاوخوا ۳۰ زره کسان په ځان کې ځای کړي. دې ښارګوټي د پلور څو مرکزونه، کليساوې ښوونځي او پارکونه هم درلودل. دا ښارګوټی په ۱۹۴۸ کال کې جوړ شوی و، کورونه يې ټول سره ورته وو او د ګوتو په شمېر تور پوستو کورنيو ته پکې ځای ورکړل شوی و. په هر حال د سټوارټ کورنۍ ورو ورو دې ښارګوټي ته ګډه وکړه. د دوی د کډې لږ وخت نه و تېر شوی چې مور ته يې بلنه راکړه چې کور ته يې ورشو. مور ډېر هيجاني وو. ځکه هغه ښارګوټی مو له نژدې څخه ليدلو چې اوس يې نو هر چا ستاينه کوله. څلور واړه په بيوک کې سپاره شو او له شيکاګو ووتو. څلوېښت دقيقې وروسته يوه غلي بازار ته ورسېدو او بيا ښارګوټي ته دننه شوو. مېرمن سټوارټ مور ته د خپل کور پته راکړې وه او مور هم له هغې سره سم يوې داسې کوڅې ته دننه شو چې خلوته وه او دواړو خواوو ته يې سره ورته کورونه درلودل. د ټولو کورونو مخ ته يو کوچنی بڼ و، چې خاکستري شګې پکې پرتې وې او کوچني بوټي پکې زرغون شوي وو. کله مې چې پلار وليدل، نو ويې ويل: «زه په دې نه پوهېږم چې ولې يو څوک ځان دې ته اړ کړي چې په داسې ځای کې ژوند وکړي.» زه تر يوه ځايه پورې له هغې سره موافقه وم. ځکه هر ځای به دې چې کتل، نو کومه زړه او ستره ونه نه تر سترګو کېده. لکه زموږ د کوټې د کړکۍ په مخ کې د بلوط ستره ونه. د فورسټ پارک ښارګوټي ټولې برخې خلوت او زړه وهونکې وې او شاوخوا هېڅ کوم رستوران نه ښکارېده چې خلک ورشي. نه د موټرونو هارنګونه و، نه د کوم امبولانس غږ و او نه هم د پوليسو د کوم موټر غږ او نه هم د يوې سندرې غږ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پخلنځي راووزي. داسې ښکارېدل چې د کورونو ټولې کړکۍ تړل شوې وې.

مګر دا ښارګوټی د کرېګ لپاره یو نمونه ځای و. ځکه هغه ټوله ورځ یې تر شنه اسمان لاندې له داني سټوارټ او نوو ملګرو سره د باسکټبال لوبه وکړه. زما پلار او مور هم له ښاغلي او مېرمن سټوارټ سره په خبرو بوخت شول. زه د پلاما خونې ته لاړم، هلته مې د دې وېښته ولیدل، د دې روڼ پوستکي ته مې وکتل او د دې ګاڼو ته حیرانه شوم. بیا مو سره یو ځای د غرمې ډوډۍ وخوړه. ماښام شوی و چې د سټوارټ له کورنۍ سره مو خدای پاماني وکړه. په تیاره کې پلي هغه ځای ته لاړو، کوم ځای کې چې پلار مې موټر درولی و. کرېګ دومره لوبې کړې وې چې سېک یې وتلی و او خولې پرې راتلې. زه هم ستړې شوې وم او غوښتل مې چې هر څومره ژر چې کېږي خپل کور ته ورسېږم.

په دې ښارګوټي کې یو څه و چې زه یې حیرانه کړم. ما د ښارګوټي له شاوخوا ځایونو سره مینه نه درلوده. د دې کار په دلیل هم نه پوهېدلم. د دوی اکثره ګاونډیان سپین پوستي وو او مور مې وویل فکر کوم چې د هغوی کور ته زموږ تر ورتګه پورې څوک پر دې نه پوهېدل چې هغوی دې تور پوستي وي. مور مې داسې انګېرل چې موږ د خپل تور پوست له امله د دې باعث شوي یو چې د هغوی ګاونډیان پوه شي چې هغوی هم تور پوستي دي. هغوی د خپلو ګاونډیانو په اړه څه ونه ویل. موږ هم د هغوی د کورونو د شاوخوا چاپېریال په اړه په څه نه پوهېدو.

دا چې هغه شپه، کله چې پلار مې د موټر خوا ته ورته نو کوم چا له کومې کړکۍ څخه څارلو او که نه؟ نه پوهېږم. آیا کېدی شي چې څوک د پردې شاته ولاړ وو و او موږ ته څېر وو؟ نه پوهېږم او دې پوښتنو ته به هېڅکله هم ځواب پیدا نه کړم. په یاد مې دي چې کله مې پلار خپل موټر ته ورنږدې شو، نو د موټر په لیدلو سره ځای پر ځای ودرېد. یو چا د هغه په ښکلي موټر په کلۍ، یا تېره باندې ژورې کرښې ایستلې وې. له شک پرته داسې ښکارېدل چې دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قصدي توګه شوی و. څنګه مې چې وړاندې هم وویل چې پلار مې ډېر زغم درلود او هر کوچنی او لوی مصیبت به چې پرې راغی، شورماشور یې نه جوړاوه او صبر یې کاوه. په کور کې هم همداسې و. هر څه به چې پاخه ول په پټه خوله به یې خوړل. داسې یو څوک و چې ډاکټر یې د ناروغۍ په اړه ورته ویلي هم و، خو ده بیا هم په ارامه توګه خپل ژوند ته ادامه ورکوله. په دې اساس دا مهال هم پلار مې خپل زغم وساته. حتا که کومه لار وای چې هغه خطاکاره کس پیدا کړي او د دې کار په ځای یې د کور دروازه ورماته کړي، بیا یې هم داسې کار نه کولو. یوازې د موټر له دروازې پرانیستلو وړاندې وویل: «هی، عجیبه بدې طالع». مور هم همغه شپه له خبرو پرته په موټر کې سپاره شوو او خپل ښار ته راغلو. د هغې شپې سهار ته مې پلار له همدې موټر سره خپل کار ته لاړ. مګر همدا چې فرصت یې پیدا کړ، نو موټر یې ورکشاپ ته بوت او هغه کړښې یې جوړې کړې چې په موټر کې ایستل شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳

زما ورور کرېګ ډېر زغم درلود او تل به خندنی و خو د ژوند په يوه پړاو کې يې اندېښنې پيل کړې. زه په سمه توګه په دې نه پوهېږم چې کله او ولې په داسې حالت اخته شو. دی هغه څوک و چې زموږ په سيمه کې ډېريو کسانو پېژانده او زياترو کسانو سره يې سلام او کلام درلود. کله ناکله به داسې کسانو هم ورته سلام کاوه چې ده به نه پېژندل او ده به هم له موکې ګټه اخيسته او له هر چا سره به يې خبرې کولې، خو اوس په کور کې په ژور خپګان اخته و او ګډوډ عصبي حالت يې درلود. تل به يې داسې انګېرل چې داسې ښکاري چې په موږه کومه بلا راځي. په خوب او خيال او کابوس اخته شوی و او فکر يې کولو چې هره شېبه کېدی شي، فاجعه رامنځته شي. يو ورځ يې دې ته اندېښنه وه چې رندېږي. په همدې خاطر به يې سترګې په کور کې په سترګپټي ترلې وې او سالون او پخلنځي کې يې د شيانو په لمسولو سره خپله لاره پيدا کوله. بله مهال يې دې ته اندېښنه وه چې کڼېږي. له دې امله يې د کڼو د ژبې (اشاره‌يي ژبې) په زده کولو پيل وکړ چې که داسې شي، نو له دې لارې وکولای شي، له نورو سره اړيکه ټينګه کړي. بل مهال يې دې ته اندېښنه وه چې د بدن يو غړی يې کېدی شي پرې شي. په دې خاطر به يې خپل ښی لاس تل په شا ترلی و او په چپ لاس به يې خواړه خوړل او نور کارونه به يې هم په همدې لاس ترسره کول.

په هر حال د هغه ډېر زيات ډار د اور بلېدنې په اړه و. په شيکاګو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونو سوزېدل یوه طبیعي پېښه وه، ځکه د کور خاوندانو کله ناکله په لاسي توگه داسې کول چې کورونه یې اور واخلي او له خاورو سره خاورې شي څو له دې لارې وشي کولای چې د بیمې له ادارې خساره واخلي. له بله پلوه د اور لگېدنې د خپرولو دستگاه ډېره گرانه وه او کارگرې طبقې نشو کولای چې دا دستگاه واخلي. په همدې خاطر اکثره کورنیو ته د اور لگېدنې خطر معمولي او رایج و.

زما نیکه له هغې کسانو څخه و چې کور یې وسوځېد او زموږ سیمې ته راکډه شو. البته له نېکه مرغه هغه حادثه کې هېڅا ته کوم زیان ونه رسېد. مور مې راته کیسه کوله چې د اورلگېدنې په وخت کې نیکه خپل کور ته مخامخ ولاړ و او د اور وژنې د ادارې کارکوونکو ته یې نارې وهلې چې زما د موسیقۍ البومونه وژغورئ. د اورلگېدنې بله غمجنه پېښه زما د یوه ټولگیوال وه چې له موږ سره په پنځم ټولگي کې و. د دوی په کور کې هم اورلگېدنه رامنځته شوې وه چې هم، ده پکې خپل ژوند بایللی و او هم یې ورور او خور. دا ټولگیوال مې د لسټر مک کولم په نامه و چې گڼ چنگچنگي وېښته یې درلودل، ونه یې لوړه وه او زموږ کور ته نژدې اوسېده. په هغه بدمرغه ورځ کې دی، د ده خور او ورور د دوی د خوب په کوټه کې وسوځېدل او مړه شول.

دا د خواخوږۍ لومړني مراسم ول چې ما پکې گډون وکړ. د سیمې زیاتره ماشومان د خواخوږۍ په خونه کې ناست ول او ژړل یې. همغه وخت د جکسون فایو یوه غمجنه سندره د خپرېدلو په حال کې وه. لویان هماغسې هک پک خپلو ځایونو کې ناست وو. د خونې په یوه څنډه کې درې لرگین تابوتونه وو. د درېیواړو انځورونه چوکاټ شوي او په تابوتونو اېښودل شوي وو. مېرمن مک کولم او د هغې مېړه پر دې توانېدلي و چې د خپل کور له کړکۍ ځانونه راوباسي او وژغورل شي. دې درانه غم د دوی ملاوې کړوپې کړې وې او په څېرو کې یې د ټولې نړۍ غمونه ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی کور تر څو ورځو پورې سوځېدو او بیا وروسته راغورځېد. کله چې کرېگ دا پېښه ولیده، نو اندېښنه یې لا نوره هم زیاته شوه. په ښوونځي کې به یې مور ته له اور لگېدنې سره د مقابلې او ساتنې لارې چارې رازده کولې. دا چې د اور لگېدنې په وخت کې ځانونه په ځمکه وغورځوو او راوښویېږو تر هغې ځانونه یوه خوندي ځای ته ورسوو. کرېگ ټینگار کاوه چې دا ټکي په کور کې تمرین کړو. ده د اور وژنې د مامور په قالب کې تمرینونه پیل کړل او زه یې په دې کار کې خپله مرستیاله کړم. مور په تمرین کې زده کړل چې څنگه د وتلو لار پیدا کړو او مور او پلار ته مو هم وویل چې باید څه وکړي. په تدریج سره مو زده کړل چې وخت وپېژنو او ژر خپل ځان یو ځای ته ورسو چې پلار مو په پارک کې زمور په پیدا کولو او پلټلو کې له ستونزو سره مخ نه شي او همدارنگه اړ نه شي چې زیاته پلې لاره ووهي. له دې سره سره کله به چې کرېگ سیالي درلوده، نو وخته به تیارېدو او سیالۍ ته به ورتلو چې سم ځای ونیسو.

اوس مو نو زده کړي و چې تر کومې کچې کولای شو، تر هغې کچې خپل ژوند کنترول کړو. تل مو تمرین کولو چې که کور مو اور واخلي، نو څنگه وکولای شو چې د کور له یوې کړکۍ بهر شو او د کور په مخ کې د بلوط په ونه یا هم د گاونډي د کور پر بام راښکته شو. تل مو داسې انگېرل چې که په پخلنځي کې منقل اور واخلي، یا په ځمکه کې یوه برېښنایي وسیله د اور لگېدنې باعث شي، یا برېښنا د اور لگېدنې باعث شي، نو په دې حالتونو کې مور څنکه کولای شو چې له هغې سره مقابله وکړو. ما او کرېگ د اور لگېدنې په وخت کې خپلې مور ته اندېښنه نه درلوده، ځکه کوچنۍ او چالاکه و او د خطر په وخت کې یې لړ ادرالین په بدن کې ترشح کول چې کولای یې شول، پاځېږي او وتښتي. زمور یوازینۍ اندېښنه د خپل پلار د ناتوانۍ په اړه وه. هغه له شک پرته نشول کولای چې له کړکۍ ټوپ کړي.

ژر مې دې ته پام شو چې د فیلمي لوبغاړو په شان نه شو کولای، د ژغورنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیات ترسره کړو. همدارنګه دې ته مو هم پام شو چې پلار مو نه شي کولای چې موږ په غېږ کې ونیسي او د اور له لمبو نه مو وژغوري. په دې پوه شوم چې یوازینی کس چې داسې کار کولی شي، هغه کرېګ دی. ځکه هغه زما د پلار په پرتله هډور و خو تر دې دمه هلک و او زیات وخت ته اړتیا وه چې د پلار کچې ته مې ورسېږي. په همدې خاطر یې په کورني تمرین کې ډېر بد حالتونه هم په پام کې نیول او پلار ته یې ویل چې د یوې بورۍ په شان په ځمکه پرېوزي او داسې څرګنده کړي چې د دوی په خاطر بې هوښه شوی.

پلار به مې په ناراضیتۍ سر خوځاوه او ویل به یې: «د خدای په خاطر ما پرېږدئ. تر کله به دا مسخره تمرینونه ترسره کوئ؟»

پلار مې له ناتوانۍ سره روږدی نه و. ده به تل هڅه کوله چې له ستونزو او مشکلاتو سره کلکه مبارزه وکړي. ډېر ناروغه هم و، خو هېڅکله یې د دردونو له لاسه زګېروي نه دي کړي. خپله دنده یې هم په ښه توګه ترسره کوله، دندې ته به په خپل وخت تلو او بیا به ترې راتلو او غیرحاضري یې هېڅ کوله نه. همېشنی عادت یې دا و چې د نورو د لاسونو امسا شي. اوس چې کمزوری شوی و، نو هڅه یې کوله چې په خپلو عواطفو باندې خپله جسماني کمزوري جبران کړي او په خپل عقل د شاوخوا کسانو لارښوونه وکړي. څو کاله کېدل چې پلار مې د دیموکرات ګوند غړیتوب ترلاسه کړی و. که څه هم دا مسئولیت یې په زور منلی و، مګر له خپل کار سره یې مینه درلوده. د اونۍ په پای کې به کلو او باندېو ته تلو. کله کله به زه هم ورسره تلم. موټر به مو په یو ځای کې دراوه او د یو کور دروازې ته به ورتلو او هغه به مو ټکوله. ډېری مهال به زموږ پر مخ دروازه یوې زړې کونډې او یا یو چاغ او زاړه کارګر پرانیسته او ویل به یې: «اوه، سلام فریزر، هیله کوم کور ته راشئ.»

د دوی په دې چلن به زه هېڅ نه خوشحالېدم. ځکه کله به چې د دوی کور ته لاړو، نو تر شپې پورې به په یوه چټل کوچ کېناستلو او سون‌اَپ به مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنبه. د کور خاوند به معمولاً د کثافاتو د راټولولو او یا په سړک کې د واورو د پاتېکېدلو په اړه زما پلار ته شکایت کاوه. هغه په ډېر زغم د هغوی خبرې اورېدلې. په دې کار به یې دا روښانول چې مثلاً دیموکرات ګوند د خلکو د سیمو په اړه په فکر کې دی او په انتخاباتو کې غوره دا ده چې دوی ته رایه ورکړي. زما له بده بخته زما پلار هېڅکله دا بېره نه کوله چې دا لیده کاته ژر پایته ورسېږي. هغه به چې کله د کور د خاوند د لمسیانو انځورونه ولیدل، نو د هغوی په ستاینه به یې پیل وکړ. د کور د خاوند درد او غم ته یې غوږ نیوه او د ژوند د سختیو په خاطر یې له هغه سره خواخوږي کوله. لنډه دا چې کله به له کوره راوتو، نو ده به د کور زوړ خاوند په غېږ کې نیوه او هغه ته به یې ډاډ ورکاوه چې هر کار چې مې له لاسه کېږي، زه به یې ترسره کړم چې ستاسو ستونزه هواره شي.

پلار مې په خپلو وړتیاوو باور درلود او په همدې خاطر یې نه غوښتل چې د کور د اور لګېدنې په تمرین کې د یوه کمزوري او بې لاسو او بې پښو کس نقش کې ولوبېږي. مګر په دې پوهېده چې دا موضوع څومره زموږ لپاره مهمه ده. کله به مو چې له ده وغوښتل چې په ځمکه پرېوزه، نو په خندا به یې ځان په ځمکه غورځولو او په همغه حالت کې به یې زما مور ته داسې کتل چې هغې ته وواېي چې وګوره ماشومان له موږ سره څه کارونه کوي. زما مور هم په دې نظر وه چې دا تمرینونه خندني وو. بیا به یې سترګې پټولې او دې ته به په تمه کېده چې کرېګ خپل عملیات پیل کړي. زه او مور به د دوی په څنګ کې درېدو او دې ته به مو کتل چې کرېګ څنګه هغه په سختۍ له ځمکې پورته کولو، بیا یې کشولو او د زینو خواته یې وړلو. کله به چې کرېګ دې ځای ته راورسېد، نو هڅه به یې کوله چې پلار له زینو راښکته او له شاتنۍ دروازې یې وباسي. مګر پلار به مې هېڅکله هغه ته دا اجازه نه ورکوله چې دا برخه تمثیل کړي. په مسکا به یې ورته وویل چې تر دې ځایه بس دي. بیا پورته کېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېده. په هر حال دې تمرین مور ته راښودل چې که کومه ورځ مو کور اور واخیست، نو د ژغورنې کار دومره هم ساده نه دی او همدارنګه کوم ضمانت هم نه و چې مور دې ژوندي پاتې شو. یوازې په دې خوښ وو چې لږ تر لږه د خپلې ژغورنې لپاره خو یوه برنامه لرو.

په تدریج سره زه هم اجتماعي نجلۍ شوم. اوس مې نو زړه غوښتل چې له خلکو سره زیاته مخامخ شم. له پلار سره تګ او د ګوند له رایه ورکوونکو سره لیدنو کتنو زه د دې جوګه کړم چې له نورو سره له خبرو اترو او اړیکو مخ وا نهړوم. همدارنګه د تروریانو، تروری‌ګانو، ماماګانو، د تروری‌ګانو د زامنو او د لورانو کورنو ته تګ او د ګاونډیانو له ماشومانو سره لوبې کولو او منډو وهلو او بهر کې د کباب له دودونو سره کېناستل د دې لامل شول چې زه نوره هم اجتماعي شم.

مور مې په یوه نهه کسیزه کورنۍ کېستره شوې وه او پلار مې د خپلې کورنۍ په پینځو هلکانو کې تر ټولو مشر و. د مور خپلوان به مې تل د نیکه په کور کې د کوځې ها بل پلو ته راټولېدل، د هغه په لاس پاخه شوي خواړه به یې خوړل، قطعې به یې کولې او د جاز لوړې موسیقۍ ته به یې غوږ نیوه. نیکه به ټول راټولول. هغې په بهر نړۍ چندان باور نه درلود او له هر څه نه زیاته اندېښنه یې د خپلې کورنۍ د روغیتا او امنیت په اړه وه. خپله ټوله هڅه به یې کوله چې مور ته ښه خواړه راکړي او په خپل کور کې مو بوخت وساتي.

نیکه حتا ماته یو سپی هم واخیست چې مهربانه و، خاورین رنګ یې درلود او ربکس مو بللو، خو مور د دې اجازه رانه کړه چې سپي کور ته راسره بوزم. یوازې یې دا اجازه راکړه چې نیکه کره یې ووینم. ما به له سپي سره لوبې کولې، مخ به مې د هغه په نرمو وېښتو موښلو او لیدل به مې چې کله به نیکه زموږ له خوا تېرېده، نو سپي به خپله لکۍ ورته خوځوله. څرنګه چې نیکه پر ما ځان ګران کړی و داسې یې په ربکس هم ځان ګران کړی و. هغې ته یې خواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول او پرې مهربانه و. د نیکه دا ټول چلنونه په واقعیت کې د دې لپاره وو چې هېڅکله یې یوازې پرېنږدو.

زما د پلار کورنۍ او خپلوانو د شیکاګو په جنوبي برخه کې ژوند کولو چې تروریانې، د تروریانو زامن او لوڼې او ځینې نور پکې شاملېدل او ما هېڅکله ونشو کړای چې د هغوی اړیکه له ځان سره درک کړم. مورږ به په ټوله سیمه کې ګرزېدو چې وشو کولای هر یوه ته سر ورښکاره کړو. زه به تل د ونو د شمېر له مخې په دې پوهېدم چې چېرې ځو. البته د بېوزلو په سیمه کې به زیاتره مهال ونې نه وې. پلار به مې چې هر وخت کالیو تره لیده، نو ډېر به خوشحالېده. هغه کوچني هډونه درلودل، ډنګر و، وېښته یې ګوڼګوتي او زیاتره مهال به نشه و. پلار مې له وېردېله ترور سره ډېره مینه درلوده چې له خپلو اتو اولادونو سره یې په یوه کوچني او پخواني اپارتمان کې ژوند کولو. د دوی کور د یوه ستر سړک په څنګ کې و. دا داسې ځای و چې د بقا قوانین پکې له نورو ځاینو ډېر جلا وو.

زیاتره وخت به هره یکشنبه له غرمې وروسته مورږ ټول د خپل پلار کورنۍ ته ورتلو چې کور یې په ګاردنر پارک کې و او زموږ له کوره یې شاوخوا لس دقیقې واټن درلود. هم مې پلرنی نیکه ژوندی و او هم پلرنۍ نیا. پلار مې درې خویندې درلودې او یو ورور. خویندې یې اندرو، کارلټون او فرانچسکا نومېدې او ورور یې نامېني. ورور یې کوچنی و. دوی ټول زموږ له پلاره یوه لسیزه وروسته زیږېدلي وو او مورږ ته هېڅ داسې ښکارېدل نه له لکه ترور او تره بلکې د خویندو او ورور په شان راته وو. پلار مې هم دوی ته د پلار په شان و نه د ورور. څکه تل یې ورته نصیحتونه کول او د اړتیا په وخت کې به یې پیسې هم ورکولې. فرانچسکا یوه ښکلې او هوښیاره نجلۍ وه چې کله ناکله به یې له ما غوښتل چې وېښته یې ورته ږمنځ کړم. اندرو او کارلېتون څو څو ویشت کاله عمر درلود. په ځانونو یې ډېر لاس واهه. د سترو پایڅو پتلونونه، چرمي چمپرونه او هغه بلوزونه به یې اغوستل چې غاړه هم پټوي. دوی به رنګا رنګ خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې، لکه د مالوک اېکس په اړه یا هم د اروا د ځواک د سندرې په اړه. ما او کرېګ به د دوی ځینې توکي رااخیستل، بیا به د اپارتمان شاتنۍ خونې ته تلو او هلته به مو پرې لوبې کولې.

پلرنی نیکه مې فریزر رابینسون نومېده، سپینږیری و، تریو تندی یې درلود او ډېر خسته کن و. په څوکۍ به کېناسته، سګرېټ به یې څکول او کله به یې هم ورځپاڼې لوستلې. د خبرونو په وخت کې به تلویزون ته کېناسته. که څه هم تلویزیون به ډېر نژدې و، خو ده به بیا هم د تلویزون غږ تر پایه لوړولو. زما د پلار اخلاق هغه ته هېڅ ورته نه و. نیکه تل ناراضه و. کله به یې چې د ورځپاڼو ځینې سرټکي ولوستل، نو په غوسه به شو او دا کار یې د تلویزون د خبرونو په وخت کې هم کاوه. کله به یې چې په کوڅه او سړکونو کې د سیمې ځوانان ولیدل چې ګرزي راګرزي، نو ډېر به ناراحته شو او ویل به یې چې دوی هسې خوشې ګرزي او د تور پوستانو ابرو یې هر چېرې وړي. نیا مې لاوان نومېده. که څه هم خندنۍ او مومنه وه او ښې خبرې یې کولې، خو نیکه به مې تل په دې ورپرچېده. نیا به د ورځې په یوه کتابپلورنځي کې مقدس کتاب انجیل پلورلو، مګر د بېکارۍ په وخت کې یې زما له نیکه سره وخت تېراوه او داسې معصومه او بې ژبې به وه چې زه حتا په همغه ماشومتوب کې هم د دې په دې چلن نه پوهېدم. نیکه ته به یې خواړه برابرول او هغه به چې کله سپکې او سپورې ورته ویلې دې به یې ځواب نه ورکاوه او هېڅکله به یې د ځان دفاع نه کوله. زما لپاره د نیا دا معصومیت او بې ژبېتوب ډېر عجیبه و.

زما د مور له وینا سره سم، په ټوله کورنۍ کې یوازې زه وم چې کله به مې نیکه شورماشور کاوه نو ما به یې ځواب ورکاوه. په ماشومتوب او نوي زلمیتوب کې مې هم دا کار کاولو. زما د غبرګون لامل دا و چې نیکه به بدخلقي کوله او نیا به مې ځواب نه وراکاوه چې دې کار زه ډېره په غوسه کولم. هغه به چې بدخلقي کوله، نو ټول یې پر وړاندې غلي ول. خو له دې ټولو سره سره نیکه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ډېر ګران و. د هغه په دې ضدونو زه پوهېدم. ځکه د ده دا اخلاق ماته هم په میراث کې پاتې شوي و. ما یوازې دا هیله درلوده چې دا ضدونه مې لږ څه راکم شي. البته د نیکه په وجود کې نرمي هم وه او مهرباني هم چې ما به یې کله کله نښې پکې لیدلې. کله به چې په ځمکه د هغه د راحتې څوکۍ تر څنګ کېناستم، نو په نرمۍ به یې زما پر سر لاس تېراوه. هر کله به چې زما پلار یوه ښه خبره وکړه او یا به مور ماشومانو کومه عالمانه خبره وویله، نو دی به مسک شو. مګر لږ وروسته به بیا یو څه د ده د تندخویۍ باعث شول او بیا به یې شورماشور جوړ کړ. کله ناکله به مې هغه ته ویل چې دومره چیغې مه وهه او په نیا باندې دومره مه غورېږه. یا به مې ترې پوښتل چې نیکه جانه ولې دومره غوسه یې؟

د دې پوښتنې ځواب هم پېچلی و او هم ساده. نیکه زما پوښتنه نه راځوابوله. یوازې به یې تندی تریو شو او اوږې به یې پورته واچولې. بیا به یې مجله راواخیسته او لوستله به یې. مګر کله به چې خپل کور ته راوګرزېدو، مور او پلار به مې هڅه کوله چې چې زما پوښتنو ته ځواب ووایي.

هغوی ماته ویل چې نیکه دې د جنوبي کارولینا د جورج ټاون ښار په یوه بندر کې لوی شوی و. دې ځای کې کروندې وې او یو مهال زیاتو غلامانو پکې کار کولو. وریژې او د نیل بوټي یې کرل او له دې لارې به یې خپل خاوندان شتمَنول. نیکه په ۱۹۱۲م کال کې پیدا شوی و، د دوو غلامانو لمسی، د یوه ژرندَګرې زوی او د یوې لس کسیزې کورنۍ یو اولاد شمېرل کېده. هوښیار هلک و. په همدې خاطر یې پروفیسور بللو. هغه په همغه ماشومتوب کې هیله درلوده چې یوه ورځ پوهنتون ته لاړ شي. مګر نه یوازې یو تور پوستی او د بېوزلې کورنۍ غړی و، بلکې کله چې قانوني سن ته ورسېد، نړیوال اقتصاد پر ځوړه شو. په همدې خاطر کله چې نیکه ښوونځی پای ته ورساوه، نو د لرګیو پرې کولو په یوه فابریکه کې پر کار بوخت شوی و. په دې پوهېده، که په هماغې جورج ټاون ښار کې پاتې شي، نو د پرمختګ هېڅ فرصت به ونه مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د لرګيو پرېکولو فابريکه وتړل شوه، دی هم د نورو تور پوستانو په شان شمالي شيکاګو ته لاړ او له هغې ډلې سره يو ځای شو چې د کډوالو د سترې ډلې په نامه يادېده. دې ډله کې شپږ ميليونه تور پوستان شامل و چې د پنځوسو کلونو په اوږدو کې د نژادي تبعيض په خاطر شمالي ښارونو ته لېږدېدلي وو او هلته يې هڅه کوله چې مناسبې دندې پيدا کړي.

هغه مهال امريکا د فرصتونو د هېواد په نامه مشهوره وه. پر دې اساس نيکه په ۱۹۳۰م کال کې شيکاګو ته ورسېد. ده بايد لومړی ښه دنده پيدا کړې وای او بيا پوهنتون ته تللی وای. خو واقعيت داسې نه و. ځکه هغه مهال دنده موندل ډېر ستونزمن کار و او د فابريکو رييسانو د تور پوستو کډوالو په پرتله زيات لومړيتوب د اروپا سپين پوستو کډوالو ته ورکاوه او منل يې. په همدې خاطر نيکه د هر کار پر کولو راضي کېږي او يو مهال هم په خدمت کولو تېروي. په دې توګه د ده هيلې کوچنۍ او لاپسې کوچنۍ شوې او پوهنتون ته د تللو فکر يې له سره بهر کړ. بيا يې پتېيلې وه چې برقي شي، مګر ډېر ژر ورته يو خنډ پيدا شوی و. هغه وخت به چې چا غوښتل چې برقي، پېښ، ترکاڼ، نلدوان يا په شيکاګو کې د يوې سترې ادارې کارکوونکی شي، نو بايد د کارګرۍ د اتحاديې د غړيتوب کارت يې درلودلای وای. مګر په معموله توګه تور پوستانو داسې کارتونه نه درلودل او هغوی ته نه ورکول کېدل هم.

دا تبعيض د دې باعث شو چې امريکا کې د ډېرو تور پوستو برخليک بدل او شغلي فرصتونه يې محدود شي. نيکه د ترکاڼ په نامه حق نه درلود چې په سترو ساختماني شرکتونو کې کار وکړي. ځکه د هېڅ يوې صنفي اتحاديې غړيتوب يې نه درلود. د روبي تروری مېړه نلدوان و او په همدې خاطر يې خپل کار پرېښودلی و او جيواليتوب يې کاوه. پېټ ماما هم پر دې نه وو توانېدلی چې د ټکسي چلوونکو اتحاديې ته ورشي. هغه له لېسنس پرته د بس ډرېور و او هغه مسافران يې وړل راوړل چې د لوېديزې برخې په ناامنه سيمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې ژوند کولو او معمولي ټیکسۍ به د ښار هغې برخو ته نه ورتللې.

دا بااستعداد کسان و چې باثباته او دایمي کار یې نه شو پیدا کولای او پایله یې دا شوه چې د دې توان یې نه و چې کور واخلي، خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوي، یا هم تقاعد شي. حتماً چې دا د دوی لپاره له خواشینۍ ډک حالت و چې داسې محرومیت وګالي او په داسې کارونو بوخت شي چې وړ یې نه وو او همهاله هغه سپین پوستي ووینې چې له دوی مخکې کېږي او یوه ورځ به د دوی رییسان شي. دې موضوع په دوی کې د کرکې او بې اعتمادۍ زړي وکرل.

مګر د نیکه په برخه کې، ژوند ده ته دومره هم بده څېره ورڅرګنده کړې نه وه. هغه چې کله د ښار د جنوبي برخې کلیسا ته تللی و، زما نیا یې لیدلې وه او بیا پر دې توانېدلی و چې د فدرال دولت د کارموندنې شرکت له لارې یو کار پیدا کړي. دې شرکت به د هغې اقتصادي ځوړتیا په وخت کې له بې مهارته کارګرانو ګټه اخیسته او په ودانیزو پروژو کې به یې پر کار ګمارل. له هغې وروسته نیکه کابو دېرش کاله د پوست مامور و او د پوسته‌رسان په توګه یې کار وکړ. کله چې تقاعد شو، د تقاعد حقوقو یې دا اجازه ورکوله چې په هوسا څوکۍ کېني او تل د دې او هغه پر سر وروپړچېږي.

بلاخره نیکه د پنځو اولادونو خاوند شوی و چې ټول د ده په شان هوښیاران وو. دویم زوی یې نامېنې نومېده چې لوړې زده کړې یې وکړې او د هارواړډ پوهنتون د حقوقو له څانګې فارغ شو. درې یې لونې وې چې یوه یې اندرو نومېده چې د اورپټلې کارکوونکې شوه. بله لور یې کارلټون نومېده چې انجینره شوه او بله یې هم فرانچسکو چې څه مهال یې د هنري مدیرې په توګه په یوه تبلیغاتي شرکت کې کار وکړ او بیا په یوه ښوونځي کې ښوونکې شوه. مګر نیکه نشو کولای چې د خپلو اولادونو لاسته‌راوړنې د خپلو لاسته‌راوړنو ادامه وګڼي. همدارنګه کله به چې مور هره یکشنبه ګاردنز پارک ته تلو او د دوی کره

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مو مابنامی کاوه نو په بنه توګه مې لیدل چې نیکه خپلې ځپل شوې هیلې نه هېروي او تل پکې سوچونه وهي.

ډېر ژر پر دې پوه شوم چې دا یوازې زما پوښتنې نه دي چې بې ځوابه دي، بلکې نور هم له ځانه سره داسې پوښتنې لري چې نه یې شي ځوابولی. ماته هم ډېرې پوښتنې پیدا شوې، خو په دې نه یم توانېدلې چې ځواب یې کړم. داسې یوه پوښتنه یوې نجلۍ هم رانه کړې وه چې ځواب یې راسره نه و. د هغې نوم مې اوس نه دی په یاد. خو دومره مې یاد دي چې لرې خپلوانه مې وه. زما د پلار یوه ترور وه چې کور یې زموږ د سیمې لویدیزې خواته و، کله به چې زه د دوی کره ورتلم، نو د هغې اولادونه به هم له موږ کره راتلل او په انګړ کې به یې له موږ سره لوبې کولې. کله به چې لویان په پخلنځي کې په قهوه څکلو او خبرو اترو او خنداوو بوخت شول، ما او کرېګ به د هغوی له اولادونو سره لوبې کولې. په داسې حالتونو کې به کرېګ ترې تم شو او یو کوښه ځای ته به لاړ چې له ځان سره باسکټبال لوبه وکړي.

یو دوبی چې کابو لس کلنه وم د کور په زینو کې ناسته وم او د پلرنیو خپلوانو له نجونو سره مې خبرې کولې. موږ ټولو خپل وېښته د لکۍ په څېر اوبدلي وو، لنډ پتلونونه مو اغوستي وو او کېدی شي چې د ښوونځي، مشرانو ورونو یا حتا د مېړیانو د غارونو په اړه مو خبرې کولې. دې وخت کې زما د خپلوانې لمسۍ رابرګه شوه او پر ما یې راپرچ وهل: «ته څنګه د دې جرأت کوې چې د سپین پوستو نجونو په شان خبرې وکړې؟»

ډېره نېشداره پوښتنه وه چې یا یې زما د سپکاوي لپاره وکړه یا دا چې غوښتل یې چې زما ځواب واوري. سمه ده چې موږ سره خپلوان و، مګر داسې ښکارېدل چې جهانونه مو بېلابېل دي. د دې له دې ډول پوښتنې څخه ډېره خواشینې شوم او زړه یې راوواهه. له همدې امله ما د دې په ځواب کې وویل: «زه هغسې خبرې نه کوم» مګر له ځانه سره پر دې پوهېدم چې رینښتیا وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به چې کله له خپلوانو سره خبرې کولې نو دوی ته به بل شان ښکارېدې. کرېگ هم همداسې و. واقعیت دا و چې مور او پلار مو رازده کړي وو چې کلمې تل په سمه توگه بیان کړو. هغوی زموږ لپاره د لغاتو یو قاموس پېرلی و چې د اپارتمان د دهلییز په کتابتون کې به مو کېښوده. موږ به هر وخت له خپلو والدینو څخه د ځینو کلماتو او موضوعاتو په اړه پوښتنې کولې. هغوی به موږ په کتابونو پسې لېږلو چې ویې لولو. کله به چې په ماښامي کې د ډوډۍ لپاره د مېز شاته کېناستو، نیکه به زموږ گرامري غلطۍ نیولې او ټینگار به یې کاوه چې کلمې په سمه توگه بیان کړو. البته دا زړسوی یوازې د دې لپاره و چې په خپل ژوند کې پرمختگ وکړو. هغوی زموږ په هوښ او استعداد ټینگار کولو او زموږ ځانباوري یې زیاتوله چې داسې خبرې وکړو. مگر زموږ له دې موضوع سره دومره جوړه نه وه. ځکه تور پوستانو داسې خبرې کولو ته په بده سترگه کتل او داسې یې انگېرل چې موږ ځانښودونکي او کبرجن بنیادمان یو چې د تور پوستۍ فرهنگ مو هېر کړی. مېره مې بارک اوباما هم داسې سړی دی چې د ځینو په اند تور پوستی او د ځینو نورو په اند روڼ پوستی دی چې سپین پوستی شمېرل کېږي. کلونه وروسته چې موږ سره واده وکړ، نو زموږ واده ته هم تور پوستان راغلي وو او هم سپین پوستان، دوی حیران وو چې بارک بلاخره پر کوم نژاد پورې اړه لري. وروسته امریکایانو هم له بارک څخه دا ډول پوښتنې وکړې: «آیا تاسو همغه څه یاستئ څنگه چې ښکارئ؟ آیا کولای شو چې پر تاسو اعتماد وکړو؟»

له هغه ورځې راهیسې مې نور له خپلوانې سره خبرې ونه کړې. که رښتیا غواړئ، نو د دې له داسې تُند او تریخ لحن څخه خوابدې شوې وم. زړه مې غوښتل چې هغه راته یوازې د یوې تور پوستې نجلۍ په سترگه وگوري چې تگړه ده، هوښیاره ده، ځانښودنه نه کوي او غواړي هغه څه واوسي څه شی چې ده. هغه حال کې مې له پخلنځي څخه د مشرانو د خبرو اترو او خنداوو غږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربدل. همداسې مې خپل ورور لیده چې د سړک په یوې څنډه کې په لوبو بوخت و او له ځانه سره مې فکر وکړ چې ګواکې دوی خپل ځای په ټولنه کې موندلی دی، مګر ما نه. اوس چې د هغه وخت په اړه فکر کوم نو انګېرم چې ګنګسه او ناتوانه وم نو اوس هم له دې پوښتنې سره مخ کېږم چې زه څوک یم او غواړم چېرته لاړه شم؟ همدارنګه دې ته مې پام کېږي چې اوس مې هم یوه اوږده لار په مخکې ده چې خپل غږ، خپل لیدلوری او خپل هویت پیدا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ٤

په ښوونځي کې هره ورځ شاوخوا یو ساعت وخت د غرمې د ډوډۍ خوړلو لپاره راکول کېده. زموږ کور هم ښوونځي ته نژدې و، مور مې هم کار ته نه تله او په کور کې وه. په همدې خاطر ما له دې موکې ګټه اخیسته، څو ټولګیوالې به مې له ځان سره کړې او کور ته به مې راسره بوتلې. دوی به مې بیا په پخلنځي کې له ځانه سره کېنولې، مور به مې ساندویچ راکړل، ساندویچ به مو خوړل او له یوې او بلې سره به مو خبرې کولې او په تلویزیون کې به مو «زموږ ټول ماشومان» سریال لیده. ما خپل دا عادت، یعنې د صمیمي دوستانو پالل او له هغوی سره خبرې اترې کول د ژوند تر پایه وساتلو. په پخلنځي کې به مې له دوستانو سره د هغو پېښو په اړه خبرې کولې چې په ښوونځي کې به په همغه ورځ پېښې شوې وې. له هغو سترې کوونکو تمرینونو څخه به مې شکایت کاوه چې ښوونکې به راکول او په دې برخه کې به له یو بل سره همفکره وو. ټول د جکسون 5 ډلې مینه‌وال وو او د اوزموندز ډلې په اړه مو هېڅ کوم ځانګړی حس او درک نه درلود. هغه مهال د واټرګېټ پېښه نوې رامنځته شوې وه، خو موږ یې په اړه په څه نه پوهېدو. موږ په دې اند و چې څو زاړه او بوډا انسانان سره په واشنیګټن کې راټول شوي او د میکروفون شاته خبرې کوي. واشنګټن زموږ لپاره یو لرې ښار و چې ډېرې سپینې ودانې یې درلودې او ډېر سپین پوستي انسانان پکې راټول شوي وو.

مور به مې ډېره خوشحالېده چې موږ ته خواړه راکړي، ځکه په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کولای شول چې زموږ د خبرو له لارې بهر نړۍ ته یوه کوچنۍ کړکۍ پرانیزي. کله به چې مور ډوډۍ خوړله او له یوې خوا او بلې خوا به غږېدلو، نو دا به معمولاً مور ته نژدې په کار بوختېده او زموږ خبرو ته به یې غوږ نیوه. البته داسې یې نه څرګندول چې زموږ خبرې نه اوري. په هر حال، زموږ څلور کسیزې کورنۍ په هغه شاوخوا پنځه اتیا متري فضا کې هېڅکله نشو کولای چې له یو بله څه پټ کړي. دا موضوع کله کله د اذیت او ناراحتۍ سبب کېده. دا مهال، نو د کرېګ پام نوی نجونو ته وراوښتی و. کله به یې چې په تلیفون کې له دوی سره خبرې کولې، نو تلیفون به یې له لین سره حمام ته یوړ او د تړلو دروازو شاته به یې له هغوی سره خبرې کولې. هغه مهال ملفون جوړ شوی نه و.

زموږ ښوونځی د شیکاګو په ښوونځیو کې د منځنۍ طبقې ښوونځی شمېرل کېده. د ۱۹۷۰م کال په لسیزه کې زموږ په سیمه کې نژادي تبعیض، بېوزلۍ او اقتصادي ستونزو خپلې ودې ته ادامه ورکوله، یعنې ورځ په ورځ تور پوستي زده کوونکي زیاتېدل او د کورنیو بېوزلي هم مخ په زیاتېدو وه. یوه ورځ د ښوونځي چارواکو تصمیم ونیو چې ماشومان باید ښوونځي ته په بس کې راشي، خو د ماشومانو کورنیو له دې طرحې سره مخالفت وکړ او ویې ویل چې ښه دا ده چې دا لګښت د ښوونځي د وضعې په ښه کېدو ولګول شي. په ماشومتوب کې زه په دې نه پوهېدم چې د ښوونځي د امکاناتو ښه والی څه ته وایي، یا دا څه اهمیت لري چې سپین پوستي زده کوونکي په ښوونځي کې وي او یا نه وي؟ برین ماور ښوونځي د ماشومانو لپاره وړکتون درلود او تر اتم ټولګي پورې یې ماشومان روزل. کله چې ما په ښوونځي کې څو کاله تېر کړل، نو د برېښنا ټولې بټنې او ټولې توري دړې راته ښې معلومې وې او په دې هم پوهېدم چې کومو دېوالونو کې چاکونه دي او کومې لارې خرابې دي. همدارنګه له ټولو ښوونکو او اکثرو زده کوونکو سره مې هم پېژندګلوي درلوده. برین ماور زما دویم کور شوی و.

په شیکاګو کې یوه اونیزه ورځپاڼه وه چې دیفندر نومېده او ډېر تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستي يې مينه‌وال و. کله چې اووم ټولګي ته تلم، نو دې ورځپاڼې زموږ د ښوونځي پر ضد يوه تُنده او تېزه مقاله چاپ کړه. ورځپاڼه کې راغلي وو چې دا ښوونځی يو وخت ډېر ښه دولتي ښوونځی و، خو اوس ډېر بد حالت لري او د بېوزلو او نېستمنو افرادو ذهنيت پرې واکمني کوي. زموږ د ښوونځي مدير ډاکټر لاويزو نومېده چې له ځنډ پرته يې دې خبريال ته د يوې مقالې له لارې ځواب ورکړ. هغه په خپله مقاله کې له زده کوونکو، د ښوونځي له چاروکو او له ميندو او پلرونو دفاع وکړه او د هغه خبريال ټولې خبرې يې توهين آمېزه او دروغ وبللې چې يوازې د زده کوونکو د ناهيلۍ او له ښوونځي څخه د تېښتې لپاره ليکل شوې وې.

ډاکټر لاويزو پښځ، لنډی او خندنی سړی و، ګوړګوتي وېښته يې درلودل، خو کنجی و او پکه ککرۍ يې درلوده چې جړ وېښته يې دواړو خواوو ته پراته وو. د انګړ په يوه ګوښه کې يو دفتر و چې زياتره وخت به هلته کېناسته. کومه مقاله يې چې ليکلې وه، دی هم پوهېده او له مقالې يې هم څرګندېدل چې د ماتې له احساس سره مخالفت کوي او په ښه توګه پوهېده چې د ماتې احساس زموږ د سيمې په فضا کې هره ورځ مخ په پراخېدو دی. دا حس هغو ميندو او پلرونو درلود چې چندان شتمني يې نه درلوده او هغو ماشومانو درلود چې انګېرل يې چې په ژوند کې به هېڅکله پرمختګ ونه کړي او هغو کورنيو هم درلود چې د خپلو ګاونډيانو پرمختګونه به يې ليدل او ليدل به يې چې له دې سيمې څخه ښار ته کډه کوي او خپل ماشومان په ځل بل ښوونځيو کې شاملوي. د ملکي معاملاتو کارکوونکي هم زموږ په سيمه کې ګرزېدل راګرزېدل او د کورونو بدمرغو خاوندانو ته يې ويل چې د خپلو کورنو په پلورلو کې بېړه وکړي او دا سيمه پرېږدي. هغوی ويل چې سيمه نور بېوزله شوې ده. دوی له دې خبرې څخه د يوې پلټې په توګه ګټه اخيسته چې کولای يې شول يو انبار وسوزوي. دوی له دې لارې خلک وېرول. مګر زما مور په دې خبرو کې هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ري هم نه واهه. شاوخوا لس کاله کېدل چې د شیکاګو په جنوبي ساحل کې يې ژوند کړی و او کولای يې شول چې څلوېښت کاله نور هم هلته ژوند وکړي. هغه د معاملاتو د لاربښوونې د کارکوونکو له دې خبرو نه وېرېده او له هر ډول خیالبافۍ سره مخالفه وه. واقع بينه وه او په راحتۍ يې کولای شول چې زموږ کورنۍ ژوند په خپل کنټرول کې راولي.

برين ماور ښوونځي کې زما مور د کورنيو او ښوونکو د انجمن یوه ډېره فعاله غړې وه. پیسې يې راټولولې او د ښوونځي د ټولګيو لپاره يې پرې نوي وسايل او تجهيزات اخیستل. د ښوونکو د پېژنګلوۍ او ستاينې لپاره يې د ماښام مېلمستیاوې جوړولې او دا هڅه يې هم پيل کړې وه چې د هوښيارو زده کوونکو لپاره ځانګړي ټولګي رامنځته کړي. د دې ټولګيو د رامنځته کېدو وړانديز د ښوونځي د مدير يعنې د ډاکټر لاويزو و. هغه د دوکتورا د سند د ترلاسه کولو لپاره شپني پوهنځي ته تللی و او هلته له داسې لارې سره اشنا شوی و چې غوره او هوښيار زده کوونکي يې د سن په اساس نه، بلکې د درسونو د درک او توانايۍ په اساس په یوه ټولګي کې راغونډول او په دې توګه به د دوی ښوونيزې چارې په ډېره چټکه توګه ترسره کېدلې.

دا نظريه د بحث وړ وه. منصفانه هم نه ښکارېده او يو امتياز شمېرل کېده چې هوښيارو او بااستعداده افرادو ته ورکول کېده. دا نظريه په تدريج سره په ټول هېواد کې مطرح شوه. ما هم د خپلې زده کړې په درېيو ورستيو کلونو کې د هښيارانو په دې ټول ټولګي کې ګډون درلود. له بېلابېلو ټولګيو څخه شل زده کوونکي وټاکل شول چې زه هم پکې وم. موږ به له نورو ټولګيو ګوښې په بل ټولګي کې کېناستو او درس به مو ويلو. له نورو زده کوونکو سره به يوازې د ښوونځي په ځينو بېلابېلو برنامو کې يوځای کېدلو، لکه د غرمۍ د ډوډۍ زنګ، د تفريح زنګ، د موسيقي ټولګي او د ورزش په لوبو کې. زموږ لپاره به يې ځانګړې برنامه جوړوله. لکه هره اونۍ به د سيمې يوه پوهنتون ته تلو يا به مو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکوالۍ د زده کړې په ټولګیو کې ګډون کاوه یا به مو د بیولوژۍ په لابراتوارونو کې موږکان تشریح کول. همدارنګه په ټولګي کې به مو په خپلواکه توګه هم ځینې کارونه ترسره کول. خپله به مو ځانته موخه ټاکله او هر هغه سرعت به چې موږ ته مناسب و، په همغې سرعت به مو زده کړې کولې.**

**لومړۍ ښوونکې مو مارتېنز نومېده چې له ده وروسته بیا ښاغلی بنېټ زموږ ښوونکی شو. دوی دواړه تور پوستي، مهربانه او د ښو اخلاقو څښتنان وو او د زده کوونکو خبرو ته به یې ډېر ښه غوږ نیوه. د ټولګیو له وضعیت څخه په بشپړه توګه څرګندېده چې ښوونځی موږ ته ځانګړې پاملرنه لري او همدا کار د دې لامل شوی و چې موږ هم په خپل کار کې لا زیاتې هڅې او کوښښونه وکړو. ډېر ښه حس مو درلود. اوس نو په زده کوونکو کې د سیالۍ کولو روحیه زیاته شوې وه. زه په دې ټولګیو کې په ډېرې چټکۍ پرمخ روانه وم او همدا چې د تقسیم عملیه به مو زده کړه، نو ټول به د الجبر او هندسې خواته لاړو. ما به په پټه دې ته پاملرنه کوله چې د خپلو ټولګیوالو په پرتله څنګه یم. له شک پرته د نورو زده کوونکو په شان ما هم هیله لرله چې په ټولګي کې لومړۍ واوسم او په ټولو سیالیو کې ګډون وکړم او بریالۍ شم.**

**په یاد مې دي هغه مهال به چې په ښوونځي کې هر څه تېرېدل، نو کله به چې کور ته راغلم، مور ته به مې ویل. دا کار مې یوازې په غرمه کې نه کوولو چې له خپلو ټولګیوالو سره به کور ته راتلم، بلکې کله به چې له غرمې وروسته ښوونځي رخصت شو، نو زه به په چټکۍ کور ته تلم، بکس به مې یوې خوا ته غوځارولو، وږې به وم، د لوږې له امله به مې په یخچال کې خواړه لټول او مور ته مې د ښوونځي د پېښو په اړه ژر ژر خبرې کولې. اوسمهال چې د هغو وختونو په اړه فکر کوم، نو وینم چې هغه مهال ماته دا مهم نه وو چې کله به کور کې نه وم، مور به مې کوم کار کولو. زه هم د نورو ماشومانو په شان په خپله نړۍ کې ډوبه وم او هېڅکله به مې له مور څخه داسې پوښتنه نه کوله چې د دې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه وي. نه پوهېږم چې د کار کولو په وخت کې یې څه احساسول او نه پوهېږم چې ولې یې د کور له کار پرته ځانته بل کوم کار غوره نه کړ. یوازې په دې پوهېږم چې کله به کور ته راغلم او یخچال به مې راخلاص کړ، نو خواړه به پکې وو، دا خواړه نه یوازې زما لپاره بلکې زما د ټولګیوالو لپاره هم وو. همدارنګه کله به چې ښوونځي زموږ لپاره علمي سفر برابراوه، نو مور مې به له نورو وړاندې دې کار ته ورمخکې کېده. بیا به یې لب سیرن وهل، شیکې جامې به یې اغوستلې او له موږ سره به په بس کې سپرېدله چې د کوم پوهنتون یا کوم ژوبڼ په لیدلو کې راسره ملګرتیا وکړي.

موږ د کور د لګښتونو لپاره محدوده او ثابته میاشتنۍ بودیجه درلوده. مور مې تل صرفه جویي کوله چې له امله به یې په دې بودیجه کې ستونزې نه رامنځته کېدې. د مثال په توګه، دې به خپل نوکان په خپله په رنګ ناخون رنګول، وېښته به یې خپله رنګول او دې موضوع یو ځل یو اضافه کار هم ورته پیدا کړ، ځکه وېښته یې په شنه رنګ واوښتل. پلار به مې یوازې هغه وخت ورته نوې جامې اخیستې چې د زېږېدو ورځ به یې وه او دا جامې به هم د ډالۍ په توګه وې. خو له دې پرته یې هېڅکله نوې جامې نه اخیستې. زموږ له جرابو څخه به یې په ډېره حیرانوونکې توګه نانځکې جوړولې او زموږ د مېزونو لپاره یې سرمېزۍ اوبدلې. همدارنګه تر هغې چې تر شپږم ټولګي پورې رسېدم نو زما اکثره جامې به دې ګنډلې.

کله کله به یې د خونې ډیکورېشن هم بدلاوه او مېزونه او کوچونه به یې یو خوا بل خوا وړل، د مېزونو سرمېزۍ به یې بدلولې او کوم انځورونه به چې په دېوالونو راځوړند شوي وو نوي چوکاټونه به یې ورته راوړل. کله به چې هوا ګرمه شوه، خونې به یې پاکولې او جارو کولې، پردې به یې مینځلې او د کړکیو شیشې به یې پاکولې. کله به چې کړکۍ خلاصې شوې، نو له کړکیو څخه به زموږ کوچني او مختصر اپارتمان ته پسرلنۍ هوا راغله. بیا به لاندیني پوړ یعنې د روبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تروری او تري کور ته تله چې پاک يې کړي. په ځانګړې توګه په دې ورستيیو کې چې هغوی زاړه او ناتوانه شوي وو. د همغو ورځو د خاطراتو اغېز دی چې کله د مينځونکو موادو بوی احساس کړم، نو په غيرارادي توګه د ژوند په اړه ښه احساس ترلاسه کوم.**

**د کرسمېس په رارسېدلو سره مې د مور نوښت لا پسې زياتېده. يو کال يې کاغذي کارتنونه ټول کړي وو، دا کارتنونه يې پرې کړل او مرکزګرمۍ يې پرې پوښ کړې. بيا يې دا کاغذونه د سرو خښتو په څېر رنګ کړل چې د يوه دېوال په شان معلومېدل. بيا يې له هماغو کاغذونو يو مصنوعي پايه جوړه کړه چې تر چته رسېده او د دود کش معنا يې درلوده. د دې پايې لاندې يې شومينه بخارۍ جوړه کړه او زما له هنرمن پلاره يې وغوښتل چې د اور شغلې وکاږي چې په شوميه کې يې کېږدي او شاته يې ګروپ ولګوي چې د اور په شان معلومې شي او خلک دا ګومان وکړي چې په دې بخارۍ کې اور لمبې وهي. په دې خاطر د يوې مجازي شومينې خاوندان شوو. د نوي کال په شپه به يې د دې شپې له دود او دستور سره سم، د پوزي يو سبد رااخيسته او هغه يې د پوڅې (پنير) په سترو ټوټو، خوراکي صدفونو او بېلابېلو ساسچو باندې ډکاوه. زما ترور فرانچيسکا يې هم کور ته رابلله چې قطعې ورسره وکړي.**

**چې شپه به شوه پيزه به مو راوغوښته او تر ناوخته پورې به د بېلابېلو خوراکونو په خوړولو بوخت و. مور مې په پرلپسې توګه موږ ته ساسچونه، سره شوې ميګو او بېلابېل کېکونه او بېسکېټونه راکول او کله به چې د شپې نيمايي ته ورسېدو، ټولو به يو کوچنی ګيلاس شمپاين څښل.**

**مور مې يوه عالي مور وه. زه اوس پر دې پوهېږم چې په ډېره ښه توګه يې زموږ پالنه کوله چې په آسانۍ يې څوک نشي کولای. ما داسې دوستان لرل چې ميندو يې په ټولو کارونو کې دخالت کولو او د دوی هر څه ته به يې پام و. له بل پلوه مې داسې ماشومان هم پېژندل چې والدين يې دومره په خپلو مسايلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخت ول چې هېڅکله یې وخت نه پیدا کولو چې له خپلو ماشومانو سره واوسي. مګر زما مور تل تعادل ساتلو. هېڅکله یې ژر قضاوت نه کولو او هېڅکله یې زموږ په مسایلو کې دخالت نه کولو. زموږ ساتنه یې هم کوله، خو موږ ته یې هم اجازه راکوله چې خپله له خپلو ستونزو سره مخامخ شو. یوازې هغه وخت به یې څه ناڅه زړه سوی کولو چې حالت به مو ډېر سخت او ستونزمن و او کله به مو چې ستره لاسته راوړنه ترلاسه کړه، موږ به یې ستایلو چې ومو پوهوي چې بریا مو ورته مهمه ده.

دې به که غوښتل چې موږ ته نصیحت وکړي، نو دا کار یې په ډېره هوښیارانه او واقع‌بینانه توګه کاوه. یوه ورځ چې کله کور ته راغلم او له ښوونکې څخه مې شکایت وکړ، نو راته ویې ویل: «اړینه نه ده چې حتماً له خپلې ښوونکې راضي او خوشحاله واوسې. دا ښوونکې د ریاضیاتو ډېر ښه درس ورکوي او ته هم دې پوهې ته اړتیا لرې. په دې اساس یوازې په هغه درس تمرکز وکړه چې درکوي یې او د هغې نور چلنونه نالیدلي وانګېره.»

له ما او له کرېګ سره یې ډېره مینه درلوده، خو دومره هم نه چې اسیران یې شو. همدارنګه موږ یې له اندازې زیات هم نه نازولو، بلکې زړه یې غوښتل چې موږ په نړۍ کې د ژوند لپاره وروزي. تل یې په خوله دا خبره وه چې: «زه ماشومان لویوم نه، بلکې هڅه کوم چې پوه او هوښیار انسانان وروزم.» هغې او زما پلار موږ ته له سرې کرښې، پولې او محدویت پرته لارښوونه کوله. مثلاً کله چې زلمکي شوو، نو کور ته په تګ راتګ کې مو محدودیتونه نه درلودل. د دې په ځای یې له موږ پوښتنه کوله چې کور ته د راتګ وخت کوم دی او بیا به یې زموږ ځواب منلو. یوه ورځ کرېګ د اتم ټولګي له یوې نجلۍ سره ملګری شوی و او نجلۍ ده ته بلنه ورکړې وه چې کور ته یې ورشي او په غیر مستقیمه توګه یې پوهولی و چې مور او پلار یې په کور کې نشته، نو دوی کولای شي چې یوازې واوسي. ورور مې نه پوهېده چې څه وکړي. له یوه پلوه یې هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرله چې د نجلۍ کور ته لاړ شي او له بل پلوه پوهېده چې د مور او پلار له نظره مې دا کار ناسم دی. بلاخره مور ته یې وویل چې غواړم له هغې نجلې سره وګورم. خو په دروغو یې وویل چې په یوه عمومي پارک کې ورسره وینم. مګر کله یې چې جامې واغوستلې او تګ ته چمتو شو، وجدان یې ملامته کړ او نه پوهېده چې څه وکړي. لنډه دا چې مور ته یې هر څه په زغرده وویل او په تمه و چې مور مې پرې وروپرچېږي او له تګه یې راوګرزوي. خو مور مې داسې ونه کړل. هغې ځان ناګاره واچواوه او ویې ویل:«زویه! هغه څه وکړه چې ستا په اند سم دي.» بیا پخلنځي ته لاړه او په لوښو مینځلو یې ځان بوخت کړ. مور مې پر موږ اعتماد درلود او پوهېده چې کرېګ به په پایله کې سم تصمیم ونیسي. هغې شک نه درلود چې موږ یې په معقولانه او منطقي فکر ستر کړي یو او پوهېده چې موږ باید خپله سم تصمیم ونیسو.

په هر حال، کله چې څوارلس کلنۍ ته ورسېدم، نو فکر مې کاوه چې نوره بالغه شوې یم، ځکه د بلوغ نښانې راکې څرګندې وې. میاشتنۍ عادت مې پیل شوی و او یوه ورځ مې په ډېر هیجاني حالت کې خپلې کورنۍ ته وویل چې زه داسې یم. زموږ کورنۍ تګلاره داسې وه چې هر څه باید په زغرده ووایو. له دې وړاندې مې مصنوعي او د دروغو سینه بند اغوسته، خو اوس مې واقعي سینه بند درلود او له دې پلوه ډېره هیجاني وم. د غرمنۍ لپاره به کور ته نه راتلم او د دې په ځای به مې له خپلو ملګرو سره ډوډۍ د ښاغلي بېنېټ په خونه کې خوړله چې په ښوونځي کې وه. نور به نو کله چې یکشنبې شوه، سیمه‌یز لوبغالي ته به نه تلم، یا د نیکه جاز موسیقي به مې نه اورېده، بلکې په بایسکل به مې پښه واړوله او ختیز پلو ته به لاړم چې اپارتمانونه نه بلکې بنګلې یې درلودې. د ګور خویندو ته به ورغلم چې بنګله یې درلوده. د دې خویندو کور په اوګلېس‌بي سړک کې موقعیت درلود.

ګور خویندې زما صمیمي ملګرې وې او ماته نمونې وې نمونې. دایان زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولګیواله وه او يَم له ما نه يو ټولګۍ شاته. دواړه ښکلې وې. د دايان پوست رون و او يَم لږ څه تور چکه وه. مګر دواړو يوه ځانګړې جاذبه درلوده چې زما په اند فطري وه. حتا د هغوی ډېره کوچنۍ خور جينا هم يو ځانګړی جذابيت درلود چې ټوله ګور کورنۍ ترې برخمنه وه. د هغوی په کور کې زيات سړي نه ليدل کېدل. واقعيت دا و چې د هغوی پلار له دوی سره نه اوسېده. هغوی به د خپل پلار په اړه ډېرې کمې غږېدلې. د دوی مشر ورور هم په کور کې ډېر نه ليدل کېده.

د دوی مور اغلې ګور شادابه او جذابه مېرمن وه چې تل يې په کور کې کار کولو. د دې د سينګار مېز له عطرونو، د مخ له پوډرو او له بېلابېلو کريمونو ډک و. څنګه چې زما مور داسې وسايل نه کارول، نو ماته دا سينګاري توکي داسې ښکارېدل لکه يوه ځلانده خزانه. په دې خاطر ډېره هيله مې درلوده چې د هغوی په کور کې واوسم. ما، يَم او دايان به تل د هلکانو په اړه خبرې کولې. البته د هغو هلکانو چې زموږ به خوښېدل. شونډې به مو سرې کولې او بېلابېلې جامې به مو اغوستې چې پوه شو، کومې جامې زموږ بدن ښه او غوره ښکاره کوي. هغه مهال مې تل د ځان په اړه فکر کولو. په خپله خونه کې به يوازې کېناستم او موسيقۍ ته به مې غوږ نيوه. په خپل خيال کې به مې له هغه هلک سره ګډا کوله چې زما به خوښېده. له کړکۍ به مې بهر ته کتل او هيله مې درلوده چې په بايسکل باندې سپور يو داسې هلک له کوځې تېر شي چې زما خوښېده او ما وګوري. په همدې خاطر له څو خويندو سره ملګرتيا زما لپاره ارزښتمنه ډالۍ وه چې له هغوی سره يو ځای په بايسکل وګرزم او د هلکانو په اړه ورسره وغږېږم.

هېڅ کوم هلک حق نه درلود چې ګور کورنۍ ته رادننه شي، خو داسې هلکان هم و چې تل به د کور شاوخوا کې ښکارېدل او د کور په مخ کې به يې په بايسکل تګ راتګ کاوه. دوی هيله درلوده چې دايان يا يَم له کوره راووزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوی ته لاس پورته کړي. که څه هم زه نه پوهېدم چې دا چلنونه څه معنا لري، مگر داسې حالتونو ماته ډېر خوند راکاوه. په ډېر تعجب او حیرانتیا مې لیدل چې د ښوونځي د هلکانو اندامونه او څېرې څنگه نارینه شوي او غړونه یې درنېږي، یا زما ټولگیوالې چې په چټکۍ یې وده کوله او داسې ښکارېدلې لکه اتلس کلنې چې پېغلې شوې وي. زما ټولگیوالو لنډې جامې اغوستې او په جسپو بلوزونو کې به یې په سیمه کې تگ راتگ کاوه او داسې ښکارېدلې لکه له بلې سیارې چې دلته راغلې وي. البته په ځینو نورو کې چندان بدلونه نه و راغلي او دې ته په تمه وې چې بالغې شي. خو بیا هم د وړو اسپو په شان په خپلو پښو کلکې درېدلې نه شوو او هر څومره به مو چې شونډې سرې کولې، بیا هم زموږ څېرې د ماشومانو په شان وې.

زه پوره بالغه شوې نه وم چې د ځینو نورو نجونو په څېر مې د لویانو په شان خبرې کولې. ښه ځانباوره وم او په سیمه کې به ډاډه گرزېدم. ځان مې په خپلې مور او خپل پلار پسې ډېر نه تاړه. یوازې به بس کې سپرېدم، مېفېر اکادمي ته به تلم، هلته مې د نڅا ټولگی درلود. د نڅا دې اکاډمۍ په نهه اویایم سړک کې موقعیت درلود. کله کله به مې د مور لپاره ځینې شیان اخیستل او کله به چې د نارینه‌وو په مخ کې تېرېدم، تل به مې مخامخ کتل او احساسول مې چې زما تیو او پنډیو ته گوري. همدارنگه پر دې هم پوهېدم چې زموږ د سیمې کوم سړکونه خطرناکه دي او د شپې باید هلته لاړه نه شم او په سړکونو کې یې ونه گرزم.

کله چې زه او کرېگ د نوي زلمیتوب دوران ته وردننه شو، نو مور او پلار مې موږ ته ځینې امتیازونه راکړل. د پخلنځي په مخ کې چې کومه برنډه وه، دې برنډه کې یې د کرېگ لپاره خونه جوړه کړه. ځکه اوس نو نوی ځوان شوی و او ښوونځي کې هم په متوسطه دوره کې و. همدارنگه زما او د کرېگ د خونو تر منځ پخوانی دېوال یې هم لیرې کړ او هلته یې د ځانونو لپاره د خوب خونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړه. د دې په ځای یې ماته د خپل خوب خونه راکړه. اوس نو ما او زما ورور بېلې بېلې نوې خونې درلودې چې معمولي اندازې یې وې. زما سرتختي سپینه وه چې آبي ګلونه یې لرل او له قالینې، له کټ او د ګروپونو له شېټ سره یې ځانګړې رنګي همغږي درلوده او د خوب هغو خونو ته ورته وه چې په ودانیزو مجلو کې به اعلانېدل. مور ته یې یو یو تلیفون راکړ چې زما یو یې زما د خونې د رنګ سره سم ابي و او د کرېګ هم تور رنګه. له دې لارې مور کولای شول چې له نورو سره شخصي خبرې وکړو.

ما خپله لومړۍ عاطفي اړیکه د تلیفون له لارې پیدا کړه. د رانېل په نامه یو هلک و. دې هلک زموږ په ښوونځي کې درسونه نه ویل بلکې په شیکاګو کې د یوې موسیقي ډلې سندرغاړی و. په دې ډله کې زما یو ټولګیوال هم و چې چیاکو نومېده. په دې توګه مور سره وپېژندل او هر ځل به چې ما ده ته ټلیفون کولو نو په ځان کې به مې یو عجیب حس رامنځته کېده. څو وارې زموږ د کور مخې ته راغی او شاوخوا وګرځېدو. بیا یوه ورځ چې مور په یوه سمنټي څوکۍ د یوه ګاونډي د کور مخې ته ګلونو او بوټو ته نژدې ناست و، رانېل ماته راټیټ شو او زه یې ښکل کړم. دا لومړی ځل و چې یوه هلک ښکل کړم او په ځمکه او اسمان کې هېڅ کومه پېښه رامنځته نه شوه. له هلکانو سره خبرې کول ماته ډېر بوختوونکې او جالب و. کله به چې زه له خپلې مور او خپل پلار سره د کرېګ د باسکټبال لوبې کتلو ته تلو، نو کله کله به چې د باسکټبال ځینې لوبغاړي زموږ له مخې تېرېدل، ماته به یې راکتل، چې ما ډېر خوند ترې اخیست. له دې ټولو څرګندېده چې زه د غټېدلو په حال کې یم.

په تدریج سره زما نړۍ، زما د مور او پلار له نړۍ څخه بېلېده او نور به چې هر فکر زما مغزو ته راتلو، ما به په خوله نه راوړو. اوس نو چې کله به د باسکټبال له سیالۍ وروسته په خپل بیوک موټر کې سپاره شوو او کور ته به راتلو، نو شاتنۍ څوکۍ کې کېناستم او ډېرې خبرې به مې نه کولې. ځکه احساسات مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره پاشلي او ګاواکه وو چې نه توانېدم نورو ته يې ووايم. زه د ماشومتوب او نوي زلميتوب د احساساتو په پوله کې وم او انګېرل مې چې شاوخوا لويانو مې داسې بحران تجربه کړی نه دی.

کومه شپه به مې چې غابښونه بورس کړل او له تشنابه به راووتم، نو کور به راته تياره ښکارېده. د سالون او پخلنځي څراغونه به مړه شوي وو او هر څوک به په خپله خصوصي فضا کې اوسېدل. د ګرېک د خونې د وره د درز له رڼا څخه پوهېدم چې درس لولي. د مور او پلار د خونې له رڼا څخه به هم څرګندېدل چې په خپله خونه کې تلويزيون ته ګوري او ما به د دوی خبرې اترې او خنداوې اورېدلې. خو په دې هېڅکلنه نه پوهېدم چې مور مې ولې تل په کور کې ده او کار ته نه ځي. همدارنګه ما د دوی کورنيو اړيکو ته هم ډېر پام نه کاوه. له يو بل سره د دوی همغږي او يوځای‌والی د ستاينې وړ و. دا هغه حقيقت و چې زموږ څلور واړو ژوند پرې ولاړ و.

هغه مهال به مې مور کله ناکله راته ويل: «هر کال چې کله پسرلی راشي او د شيکاګو هوا ګرمه شي، زه په دې فکر کې شم چې له پلاره دې ببله شم.» زه نه پوهېږم چې رښتيا يې ويل او که نه، جدي وه يا نه وه، همدارنګه پر دې هم نه پوهېږم چې د بېلتون فکر د دې په مغزو کې يو ساعت، يوه ورځ او يا يوه اونۍ ګرزېده راګرزېده که ډېر. مګر داسې ښکارېدل چې دا خيال تل ورسره و او نه ترې بېلېده. دې فکر ښايي دې ته انرژي ورکوله چې ښه فکر وکړي.

اوسمهال چې د هغې خبرو ته فکر کوم، نو وينم چې کله کله حتا يو بريالی واده هم کېدی شي د مېړه او مېرمن لپاره ځوروونکی واوسي. په دې اساس څومره به ښه وي چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ د واده تړون کله ناکله څو ځله په خصوصي يا حتا څرګند ډول تمديد شي. البته په دې ډاډه يم چې مور مې هېڅکله د خپلو شکونو او ناراحتيو په اړه زما پلار ته څه نه ويل او فکر نه کوم چې د خپل ايډيال او ارماني ژوند په اړه دې له ده سره غږېدلې وي. آيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې داسې انګېرل چې په یوه ګرمسېره ټاپو کې د یوه بل سړي مېرمن ده؟ یا یې داسې فکر کاوه چې متفاوته کور او د دوو ماشومانو په ځای یو ښکلی کاري دفتر ولري؟ نه پوهېږم، البته اوس مې مور له اتیا کلنۍ اوښتې او دا پوښتنې ترې کولای شم، خو فکر نه کوم چې دا مسله به نور کوم اهمیت ولري.

ژمی په شیکاګو ښار کې ځانګړی حالت او ځانګړې هوا لري. آسمان له درېیو میاشتو زیات خړ چکی شي او رنګ یې هېڅ بدلېږي نه. هوا ډېره سړه کېږي او له سیندنو څخه ساړه بادونه راالوزي چې سړی چیچي. له سهاره تر ماښامه واوره ورېږي او ټول ځایونه یخک وي. د پلي تګ لارې او سړکونه ټول په واورو پټ وي. د ښاپېریانو په کیسو کې د راغلي حالت په شان د واروې دانې په هوا کې ناڅي او یوې بلې خوا ته ځي او د موټرو مخکینۍ ښیښه په واورو پټېږي. سهار چې کله خلک خپلو کارونو ته ځي، نو د واورو پاکولو وسایل رااخلي، د خپلو موټرو ښیښې پاکوي او هر چېرته د پاک کولو خش خش غږونه اورېدل کېږي. ګاونډیان ټول پشمي او ډبلې جامې اغوندي او د باد او باران پر وړاندې خپل سر ټیټ نیسي. داسې چې نه پېژندل کېږي. د واورې پاکولو موټرونه کوڅو او سړکونو ته راځي او د خلکو او نقلیه وسایلو لپاره د تګ راتګ لارې پاکوي.

خو بلاخره یوه ورځ هوا کې بدلون راځي. نری شمال پیلېږي او اسمان لږ څه پرانیستل کېږي چې موږ یې احساسولای شو او وایي چې ژمی د تللو په حال کې دی. له خړ چکي اسمانه لمر هم لږ لږ راوځي او د ونو په شاخونو او پاڼو لګېږي. دا نو هغه مهال وي چې د ونو په شاخونو کې کوچنۍ غونچې ګلونه کوي. ګاونډیان هم خپلې پشمي او ډبلې جامې راباسي او تصمیم نیسي چې د خپلو خونو کړکۍ خلاصې او ښیښې یې پاکې کړي او کور ته د تازه هوا د راتلو لار پرانیزي. په همدې شېبو کې ده چې د کور د ښځې ذهن خلاصېږي او فکر کوي چې که واده یې نه وای کړی او ماشومان یې نه وای ستر کړي، نو ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای کې وای او بېل ژوند یې درلودلای. ښايي له دې وړاندې چې د مينځونکو موادو ډک سطل د لوښو مينځلو ځای کې خالي کړي، ټوله ورځ په دې فکر کې وي چې کاشکي په بله لار او بله طريقه مې ژوند کولای او ښايي هم په يوه شېبه کې يې ببرته اوسني ژوند ته خپل ډاډ او ايمان بيا راوګرزي او ځانته ووايي چې هو رېښتيا پسرلی راغلی او يو ځل بيا بايد تصميم ونيسم چې همدلته پاتې شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵

کله چې د ښوونځي ثانوي دورې ته لاړم، نو مور مې وپتېيله چې له کوره راووزي او ځانته دنده پیدا کړي. دنده یې پیدا کړه او د شیکاګو په اسمان‌څکو ودانیو کې په یوه بانک کې د مرستیالې په توګه پر کار وګمارل شوه. د خپلې دندې لپاره یې یو جوړه رسمي جامې واخیستې او هر سهار به د کار لپاره له کوره وتله. زیاتره وخت په بس کې تله، مګر کله ناکله به که د دې د کار وخت زما د پلار د کار له وخت سره همغږی و، نو د پلار په بیوک کې به ښار ته تله. دا دنده د دې لپاره یوه تنوع شمېرل کېده او د دې په یونواخته او معمولي ژوند کې یې بدلون راوسته او له بل پلوه یې له کورنۍ سره مالي مرسته هم کوله. کورنۍ مې پیسو ته اړتیا درلوده ځکه د کرېګ د کاتولیکي ښوونځي فیس راپسې و. همدارنګه هغه د پوهنتون په اړه هم فکر کولو او زه هم له ده وروسته پوهنتون ته تلم. دا ټول اضافه لګښتونه وو.

ورور مې نو اوس په بشپړه توګه وده کړې وه، هډور شوی و، په لوبو کې یې لوړ ټوپونه وهل چې له امله یې زموږ د ښار یو غوره لوبغاړی شمېرل کېده. په کور کې یې ډېر خوراک کولو. په پرلپسې توګه یې شیدې څښلې. د یوې پیزا په ځای یې څو دانې پیزاوې خوړلې. حتا کله به داسې هم کېدل چې له ماښامي وروسته به یې له خوبه وړاندې د دویم ځل لپاره هم سپک خواړه خوړل. د تل په شان یې هر څه په راحتۍ ترلاسه کول او سربېره پر دې یې لوړ تمرکز هم درلود. که څه هم په ورزش کې ځواکمن و، خو په درسونو کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لوړې نومرې اخیستې. د خپل ښوونځي له باسکټبال ټیم سره یې بېلابېلو ښارونو ته سفرونه کول او له هغو وتلو لوبغاړو سره یې لوبې کولې چې وروسته د امریکا د بسکټبال په سیالیو کې شامل شول. کله چې ده غوښتل چې د ښوونځي ثانوي دورې ته لاړ شي، نو د څو مشهورو ښوونځیو استادان ورته راغلل چې خپل ښوونځي او خپل ټیم ته یې ورجذب کړي، ځکه ده ته یې اړتیا درلوده چې د دوی ورزشي ټیم پرې بشپړ شي. خو مور او پلار مې ټینګار درلود چې کرېګ باید داسې ونه کړي چې خپلې زده کړې له ورزشه ځار کړي او د ښوونځي په بسکټبال ډله کې لوبه وکړي. هغوی د ورزش په پرتله د ده زده کړو ته زیات اهمیت ورکولو.

ماونت کارمل ښوونځي د باسکټبال یو پیاوړی ټیم او یوه مناسبه درسي برنامه درلوده. داسې ښکارېدل چې همدا به ښه غوراوی وي او د دې ارزښت یې درلود چې مور او پلار مې یې پیسې ورکړي. د کرېګ ښوونکي کشیشان وو چې قهوه‌یي چپنې یې اغوستې او ټولو زده کوونکو دوی ته د پلار په نامه غږ کاوه. په ټولګیو کې شاوخوا اتیا سلنه زده کوونکي یې سپین پوستي ایرلنډي کاتولیکان وو چې له لرې سپین‌پوست مېشتو او د کارګري طبقې له سیمو راتلل. کله چې کرېګ د ثانوي دورې پای ته ورنژدې شو، نو ډېر ژر د باسکټبال د لومړۍ درجې د لیګونو ټیمونه په ده پسې راغلل چې له دوی سره یو ځای شي. مګر بیا هم زما مور او پلار ټینګار وکړ چې د خپلو درسونو لګښتونو ته دې پام نه کوي، خپلو درسونو ته دې ادامه ورکړي او موخه یې دا وي چې یوه ډېر ښه پوهنتون ته لاړ شي.

زه ډېره نېکمرغه وم چې ثانوي دوره مې په ویتني ام. یانګ ښوونځي کې وویله. دا ښوونځی د شیکاګو په یوه بېوزله سیمه کې و چې د څو کلونو په تېرېدو سره د ښار په یوه غوره ښوونځي بدل شو. له نېکه مرغه دې ښوونځي د بس له کرایې پرته کوم بل اضافي لګښت نه درلود. ویتني م. یانګ د مدني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقو یو فعال و چې دا ښوونځي يې په يوه محرومه سيمه کې په ۱۹۷۵م کال کې تاسيس کړی و او د ښار د شمال او د ښار د جنوب ترمنځ پوله کې يې موقعيت درلود. روښانفکره ښوونکي يې پر کار ګمارلي وو او نوي امکانات او تجهيزات يې درلودل. موخه يې دا وه چې له هر نژاده هوښيار زده کوونکي ورجذب کړي. د منلو ظرفيت يې داسې و: ۴۰ سلنه تور پوستي زده کوونکي، ۴۰ سلنه سپين پوستي زده کوونکي او ۲۰ سلنه اسپانَوي او د نورو نژادونو زده کوونکي. خو د ښوونځي چارواکو دې سهيمه بندۍ ته کومه پاملرنه نه وه کړې. ځکه کله چې زه دې ښوونځي ته لاړم نو ومې ليدل چې ۸۰ سلنه زده کوونکي يې له سپين پوستو پرته نور نژادونه دي.

اوس نو نهم ټولګي ته تللې وم. لومړی ورځ چې ښوونځي ته تلم، اوږده لاره مې ووهله، په دوو بسونو کې سپره شوم او نوي دقيقې وروسته له استرس او هيجان سره ښوونځي ته ورسېدم. هغه ورځ سهار په ډېرې سختۍ په پنځو بجو له خوبه راپاڅېدم، خپلې نوې جامې مې واغوستلې او دوې ښکلې غوړوالۍ مې پر غوږو کړې وې، مګر خبره نه وم چې دا جامې او دا ظاهري ځېره له ښوونځي سره مناسبه ده او که يه. سهارۍ مې په کور کې خوړلی و، مګر نه پوهېدم چې د غرمې ډوډۍ به چېرته وخورم. له مور او پلار سره مې مخه‌ښه وکړه. څنګه چې ټولو ويل چې ثانوي دوره په انسان کې بدلون راولي، نو نه پوهېدم چې همغه ورځ همغه ميشل وم او که بله. د ښوونځي ودانۍ راته ښکلې او نوې ښکاره شوې او له ټولو هغو ښوونځيو سره يې توپير درلود چې وړاندې مې ليدلي ول.

ښوونځي درې مکعبه ودانۍ درلودې چې د څو هوايي پلونو له لارې سره وصل شوې وې. د ټولګيو فضا يې پراخه وه. په ډېرې هوښيارۍ دا ښوونځی طراحي شوی و. يوې ودانۍ په بشپړه توګه په هنرونو پورې اړه درلوده او بېلابېلې خونې پکې وې چې د سندرو ويلو، عکاسۍ، کُلالۍ او د موسيقي د ډلو لپاره طراحي شوې وې. ښوونځی معبد ته ورته جوړ شوی و او شاوخوا ۹۰۰ زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي يې درلودل. ما داسې انګېرله چې دا ټول هغه زده کوونکي دي چې پر ځانونو بشپړ باور لري خو ما له دوی سره زيات واټن درلود. داسې ښکارېدل چې دوی د ازموينې ټولې څلور ځوابه پوښتنې ځواب کړې وې او بيا دلته راغلي وو او دوی ټولو په خپل مغزي ځواک کنترول درلود، خو زه داسې نه وم او د دوی پر وړاندې مې د کمترۍ او ناتوانۍ احساس درلود. په برين ماور ښوونځي کې يوه تکړه زده کوونکې وم مګر اوس داسې ښوونځي ته راغلې وم چې ډېر تکړه زده کوونکي يې درلودل. په هر حال، کله چې له بسه ښکته شوم، نو پوه شوم چې زياتره نجونې د ښوونځي له بکس پرته يو بل ښځينه بکس هم لري چې له ځانونو سره يې راوړي.

په ثانوي ښوونځي کې هم زما اندېښنه دا وه چې آيا په کافي اندازه هوښياره يم او که يه؟ ورو ورو له نوي ښوونځي سره روږدې کېدلم، سهار وختي به له خوبه پاڅېدم، ښوونځي ته به لاړم او په ښوونځي کې مې منډې وهلې چې خپل ټولګی پيدا کړم، مګر بيا مې هم په لومړۍ مياشت کې تل هماغه پوښتنه له ځانه کوله.

ويتني يانګ ښوونځی په پنځو برخو وېشل شوی و، هرې برخې خپل زده کوونکي درلودل چې يوه ډله يې جوړوله. زما د ډلې نوم «زرينه ډله» و او د ښوونځي د يوه ښوونکي ښاغلي سمېت له خوا اداره کېده. په اتفاقي توګه د ده کور هم زموږ له کوره څو کوره ها بل پلو ته و. د کلونو په اوږدو کې ما د ښاغلي سمېت د کورنۍ لپاره بېلابېل کارونه ترسره کړي چې د دوی د ماشومانو له ساتنې او هغوی ته د پيانو له ورزده کوونې نيولې آن د دوی د سپي تر روزلو پورې کارونه دي. کله مې چې ښاغلی سمېت په ښوونځي کې وليد، نو اندېښنه مې راکمه شوه.

زموږ د ګاونډيانو کمشمېر ماشومان ويتني يانګ ښوونځي ته راغلي وو چې په دوی کې زما ملګرې تري جانسون او چياکا هم شاملې وې. ما د وړکتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورې راهیسې له دوی سره دوستانه سیالي درلوده. همدارنګه دې ښوونځي کې زموږ د نژدې سیمې دوه هلکان هم وو. زما په ژوند کې لومړی ځل و چې د خپل ورور له ساتنې پرته ښوونځي ته تلم. کرېګ تل مهربانه و او زما له مخې یې ستونزې لیرې کولې. په برین ماور ښوونځي کې هغه د ښوونځي له ښوونکو سره ډېره ښه اړیکه درلوده او کله به یې چې لوبه کوله دوی به ډېر ورته خوشحاله و او زه هم هلته د کرېګ رابینسون د کوچنۍ خور په نامه پېژندل کېدلم.

خو اوس په ویتني یانګ ښوونځي کې یوازې میشل رابینسون وم او باید هڅه مې کړې وای چې هلته خپل ځان ته ځای پیدا کړم. زما طریقه داسې وه چې کېناستم به او خپلو ټولګیوالو ته به مې په ځیر ځیر کتل. زه چې د دوی په اړه په څه پوهېدم، هغه دا وو چې ګواکې دوی ټول له ما هوښیاران دي. مګر آیا زه خپله هښیاره نه وم؟ ما، تري او چیاکا د هوښیارۍ په خاطر دې ښوونځي ته لاره موندلې وه. مګر په هر ترتیب زه نه پوهېدم چې آیا موږ د نورو ماشومانو په کچه هوښیارانې یو او که نه. یوازې پر دې پوهېدم چې موږ د تور پوست مېشتو او منځنۍ طبقې په یوه ښوونځي کې ډېرې غوره زده کوونکې یو. حتا په ټولګي کې له زده کوونکو سره د پېژندګلوۍ په وخت کې، د بیولوژي او انګلیسي په لومړیو درسونو کې او په کفیتریا کې له نویو ملګرو سره په خبرو اترو کې همداسې له ما سره دا شک او تردید و چې آیا په کافي اندازه غوره یم؟ آیا په دې ښوونځي کې د زده کړو لیاقت لرم؟ دا همېشنی فکر تل راسره ملګری و او ډېر ژر مې باید ورته یوه لاره موندلې وای.

ډېر ژر پوه شوم چې شیکاګو له هغې ډېره ستره ده چې ما فکر کولو. هره ورځ به په پنځه اویاووم سړک کې په بس کې سپرېدم، په بس کې مې درې ساعته سفر کولو او په لاره کې به له بېلابېلو تمځایونو تېرېدم. ډېرې سیمه‌یزې هټۍ به مې لیدلې. کله کله به بس کې دومره بیربار و چې د کېناستلو ځای به هم نه و، ولاړه به وم او شاوخوا ته به مې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له رستورانونو به تېرېدو چې لا به يې د کباب لپاره اوروته نه و بل کړي او د باسکټبال له لوبغالو به تېرېدو چې تر هغې دمه به هېڅوک پکې نه ول. بيا به شمال پلو ته تر جېفري پورې تلو، له دې وروسته به د اوه شپېتم سړک لوېديز پلو ته راتاو شو او هر تمځای کې به ډېر کسان بس کې سپرېدل او بيا به له جکسون پارک او هايد پارک څخه تېر شوو، د شيکاگو پوهنتون ودانۍ به مو هم وليدله. بلاخره، څه مهال به مو بيا اوږد واټن وواهه او د ميشگان سمندر په څنډو څنډو کې به تېر شوو او ځانونه به مو د ښار مرکزي سيمې ته ورسول.

بسونه ډېر ورو تلل. ببړه يې نه کوله. په خپله طبعه تلل. موږ بايد ډېر زغم درلودلای. زه هر سهار د ښار په مرکزي برخه کې په ميشيگان سړک کې له بس څخه ښکته کېدم او په وان بيورن سړک کې په يو بل بس کې سپرېدم او لوېديزې خوا ته تلم. دا ځل مو ښکلې منظرې شاته پرېښودې او د سترو بانکونو او هوټلونو له مخې تېرېدو. بانکونو سترې طلايي دروازې درلودې او د هوټلونو مخې ته ساتلونکي ولاړ وو. ما به د بس له ښيښې څخه هغه ښځې او نارينه ليدل چې درېشۍ به يې اغوستې وې، د لوړو کوريو بوټونه به يې پر پښو وو، د قهوې کيلاسونه به يې په لاس کې ول او خپلې دندې ته به روان ول. زه نه پوهېدم چې دوی مسلکي کارپوهان دي او کوم تحصيلي اسناد لري چې په وان بيورن سړک کې لوړو اداري ودانيو ته ځي، مگر څنگه چې دوی هوډمن او انگېزه لرونکي ښکارېدل، نو ما به له دې حالته ډېر خوند اخيسته.

په ښوونځي کې مې د معلوماتو راټولول پيل کړل. غوښتل مې د ښوونځي په نوو زلميانو کې ځان ته يو ځای پيدا کړم. تر هغې وخته مې يوازې له ځينو محدودو ماشومانو سره سرو کار درلود لکه، زموږ گاونډيانې، يا زموږ خپلوان او يا هغه ماشومان چې د دوبي د رخصتيو په سفرونو کې مو له يو بل سره پېژندل چې اکثره يې د جنوبي سيمو بېوزله وگړي وو. خو په ويتني يانگ کې مې له هغو سپين پوستو ماشومانو سره پېژندگلوي وشوه چې د ښار په شمالي څنډو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدل او زما لپاره د سپوږمۍ د نیمې تیارې برخې په شان وو. یعنې هېڅکله د دوی په اړه په څه نه پوهېدم. په نوي ښوونځي کې مې یوه جالبه موندنه دا وه چې پوه شوم زموږ په ښار کې لوستي او برجسته تور پوستان هم شته. زما د نوو ټولګیوالو کورنۍ ډېرې لوستې کورنۍ وې، لکه د یوه ټولګیوال یا ټولګیوالې به مې یا پلار ډاکتر و یا مور او یا به یې پلار وکیل و او یا هم مور وکیله، همدارنګه نورې دندې یې هم درلودې. کله به چې دوی له ښوونځي رخصت شول نو سکي لوبې ته به تلل یا یې هم بهر ته سفر کولو او د داسې شیانو په اړه یې خبرې کولې چې په بشپړه توګه ما پېژندل نه. مثلاً په دوبنیو رخصتیو کې کار زده کړه. زما یو تور پوستی ټولګیوال و چې ښه درسونه یې هم ویل او له ټولو سره یې ښه چلن هم درلود. د ده پلار او مور د یوه شرکت بنسټ اېښی و چې سینګاري توکي او درمل یې تولیدل. دوی ښه شتمن و او په لوړو ودانیو کې یې ژوند کاوه.

په هر حال ثانوي دوره زما لپاره یوه نوې نړۍ وه. البته په ښوونځي کې ټول زده کوونکي د سترو او شتمنو کورنیو اولادونه نه و، بلکې ګڼشمېر یې زما په شان د منځنۍ طبقې وو او حتا ښایي چې له ما څخه یې هم زیاتې ستونزې تېرې کړې وي. خو سربېره پر دې په ویتني یانګ ښوونځي کې لومړنیو میاشتو زما لپاره د موندنې ډېر څه درلودل. پوه شوم چې طبقاتي امتیازات او امکانات د یوې پټې زینې په شان دي چې زموږ پر سر راځوړند ده او کولای شي چې ځیني زده کوونکي د پرمختیا او پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي.

په ښوونځي کې زما لومړنۍ نومرې ډېرې ښې شوې او همداسې دویم ځل هم زما نومرې ښې وې. د ثانوي دورې د لومړني کال او دویم کال په اوږدو کې مې هغه ځانباوري بیا پیدا کړه چې په برین مارو ښوونځي کې مې درلود. هر ځل به چې بریالۍ کېدم او هر ځل به مې چې ماته شاته پرېښوده، نو هغه شکونه به مې ورکېدل چې مخکې مې د هغو په اړه خبرې وکړې. زیاتره ښوونکو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې مينه وه او په ټولګي کې له لاس پورته کولو نه وېرېدم. ځکه په ويتني يانګ ښوونځي کې هوښياري معمولي وه. ټولو هغه کوله چې پوهنتونونو ته لاره پيدا کړي او په پايله کې هېڅا ډار نه درلود چې هغې ته ووايي چې ته د سپين پوستو نجونو په شان خبرې کوې.

زما ټول هغه درسونه خوښېدل چې ليکل پکې شامل وو. په فرانسوي ژبه کې څه نا څه ښه وم. البته داسې ټولګيوال مې هم درلودل چې له ما څو ګامه وړاندې وو. خو ما هغه کوله چې دوی ته ورورسم. پوهېدلې وم چې که زياته مطالعه وکړم، نو خپلو سيالانو ته به ورورسم. نومرې مې تل لوړې نومرې نه وې، خو تل مې هڅه کوله چې لوړه نومره واخلم.

کرېګ پرېنستون پوهنتون ته کامياب شوی او د پوهنتون ليليې ته تللی و. اوس نو داسې سړی ترې جوړ و چې دوه متره او يو سانتي ونه يې درلوده او وزن يې نوي کيلوګرامو ته رسېده. په کور کې يې ځای خالي و او له تللو سره سم يې زموږ يخچال د تېر په شان له شيدو او غوښو نه ډکېده او زموږ د ټليفون ليکه هم بوخته نه وه، ځکه هغو نجونو زنګ نه راواهه چې له ده سره يې خبرې کولې. ډېر نامتو پوهنتونونه په ده پسې وو او هغه ته يې د بورسيو وړانديز کولو. يعنې هغه په باسکټبال کې د لوبې کولو له لارې کولای شول چې په يوه وتلې څېره بدل شي. خو مور او پلار مې هڅولو چې پرېنستون پوهنتون انتخاب کړي. که څه هم دې پوهنتون زيات لګښت درلود، خو د هغوی په باور کرېګ ته يې ښه راتلونکې مهيا کوله. کرېګ د پوهنتون په دويم کال کې د پرېنستون پوهنتون د باسکټبال په ټيم کې شامل شو. پلار مې نو نور له ډېرې خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېده. هغې د دوو لګښو په مرسته تګ راتګ کاوه. همدارنګه موټر ته به ناست و او زيات مهال به يې موټر چلولو. خپل زوړ بيوک يې پلورلی و او ۲۲۵ موډل نوی بيوک يې پېرودلی و چې جيګرې رنګ يې درلود. کله کله به يې د ښار د اوبو د تصفيې له شرکت څخه رخصتي اخيسته، دوولس ساعته به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر چلولو او د کریګ د سیالیو لیدلو ته به ورتلو چې په ایندیانا، اوهایو، پنسیلوانیا یا نویوجرسی کې به وې.

ویتني یانګ ته زما تګ او راتګ ډېر وخت نیوه. په دې خاطر ما هم مور او پلار د پخوا په پرتله ډېر کم لیدل. د هغو وختونو په اړه چې فکر کوم نو داسې انګېرم چې کله به کور کې نه وم مور او پلار به مې هم ځانونه یوازې ګڼل. دا مهال به زیاتره وخت له کوره بهر په ښوونځي کې وم. زه، ترې او جانسون ډېرې ستړې کېدو، ځکه نوي دقیقې به په بس کې ولاړې وو. په همدې خاطر مو یوه چاره موندلې وه. له معمولي وخت څخه پنځلس دقیقې وړاندې له خوبه پاڅېدو او هغې بس ته به مو ځانونهوررسول چې د ښوونځي د لارې پر خلاف یې حرکت کولو، په دې بس کې به څو تماځایه د جنوب خوا ته تلو، بیا به ترې ښکته شوو، له سړک څخه به تېرې شوو او په خپل معمولي بس کې به سپرېدو چې شمال خوا ته به تلو. دا بس به له هغه وخت څخه ډېر تش و چې کله پنځه اویایم سړک ته رسېده. په دې اساس خالي څوکۍ به مو پیدا کولې او تر ښوونځي پورې به له یو بل سره غږېدو.

مازیګر به شاوخوا شپږنیمې بجې کور ته راورسېدم. په ډېرې ستړیا به مې ماښامی وخوړ او له والدینو سره به مې د هغې ورځې د پېښو په اړه خبرې وکړې. کله به چې لوښي ومینځل شول، ژر به خپلې کوټې ته تلم او په خپلو کورنیو دندو به بوختېدم. کله کله به مې کتابونه راواخیستل، د لاندیني پوړ دهلیز ته به لاړم، هلته به کېناستم او خپلې کورنۍ دندې به مې ترسره کولې. البته غلې او آرامه به وم چې روبي دوی ته مزاحمت ونه کړم. هلته مې چې کوم کتاب غوښته، لاسرسی مې ورته درلود، لکه دایرة المعارفونه او داسې نور...

زموږ د زده کړو د لګښت په خاطر زما په مور او پلار ډېر فشار راغلی و، مګر هېڅکله یې په دې اړه کومه خبر نه کوله. خو زه په ډېره ښه توګه له دې موضوع خبره وم او داسې کوم کار مې نه کولو چې پر دوی دا فشار نور هم ورزیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. مثلاً کله چې د فرانسوي ژبې ښوونکي وویل چې په رخصتیو کې پاریس ته ځم او هر څوک چې د تګ پیسې لري، کولای شي، له ما سره لاړ شي، ما هېڅکله داسې کار ونه کړ چې دا خبره خپلې کورنۍ ته ووایم. زما او د شتمنو کورنیو د ماشومانو تر منځ توپیر همدا وو چې زیاتره یې زما صمیمي ملګري هم وو. ما په یوه ښه، صمیمي او منظمه کورنۍ کې ژوند کولو، به بس کې ښوونځي ته تلم او د شپې به چې کور ته راغلم، ګرم خواړه به مې خوړل او زړه مې نه غوښتل چې له دې څخه زیات فشار پر خپل پلار او مور راوړم. خو فرانسې ته د سفر موضوع زما مور د تري له مور څخه واورېده. هماغه شپه هغه او پلار راته مخامخ کېناستل چې ډېر حیران ول او له ما یې وپوښتل: «ولې دې مور ته ونه ویل؟»

ومې ویل: «ځکه چې زیات لګښت غواړي.»

پلار مې په خواشینۍ خو په ارام لحن وویل: «میشل، د داسې شیانو په اړه تصمیم په تا پورې اړه نه لري. کله چې داسې خبرې مور ته نه رارسوې، نو مور څنګه د هغې په اړه تصمیم نیولای شو؟»

هغوی ته مې په ځیر ځیر کتل او نه پوهېدم چې څه ووایم. مور مې په مهربانو سترګو ماته کتل. پلار مې د خپل کار جامې باسلې وې او سپینې جامې یې په تن وې. دواړه څلوېښت کلنۍ ته رسېدلي وو او شاوخوا شل کاله کېدل چې یو بل سره یې ژوند کولو. دوی هېڅ یوه تر دې دمه اروپا ته سفر نه و کړی، هېڅکله ساحل ته تللي نه ول، کوم شخصي کور یې نه درلود او د هغوی یوازینۍ پانګه زه او کرېګ وو.

څو میاشتې وروسته ما او زما ښوونکي او ټولګیوالو ځانونه چمتو کړل چې پاریس ته لاړ شو. پلان داسې و چې هلته په یوه مېلمستون کې مېشت شو، د لورو موزیم ووینو او بیا ایفل څلي ته لاړ شو. همدارنګه غوښتل مو چې د سرک غاړې خواړه وخورو او په ساحل کې قدم ووهو. مور د شیکاګو د یوه ثانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځي زده کوونکي وو او په پاریس کې مو څه ناڅه په فرانسوی ژبه خبرې کولای شوې. هغه ورځ چې زموږ الوتکې حرکت وکړ او په آرامۍ پورته شوه، نو له کړکۍ مې بهر ته وکتل. پوهېدم چې مور مې ژمنی جامې اغوستي او د هغې تورې کړکۍ له شا څخه ماته لاسونه ښوروي. بیا الوتکه په خپل زړه بوږنَونکي غږ سره اوج ته پورته شوه. په خپل ځای کې لږ ښکته او پورته شوه او بلاخره له هوايي ډګره لرې شوه. کله چې الوتکه اوج ته ورسېده نو ساه مې بنده بنده کېده او ځان مې په څوکۍ کې کلک نیولی و.

ما او زما ملګرو د ثانوي دورې د نورو زده کوونکو په شان غوښتل چې هرې خواته لاړ شو، د خلکو په منځ کې دلته او هلته وګرزو او له یو بل سره په لوړ اواز خبرې اترې وکړو. کومه ورځ به چې له ښوونځي ژر رخصت شوو، یا به مو کمې کورنۍ دندې درلودې، نو په ډلهٔیزه توګه به له ښوونځي بهر ته وتلو او د ښار په مرکز کې به اته پوړيز مارکېټ ته ورتللو، په برېښنايي زینو کې به ښکته او پورته کېدو، پولۍ به مو اخیستلې او مک‌دونالډ رستوران ته به تلو، هلته به مو لږ څه خواړه اخیستل او له راوړو خوړو سره یو ځای به مو خوړل. پلورنځیو ته به تللو او د مارشال فیلډ پلورنځي ښځینه دستکولونه او جامې به مو لیدل، ساتونکو به د سترکو لاندې پټ پټ څارلو. کله کله به سینما ته هم تلو.

لنډه دا چې خوشحاله او آزاده وو او په هغو ورځو کې به ښار لا موږ ته ښه ښکارېده چې ښوونځي به رخصت وو. ځکه د درسونو په فکر کې به نه وو، چکر ته به تلو او زده کول به مو چې په ټولنه کې څنګه ځانونه څرګند کړو.

زه به زیاتره مهال له خپلې یوې ټولګیوالې سره وم چې سانتیتا جکسون نومېده. هغه به هره ورځ له ما څخه څو تمځایه وروسته بس ته راپورته کېده. ورو ورو زما ډېره صمیمي ملګرې شوه. سانتیتا ښکلې سترګې او راوتلي کومي لرل. که څه هم شپاړلس کلنه وه، خو د سترو ښځو په شان يې په ادب سره چلن کاوه. په ښوونځي کې يې په ټولو هغو برنامو کې ګډون کولو چې له ټولګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه به بهر وې. تل یې ښې نومرې اخیستې. که څه هم زیاتره زده کوونکو کاوبای پتلونونه اغوستل، خو هغې به له پاسه پرې دامن هم اغوسته. ښکلې او ځواکمن غږ یې درلود. وروسته د دې دا غږ د دې باعث شو چې د سندرغاړې په توګه د روبرټا فلوک د موسیقي ډلې په کنسرتونو کې ګډون وکړي. ډېر ښه شخصیت یې درلود. د دې همدا شخصیت د دې لامل شو چې ما ورجذبه کړي. دا هم له مور سره په یوه ستره ډله کې وه چې کله به له ډلې سره یو ځای وو نو زما په شان به شوخه او بې پروا وه خو کله به چې دواړې سره یوازې شوو نو پر یوې درنې او فکرمنې نجلۍ به واوښته. مور به د فیلسوفانو په شان د خپل ژوند د وړو او مهمو ستونزو په اړه خبرې کولې. ساعتونه ساعتونه به د سانتیتا د خونې په غولي پرتې وو چې د دوی د کور په دویم پوړ کې وه او د راتلونکې په اړه به مو له یو بل سره خبرې کولې. د دوی کور د ښار په ختیزه برخه کې و چې یوه هوسا سیمه وه. هغه ډېره ښه اورېدونکې وه، خبرو ته به یې ښه غوږ نیوه. هوښیاره وه او ښه پوهه یې درلوده. ما هم هڅه کوله چې د هغې په شان واوسم.

د سانتیتا پلار مشهور کس و چې د ژوند په حقایقو کې یې اساسي حقیقت شمېرل کېده. د دې پلار جېسي جَکسون نومېده چې یو کشیش او یو ځواکمن سیاسي رهبر و. ده له کشر مارټین لوترکنیګ سره همکاري کړې وه او د ۱۹۷۰ کال په اوایلو کې یې د عملیاتي فشار (Operation PUSH) تر نامه لاندې یو سیاسي سازمان رامنځته کړی و چې ده ته یې خورا شهرت ګټلی و. دا سازمان د امریکا د مظلمو تور پوستانو د حقوقو یو مدافع سازمان و. کوم مهال چې مور د ښوونځي په ثانوي دوره کې وو، نو ښاغلی جَکسون په یوه جذابه څېره بدل شوی و چې له نورو سره یې پراخې اړیکې درلودې او د پرمختګ پوړی یې یو په بل پسې وهلې. د هېواد هرې برخې ته یې سفر کولو او د تور پوستو ټولنو لپاره یې ویناوې کولې. په لوړ غږ به یې له دوی نه غوښتل چې هغه حقوق وغواړي چې دوی ته نه دي ورکول شوي. د ده همېشنی شعار دا و چې مور

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید خپله قدرت تر لاسه کړو او مرګ دې پر ناهیلۍ وي او هیله دې ژوندۍ وي. ده به د ښوونځي له ماشومانو غوښتل چې هره شپه دوه ساعته تلویزیون بند کړي، خپل درسونه ووايي او کورنۍ دندې ترسره کړي. همدارنګه له میندو او پلرونو څخه یې غوښتنه کوله چې د خپلو اولادونو زده کړو ته پام وکړي. هغه له والدینو غوښتل چې د ماتې احساس ونه کړي او خپل برخلیک په خپل لاس کې ونیسي.

د سانتیتا مور جاکلین نومېده. د دوی په کور کې ویکتوریایي کوچونه او او ګرانبیه ښیښه‌یي لوښي وو. آغلې جَکسون د دې ډېره شوقي وه چې انتیک شینان راټول او په کور کې یې کېږدي. همدارنګه ډېر ښه چلن یې درلود او تل به موسکه وه. رنګارنګ او ځل بلي جامې یې اغوستې او تل به یې خواړه خوراک‌خونه کې خوړل. ډېرو کسانو د دوی کور ته تګ راتګ کاوه چې مشهور سوداګر، سیاستوال، شاعران، سندرغاړي او ورزشکاران پکې شامل وو.

کله به چې ښاغلی جَکسون په کور کې و، نو د کور فضا بل شان وه. د کور نظم او مقررات نه پلي کېدل او د ماښام له ډوډۍ وروسته به خبرې د شپې تر ناوخته پورې غځېدلې. د دوی او په یوکلید سړک کې زموږ کور توپیر درلود. زموږ کورنۍ له یوه ځانګړي نظم څخه پیروي کوله. زما د کورنۍ ټوله اندېښنه دا وه چې زه او ګرېګ نېکمرغه شو. د جکسون کورنۍ ډېر ستر او پېچلي مسایل درلودل. د دوی زیاته اندېښنه سترې بېروني ټولنې ته وه، خو رسالت یې بل څه و. سانتیتا او د هغې خور او د هغې وروڼه داسې ستر شوي وو چې وروسته سیاسي فعالیتونه ترسره کړي. هغوی ټولو د خپل پلار تګلاره غوره کړې وه او دا لار یې وهله. له پلار سره به یې اسراییلو، کیوبا، نیویورک او اتلانتا ته تلل او کله به چې د دوی پلار دریځ ته پورته شو او خبرې به یې کولې، نو دوی د خلکو په منځ کې ورته درېدل، د هغه خبرې به یې اورېدلې او په ټولنه کې به یې د خپل پلار له ستونزو او ننګونو سره ګوزاره کوله. ښاغلي جَکسون څو شخصي ساتونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل چې ټول څواکمن کسان وو او هر چېرې به له ده سره تلل. زه هغه مهال په سمه توګه نه پوهېدم چې د هغه ژوند ته ګواښ دی.

سانتیتا په خپل پلار ډېر افتخار کولو او د هغه نظریې یې منلې. مګر له دې سره سره د خپل ژوند په فکر کې هم وه. زما او د هغې ستره هیله وه چې تور پوستي ځوانان ورځ تر بلې زیات قدرت ترلاسه کړي. خو د دې تر څنګ مو بله اندېښنه هم درلوده، هغه دا چې مشهورو پلورنځیو ته لاړې شو او لیلام شوي سیویسي بوټونه واخلو چې هسې نه خلاص شي. د دې کار لپاره به تل د نورو په موټرو کې سپرېدو او زیاتره مهال به مو له نورو غوښتل چې موږ خپلو کورونو ته ورسوي. څنګه چې ما په یوه کارګره کورنۍ کې ژوند کولو او یوازې یو موټر مو درلود، نو د داسې کارونو مسئولیت به زیاتره مهال سانتیتا ته ورتر غاړې و. مور یې دوه موټرونه درلودل، یو سرف او بله کورولا. کله ناکله به د هغو کسانو په موټرو کې سپرېدلو چې د مېلمنو په توګه به راغلي وو. مګر د وړیا تګ لپاره په هر حالت کې مجبورېدلو چې د نورو د اوږو بار شو چې دا کار چندان ښه نه و. مثلاً کله ناکله به یې د پلار وېناوې اورېدې شوې او موږ به په تمه و چې لاړې شو یا کله ناکله به ښوونځي ته د تګ په وخت کې یوه سیاسي لاریون ته لاړو او د څنډ په خاطر به مو غوښتل چې لاړې شو نو د نورو په موټرو کې بې کېناستو او تلو به.

یوه ورځ د جسي جَکسون په پلوۍ کسان راټول شوي وو چې یوه دودیزه ورځ ولمانځي. دا ورځ د یوه افسانوي شخص په نامه نومول شوې وه چې بود بیلکین نومېده. دا افسانوي شخص د یوې پخوانۍ مجلې د کیسو یو اتل و. همدارنګه دا ورځ د شیکاګو د جنوبي برخې له ډېرو پرتمینو آدابو او مراسمو څخه شمېرل کېږي چې هر کال اګست میاشت کې لمانځل کېږي. لنډه دا چې دې لمانځنه کې موږ هم ګډون درلود چې د چارواکو له خوا نیول شوې وه. په دې لمانځنه کې څو ارکستره او څو ارابې هم ګډون لري او ټول کسان د مارټېن

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوترلینګ په سړک کې شاوخوا دوه مایله پلی مزل کوي او د تور پوستو سیمې ته رسېږي. دا لمانځنه له ۱۹۲۹ کال راهیسې پیل شوې چې اجتماعي او سیاسي فعالان پکې ګډون کوي او موخه یې دا وي چې امریکایي افریقایانو کې د غرور او افتخار حس پیاوړی کړي.

زه هغه مهال په دې موضوع نه پوهېدم، خو داسې ښکارېدل چې هماغه مهال چې زه په ثانوي ښوونځي کې په درسونو بوخته وم، نو جسي جَکسون ځان د دې لپاره چمتو کاوه چې د امریکا د متحده ایالتونو د ولسمشرۍ لپاره ځان نوماند کړي. ده باید پیسې ترلاسه کړې وای او خپلې ټولنیزې اړیکې یې پراخې کړې وای. اوس پوهېږم چې ولسمشرۍ ته نوماندېدل، د یوه چا په ټول ژوند څومره اغېز کوي. له ده وړاندې د امریکا د کانګرس غړي شرلي چیزهولم هم په ۱۹۷۲م کال کې د ولسمشرۍ لپاره ځان نوماند کړی و، خو بریالی شوی نه و. پر دې اساس جسي جَکسون دویم تور پوستی و چې په ۱۹۸۲م کال کې یې غوښتل ولسمشر شي.

په هر حال هغه لمانځنه د همدې موخې په خاطر نیول شوې وه. خو ما نه غوښتل چې تر سره لمر لاندې او د پوقانو او د لاسپېکرنوو او سازونو د لوړو آوازونو په منځ کې له نورو خلکو سره یو ځای ودرېږم او هورا نارې ووهم. رښتیا دا ده چې ما او سانتیتا هېڅ نه غوښتل، په هغه لمانځنه کې ګډون وکړو، خو ګواکې د دې د مور، پلار یا د دوی د غورځنګ د کوم غړي له خوا دې کار ته وهڅول شوو. په هر حال زه تل داسې نجلۍ وم چې د لویانو امرونو ته مې درناوی کاوه. همدا لامل و چې په هغه شور او ځوږ کې مې په هغه لمانځنه کې ګډون وکړ. هماغه شپه چې کله کور ته راوګرزېدم، مور مې راته موسکه شوه او راته کړل یې: «همدا اوس مې په تلویزیون کې ولیدلې».

مور مې زه او سانتیتا د تلویزیون په خبرونو کې د سړک د سر په لمانځنه کې لیدلي وو چې لاسونه مو ښورول او خندل مو. داسې ښکارېدل چې دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې اند وه چې ګنې زما دا کار د خندا وړ دی. ځکه دې فکر هم نه کولو چې زه دې په داسې لمانځنه کې ګډون وکړم.

پوهنتون ته د تللو او د هغې د ټاکلو په وخت کې ما او سانتیتا دواړو د امریکا د ختیز ساحل له پوهنتونونو سره علاقه درلوده. هغه هاروارډ پوهنتون ته لاړه، خو د دې پوهنتون د زده کوونکو د منلو مسئول په هغې له دې امله ملنډې ووهلې چې پلار یې سیاسي فعالیتونه کول. دې کار ډېره ناهیلې کړه. په داسې حال کې چې دې فکر کولو چې په پوهنتون کې یې منل او نه منل د پلار په چارو پورې کومه اړه نه لري. زه د یوې اونۍ په وروستیو کې د کرېګ د لیدلو لپاره پرېنستون پوهنتون ته لاړم. کرېګ هلته په بسکټبال، درس ویلو او له خپلو ملګرو سره په ښه وخت تېرولو بوخت و. د هغې ځای ښکلې ودانۍ مې خوښه شوه چې شاوخوا یې ښکلي بوټي زرغون شوي وو. زموږ کورنۍ د پوهنتونونو په برخه کې زیاته تجربه نه درلوده. په همدې خاطر ما داسې کس نه درلود چې په دې اړه ورسره مشوره وکړم. په همدې خاطر مې له ځان سره فکر وکړ، هغه ځه چې کرېګ ځانته ورجذبوي، ما ته هم باید مناسب او ښه وي. په دې توګه ما هم پرېنستون پوهنتون د ځان لپاره غوره کړه.

د ثانوي دورې په وروستي کال کې د ښوونځي د مشاورې دفتر ته ورغلم. دې کار اجباري اړخ درلود. د دې مشاورې به اړه مې ځه په یاد نه دي، ځکه قصدي مې هېر کړل، له دې سره مې له لیدنې وروسته دا پېښه له ذهنه وتوړله. په یاد مې نه دي، څو کلنه وه، د کوم نژاد وه، یا کله چې دفتر ته ورغللم دې له ما سره څنګه چلن وکړ. یوازې دا مې په یاد دي چې زه په ویتني یانګ ښوونځي کې د خپل ټولګي یوه تګړه زده کوونکې وم او له ډېرو هڅو وروسته توانېدلې وم چې له ځانه هغه ځان ناباوري لرې کړم چې په تېرو کلونو کې پرې اخته وم. نه پوهېږم چې دې مشاورې زما د درسي نومرو وضعیت ارزولی و که نه، یا یې په یاد و چې زما ورور په پرېنستون پوهنتون کې درس لولي. ډېر مې نه یادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دې مېرمنې له ما سره ځنګه خبرې وکړې. يوازې يې زما مسکا يادېږي چې بابېزه يې راته وويل: «زه ډاډه نه يم او فکر کوم چې پرېنستون ته د تللو توانايي نه لرې.»

زما په اند دا د هغو کسانو له ډلې وه چې د نورو په اړه ډېر ژر پرېکړه کوي. ما غوښتل خپلې موخې ته د درسېدلو په خاطر هڅه وکړم، خو دې ښځې له دې وړاندې زه د ماتې په احساس اخته کړم. ما ته يې دا پيغام راکړ چې خپلې غوښتنې بايد ډېرې راټيټې کړم. د دې دا چلن زما د پلار او مور پر خلاف و. که د دې په خبرو مې باور کړی وای، نو بيا په ځان ناباورۍ اخته کېدم او بيا مې په مغزو کې دا جمله تکرارېده چې آيا په کافي کچه هوښياري او وړتيا لرم او که نه؟ خو درې کاله ويتني يانګ ښوونځي کې د زده کوونکو تر ځنګ زده کړې رازدکړي وو چې ښه توانايي لرم او د ډېرو غورو زده کوونکو له ډلې شمېرل کېږم. ما ځان پېژندلو، نو په دې خاطر مې اجازه ورنه کړه چې يو کس دې زما فکرونه راخراب کړي. د مشاورې خبرې مې هېرې کړې او تصميم مې ونيو چې د پرېنستون پوهنتون لپاره غوښتنليک وليکم او دې پوهنتون ته يې ورواستوم. همدارنګه په دې کار کې مې د ښوونځي له معاون او ګاونډي ښاغلي سمېټ څخه هم مرسته وغوښته. دوی چې زما توانايي ليدلې وه، نو ويې منله چې زما د پاره د معرفۍ پاڼه وليکي.

ما په خپل ټول ژوند کې ډېر ښه چانسونه درلودل او له سترو انسانانو سره مې پېژندلي. لکه د نړۍ له رهبرانو، مخترعينو، موسيقيپوهانو، فضانوردانو، ورزشکارانو، د پوهنتون له استادانو، کارپوهانو، هنرمندانو، ليکوالو، ډاکټرانو او داسې نورو بريالېو انسانانو سره. په دې ډله کې ښځې هم کمې نه دي، بلکې شمېر يې زيات دی او همدارنګه ځينې يې تور پوستي او يا هم رنګين پوسته دي. ځينې په بېوزله کورنيو کې پيدا شوي او سخت ژوند يې تېر کړی دی، خو هغوی د خپل ژوند نيمګړتياوو ته پام نه دی کړی او د بريا لپاره يې چټک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګامونه پورته کړي. هغوی د خپل ژوند په ټولو پړاوونو کې له داسې کسانو سره مخامخ شوي چې د دوی په توانايیو يې شک کړی او له هغې تګلارې راګرزولي چې دوی غوره کړې وه. خو دې بريالیو کسانو په پرلپسې توګه زده کړي وو چې د چا ناهیلې کوونکو خبرو ته اهمیت ورنه کړي او يوازې هغو کسانو ته غوږ شي چې په دوی او د دوی په وړتیاوو باور لري.

هغه ورځ د مشاورې په دفتر کې ډېره غوسه شوم. ځانباوري مې له ګوانښ سره مخ شوې وه. خو هماغه شېبه مې په خپل زړه کې وویل چې زه به يې تاسو ته دروښیم. د پرېنستون پوهنتون په غوښتنلیک کې مې ولیکل چې د يوې کارګرې کورنۍ غړې يم، پلار مې په ام‌اس ناروغۍ اخته دی او په دې پوهنتون کې د زده کړو په اړه په ډېر څه نه پوهېږم او دې ته اړ يم چې راسره مرسته وکړئ. بلاخره پايله دا شوه چې بريالۍ شوم. شپږ يا اووه میاشتې وروسته پرېنستون پوهنتون راته يو لیک راولېږو او خبره يې کړم چې دې پوهنتون ته منل شوې يم. هغه شپه مې دا خوشحالي له خپل مور او پلار سره ولمانځله. له ایټالیايي رستورانه مو پیزا راوغوښته چې زموږ کور ته نژدې و. بیا مې کرېګ ته تلیفون وروکړ او په خوشحالۍ مې دا زېری پرې وکړ. بیا سبا ته د ښاغلي سمېټ کور ته ورغلم او هغه مې هم خبر کړ چې په پرېنستون پوهنتون کې منل شوې يم. د مشورو او مرستو په خاطر مې له ده څخه مننه وکړه. هېڅکله د خپل ښوونځي د تحصیلي مشاورې دفتر ته ورنه غلم، چې ورته ووايم چې زما په اړه مو اشتباه کړې وه. دې ته مې اړتیا نه لیده چې ځان ورته ثابته کړم بلکې هر څه مې بايد د ځان لپاره ثابت کړي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ٦

یوه ستره لاره وه چې ایلینوی ایالت یې له نیوجرسي سره تړلو. د ۱۹۸۱ کال په دوبي کې له دې لارې څخه زه خپل پلار په خپل موټر کې پرېنستون پوهنتون ته ورسولم. البته زما ملګرې ډېویډ هم له مورې سره و. پوهنتون بلنه راکړې وه چې په یوه درې اونیزه دوبنۍ برنامه کې یې ګډون وکړم. د دې برنامې موخه دا وه چې د پوهنتون له چاپېریال او د هغې له ټولګیو سره آشنا شم. کرېګ هم دوه کاله وړاندې په دې برنامه کې ګډون کړی و. خپل بکس مې برابر کړ او له مور سره مې خدای پاماني وکړه.

احساساتي نه وم، اوښکې مې نه تویولې. د پلار په موټر کې سپره شوم. ډېره ستړې شوې وم، ځکه دوې میاشتې کېدې چې په یوه شرکت کې مې کار کاوه. دا شرکت د شیکاګو په مرکزي سیمه کې و. یوه کوچنۍ مطبعه وه چې ما پکې په یوه حرارتي سرېښ یو ځانګړی کار ترسره کاوه. د ورځې اته ساعته او په اونۍ کې پینځه ورځې وخت به مې هلته تېرېده. د دې کار کړاوونو په دې پوه کړم چې پوهنتون ته تلل یو ډېر اړین او ګټور اقدام دی. دا کار د ډېویډ مور ما او خپل زوی ته پیدا کړی و. ځکه دې په همدې مطبعه کې کار کاوه. ما او ډېویډ د دوو میاشتو په اوږدو کې په دې شرکت کې د یو بل تر څنګ کار کاوه. ډېویډ هوښیار او دنګ هلک و، ښه څېره یې لرله، مهربانه و او له ما څخه دوه کاله مشر و. څو کاله وړاندې چې زموږ سیمې ته د خپلو خپلوانو لیدلو ته راغلی و، د باسکټبال په میدان کې یې له کرېګ سره پېژندګلوي شوې وه او بلاخره زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری هم شو. کوم وخت چې زه ثانوي ښوونځي ته لاړم، ډېویډ له شیکاګو څخه بهر یوه پوهنتون ته لاړ او په دې توګه مور سره لرې شوو. خو په رخصتیو او دوبي کې خپل کور ته راته او له خپلې مور سره اوسېده. د دوی کور د ښار په جنوب لوېدیزو څنډو کې و. هغه تقریباً هره ورځ زما لیدلو ته راته. د ده په موټر کې به شاوخوا سره یو ځای ګرځېدو.

ډېویډ د هغو انسانانو له ډلې و چې ژوند ته یې بابېزه کتل او په ځان یې سختي نه راوسته. دی له هغو ټولو هلکانو لوړ و چې تر هغې دمه زما سره آشنا شوي وو. په کوچ کې به زما د پلار تر څنګ کېناسته او زما له پلار سره به یې د فوټبال لوبه کتله. له کرېګ سره به یې ټوکې کولې او زما له مور سره یې مهربانانه او مودبانه چلن درلود. له یو بل سره به رستورانونو او سینماوو ته تلو او د هغه په موټر کې به مو سګرېټونه څکول. مطبعه کې به مو چې کله کار کولو او حرارتي سرېښ به مو کارولو، نو په دې وخت کې به مو له یو بل سره خبرې اترې کولې، ټوکې ټکالې به مو کولې او له یو بل سره به غاړه غړې وو. نه ده له دې دندې سره مینه درلوده او نه ما. مونږ دا کار د دې لپاره ترسره کاوه چې د پوهنتون لپاره پیسې ټولې کړو. زه پوهېدم چې ډېر ژر به له شیکاګو څخه لاړه شم. زما ټول فکر او ذهن په پرېنستون پوهنتون کې و.

هغه ورځ لمر په لوېدو و چې زه، ډېویډ او زما پلار د پوهنتون انګړ ته ورورسېدو. زه په بشپړه توګه دې ته چمتو وم چې له خپل نوي چاپېریال سره مخامخ شم. دې ته چمتو وم چې خپل دوه بکسونه لیلیې ته یوسم، چمتو وم چې له نورو محصلینو سره آشنا شم، په ځانګړې توګه له هغو محصلینو سره چې لږکي وو، مالي وضعه یې ښه نه وه یا هم ورزشکاران وو. چمتو وم چې د پوهنتون خواړه وخورم، چمتو وم چې د پوهنتون د شاوخوا نقشه خپل ذهن ته وسپارم او همدارنګه چمتو وم چې ټول هغه درسونه ولولم چې باید لوستلي مې وای. اوولس کلنه وم او مخې ته مې ژوند و. هغه مهال مې یوازې یوه ستونزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرله او هغه د ډېوېډ ستونزه وه.

همدا چې د پنسیلوانیا ایالت له پولې تېر شوو د ډېوېډ څېره مړاوې شوه. کله مو چې د موټر له شاتني ټولبکس څخه بکسونه راښکته کول، نو زما پام شو چې څه شوي نه دي، خو دی د یوازیتوب احساس کوي. یو کال کېدو چې مور سره ملګري وو او یو بل ته مو خپله مینه ابراز کړې وه. خو دا مینه هم د یوکلید سړک، د لابستر رستوران او د باسکټبال په هغه میدان کې وه چې زمور کور ته نږدې و. ما اوس هغه ځایونه پرېښي وو. څو دقیقې وخت یې ونیو چې زما پلار په دې وتوانېد چې له موټره راښکته شي. پلار چې راښکته شو، ځان یې پر لګنه ټینګ کړ. زه او ډېوېډ د لمر لوېدو په رڼا کې غلي ولاړ وو او د پوهنتون د لیلیې د انګړ ښکلو چمنونو ته مو کتل. په هغه شېبه کې مور خپله هم نه پوهېدو چې دا یوه لنډمهاله خدای پاماني ده یا مو د تل لپاره غوښتل چې له یو بله بېل شو. یا غوښتل مو چې بیا هم له یو بل سره وګورو او یو بل ته عاشقانه لیکونه ولیکو. مور د دې اړیکو ساتلو ته څومره اهمیت ورکاوه. د خپل احساس د بیانولو لپاره مې مناسبې کلمې نه درلودې. تل مې هیله کوله چې پر یوه سړي دومره مینه شم چې ما په ځان کې ډوبه کړي. زما پلار او مور د ځوانۍ په دوران کې سره مینان وو. زړه مې غوښتل یوه ورځ په داسې یوه سړي مینه شم چې پر ما دومره اغېز وکړي چې دې ته حاضره شم چې خپل لومړیتوبونه په خپل ژوند کې بدل کړم. خو کوم ځوان چې زما په مخ کې ولاړ و، داسې یو سړی نه و.

بلاخره پلار مې زمور ترمنځ چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: «بکسونه باید لیلیې ته دننه یوسو.» هغه د ځان او ډېوېډ لپاره د ښار په یوه مېلمستون کې یوه خونه نیولې وه. دوی تصمیم درلود چې سبا ته شیکاګو ته لاړ شي. په پارکېنګ کې مې پلار کلک په غېږ کې ونیو. ده په ځوانۍ کې سوکوهنه کوله او ځواکمن لامبوزن هم و. په همدې خاطر یې لاسونه کلک او ځواکمن شوي وو او له کوم مهاله یې چې له لګنې ګټه اخیسته، نو لاسونه یې لا نور هم عضلاتي شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شېبه وروسته له ده څخه بېله شوم.

د پلار په څېره کې مې غرور څپې وهلې او راته کړل یې: «میشل، ښه نجلۍ واوسه.»

بیا لاړ، په موټر کې سپور شو او زه او ډېوېډ یې یوازې پرېښودو.

موږ په پیاده رو کې ودرېدو. څنګه چې دواړه شرمېدو او دواړو ته حیا راتله، نو داسې خبرې مو نه درلودې چې سره ویې کړو. خو بلاخره دی راوړاندې شو او ما ته یې په ځیر ځیر وکتل. زړه مې له شور او هیجانه ډک شو، مګر بلې خوا ته مې وکتل او ومې لیدل چې له دې پارګېنګ څخه بهر یوه بله لاره هم وتلې چې د غونډۍ په موړونو کې پورته ځي او هغې ودانۍ ته ځي چې څلور کونجونه لري او دا ودانۍ به راتلونکې کې زما ژوند ته یوه ځانګړې معنا او یو ځانګړی مفهوم ورکړي او د یوې نوې نړۍ دروازه به مې پر مخ پرانیزي. یعنې زما چورت بل چېرې و. لومړی ځل و چې غوښتل مې له خپلې کورنۍ بېل ژوند وکړم، په دې خاطر اندېښمنه وم. خو زما د وجود یوه بله برخه په نویو لاسته‌راوړنو پسې وه. ښه پوهېدم چې که د هغې ورځې سبا ته ډېوېډ لیلیې ته زنګ راووهي او وغواړي چې له تللو وړاندې له یو بل سره خواړه وخورو او شاوخواو کې چکر ووهو، نو زه به ورته ووایم چې له بده مرغه بوخته یم او نه شم کولای چې ورشم. همداسې هم وشول. په دې توګه زما او د هغه د هغه شپې خدای پاماني د تل لپاره وه او ما باید په زغرده د خپل زړه خبره ده ته کړې وای. مګر څنګه چې پوهېدم چې د دې حقیقت ویل، هم زما او هم د ده لپاره تریخ او دردناکه دي، نو څه مې ورته ونه ویل. بیا وروسته راته څرګنده شوه چې داسې ډېر شیان وو چې د اتیایمې لسیزې په پرېنستون پوهنتون کې زه پرې نه پوهېدم او نه پوهېدم چې ژوند څه دی او څنګه یې باید زده کړم. ما باید ژوند زده کړی وای.

کله چې د پوهنتون له چاپېریال سره د آشنایۍ هغه دوره تېره شوه، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره پسرلنی سمستر په رسمي توګه پیل شو او ګڼ شمېر محصلین پوهنتون ته راغلل. ما خپل بکسونه او توکي هغه خونې ته یوړل چې درې کټونه پکې وو. دا خونه په وروستۍ ودانۍ کې وه. ما د خپلې خونې له کړکۍ ولیدل چې ډله ډله محصلین پوهنتون ته راغلل چې شمېر یې زرهاوو ته رسېده او اکثره یې سپین پوستي وو. محصلین ډېر شول او د نارینه محصلینو شمېر د ښځینه محصلیو د شمېر په پرتله دوه برابره و.

په لومړي کال کې یوازې زما نهه سلنه ټولګیوال تور پوستي وو. د دوبي په اوږدو کې چې موږ د پوهنتون له چاپېریال سره د پېژندګلوۍ دوره تېروله ما احساس کړي وو چې زیاتره محصلین تور پوستي دي، خو اوس چې سمستر پیل شوی و، نو موږ په وریجو کې د قهوه‌یي دانو په شان و. هغه هم د سپینو وریجو د کاسې په شاوخوا کې. زه هېڅکله د خلکو یا د خپل ښوونځي په ټولګیو کې، د خپل پوست د رنګ په خاطر نه وم بېله شوې، خو دلته خبره بله وه. دې موضوع خواشینې کولم او ځورولم. داسې مې احساسول چې په یوه ناپېژانده چاپېریال کې بنده شوې یم چې زما لپاره جوړ شوی نه دی. خو انسان داسې یو موجود دی چې بلاخره د خپل ژوند له هر څه سره روږدی کېږي.

په پوهنتون کې چې کوم څه ته ډېره حیرانېدم، هغه دا وو چې هېچا د دې اندېښنه نه درلوده چې توکي به یې غلا شي. محصلینو به خپلې خونې نه قولفولې، ترې وتل به او بیرون ته تلل. دوی خپل بایسکېلونه همداسې د ودانۍ په مخ کې درول. ښځینه محصلینو به خپلې غوږوالۍ همداسې په تشناب کې پرېښودې. دوی په نړۍ ډېر باور درلود، خو دا موضوع زما لپاره لږ څه عجیبه وه او زه باید ورسره روږدې شوې وای. زه به چې کله له ښوونځي څخه کور ته راتلم، نو په بس کې به مې تل خپلو توکو ته پام کاوه. کله به چې له بس څخه راښکته شوم، تر کوره به چې رسېدم، نو کلۍ به مې په لاس کې کلکې نیولې، دا کار به مې د دې لپاره کولو چې که اړتیا وي وکولای شم له ځانه دفاع وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پرينستون پوهنتون کې مې بايد کوم څه ته اندېښنه نه واى کړې، بلکې يوازې خپلو درسونو ته مې بايد پام کړى واى. هلته د محصلينو د هوساينې لپاره هر څه مهيا وو. د خوړو په سالون کې محصلينو ته د سهار پنځه ډوله ډوډۍ ورکول کېده. د پوهنتون په انګړ کې د بلوتو څو زړې ونې وې چې موږ کولاى شول چې تر سېرې لاندې يې کېنو او استراحت وکړو. د پوهنتون اصلي کتابتون هم د يوې پخوانۍ کليسا په شان و، لوړ چت يې درلود، ځل بل مېزونه يې درلودل چې موږ کولاى شول چې شاته يې کېنو او په چوپتيا کې خپل درسونه ووايو. بيا وروسته مې دې ته هم پام شو چې اکثره محصلين په خپل شخصي ژوند کې هم له هماغسې آرامش او هوساينې برخمن وو.

سربېره پر دې، ډېرې نوې کلمې مې اورېدې. مثلاً د درس ويلو او درس تکرارولو دوره، يا په ليليه کې روجايي، سرتختي او د خوب جامې. ما د خپل کټ لپاره يوه ډېره لنډه سرتختي اخيستې وه چې د ليليې پلاستيکي کټ يې په بشپړه توګه نه پوښلو. په همدې خاطر زما پښې به له سرتختۍ وتلې او په پلاستيک به لګېدلې. يا هم ما په ورزشونو کې يوازې د فوټبال او باسکټبال او بېسبال نومونه اورېدلي او ورسره لويه شوې وم. خو هلته له لاکراس، د چمن پر مخ هاکي او ټېنس سره آشنا شوم، يا هم له هغو کلمو سره اشنا شوم چې د بېړۍ چلولو په اړه وې. په پوهنتون کې يوازې يو څه زما لپاره امتياز شمېرل کېده. دا هماغه امتياز و چې ماشومتوب کې مې هم درلود. هغه دا چې ټولو د کرېګ رابينسون د کوچنۍ خور په نامه پېژندلم. هلته هم همدا خبره وه. البته هلته اوس کرېګ د درېيم کال محصل و او د پوهنتون د باسکټبال په ټيم کې يې لوبې کولې. پر دې اساس د تل په شان يې شاوخوا کې ډېر پلويان درلودل. حتا د پوهنتون ساتونکو هم ده ته د ده په واړه نامه غږ کولو. پر دې اساس ما هڅه وکړه چې د ده له ملګرو او همټيميانو سره د دوستۍ تار وغځوم.

يوه شپه هم له ده سره د پوهنتون د باسکټبال د ټيم د يوه پلوي کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړو، هلته د خوړو پر مېز چې څه برابر شوي وو، نو ډېره ورته حيرانه شوم، په سپينو چيني قابونو کې آرتيچوک (Artichoke) هم برابر شوي وو. ما له دې وړاندې داسې څه نه و ليدلي. ما داسې فکر کولو چې دا يوازې د شتمنو خواړه دي.

په هغه کلونو کې کرېګ وړيا ځاى پيدا کړى و. يعنې د سرايوال په توګه د درېيمې نړۍ د مرکز (TWC) په يوه پورتني پوړ کې د سرايوال په توګه مېشت شوى و او د کرايې لپاره يې هېڅ پيسې نه ورکولې. هغې ځاى په پوهنتون اړه درلوده او د رنګين پوستو محصلينو د ملاتړ په خاطر جوړ شوى و (البته شل کاله وروسته د درېيمې نړۍ دې مرکز خپل نوم بدل کړ او د لومړنيو تور پوستو مديرانو څخه د يوه مدير نوم پرې کېښودل شو، يعنې کارل آ. فيلدز مرکز ونومول شو چې د مساواتو، برابرۍ او فرهنګي تفاهم يو سازمان و.) د پرسپکت سړک په څنډه کې يوه ودانۍ وه چې له سرو خښتو جوړه شوې وه او دا مرکز هم همدې ودانۍ کې و.

ډېر ژر ما ته د درېيمې نړۍ دا مرکز د خپل کور په شان شو. هلته ډېرې مېلمستياوې جوړېدې. دې مېلمستياوو ته ځينې ښوونکي راتلل چې له محصلينو سره په درسي چارو کې مرسته وکړي. په هغه دوبنۍ برنامه کې چې د سمستر له پيلېدو وړاندې وه، ما ځينې ملګرې پيدا کړې وې. يوه يې سوزان آلل نومېده. دنګه او ډنګره نجلۍ وه، ډېلې وروځې يې درلودې او تور وېښته يې آن تر ملا پورې رسېدل. دا ملګرې مې نايجيريايۍ وه او په کينګستون جامايکا کې لويه شوې وه. مګر کله چې نوي پېغلتوب ته رسېدلې وه، نو د دوى کورنۍ د امريکا مريلند ته لېږدېدلې وه او په همدې خاطر د درېيو فرهنګونو په منځ کې سرګردانه پاتې وه. دې به په خپلو خنداوو ټول ځانته جذبول. ډېره شادابه او بانشاطه وه او همدا د دې لامل شوي وو چې ټول يې خپلو مېلمستياوو ته وروبلي. که څه هم دې نورې زده کړې هم کولې خو له دې سره سره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کُولالۍ او نڅا په ټولګیو کې هم نوملیکنه کړې وه او ویل یې چې دا ټولګي یې روحیه خوشحاله کوي.

په دویم کال کې سوزان وپتېیله چې یوه روستوران کې نوم لیکنه وکړي او ډوډۍ تل هلته وخوري. دا کار یې وکړ او د روستوران همېشنۍ غړې شوه. کله به یې چې د هغه ځای د مېلمستیاوو کیسې راته کولې، زما به ډېرې خوښېدې. مګر ما نه غوښتل چې د دې رستوران غړیتوب ومنم. د هغو تور پوستو او لاتین تبارو محصلینو په ډله کې خوښه وم چې د درېیمې نړۍ په مرکز کې جوړه شوې وه. زړه مې نه غوښتل چې د پوهنتون په ډېرو سترو ټولنیزو صحنو کې حضور ولرم. زموږ ډله کوچنۍ وه، مګر یو بل سره ډېر صمیمي وو. ډېرې مهال به مو مېلمستیاوې کولې او د شپې تر نیمایي پورې به نڅېدو. د خوړو د خوړلو په وخت کې به زیاتره وخت لس او یا هم دولس کسه وو چې د مېز شاوخوا ته به کېناستو، خبرې به مو سره کولې او معمولاً به زموږ ماښامۍ تر ډېرو ساعتونو پورې غځېده.

د پرینستون پوهنتون چارواکو ډېر تمایل نه درلود چې تور پوستي محصلین دې په ډلهیزه توګه سره راټول شي او یا یوازې له یو بل سره ناسته پاسته ولري، بلکې دوی هیله درلوده چې بېلابېل نژادونه سره ګډ شي او د محصلۍ ژوند ته یو نوی کیفیت او یوه نوې معنا ورکړي. دا چې د بېلابېلو نژادي ډلو محصلین د یو بل په څنګ کې کار وکړي او له یو بل سره همغږي ولري، دا ډېر ښه دي، مګر حتا اوس هم کله چې د سپین پوستو محصلینو شمېر د تور پوستو محصلینو له شمېر څخه زیات وي، په دې حالت کې له لږګیو محصلینو دا تمه کېږي چې له ډېرګیو محصلینو سره یو ځای او ګډ شي او دا بیا زما په اند یوه زیاته تمه ده چې له رنګین پوستان باید ونه شي.

په پوهنتون کې مې خپلو تور پوستو ملګرو ته اړتیا درلوده چې یو بل ته هیله ورکړو او له یو او بله ملاتړ وکړو. موږ چې پوهنتون ته راتلو، نو له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې په موږ کې داسې ډېر کسان وو چې په دې نه پوهېدل چې کومې نیمګړتیاوې لري. مثلاً کله چې زه پرېنستون پوهنتون ته راغلم، نو پوه شوم چې زما د ثانوي دورې سیالان داسې ټولګیو ته تللي چې پوهنتون ته یکې چمتو کېدل یا یې هم په شپنیو او ورځنیو ښوونځیو کې د پاتې کېدلو تجربه تېروله. دوی زما په شان نه وو چې د لومړي ځل لپاره له خپل کور او خپلې کورنۍ جلا شي. دا زما لپاره داسې وه چې ستېج ته لاړه شم او وغواړم د ځینو په مخ کې پیانو وغږوم، مګر ناڅاپه پوه شم چې تر اوسه مې په یوې خرابې او ماتې پیانو باندې تمرین کړی. په هر حال زیاتره لږکي محصلین په خپل ژوند کې له بېلابېلو کړاونو سره مخامخېدل. په بشپړه توګه په یوه ټولګي کې داسې یوه محصل ته ډېره سخته ده چې یوازې دی یکې تور پوستی وي، یا یوازې د یوه تور پوستي په توګه په یوه ډرامه کې لوبېدل ورته له کړاوه ډک دي او یا دا هم ډېر ورته ستونزمن دي چې په یوه پوهنتوني ډله کې دې یوازینی تور پوستی واوسي. په داسې ډلو کې شتون او ګډون، په ځان ډېر زیات باور او اعتماد ته اړتیا لري. په همدې خاطر وو چې کله به زه او زما ملګري د ماښام په وخت کې له یو بل سره راټولېدو، نو د یو بل په لیدلو به مو هوډ ټینګېده او احساسول به مو چې یوازې نه یو.

له ما سره د لیلیې په خونه کې دوې سپین پوستې نجونې وې چې ښه خوی یې درلود او زغمناکه وې. خو ما به په لیلیه کې ډېر وخت نه تېراوه چې وکولای شم خپله دوستي له دوی سره نوره هم ژوره وپالم. اوس چې خپلو تېر وختونو ته ګورم، نو دې ته مې پام کېږي چې په حقیقت کې ما په پوهنتون کې هېڅ سپین پوستي ملګري نه درلودل او دا هم منم چې خپله ما هم د نورو په کچه په دې کار کې نیمګړتیاوې درلودې. په اصولي توګه محتاطه او محافظه کاره وم او یوازې په هغه شیانو ډاډه کېدم چې ورسره آشنا وم. له یوې ډلې او یا له یوه ځای سره د تعلق نه لرلو حس په رښتیا هم چې ډېر راته سخت و. مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکارېدل چې ګنې يو څوک تل راته ګوتڅنډنه کوي چې خطر ته پام مه کوه او يوازې پر هغو کسانو اعتماد وکړه چې پېژنې يې او د همدوی په منځ کې پاتې شه.

کَتي هغه نجلۍ وه چې د پوهنتون دوره کې له ما سره په يوه خونه کې اوسېده. د پوهنتون له فارغېدو کلونه وروسته يې رسنيو ته خپله يوه کيسه وکړه چې زه اصلاً ترې خبره نه وم. هغې ويلي وو چې مور يې په نيواورليان ښوونځي کې ښوونکې وه. دې د پوهنتون پر چارواکو نيوکه کړې وه چې ولې يې د دې لور ته په داسې خونه کې ځای ورکړی چې يوه تور پوستې هم پکې ده. مور يې د پوهنتون له چارواکو غوښتنه کړې وه چې ډېر ژر دې د دې لور له دې خونې څخه بلې خونې ته بوزي. بيا وروسته چې کله خبريالانو د دې له مور سره مرکه کوي، نو دا موضوع يې تاييد کړې وه او زياته کړې يې وه چې دا په داسې کورنۍ کې ستره شوې چې تور پوستانو ته وايي توری کاکا او دې داسې نيکه درلود چې په دې يې افتخار کولو چې پر دې توانېدلی و چې تور پوستان له خپل ښاره وشړي. په هر حال دا مور وېرېدلې وه چې لور يې له ما سره په يوه خونه کې ژوند کوي. د دې پېښې يوازې دا زما په ياد پاتې دي چې د پوهنتون د لومړي سمستر په منځ کې کَتي زموږ له درې کتيزې خونې لاړه او په داسې خونه کې مېشته شوه چې يو کټ پکې و. هغه وخت په موږ کې هېڅوک هم پرې دې پوه نه شول چې دا ولې لاړه او لامل يې څه و چې لاړه. نن بايد ووايم چې له دې کاره ډېره خوشحاله هم يم.

په پرېنستون پوهنتون کې مې تحصيلي لګښتونه زيات وو، نو اړ وم چې له درس ويلو سره سره لږ کار هم وکړم. له ډېرو هڅو او پلټنو وروسته بلاخره پر دې وتوانېدم چې يو ښه کار پيدا کړم او د درېيمې نړۍ د مديرې د مرستيالې په توګه پر دنده وګمارل شم. هر کله به مو چې په ټولګي کې درس نه درلود، نو په اونۍ کې به شاوخوا لس ساعته د لويرتا مېز ته نژدې د يو بل مېز شاته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستيالې په توګه کېناستم او يادښتونه به مې ټايپول، تليفونونو ته به مې ځوابونه ويل او همدارنګه هغو محصلينو ته به مې لارښوونه کوله چې په ازموينو کې به يې چانسونه خوړلي وو او غوښتل به يې چې بيا ازموينه ورکړي. دفتر ډېرې پراخې کړکۍ درلودې چې ښه رڼا ترې راتله. کله به مې چې د دفتر مېزونو او څوکيو ته کتل، نو ښه حس يې راباښه او هلته مې له کار کولو خوند اخيسته.

زما رييسه چرنې برازوېل نومېده، تور پوستې، هوښياره او ښکلې مېرمن وه، شواخوا دېرش کلنه ښکارېده، ډېره تر او تازه وه، د نيويارک وه، تل به يې پټې پټې پتلون اغوسته او لوړ بوټونه يې په پښو کول. د تور پوستو محصلينو يوه تکړه مدافع وه او له همدې امله ټولو ورسره مينه درلوده. هغې په دفتر کې ټول کارونه کول، د پوهنتون له چارواکو سره به يې غونډې جوړولې چې د لږګيو محصلينو د حق او حقوقو په اړه خبرې وکړي او همدارنګه له نورو ټولو محصلينو څخه يې هم ملاتړ کاوه او دا يې ډېر خوښېدل چې د دوی اړتياوې هم رفع کړي. د دې په ذهن کې تل نوي فکرونه وړ چې د کار له پرمختګ سره يې مرسته کوله. کله کله به يې په ډېرې بېړۍ سره، پاڼې په لاس کې وې، سګرېټ به يې په خوله کې و، خپل دستکول به يې راواخيست اوږې ته به يې کړ او هماغسې به په ډېرې بېړې له دفتره ووتله. په دې حالت کې به يې لوريتا ته د دې يادونه کوله چې خپلې دندې ترسره کړي. له هغې سره کار کول ما ته يوه جالبه تجربه وه، ځکه هغه يوه ډېره خپلواکه ښځه وه چې په ډېره مينه يې خپلو دندو ته رسيدګي کوله او همدارنګه يوه مجرده مور وه چې يو هوښيار او مينَناک زوی يې درلود چې جاناتان نومېده او ما به يې کله ناکله ساتنه کوله.

نه پوهېږم چې چرنې په ما کې څه ليدلي وو چې فکر يې کولو زه ډېرې توانايۍ لرم. که څه هم ما ډېره تجربه نه درلوده، خو بيا هم هغې له ماسره د يوې مشرې په شان چلن کولو او دا يې ډېر خوښېدل چې زما ظرفيتونه لوړ کړي. دې به معمولاً خپلې خبرې په «آيا»، «تر»، «تر اوسه» باندې پيلولې. مثلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتل به يې «آيا تر اوسه دې د جېمز کين کارونه لوستلي؟» يا «آيا تر اوسه دې په جنوبي افريقا کې د پرېنستون پوهنتون د پانگونې په اړه څېړنې کړي؟» يا «آيا تر اوسه دې د زياتو لږگيو محصلينو د جذبولو لپاره کوم اقدام کړی؟» چې البته ډېری مهال به زما ځواب دې ته «نه» و.**

**يو ځل يې رانه وپوښتل «آيا تر اوسه نيويورک ته تللې يې؟» بيا مې هم ځواب منفي و. خو چرني دا ستونزه ډېر ژر هواره کړه. يوه ورځ يې د کومې يوې شنبې پر سهار، جاناتان، زموږ يو همکار او زه په خپل موټر کې سپاره کړو او د منهاتن پر لوري مو حرکت وکړ. د لارې په اوږدو کې مو خبرې کولې او سگرېټ مو څکول. څومره چې وړاندې تلو، داسې ښکارېدل چې گنې د دې د اوږو درون پېټی سپکېږي. له پرېنستون څخه چې لرې شوه او له بېلابېلو سړکونو چې تېره شوه، نو بلاخره يې د نيويورک ښار ودانۍ او اسمانڅکې ودانې وليدلې. د نيويورک ليدلو د دې ټول استرسونه له منځه يوړل. ځکه څنگه چې زما کور شيکاگو و داسې د دې کور هم نيويورک و. تر هغې چې يو څوک له خپل کور او کلي لرې نه شي او په خپل ټول وجود کې د جلاوطنۍ خوند احساس نه کړي، نو هېڅکله به يې داسې يوه حس ته پام نه شي. اوس نو موږ د نيويورک ښار په مرکز کې وو، ډېره گڼه گونه وه، ژېړې ټيکسۍ وې او د موټرو هارنگونه وو. اوس مې په سمه توگه په ياد نه دي چې څه کارونه مو وکړل، مگر دومره پوهېږم چې يو ځای مو پيزا وخوړله، د راکفلر له مرکز څخه مو ليدنه وکړه، په سنترال پارک کې راتېر شو او د آزادۍ مجسمه مو د هغې له مشال سره وليده. چرني به په ځينو ځاينو کې درېده، له خپل موټره به يې ځينې شيان رااخيستل، موږ به يې يوازې پرېښودو، دا به يوې ودانۍ ته وردننه کېده او له څه مهال وروسته به په ډېرې بېړې بېرته ترې راوتله. نيويورک له گڼه گونې ډک ښار و چې زه يې ډېره حيرانه کړم. خو د چرني لپاره بيا دا ښار د هوساينې ښار و او حتا که د سړکونو په شاوخوا کې به د کثافاتو او چټليو بوی هم وو، نو د دې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعصاب يې نه خرابول.

يو ځای کې يې بيا غوښتل چې موټر په قطار کې پارک کړي، مگر کله يې چې شاته وکتل چې د موټرو ليکې اوږدې دي، نو له دې کاره تېره شوه. ما ته يې وويل چې بايد جلو ته کېنم. رانه ويې پوښتل چې ليسنس لرې؟ په اشاره مې ورته وويل چې هو. په ډېره بېړه له موټره ښکته شوه او راته کړل يې چې راشه شترنگ ته کېنه او ځو چې راگرزم، يو دوه ځله په دې سړک کې تاو راتاوه شه او پنځه دقيقې وروسته همدلته راشه، زه به ځان راورسوم.

زه ډېره ورته حيرانه شوم. بې باوره وم او په ځيره مې ورته کتل. لاسونه او پښې مې ورک کړي وو، زه يوه نابلده نوې پېغله وم، ما څنگه کولای شول چې په منهاتن کې دې موټر وچلوم. که رښتيا يې درته ووايم، نو ما هېڅ نه غوښتل چې موټر وچلوم او د کوچني هلک ژوند ته گواښ پېښ کړم. خو چرني د نورو ټولو نيوياركيانو په شان زما منفي غبرگون ناليدلی وگڼلو. له موټره ښکته شوه او زه يې داسې يوه کار ته اړ کړم چې هېڅکله مې يې فکر نه کاوه چې ترسره يې کړم.

د ژوند په دې پړاو کې تل په درس ويلو او زده کړو بوخته وم او غوښتل مې چې ښه ليکل وکړم او خپل انتقادي فکر ته وده ورکړم. که څه هم په زياتره ټولگيو کې مې د نورو په پرتله متفاوته څېره درلوده، خو هڅه مې کوله چې په خپل ټولگي کې ځان مطرح کړم. زياتره مهال به د درېيمې نړۍ د مرکز په يوه گوښه خونه يا به د کتابتون په لرگينه خونه کې په درس ويلو بوخته وم. د محصلۍ په لومړي کال کې خطاوتم او د الهياتو درس مې ولوست چې د محصلۍ پر درېيم کال يې اړه درلوده. د دې درسونو د زده کولو لپاره مې ډېرې ستونزې او کړاوونه وگالل. مگر هر څنگه چې وو، بلاخره دا مضمون مې د ښو نومرو په اخيستلو پای ته ورساوه. که څه هم ښه تجربه نه وه، خو بيا هم پوه شوم چې په ډېرې هڅې او ډېر کوښښ سره کولای شم بريالۍ شم. همدارنگه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پوه شوم چې که څه هم ما د یوه بېوزله ښار په یوه معمولي ښوونځي کې زده کړې کړي، مګر بیا هم د نورو په مرسته او د ځان په هاند او هڅو کولای شم چې د ستونزو له عهدې ووزم او بریالی شم.

له دې ټولو سره سره بیا هم نه کېدل چې په یوه پوهنتون کې دې یوه تور پوستې محصله واوسې چې زیاتره محصلین یې سپین پوستي وي او بیا هم تبعیض حس نه کړې. زه د ځینو محصلینو او حتا د ځینو استادانو په ځیر ځیر کتو سره پوهېدم او دا مې احساسول چې ماته وایي: «پوهېږم چې د څه لپاره دلته یې.» دې شان کتلو زما روحیه کمزورې کوله. حتا که پر دې هم ډاډه کېدم چې دا یوازې زما خپل خیالونه دي. همدې امر زما په زړه کې د شک او تردید زړي کرل. آیا زه د یوې ټولنیزې ازموینې په خاطر هغې پوهنتون ته تللې وم؟

ورو ورو مې دې ته پام شو چې یوازې مور تور پوستي نه وو چې د ونډې له مخې پوهنتون ته راغلي وو. داسې محصلین هم وو چې د ثانوي دورې نومرې یې د پوهنتون لپاره پوره نه وې، مګر بیا هم پرېنستون پوهنتون ته راغلي وو. د مثال په توګه دا هغه کسان وو چې یا یې پلار یا یې نیکه په یوه ورزشي ټیم کې غوره لوبغاړي وو، یا د دوی کورنۍ د لیلیې او کتابتون لګښوته ورکړي وو. یعنې که چا به شتمني درلوده او یا به مشهور و نو کولای شول چې ځانونه له محرومیته او یا له شکسته وژغوري. مګر بیا هم شتمنۍ هر څېرې نه شي کولای چې لاره پرانیزي او تاسې پر مخ بوزي.

ما په خپلو سترګو لیدلي چې شتمن محصلین به تل په شپنیو مېلمستیاوو کې وو یا هم ډېر بې انګېزې وو او یا هم ډېر ټنبلان. دوی له درس ویلو ستړي شوي وو او غوښتل یې له یوې لارې نه له یوې لارې له پوهنتونه وتښتي. خو زما موخه تل همدا وه چې ښې نومرې واخلم او پوهنتون پای ته ورسوم.

کله چې له سوزان سره په یوه خونه کې شوم، نو دې ماته ډېر درسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړل چې څنګه وکولای شم د ستونزو پر وړاندې دوام وکړم. د پوهنتون دویم کال راورسېد. په دې کال کې راته دا ستونزه نه ښکارېده چې تور پوستې یم. اوس له دې موضوع هم نه وېرېدم چې د ټولګي هلکان به بحثونه په خپل کنترول کې راولي. دوی د بېلابېلو مسایلو په اړه خپلې نظریې ورکړې وې او زه پرې پوهېدلې وم چې هېڅکله داسې نه ده چې تر موږ دې هوښیاران واوسي. د تاریخ په اوږدو کې یوازې نارینه‌سالاري د دې باعث شوې وه چې په خودي مسایلو کې دې دوی له موږه زیات پر ځان باور ولري.

زما ځینو ملګرو نژادپالنه ډېره زیاته احساسوله. د مثال په توګه زما ملګري دریک ویل چې کله په پیاده رو کې ځي، نو سپین پوستي محصلین ځانونه ترې ګوښه کوي، یا زما یوه بل ملګري د خپل زېږېد ورځې د لمانځنې په خاطر خپلې خونې ته شپږ هلکان او نجونې رابللي وو، مګر له ده سره چې په خونه کې کوم سپین پوستی محصل و، د پوهنتون مسئولینو ته یې شکایت کړی و او ویلي یې وو چې په خونه کې د څو هډورو تور پوستو هلکانو تر منځ د امنیت احساس نه کوي. هر برخلیک چې و، زموږ تور پوستو محصلینو شمېر په پرېنستون پوهنتون کې ډېر کم وو، نو ډېرې سترګې رااوښتې او دا کار زما لپاره د دې انګېزه وه چې له خپل توانه زیات کار وکړم چې وکولای شم له سپین پوستو سره سیالي وکړم او حتا تر دوی وړاندې شم. په ثانوي دوره کې مې دا احساسول چې زه باید د خپلې سیمې د استازې په توګه پرمختګ وکړم، مګر په پوهنتون کې مې ځان د تور پوستو استازې باله. په همدې خاطر هر کله به چې په خپل ټولګي کې کومې بریا ته رسېدم، نو له ځانه سره به مې د غرور احساس درلود او پوهېدم چې خپلې موخې ته نژدې شوې یم.

ډېر ژر په دې هم پوه شوم چې زما هم‌خونې سوزان ځانته ژوند دومره نه سختوي، ډېره هوسا او بې خیاله وه او تل په خوشحاله وخت تېرولو او ښادیو پسې وه. مثلاً په کوم ټولګي کې به چې د دې ښه وخت تېرېده، هلته به تله. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټول ټولګي يې پر همدې اساس ټاکلي وو او کله به چې پوه شوه چې ټولګی سترې کوونکی دی، نو هغه به يې بدل کړ. کله چې زه د تور پوستو د ټولنې غړې شوم سوزان د منډو سياليو ته لاړه او د پوهنتون د فوټبال ټيم غړيتوب يې واخيست. ځکه غوښتل يې چې له ښکلو او ورزشکارو هلکانو سره ملګرتيا وکړي. کله چې د روستورانونو له انجمن سره يو ځای شوه، له دې وروسته بيا له څو شتمنو سپين پوستو هلکانو سره يې د ملګرتيا تار وغځاوه چې په دوی کې يې يو د ماشومانو او نووځوانانو د فيلمونو لوبغاړی و. په واقعيت کې سوزان د خپلې کورنۍ په ټينګار په طب پوهنځي کې نوم ليکنه کړې وه، مګر وروسته له دې ځانګې تېره شوه. ځکه ويل يې چې د دې د خوشګذرانيو مخه نيسي. حتا په يوه سمستر کې مشروطه هم شوه، خو د دې لپاره مهمه نه وه. سوزان زموږ په ګډه خونه کې د زياتو کتابونو، پاڼو او خپلو کاليو شاته ډوبه وه او د همدې توکو شاوخوا کې به ويده کېده. مګر زه به خپل پاک کټ کې کېناستم او شاوخوا ته به مې هر څه په وسواسي بڼه سم او منظم وو. سوزان به چې هر کله له ورزشي تمرين وروسته راستنېده، نو خپلې له خولو ډکې جامې به يې هماغلته ايستلې او د خپلو پاڼو، کتابونو او پاکو کاليو په څنګ کې به يې په ځمکه اچولې او حمام ته به ننوتله. ما به په داسې وخت کې دې ته ويل چې ولې دا کار کوې او هغه به هم تل موسکه شوه او وبه يې ويل چې کوم کار؟

کله کله به مې زړه غوښتل چې پرې ورپړچ وهم. که څه هم هېڅکله مې دا کار ونه کړ. په هر حال د هغې شخصيت همداسې و او ما کوم کار نه شو کولای. کله به چې عصباني شوم، نو د دې چټلې جامې او توکي او کثافات به مې له مځکې راټول کړل او د دې پر کټ به مې واچول. زه اوس پوهېږم چې د دې ضد او نامنظموالي ما ته يو ښه درس راکړ، هغې رازده کړل چې ټول انسانان پاک، صفا او بانظمه نه دي او داسې نه شي کېدی چې ټول انسانان دې له يوې برنامې سره سم خپلې چارې ترسره کړي. په ناڅاپي توګه څو کاله وروسته زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر یوه داسې سړي مینه شوم چې سوزان ته ډېر ورته و او تل به یې خپل توکي او خپلې جامې د شرم له احساسولو پرته دې خوا هغې خواوو ته غورځول او ضدي و. زما په اند همدا سوزان وه چې له ما سره یې مرسته وکړه چې وکولای شم له دې سړي سره جوړجاړی وکړم. هغه سړی چې اوس مې هم تر څنګ دی. په هر حال کوچنۍ پوهنتوني ټولنې رازده کړل چې داسې نه شي کېدی چې ټول انسانان دې سره یو شان وي.

یوه ورځ چرني راته وویل: «تر اوسه دې دا فکر کړی چې د ماشومانو ساتنه وکړې؟» ما د دې زوی جاناتان ساته چې اوس ښوونځي ته هم تلو. هغه مې د تګ راتګ لپاره د پوهنتون شاوخوا ته بېوه او حتا یو دوه ځله مې له ځانه سره د درېیمې نړۍ مرکز ته هم بوتلو او له یو بل سره مو پیانو وغږوله، یا هم هلته کېناستو او له یو بل سره مو کتاب لوسته. چرني د دې کار په خاطر ما ته څه پیسې راکولې. خو دې ته داسې ښکارېدل چې دا پیسې ډېرې نه دي، نو د زړه سوي په خاطر یې ما ته وړاندیز وکړ: «د پوهنتون ډېر استادان پېژنم چې داسې چا ته اړتیا لري چې کله یې ماشومان له ښوونځیو راشي یو څوک یې پالنه وکړي. غواړې وه یې ازمایې، ویې ګوره چې څنګه ده؟»

ډېر ژر د پوهنتون ځینو تور پوستو چارواکو او استادانو خپل ماشومان د پالنې لپاره ما ته راوسپارل.

ما به له دې ماشومانو سره په چمن کې لوبې کولې، هغوی ته به مې خواړه ورکول او د دوی په کورنۍ دندو کې به مې له دوی سره مرسته کوله. دې کار زما د استرس او اندېښنو په رفع کولو کې له ما سره ډېره مرسته وکړه. کله چې ماشومه وم، خپلو نانځکو ته به مې خواړه ورکول، جامې به مې وراغوستې، د دوی وېښته به مې ورږمنځول او د دوی په پښو به مې د زخم چسپونه نښلول او اوس مې دا دی د ځوانۍ په وخت کې هم هماغه کار درلود چې له واقعي ماشومانو سره مې ترسره کاوه. ښایي چې په هماغې کچې مې له دې کاره خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیسته. لنډه دا چې له سترو او په عین حال کې له خوشحالو او راضي ماشومانو سره له څو ساعتونو تېرولو وروسته لیلیې ته راګرځېدم.

په اونۍ کې به مې یو ځل د لیلیې تلیفون راپورته کاوه او په یوکلید سرک کې به مې خپل کور ته زنګ واهه. که پلار به مې سهار کار کاوه، نو ما به بیا له غرمې وروسته زنګ ورواهه او له هغه سره به مې خبرې کولې. ما به داسې انګېرل چې دی په خپله راحته څوکۍ ناست دی او تلویزیون ګوري او دې ته په تمه دی چې مور مې له کار راوګرزي. مازیګر به معمولاً زما مور غوږۍ پورته کوله. ما به دوی ته د پوهنتون مسایل او چارې له جزییاتو سره بیانولې. دوی ته به مې د فرانسوي ژبې د استاد په اړه خبرې کولې او ویل به مې چې ډېر مې نه خوښېږي او بیا به تر دې ځایه ورسېدم چې کوم ماشومان زه له ښوونځي وروسته ساتم، ډېر شیطانان دي او د دوی د شوخیو په اړه به مې دوی ته ویل همدارنګه د هغه تور پوستي هلک په اړه هم له دوی سره غږېدم چې شنې سترګې یې درلودې او په مهندسۍ ځانګه کې یې زده کړې کولې چې زه او سوزان دواړه په ګډه پرې مینې وو. دی هغه څوک و چې موږ به هر ځای ورپسې وو، مګر د هغه اروا هم پر موږ خبره نه وه. پلار ته به مې چې کله کیسې کولې، نو خندل به یې او ویل یې:

«عجیبه ده! ریښیتا؟ نورې څه خبرې دي؟ ډاډه اوسه دا هلک مهندس دی، د تاسو هېڅ یوې ورتیا نه لري.».

کله چې زما خبرې پای ته رسېدې، نو پلار به مې له ما سره د کور د پېښو په اړه خبرې کولې. دا چې نیا او نیکه د نیکه زېږدځای ته لېږدېدلي یعنې د جنوبي کارولینا جورج‌ټاون ته یې کډه کړې او نیا یوازیتوب احساسوي. دا چې مور مې ډېر کار کوي او د روبي تروری ساتنه هم کوي چې په ۷۰ کلنۍ کې کونډه شوې او کمزورې او ناتوانه ده. خو پلار مې هېڅکله له ما سره د ځان د ستونزو او مشکلاتو په اړه خبرې نه کولې. که څه هم پوهېدم چې ډېرې ستونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. نه پوهېږم کومه شنبه وه، کرېګ لوبه درلوده نو په دې خاطر مې پلار او مور هم پرېنستون ته راغلل چې د ده لوبه وګوري. هغه ورځ مې هغه تریخ واقعیت په خپلو سترګو ولید چې هېڅکله یې د تلیفون پر لیکه نه و راته ویلی. کله مې چې پلار موټر په پارکېنګ کې ودرولو، نو د خپل خوښې پر خلاف په ویلچر کې کېناست او دې ته یې اجازه ورکړه چې زما مور یې ټېله کړي. ما اصلاً د پلار د کمزورۍ او ناتوانۍ زغم نه درلود. د ده د ناروغۍ په اړه مې لږ څه څېړنې کړې وې او څو طبي مقالې مې هم کاپي کړې او پلار او مور ته مې وراستولې وې. پر ده مې ټینګار هم کړی و چې ډاکټر ته ورشي او فیزیوتراپۍ وکړي. خو په چا یې منې. ده زما خبرې هېڅکله نه اورېدې. تل به مې چې ورسره اړیکه نیوه او ترې پوښتل به مې چې څنګه یې نو ده به تل همدا یو ځواب یې راکاوه: «ښه یم». په غږ کې یې د دې ښه نه وه چې ګنې پر خپل ځان باندې ترحم او زړه سوی لري. تل به یې راسره ټوکې کولې او لږ به هم د جاز موسیقۍ په اړه راسره غږېده. همدا د ده مهرباني خبرې ډېرې راته ښې وې او د زړه ډاډ یې راکاوه. تل به یې په تلیفون کې له خدای پامانۍ وړاندې رانه پوښتل چې کوم څه ته خو اړتیا نه لرې. مثلاً پیسو. او ما به تل منفي ځواب ورکاوه چې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۷

له کله راهیسې چې پوهنتون ته راغلې وم، له خپلو ځینو دوستانو سره مې اړیکه ساتلې وه. په ځانګړې توګه له سانتیتا سره چې په هاروارد پوهنتون کې یې درسونه ویل. د یوې اونۍ په پای کې له دې امله واشنګټن ته لاړم چې هغه ووینم. د تېر په شان مو سره خبرې وکړې او سره ومو خندل. هاروارد پوهنتون ډېر ستر و. کله چې له لیلیې راووتو، نو په مخ کې مو یو ستر موړک تېر شو. ما د شوخۍ له مخې سانتیتا ته وویل: «نجلۍ، داسې ښکاري چې ته اوس هم زموږ په خپله سیمه کې ژوند کوې». د هغې ځای محصلین د پرېستون د محصلینو دوه برابره او اکثره یې تور پوستي و. له دې بابته مې له سانتیتا سره بخیلي وشوه چې هره ورځ د ګېښمېر تور پوستو په منځ کې اوسېږي او زه هره ورځ د اقلیت خوا ته تلم او له دې کاره ځورېدم. له دې سره سره کله چې د خپل پوهنتون شنه او تازه چمن او ډېرینو ودانیو ته راوګرزېدم، نو په زړه کې مې خوشحالي احساس کړه.

ټولنپوهنه مې لوستله او ښې نومرې مې هم پکې اخیستې. تازه له یوه هوښیار فوټبالر سره هم ملګرې شوې وم چې تفریح او خوش ګذراني یې خوښېدل. زما او د سوزان خونې ته یوه بله نجلۍ هم نوې راغلې وه چې آنجېلا کېنیډي نومېده. دا نجلۍ ډېره ګړېده، د واشنګټن وه او ډېره شوخه چې موږ یې په خپلو خنداوو خوشحاله کولو. که څه هم تورپوستې وه خو رنګارنګ شوخ کالي یې اغوستل چې ماشومانه ښکارېدل او د دې هم نه خوښېدل، مګر بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اغوستل.

په کومه نړۍ کې چې موږ ژوند کاوه، زما له تېرې هغې سره متفاوته وه. په نوې دونیا کې زموږ ټولو محصلینو اندېښنه دا وه چې ولې ټولګي طبقاتي دي. بله اندېښنه دا وه چې څنګه تېنس لوبه ترسره کړو او داسې نور... مګر هر چا به چې له ما پوښتل چې د کوم ځای یې، نو ما به ځواب ورکاوه چې د شیکاګو یم او یو ډول ټینګار مې هم کاوه چې د شیکاګو د جنوبي برخې یم. اصلاً مې زړه نه غوښتل چې ځان د ښار د شتمنو کورنیو له ډلې وګڼم. زموږ د سیمې په اړه ډېر خبري ګزارشونه خپرېدل، په دې ګزارشونو کې به د جنایتکارو ډلو جګړې او نانندرۍ راغلې وې، ما به هم چې کله ویل د جنوبي برخې یم، نو د ټولو سترګو ته به همدا ودرېدل چې په یوه تور پوستې بېوزله سیمه کې ژوند کوي او دا سیمه یوه ګنډواله ده.

په تلویزیون کې د جنوبي شیکاګو په اړه داسې شیان خپرېدل، مګر ما یې برعکس انځور درلود. هلته زما کور و. زموږ کوچنی کور چې په یوکلید سړک کې یې موقعیت درلود. د ناستې په خونه کې یې زوړ نخي فرش وېړ شوی و. چت یې ټیټ و. زما پلار به په کوچ کې ویده کېده. کور کوچنی انګړ درلود چې روبي به هغې کې بېلابېل ګلان کرل او د ډېرې یوه څوکۍ یې هم په یوه کوښه کې وه چې زه به له غرمې وروسته په یوه بجه له خپل ملګري رایل سره هلته کېناستم. دې کور کې زما ټول تېر خوندي شوی و.

په پرېنستون کې مې یوه خپلوانه درلوده، هغه هم لرې خپلوانه چې زما د نیکه ځوانه خور وه. موږ سیس ترور بلله. ساده او هوښیاره ښځه وه چې د ښار شاوخوا کې یې په یوه عادي کور کې ژوند کاوه. نه پوهېږم چې داسې څه و چې سیس ترور یې دې ښار ته راکاږلې وه. له ډېر وخته راهیسې یې هلته ژوند کاوه. د خدمتکارې په توګه یې د سیمې د خلکو په کورونو کې کار کاوه او تل یې د جورج‌ټاون لهجه کاروله. سیس ترور هم زما د نیکه په څېر په جورج‌ټاون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ستره شوې وه. کله چې زه ماشومه وم، نو په دوبي کې به له خپلې کورنۍ سره جورج‌ټاون ته تلو. د دې ښار یادونه اوس هم زما په ذهن کې پاتې دي، لکه دې ښار زیاته ګرمي درلوده، بلوت ونې پکې زیاتې وې، په ډنډونو کې به ونې راشنې وې او بوډاګان به و چې د سین تر څنګ به کېناستل او کبان به یې نیول. کله به چې شپه شوه، نو د دې ښار میاسو به شورماشور پیل کړ.

کله به چې جورج‌ټاون ته د خپلوانو کره لاړو، نو زما د پلار د تره یا زما د نیکه د ورور په کور کې به اوسېدو چې توماس نومېده او د یوه ښوونځي مدیر و. ده به کله ناکله زه هم ښوونځي ته ورسره بېولم او اجازه به یې راکوله چې د مېز شاته یې کېنم. د هغه مېرمن ډاټ نومېده. له سهار به یې مور ته کورنۍ ډوډۍ او ښوروا راوړل او همدارنګه په ځانګړې توګه به یې ماته د ممپلیو مربا هم اخیسته. کله کله به د تفریح لپاره له ښاره بهر تللو او هلته به مو داسې کروندې لیدلې چې یو وخت به تور پوستو غلامانو پکې کارونه کول. دا یو تریخ واقعیت و چې هېڅا نه غوښتل د هغې په اړه خبرې وکړي. هلته یو ځنګل و، یوه خواره کوډله پکې وه، دا کوډله زما د پلار د تربره وه. مور به هلته تلو او د ښکار غوښه به مو خوړله. کرېګ به له خپل یوه ملګري سره ځنګله ته تله او ښه به یې ویشتله. د شپې تر ناوخته به هم زه او هم کرېګ پر دې نه توانېدو چې د توماس تره په کور کې ویده شو، ځکه چرچرکونه به چرېدل او شپه کې به یې شورماشور جوړاوه.

کله به چې رخصتۍ خلاصې شوې، مور به بېرته شمالي برخې ته راوګرزېدو خو تر یوې مودې پورې به مې د هغو حشراتو شورماشور، د بلوتو د پاڼو شغاوې او د سین غړاوې په غوږونو کې کړنګاوي کول. جنوبي سیمه تل زموږ په رګونو کې وه. پلار به مې تل هلته تلو چې خپل خپلوان وګوري. زما نیکه په نوي زلمیتوب کې له جورج‌ټاون څخه راتښتېدلی و. ما تل داسې فکر کاوه چې زړه یې غواړي بېرته هلته وروګرزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنوبي برخه جنتي سيمه نه وه، مگر زموږ ټولو لپاره يې ځانګړې معنا او ځانګړی مفهوم درلود. موږ يې له خپل تېر تاريخ سره تړلو. په شيکاګو کې مې چې زيات کسان پېژندل، نو ټولو زموږ په شان تېرمهال درلود، لکه د برين مارو ښوونځي هلکان او په ويتني يانګ ثانوي ښوونځي کې زما ملګري او ټولګيوال. خو د دوی ټولو زړونو نه غوښتل چې د هغې په اړه څه ووايي. همدا چې دوبی به راورسېد، نو ټولو به جنوبي سيمې ته سفر کاوه چې هلته خپل خپلوان ووينې. په زيات احتمال هغوی هم زما په شان د تور پوستو غلامانو لمسيان وو. په پرېستون کې مې هم زيات دوستان لرل چې اکثره يې داسې و. البته په امريکا کې نور تور پوستان هم وو. ما داسې کسان پېژندل چې د امريکا له شرقي سواحلو راغلي وو او نيکونه يې پرتوريکويي، کيوبايي او دومينيکيني وو. د چرني نيکونه هم د هاييتي وو، يا هم زما يو ښه ملګری و چې ډېويډ مينارد نومېده او شتمن نيکه‌ګان يې د باهاما وو. د سوزان نيکونه د نايجيريا وو، هغه زما سره د ليليې په يوه خونه کې وه. د دې تروريانې په جامايکا کې اوسېدې. موږ د خپلو نيکونو په اړه هېڅکله نه غږېدو او کوم داسې دليل مو هم نه درلود چې په اړه يې خبرې وکړو. پېغلې وو يوازې مو د راتلونکې په اړه سوچ کاوه او په دې نه پوهېدو چې راتلونکی به څنګه وي.

د سيس ترور کور د پرېنستون په شاوخوا کې و، د کال په اوږدو کې به يې يو يا دوه ځله ما او کرېګ ته بلنه راکوله چې کور ته يې ورشو او د شپې ډوډۍ ورسره وخورو. دې به موږ ته کبابونه پخول، بېلابېلې ترکارۍ به يې تيارولې او وچه ډوډۍ به يې پخه کړې وه. ماښامی به مو ورسره کولو. بيا به مو يو په بل پسې څو کيلاسه خوږ چای څښلو. يادېږي مې نه چې ما دې له ترور سره د مهمو مسايلو په اړه خبرې کړې وي. يوازې معمولي خبرې اترې مو کولې. خبرې مو د درناوي له مخې وې. سيس ترور مهربانه او مېلمه پاله بوډۍ وه چې موږ به يې له ځان سره تېرو وختونو ته وړلو. کله به چې ماښامی خلاص شو، موږ به ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته کوله چې لوښي ومينځي او بيا به په ډکه ګېډه بېرته پوهنتون ته تللو.

دلته غواړم خپله يوه خاطره بيان کړم چې له کلونو کلونو راهيسې مې ذهن کې پاتې ده او زما د پوهنتون په دويم کال پورې اړه لري. زما يو ملګرى و چې کوين نومېده. دى فوټبالر او د اوهايو و. دنګه ونه يې درلوده. هډور و او جذابه څېره يې لرله. د فوټبال په ټايګرز ټيم کې يې لوبه کوله، فارورډ و، يعنې د دفاع په ځاى کې به يې لوبه کوله. ډېرې چټکې منډې به يې وهلې او له ټکره نه وېرېده. پوهنتون کې له ما څخه دوه کاله وړاندې و او طبي ځانګه کې يې زده کړې کولې او څه پاتې نه و چې فارغ شي. کله به يې چې خندل، نو اننګيو کې به يې ژورې رامنځته کېدې. زه يې پر دې حالت مينه وم. خواږه يې زيات خوښول. دا کار يې د فوټبال لپاره هم کاوه چې خپل زيات وزن وساتي او هم يې له دې امله کاوه چې يوه شېبه هم آرامه نشو کېناستلى. ډېر فعاله و. په ناڅاپي توګه يې کارونه ترسره کول.

يوه ورځ يې راته وويل: «څه چې ځو په موټر کې چکر ووهو.» د ده په کوچني او سره موټر کې سپاره شو. د پوهنتون له انګړه ووتلو او د پرېنستون يوې خلوتې سيمې ته لاړو. هوا ګرمه وه، اسمان صاف و، لمر ځلېدلو.

نه پوهېږم چې يو بل سره مو خبرې کولې او که د يو بل لاسونه مو سره نيولي وو؟ مګر خوښي مې احساسوله. بلاخره، کوين يوې بېديا ته نژدې موټر ودراوه. هلته ګلان رازرغون شوي وو. کوين له موټره ښکته شو، ماته يې هم اشاره وکړه چې ښکته شم. ما ترې وپوښتل:

- څه به وکړو؟

په حيرانۍ يې راته وکتل او ځواب يې راکړ:

- څه به وکړو! ښکاره ده نو، بېديا کې به منډې ووهو.

څو شېبې وروسته مو همدا کار وکړ. د ماشومانو په شان مو ترپکې وهلې. لاسونه مو ښورول او شورماشور مو کاوه. په بېديا کې مو ځغستل. نور سترړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي و، ساه مو بنده بنده کېده، موټر ته بېرته راوګرزېدو او ځانونه مو د موټر په څوکیو کې واچول. دا زما یوه خاطره وه چې زما ذهن یې د یو څو شېبو لپاره له راتلونکې څخه منحرف کاوه. دا خاطره زما په ذهن کې حک ده.

خاطره همدا وه. ما په ټولنپوهنه څانګه کې زده کړې کولې. له دې سره سره، هره ورځ به مې د خوړو په سالون کې له خپلو دوستانو سره خواړه خوړل او خبرې به مو کولې او په مېلمستیاوو کې به نڅېدلو. مګر ذهن به مې همېشه په خپلو سترو موخو کې بوخت و. تل به مې د خپل پرمختګ او خپلې ترقۍ په اړه ارزونې کولې او خپلې بریاوې به مې کمې او زیاتې شمېرلې. له هر چالش سره به چې مخېدم، هغه به مې شاته پرېښوده او بل پړاو ته به مې ګام اخیسته. همدارنګه له ځانه به مې پوښتل چې آیا په کافي کچه پر ځان باورمنه یم، لرلید لرم او غوره یم او که نه؟

خو کوین داسې یو هلک و چې تل به له اصلي سړکه وتلو او بېلارې کې به تلو او له دې کاره به یې خوند اخیست. هغه او کرېګ هغه وخت فارغ شول چې زه د دویم کال محصله وم. کرېګ د انګلیستان منچستر ته لاړ چې خپل ورزش بسکتبال ته ادامه ورکړي. مګر کوین د دې پر ځای چې طبابت ته ادامه ورکړي، ناڅاپه یې خپله تګلاره بدله کړه. درس یې پرېښود او ویې پتېیله چې له ورزشي ټیمونو سره ځان بوخت کړي.

کوین غوښتل په ورزشي ټیمونو کې هغه نقش ولوبوي کوم چې د رستورانونو په مخکې کې یې ځینې کسان لوبوي چې نازونه او اداوې کوي او خلک هڅوي چې روستوران ته لاړ شي. بلاخره له کلیولند فوټبال ټیم سره یو ځای شو چې د دې ټیم د لوبې یا تبلیغي مراسمو په وخت کې به یې عجیبې او غریبې جامې اغوستې او ننداریز حرکتونه به یې اجرا کول. حتا په همغه دوبي کې کوین د خپل پلار او مور کور پرېښود او زما د لیدلو لپاره شیکاګو ته راغی. هغه ورځ موږ مختلفو مغازو ته سر ورښکاره کړ چې هغه جالبه جامې واخلو. نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې يادېږي چې هغه ورځ کوين پر دې وتوانېد چې ځانته مناسبې جامې واخلي او که يه. مګر بيا وروسته مې واورېدل چې بېرته پوهنتون ته وروګرزېد او طبي درسونه يې پای ته ورسول او بيا يې په پرېنستون کې له خپلې يوې ټولګيوالې سره واده وکړ.

هغه وخت ما د کوين لېونتوبونه نه خوښول او دا مې هم نه خوښېدل چې په کوږ لارو دې لاړ شي. دا ماته ډېره هېښنده وه او نه پوهېدم چې ولې يو کس لګښوتونه ورکړي، د پرېنستون پوهنتون زيات خرڅونه پرې کړي او له څه درس ويلو وروسته هر څه ته شا کړي او پر يوه ټوکماره نانځکه بدل شي.

په هر حال زه منظمه او پرېکنده نجلۍ وم او په يوکليد سړک کې ژوند رازده کړي وو، يا يې زه واداره کړې وم چې د وخت او پيسو په برخه کې سختګيري وکړم او هېڅ يو هم بېځايه او بېهوده له لاسه ورنه کړم. زما ډېره ستره غلطي دا وه چې د پوهنتون په دويم کال کې مې وکړه. هغه دا چې ومې پتېيله چې په ځنګلونو کې د سيلانيانو مشاوره شم او د هغوی د ماشومانو پالنه او روزنه وکړم. دا هغه کسان وو چې لومړی ځل به يې و چې ځنګله ته به راتلل. دا دنده زما ډېره خوښېده، مګر زياتې پيسې يې نه درلودې، نو ځکه ژر مې پرېښوده او همدا و چې له مالي پلوه مې کورنۍ ته اړ شوم. البته هغوی هېڅکله په دې اړه کوم اعتراض ونه کړ، مګر ما کلونه کلونه له دې امله د ګناه احساس کاوه.

د هماغه کال په دوبي کې زما د پيانو تروشه او سختګيره ښوونکې روبي تروری جون مياشت کې مړه شوه او په يوکليد سړک کې يې کور زما پلار او مور ته په ميراث پرېښود. په دې توګه مور او پلار مې د لومړي ځل لپاره په خپل ژوند کې د کور څېښتنان شول. مګر يوه مياشت وروسته زما نيکه هم د ريوي سرطان له امله وفات شو. هغه په ډاکټرانو باور نه درلود. ځکه د ځان درملنه يې هم نه کوله. زما د مور ستره کورنۍ او زما د نيکه ملګري او دوستان او ګاونډيان د غمرازۍ په خاطر زما د نيکه په واړه کور کې سره راټول شول. زه هم هلته وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت زما د ماماګانو زامن او لوڼې غټان شوي و. تروریګانو مې هم د زړبودۍ دوران پیل کړی و. اوس یې نو په کورونو کې نوې مېرمنې او نوي ماشومان هم ورزیات شوي وو. له دستګاه څخه د جاز د البوم غږ اورېدل کېده او موږ هغه خواږه خوړل چې نورو راوړي وو. مګر خپله بوډا مړ و. خو زمان نه درېږي او وړاندې درومي.

د هر کال په پسرلي کې د بېلابېلو امریکایي شرکتونو له خوا پرېنستون پوهنتون ته ځینې کارپوهان راتلل چې محصلین خپلو کارونو ته ورجذب کړي. دوی په فارغو محصلینو کې له خپلې اړتیا سره سم ځینې کسان انتخابول. داسې یو حالت و چې خپل ټولګیوال یا ټولګیواله به دې لیدل چې د پینه‌دار جامو پر ځای یې ناڅاپه شیکې جامې پر تن کړي او د یوه کار لپاره د منهتن په سړک کې په یوه اسمانڅکې ودانۍ کې انتخاب شوي. له شک پرته له موږ سره داسې کسان هم وو چې په خپلو علایقو پسې تلل. د مثال په ټوګه یا یې تدریس غوره کاوه یا یې هم هنري کارونه یا هم له خپلواکو سازمانونو سره یو ځای کېدل او یا هم له پوځ سره او همدارنګه داسې نور کارونه. زه هم قراره نه وم ناسته بلکې همداسې یو پر بل پسې مې د پرمختګ پوړۍ وهلې.

ژر وه چې له ټولنپوهنې فارغه شم. د پوهنتون په وروستي کال کې مې خپل مونوګراف بشپړ کړ. بیا مې لږ څه فکر وکړ. له فکر وروسته مې د وکالت د برخې په ازموینه کې ګډون وکړ. پتېیلې مې وه چې د وکالت په ډېر غوره پوهنتون کې نوملیکنه وکړم. کله به مو چې د ماښام ډوډۍ خوړله نو تل به مې د خپلې کورنۍ له غړو سره بحث کاوه. په بحث کې مې له خپلو ښو نظریاتو دفاع کولای شوه او تقریباً هېڅ داسې کوم بحث نه و چې زه دې پکې پاتې راغلې وم. له همدې امله مې سوچ وکړ چې وکالت زما لپاره مناسب دی. ځکه وکیلانو هم همدا کار کاوه، یعنې هغه یې کوله چې په هېڅ بحث کې هم ماته ونه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو وختونو په اړه چې اوس فکر کوم داسې انګېرم چې کله مې تصميم نيوه، نو له دې سره سره به مې چې له خپل عقل سره مشوره کوله، تل مې داسې هم خوښېدل چې د نورو تاييدي هم له ځانه سره ولرم. له ماشومتوبه راهيسې چې کله زما کوم ښوونکي، يا ګاونډيانو يا هم د روبي تروری دوستانو له ما پوښتل چې کله لويه شې غواړې څه شی شې، نو ما به له ځنډ پرته ځواب ورکاوه، چې غواړم د ماشومانو ډاکټره شم. کله به مې چې د دوی تاييدي او هڅونه ليدله نو ډېره به غوړېدم. کلونه وروسته چې لويه شوم، دې چلن مې تغيير ونه کړ. اوس چې کله په پوهنتون کې له ما څخه کوم استاد يا زما کوم خپل پوښتنه کوي چې په راتلونکي پړاو کې غواړې څه کار وکړې، نو ما به ځواب ورکاوه چې غواړم په هاروارد پوهنتون کې داخله شم او هلته د وکالت زده کړې وکړم. دا ځل به مې هم کله چې د هغوی هڅونه ليده، نو ډېر خوند يې راکاوه. په هر حال چانس راته پيدا شو او تقريباً په زور په دې پوهنتون کې داخله شوم.

کله دې چې تحصيلي ځانګه د نورو په خوښه او هڅونه انتخابوې، نو يوه ګټه يې دا ده چې نشې کولای د کړو لارو په اړه سوچ وکړې، ځکه هر کله چې داسې سوچ وکړې، نو ډېره ګرانه به درته تمامېږي او د نورو خوښه او هڅونه به بايلې. په همدې خاطر درې کاله په ماساچوست کې پاتې شوم. اساسي قانون مې ولوست او په انحصاري دوسيو کې مې د قراردادونو د ګټو په اړه مطالعه وکړه. البته چې دا راته ډېره جالبه نه وه. د دې درېيو کلونو په اوږدو کې مې داسې دوستان پيدا کړل چې د درناوي وړ وو او داسې ښکارېدل چې ګواکې د حقوقو د ځانګې لپاره پيدا شوي. مګر ما د خپل زړه په ژورو کې داسې نه احساسول. په هر حال، داسې مې نه شو کولای چې هڅه دې ونه کړم او ځای پر ځای دې پاتې شم. د تېر په شان مې په سرسختی هڅه کوله چې بريا ته ورسېږم او خپل دې همېشني دروني پوښتنې ته به مې په پرېکنده توګه مثبت ځواب ورکاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا په کافي اندازه غوره یم او که نه.

بلاخره هغه ځای ته ورسېدم چې غوښتلو مې. د زده کړو ګټې مې ترلاسه کړې. په سدلي انداستیګ کې یو حقوقي شرکت و. دې شرکت کې مې ځانته یوه ښه دنده پیدا کړه چې ښه تنخا یې درلوده. اوس نو هغه ښار ته بېرته ورګرزېدلې وم چې زما د نیکونو و او زه پکې پیدا شوې وم. توپیر یوازې دا و چې اوس مې د یوې اسمانڅکې ودانۍ په اووه څلوېښتم پوړ کې کار کاوه. دا ودانۍ د ښار په مرکزي برخه کې وه چې په مخ کې یې یوه ستره مجسمه هم وه. په ماشومتوب کې به چې کله په بس کې سپرېدم یا وروسته چې کله ثانوي ښوونځي ته تلم، نو په ځلونو به د دې ودانۍ له مخې تېرېدم. اوس نو خپله هم په همدې اسمانڅکې ودانۍ کې وم. یوویشت کلنه وم، یو مرستیال مې هم درلود. تنخا مې له مور او پلاره زیاته وه. همکاران مې باادبه وو. ټولو یې تحصیلات درلودل. زیاتره یې سپین پوستي و. شیک کورتۍ او شیک پتلون به مې اغوستل. هره میاشت به مې تنخا اخیسته او بیا وروسته مې ځان په فټنس کلپ کې هم شامل کړ. اوس نو د دې وخت رارسېدلی و چې یو موټر واخلم. ځکه کافي پیسې مې درلودې. اوس نو یوه وکیله او له زیاتو ښځګړو برخمنه وم، لکه د والدینو مینه، د ښوونکو اعتماد، د نیکه او روبي تروری موسیقي، د سیس ترور خواړه او نور زیات شیان. له دې سره سره مې د سترو شرکتونو چارې هم سنبالولې. له هغو وکیلانو سره به مې مرسته کوله چې نوي وو او نوي به پر کار ګمارل کېدل.

یو ورځ زما یوه مشر همکار رانه وپوښتل چې آیا غواړې چې د دوبي لپاره یو نوی کارکوونکی انتخاب کړو. ما په ځواب کې وویل هو، دا به ډېر ښه شي. له دې ټولو سره سره یو ستر بدلون زما ژوند کې پېښېدونکی و. زموږ دا همکار هم محصل و او هم زما په شان تور پوستی. په هاروارد پوهنتون کې یې زده کړې کړې وې. غوښتل یې پرمختګ وکړي. ډېر عجیب او غریب نوم یې هم درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۸

بارک اوباما لومړی ورځ کار ته ناوخته راغی. زما دفتر د ودانۍ په اووه څلوېښتم پوړ کې و، کارونه مې په خپل دفتر کې ترسره کول او د نورو تازه کارو وکیلانو په شان ډېره بوخته وم. ډېر وخت مې په حقوقي دفتر کې تېراوه. اسناد به مې ارزول او سندونه او دوسیې به مې څېړلې. د شرکت نور غړي هم ډېر بوخت وو. دومره بوخت و چې کله کله به مو د غرمې او ماښام ډوډۍ یو ځای خوړله. زیاتره دوسیو پېچلې ژبه درلوده، مګر په دقیقه حقوقي ژبه لیکل شوې وې. زه باید ورو ورو له دې ژبې سره اشنا شوې وای. ګزارشونه مې لوستل او سمول.

اوس مې نو درې لهجې زده وې، یوه محاورەوي لهجه، بله د شیکاګو د جنوبي برخې معمولي لهجه او بله هم د پرېنستون پوهنتون د استادانو لهجه چې اوس د وکالت ژبه هم وه. زه د شرکتونو د بازارموندنې او معنوي حقوقو په برخه کې پر کار ګمارل شوې وم. زموږ شرکت د نورو شرکتونو په پرتله ځینې ښېګڼې درلودې، ځکه موږ نوښتونه کول. زما د کار یوه برخه دا وه چې د خپلو پېرودونکو راډیویي او تلویزیوني خبرتیاوې وارزوم او ووینم چې آیا د فدرالي حکومت د اړیکو د کمیسیون له قوانینو سره برابرې دي او که نه.

ښه دنده مې درلوده، خو یوازینۍ منفي ټکی یې دا و چې له پېرودونکو سره مې مستقیمه اړیکه نه درلوده ده، د رابینسون کروزو په څېر وم، ځکه ما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه پرشوره او پرهیاهو کورنۍ کې ژوند کړی و، مګر دلته ځوربېدم. زړه مې غوښتل چې له خلکو سره خبرې اترې ولرم. نو ځکه کله به له خپلې مرستیالې سره له دفتره بهر کېناستم او له هغې سره به مې خبرې کولې. هغه تور پوستې وه او لورن نومېده. له ما څخه څو کاله مشره وه. دا دنده یې درلوده چې تلیفونونو ته ځوابونه ورکړي. البته له خپلو مشرانو سره مې صمیمانه اړیکه درلوده او په هر فرصت کې به مې هڅه کوله چې له هغوی سره خبرې وکړم. مګر همېشه مو کارونه دومره زیات ول چې د هېڅا زړه نه غوښتل چې خپل وخت په خبرو کولو تلف کړي. دفتر کې مې یوه چرمي څوکۍ درلوده، یو مېز درلود چې ځلېدلو او د چارمغز د ونې له لرګي جوړ شوی و. دفتر مې پراخې کړکۍ درلودې چې جنوب ختیزه خوا یې ډېره ښه ښکارېده. له دې کړکۍ څخه مې د میشیګان سین سپینې څپې لیدلی شوای چې زما تر شا به وې او بېړۍ به معلومېدلې چې سپین بادبانونه به یې هوا کې هوار کړي و او تلې راتلې به. بلې خوا ته جنوبي ساحل معلومېده چې شاوخوا یې کورونه او سړکونه وو. د سړکونو شاوخوا ته بیا ونې معلومېدلې.

امریکا کې نشه‌یي توکي زیات رواج شوي وو. دې نشه‌یي توکو د نیویارک او ډېټرویت تور پوستان د نابودۍ کندې ته ټېل وهل او په تدریجي توګه شیکاګو ته هم رسېدل.

مافیا به ځوانان خپل خدمت ته ګمارل چې د موادو پېر او پلور وکړي. له همدې امله د قتل او جنایت شمېر هم په دې ښار کې زیات شوی و. په سیدلي شرکت کې ما څه نا څه ښې پیسې راټولې کړې. کله مې چې د حقوقو په پوهنتون کې خپل درسونه پای ته ورسول، خپلې پخوانۍ سیمې ته راوګرزېدم. زموږ په سیمه کې جرمونه، جنایتونه او نشه‌یي توکي دومره زیات نه وو. مور او پلار مې د ترې او روبي ترورۍ د کور لومړي پوړ ته لېږدېدلي و. دویم پوړ یې ما ته پرېښی و. ما دېوالونو ته دېوالي کاغذونه ورکړل، سپین مېزونه او سپینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوکۍ مې واخیستې او تر یوې اندازې پورې مې د اپارتمان بڼې ته بدلون ورکړ. کله ناکله به مې مور او پلار ته د پیسو چک د کور د کرایې په توګه ورکاوه.

که څه هم زما اپارتمان بېله دروازه درلوده، مګر زه به کله چې خپل کور ته راتلم، نو لومړی به د پخلنځي له لارې خپل اپارتمان ته ننوتلم. د دندې او ژوند له پلوه خپلواکه وم، پتلون او بلوز به مې اغوستل، په شیک او نوي موټر کې به سپرېدم، خو زړه مې نه غوښتل چې یوازې واوسم. هره ورځ به چې کار ته تلم، نو یو ځل به مې مور او پلار ته سر ورښکاره کاوه. دواړه به مې په غېږ کې نیول او بیا به خپلې دندې ته تلم.

هغه ورځ مې دوه وارې لورین ته ورنارې کړل او ترې ومې پوښتل «ولې زړه دې نه غواړي دې خوا ته راشې؟»

هغې آه کړل او ویې ویل«نه داسې نه ده، درځمه». لورین پوهېده چې بدقولي څومره ما عصباني کوي. زه دا عصباني کېدل د تکبر او غرور نښانه ګڼم.

باراک اوباما همدا وخت د حقوقو لومړی کال پای ته رسولی و او دویم کال کې و. موږ د دویم کال محصلین یوازې د دوبنیو دندو لپاره نیول چې دلته عملي زده کړې وکړي. خو ګواکې داسې ښکارېدل چې د هاروارد یوه ښوونکي ویلي و چې اوباما ډېر غوره او ډېر هوښیار محصل دی چې تر هغې دمه یې لیدلی دی. د شرکت ځینو مدیرانو چې هم هغه د مرکې په وخت کې لیدلی و نو ویل یې چې نه یوازې له ظاهري پلوه جذابه څېره لري بلکې ډېر خوش طبعه او ټوکي هم دی.

مګر ما په دې خبرو ډېر باور نه درلود. د تجربې له مخې مې لیدلي وو چې که یو تور پوستی لږ څه هوښیار وي او درېشي وکړي نو ټول سپین پوستان حیرانېږي. پر دې هم شکي وم چې دی دې دومره ډېر لایق واوسي او ټول یې دې ستاینه وکړي. د دې برعکس مې د محصلینو په کتابچه کې ولیدل چې انځور کې یې خوله خلاصه ده، موسولي یې دي او غیرعادي حالت لري چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما یې اغېز ونه کړ. تر انځور لاندې یې لیکل شوي و چې د هاوایي دی. د ده په اړه چې ماته څه د حیرانتیا وړ وو هغه دا وو چې کله مې څو اونۍ وړاندې د پېژندګلوۍ لپاره ورسره اړیکه ونیوله او درون او جذابه نارینه غږ مې یې واورېد، نو حیرانه شوم، ځکه غږ یې له څېرې سره هېڅ تناسب نه درلود.

بلاخره، هغه ورځ هغه شرکت ته ناوخته راغی. زه د هرکلي په خاطر له خپل دفتره بهر شوم او ومې لیدل چې په یوه کوچ کې ناست دی. باراک اوباما تیاره جامې اغوستې وې او د باران له امله لږ لوند شوی هم و. پاڅېد ما ته یې لاس راکړ او د ځنډ په خاطر یې بښنه وغوښته. موسل یې، موسلو کې یې خوله ډېره خلاصه وه. ما چې څه انګېرل، نو له هغې زیات دنګ او ډنګر و. په ظاهري توګه داسې ښکارېدل چې ډېر خېټو نه دی او دا عادت هم نه لري چې رسمي جامې واغوندي. نه پوهېږم چې دی خبر و که نه چې ټول یې د یوه ډېر هوښیار سړي په توګه پېژني. په هر حال په چلن کې یې داسې څه نه ښکارېدل. ده ته مې لارښونه وکړه چې زما دفتر ته راشي، د فکس او ټایپ ماشیونونه او قهوه مې وروښودل. همدارنګه د هغه دستګاه په اړه مې هم وپوهاوه چې د کارکوونکو د کار وخت یې ټاکه. هغه بادبه و، زما خبرې یې اورېدې او بلاخره له شلو دقیقو وروسته مې خپل مشر کارکونکي ته وروپېژانده او زه ترې خپل دفتر ته راغلم.

څو ساعته وروسته مې د لومړي پوړ یوه ښکلي روستوران ته بوت چې د غرمې ډوډۍ وخورو. هلته بانکوال او وکیلان د خوړلو په وخت کې سره زیات غږېدل. له محصلینو سره د همکارۍ یوه ګټه دا وه چې کولای دې شول چې د شرکت له حسابه ښه او خوندور خواړه وخورې. ما د باراک د مشاورې په توګه دا دنده درلوده چې د شرکت له چارو سره یې آشنا کړم او داسې څه ترسره کړم چې د شرکت ټول غړي یې خوښ شي. له ټولو دوبنیو محصلینو سره همدا چارچلن کېده. ځکه کېدای شول همدا چې محصلین خپل درسونه پای ته ورسوي، نو وروسته دې په دې شرکت کې پر کار وګمارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر مې دې ته پام شو چې باراک داسې څوک نه دی چې زما سپارښتنو او لارښوونو ته دې اړتیا ولري. هغه درې کاله تر ما مشر و او ژر وه چې اته ویشت کلن شي. کله یې چې په کولمبیا پوهنتون کې لیسانس کړی و، نو بیا یې څو کاله کار کولو. له دې وروسته بیا د هاروارد د حقوقو په پوهنځي کې شامل شوی و. د ده په اړه ډېر هیښنده څه دا وو چې پر ځان یې ډېر باور درلود. زه د ده په څېر نه وم، ځکه مستقیمه له پرېنستون پوهنتون څخه هاروارد ته لاړم او بیا مې کار پیدا کړ او په اوه څلوېښتم پوړ کې مې دفتر و. باراک ډېر ځایونه هم لیدلي وو. غرمنۍ کې مې دې ته پام شو چې دوه رګه دی. پلار یې یو تور پوستی کنیایي دی او مور یې سپین پوستې کانزاسۍ ده. هغوی په ځوانۍ کې سره واده کړی و، مګر ګډ ژوند یې لنډ و او سره بېل شوي وو. باراک په هونولولو کې زېږېدلی او هلته لوی شوی و، خو څلور کاله ماشومتوب یې په اندونزیا کې هم تېر کړي و. هلته یې له کاغذپرانونو سره لوبې کړې وې او پتنګان یې ښکار کړي وو. کله چې له ښوونځي فارغ شوی و، نو بیا کولمبیا پوهنتون ته تللی و. دوه کاله یې د لاس آنجلس په اوکسیدنتال پوهنتون کې تېر کړي و. د شپاړسمې پېړۍ د مرتاضانو په شان یې ژوند کړی و. په ۱۰۹ سړک کې اوسېده. په کور کې په ادبي او فلسفي مطالعه کې ډوب شوی و، شعرونه یې ویلي وو او هره شنبه یې روژه نیولې وه.

هغه ورځ موږ د ځان په اړه او د خپلو کورنیو په اړه خبرې وکړې. سره ومو خندل او یو بل ته مو وویل چې ولې وکیلان کېږو. باراک ټوکي او په عین حال کې مهربانه، جدي او هوښیار و او قوي ذهن یې درلود. سربېره پر دې شیکاګو ورته د لاس ورغوی ښکارېده، ځکه ډېر پکې بلد و.

باراک یوازینی کس و چې د شیکاګو ټولې سلمانۍ، ټول کباب پلورنځي، او د شیکاګو د جنوبي برخې ټول دیني تور پوستي مبلغان یې په ښه توګه پېژندل. مخکې له دې چې د حقوقو پوهنځي ته لاړ شي، درې کاله یې شیکاګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کار کړی و او له هغه یوه خپلواک سازمان څخه یې د کال ۱۲ زره ډلره اخیستي و چې موخه یې د کلیساگانو ترمنځ اتحاد و. د ده دنده دا وه چې زړې سیمې ورغوي او د هغه ځای خلکو ته کار پیدا کړي. د ده پر وینا، ځو اونۍ یې هڅه کړې وه چې خلک سره راټول کړي، مګر په پای کې یوازې دولس کسان د ده په غونډه کې حاضر شوي وو. د کارګرې اتحادیې رهبرانو پر ده ملنډې وهلې وې او د تور پوستانو او سپین پوستانو هم چندان نه خوښېده. خو دی په تدریجي توګه پر دې توانېدلی و چې ځینې بریالیتوبونه ترلاسه کړي. همدې موضوع ده ته هیله‌مندي ورکړې وه. ما ته یې وویل چې له خلکو سره ناستې ولاړې دا ورزده کړي چې د خلکو له ګډونه پرته په ټولنه کې بدلون نه راځي او سیاسی خوځښتونو او دولتي اقداماتو ته هم اړتیا نشته.

که څه هم ما هېڅ شی په اسانۍ نه منل خو بیا مې هم دا ومنله چې باراک جدي چلن او پر ځان باور لري. خو هېڅکله مې په دې اړه فکر نه کاوه چې ملګرتیا ورسره وپالم او نژدې اړیکه ورسره ولرم. لومړی دا چې په شرکت کې تر ده بره وم، دویم دا چې له ځان سره مې ژمنه کړې وه چې نور به هېڅکله هم په عاطفي اړیکه کې ځان ښکېل نه کړم. ځکه ډېره بوخته وم او دې شان کارونو ته مې وخت نه درلود. له ټولو مهمه دا وه چې کله مو د غرمې ډوډۍ وخوړله، باراک سګرېټ راوکاږل چې دې کار یې ډېره ناهیلې کړم. یوازینی سوچ مې دا وکړ چې یوازې هماغه دوبي کې له ما سره کار کولای او خوشحالي رابښلای شي او نور بس.

له دوو اونیو وروسته، باراک تقریباً په شرکت کې په بشپړه توګه دېره شو. له غرمې وروسته به یې زما د دفتر شاوخوا کې ګزمه کوله او کله به چې زما دفتر ته راتله نو ډېر راحته به د دفتر په څوکیو کې کېناسته. داسې ښکارېدل چې کلونه کېږي چې یو بل پېژنو. له فکري پلوه ډېر سره نژدې وو. کله به چې زموږ همکارانو بحثونه کول او یا به یې ناندرۍ وهلې، نو موږ دواړو به له بڼو لاندې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ته کتل او غلي به وو. زموږ په شرکت کې له څلورو سوو زيات وکيلان وو چې يوازې پنځه يې تور پوستي وو. پر دې اساس زموږ نژدېوالی ډېر طبيعي و.

باراک له هغو دوبنيو محصلينو سره هېڅ ورته والی نه درلود چې تل به يې هڅه کوله چې له نورو سره اړيکه ټينګه کړي او د راتلونکې لپاره ځانته يو ښه کار وګوري. ډېر آرامه او خونسرده و، زما د دفتر په شاوخوا کې به يې ډېر تګ او راتګ کاوه او په دې توګه به يې خپل جذابيت لا پسې زياتاوه. ډېر ژر له هغه ښځه وغوښتل شول چې د شرکت له مهمو افرادو سره په غونډو کې ګډون وکړي. د ده نظر د بېلابېلو مسايلو په اړه پوښتل کېده او د دوبي په هماغه لومړنيو کې يې د شرکت د مديريت په اړه يو ګزارش وليکه چې دېرش پاڼې يې درلودې. دا ګزارش په ظاهري توګه ډېر دقيق و او په بشپړه توګه منطقي ښکارېده. له همدې امله ټولو به له يو بله پوښتل چې دی څوک دی. بله ورځ زما دفتر ته راغی، موسکا يې پر خوله. ګزارش يې زما پر مېز کېښود او کړل يې:

«د ګزارش يوه کاپي مې درته راوړه.»

ما ګزارش راواخيست او ومې ويل:

«زړه مې ډېر غوښتل چې ويې لولم.»

خو کله چې لاړ، ګزارش مې د مېز په روکه کې کېښود. په زيات احتمال پوهېده چې زه به يې هېڅکله ونه لولم. يوازې غوښتل يې چې له ما سره شوخي وکړي. په هر حال زموږ کاري زمينو توپير درلود. ما ډېر سَنَدونه او ګزارشونه درلودل چې ټولو ته بايد رسېدلې وای. په هر ترتيب زما او د باراک دوستي سره وغځېده. اوس مو نو په اونۍ کې يو يا دوه ځله د غرمې ډوډۍ سره خوړله او پيسې به يې په شرکت پسې حسابېدې. اوس هغه پوهېده چې د پلار او مور کور کې په دويم پوړ کې اوسېږم. په هاروارد کې زما ډېرې ښې خاطرې هغه وې چې کله مې د هاروارد په حقوقي شرکت کې کار کاوه. زه پوهېدم چې باراک په فارغ وخت کې فلسفي او سياسي کتابونه لولي، پر دې هم پوهېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پلار يې په يوه ترافيکي پېښه کې په کنيا کې مړ شوی او ده هلته سفر کړی چې په دې اړه لا زيات معلومات ترلاسه کړي. پوهېدم چې باسکټبال لوبه يې ډېره خوښېږي او د هرې اونۍ په پای کې اوږد مزل کوي او منډې وهي او همدارنګه خپلې کورنۍ او خپلو ملګرو ته خاص درناوی لري. همدارنګه پر دې هم خبره وم چې مخکې يې ډېرې ملګرې درلودې خو اوس يې کومه ملګرې نه درلوده.

هغه وخت کې ما په شيکاګو کې له بريااليو او وړ مېرمنو سره ملګرتيا درلوده او که څه هم کاري ساعتونه مې زيات وو، مګر بيا هم له نورو سره مې ناسته پاسته خوښېده. هماغه سيدلي شرکت کې مې هم ځينې دوستان درلودل او د ثانوي دورې د وخت ملګرې مې هم وې. همدارنګه هغه دوستان مې هم و چې د کرېګ له خوا ورسره اشنا شوې وم. کرېګ نوی واده کړی و او د يوه بانکي پانګوال په توګه يې ژوند کاوه. کله به مو چې وخت درلود نو د ښار په يوه کافي کې به سره راټولېدو او يا به د اونۍ په پای کې سره يو ځای کلو او بانډو ته تلو او خوندور خواړه به مو خوړل.

کله چې د حقوقو په پوهنځي کې مې زده کړې کولې نو له دوو هلکانو سره مې عاطفي اړيکه هم درلوده. خو کله چې شيکاګو ته راګرزېدلې وم، له هېچا سره مې هم کومه خاصه دوستانه اړيکه ټينګه کړې نه وه. له دې کاره مې کومه موخه هم نه درلوده. ټولو ته مې ويلي وو چې ما ته مې دنده لومړيتوب لري. مګر ګڼشمېر ملګرې مې لرلې چې په عاطفي اړيکو او واده پسې وې. د دوبي په يوه شپه کې مې باراک له خپل ځان سره يوې ډلهيزې مېلمستيا ته بوت. هغه جامې يې نه وې اغوستلې چې په کار کې يې اغوستې. سپينه کورتۍ يې پر تن وه. هغه شپه يې څېره ځلېده، مهربانه او د جنټلمين په څېر ښکارېده. کله چې مېلمستيا ته لاړو نو له څنډ پرته يوه ښکلې او د ښو اندامو درلودونکې نجلۍ موږ ته رانژدې شوه او له باراک سره يې خبرې پيل کړې. زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله شوم او د څښاک رااخیستلو په خاطر د نورو مېلمنو خوا ته لاړم.

شل دقیقې وروسته مې باراک ولید چې د خونې په پای کې له هماغې ښځې سره په خبرو اترو بوخت دی. له څېرې یې ښکارېدل چې غواړي ځان ترې خلاص کړي. مگر دی بالغه سړی و او خپله یې باید له هغې مېرمنې ځان گوښه کړی وای. بله ورځ مې چې په دفتر کې ولید نو راته کړل یې: «پوهېږې چې هغې ښځې له ما څه غوښتل. هغې غوښتل چې د آسانو لیدلو ته لاړ شو، پر آسانو سپاره شو او چکر ووهو. همدارنگه د بېلابېلو فیلمونو په اړه مو هم خبرې وکړې، مگر زموږ خبرې اترې چندان ښې پرمخ لاړې نه.»

له دې وروسته پوه شوم، چې باراک عیاش نه دی او زیاتره د منطقي چارو، فکر کولو او سوچ کولو سړی دی. دا هغه څه دې چې ډېر کم انسانان یې زغملی شي. زما شاوخوا کې داسې پېغلې او هلکان وو چې سخت کارونه یې کول او تل په دې هڅه کې وو چې یو موټر یا یوه بنگله واخلي او غوښتل یې چې له کار وروسته یو گیلاس څښاک وڅښي او له نورو سره د هماغه شیانو په اړه خبرې وکړي. خو باراک دا خوښوله چې شپه کې یوازې واوسي او د ښاري کورنو اړوند قوانین او چارې ولولي. هغه اونۍ- اونۍ او میاشتې- میاشتې له بېوزلو خلکو سره خبرې کړې وې او هغوی خپلې ستونزې ده ته ویلې وې. ده هڅه کوله چې هغوی هیله بښوونکی راتلونکی ولري ځکه یې په دې برخه کې هڅې کولې.

اوباما ماته وویل چې یو وخت بې خیاله او بې مسئولیته بنیادم و. کله چې نوی زلمی و، نو د اوهایو د اورشیندو غرونو لمنو ته تلو او هلته به یې ماري‌جونا راټولول. همدارنگه ده ویل چې د اوکسیدنتال پوهنتون په وخت کې مې له ځینو سندرغاړو لکه هندریکس او رولینگ ستونز سره مینه درلوده. بیا وروسته مې پام شو چې د ده بشپړ نوم باراک حسین اوباما دی. یعنې هغه هم تور و او هم سپین، هم افریقایي و او هم امریکایي. په مهربانۍ کې یې ژوند کاوه خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپله زیاته هوښیاري هم خبر و او غوښتل یې چې دا هوښیاري د خپل راتلونکي ژوند د جوړولو لپاره وکاروي. زه پوه شوم چې هغه په ژوند کې ډېر جدي دی. ټوکي و، مگر هېڅکله یې خپلې اخلاقي ژمنې او مسئولیتونه نه هېرول. د داسې موخې په لټه کې و چې ښايي دی خپله هم ترې نه و خبر. یوازې دومره ډاډه وم چې دا موخه یې له شرابو سره هېڅ همغږي نه لري. بل ځل چې خپلو دوستانو ته د مېلمستیا لپاره ورتلم، نو دی مې سره نه بېوه.**

**له ماشومتوبه راهیسې مې یادېږي چې پلار او مور به مې تل سگرېټ څکول. د شپې به په پخلنځي کې سره کېناستل، یو پر بل پسې به یې سگرېټونه وهل او د ورځې د پېښو په اړه به یې خبرې اترې کولې. کله به چې د بېگاه ډوډۍ وخوړل شوه او لوښي به ومینځل شول، نو دوی به بیا سره سگرېټ وهل او کله کله به یې دومره دودونه جوړول چې اړ به شول کړکۍ خلاصه کړي ترڅو کور ته تازه هوا راشي. په سگرېټ څکولو ډېر روږدي وو. حتا هغه وخت چې څېړنو ثابته کړه چې سگرېټ څکول د روغتیا لپاره ډېر زیان لري، بیا هم دوی پر دې ونه توانېدل چې ترې لاس په سر شي.**

**د دوی دې کار ما او کرېگ ته ډېره غوسه راوسته. کله به چې دوی سگرېټ روښانه کړل نو ما او کرېگ به ټوخی او پرنجی پیل کړ. کله کله به مو د هغوی سگرېټ پټول. حتا یوه ورځ مې په یاد دي چې د هغوی د سگرېټ قوطی مې له منځه یووړ. ټول سگرېټونه مې ټوټې ټوټې کړل او په کثافاتو کې مې واچول. یو ځل مې د سگرېټو پاتې شونی راواخیست په ډېره ترخه چکنۍ کې ښه ولاړه او بیا مې د دوی د سگرېټو په قوطي کې کېښود. هغوی ته به مې د ریوي سرطان په اړه معلومات ورکول او هغه ډارووونکي انځورونه به مې ورته بیانول چې په ښوونځي کې به مې لیدلي وو. د دې خبرو په واسطه مې غوښتل چې داسې یو کار وکړم چې دوی له سگرېټو راگرزوم. مگر په هر حال کلونه کلونه تېر شول ترڅو راضي شول چې سگرېټ پرېږدي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



باراک هم زما د مور او پلار په شان سګرېټ څکول، هغه هم له ډوډۍ وروسته یا د قدم وهلو په وخت کې یا هم کله به چې اندېښمن و. په دې ډول وختونو کې باید ده کوم څه په لاس کې نیولي وای. د نن په پرتله په ۱۹۸۹ کال کې سګرېټ څکول ډېر دود و او کاملاً عادي څه بلل کېدل. یعنې خلکو په رستورانونو، اداري دفترونو او هوايي ډګرونو کې دایم سګرېټ څکول. مګر زما او د هر عاقل بنیادم له نظره سګرېټ څکول یو ډول ځانوژنه ده. باراک پوهېده چې زه د سګرېټو په اړه څه نظر لرم. زموږ دوستي د ریښتینولۍ پر پایه رغول شوې وه او دواړه پر دې موضوع خوښ وو. په یاد مې دي، کله مو چې لومړی ځل سره ولیدل، او د غرمې ډوډۍ مو وخوړله، نو ده له ځنډ پرته سګرېټ بل کړ. ترې ومې پوښتل تا غوندې یو معقوله او هوښیاره شخص دې ولې باید داسې احمقانه کار ترسره کړي؟ زما خبره د ریښتینولۍ له مخې وه.

هغه په ځواب کې یوازې اوږې پورته وغورځولې او نور یې څه ونه ویل. پوهېده چې زه په رښتیا یم. په دې اړه مو نور بحث ونه کړ او سره ونه غږېدو. سګرېټ څکول یوازینۍ موضوع وه چې ګواکې د بارک منطق د هغې پر وړاندې پرځېده. مګر زما او د هغه اړیکه په پټه توګه په تدریج سره ژوروېده. هغه ورځ به چې دواړه بوخت و او وخت به مو نه پیدا کاوه چې سره ووینو، نو ما به له ځانه پوښتل چې هغه به څه کوي. کله به چې بیا پیدا شو، نو زه به خوشحالېدم. د ده پر وړاندې مې احساس درلود. مګر دا حساس زما د ارادې په واسطه په ژوند او دندو کې د پرمختګ په خاطر پټ شوی و. ما غوښتل چې خپل راتلونکی جوړ کړم او په دې لاره کې مې هڅې کولې چې له هر ډول هیجان او عاطفي اړیکې تېره شم. د کارکوونکو په کلنۍ ارزونه کې مې ښه وضعیت درلود. ما غوښتل چې له ۳۲ کلنۍ وړاندې په سیدلي شرکت کې اسهام ولرم. دا هغه مهم څه وو چې غوښتل مې یا مې داسې څرګندوله چې غواړم یې.

زما او د باراک ترمنځ چې کوم احساس رامنځته شوی و، ما انکارولو، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نه.

یو ورځ چې کله مو خواړه پای ته ورسېدل، نو باراک وویل: «داسې انګېرم چې زه او ته باید زیات سره واوسو.» ما څرګنده کړه چې ګنې حیرانه شوې یم او حتا داسې سوچ مې هم ذهن ته نه دی رسېدلی. ځواب مې ورکړ: «څه؟ زه او ته؟ ما خو وړاندې هم تا ته ویلي وو چې زه نه غواړم په عاطفي اړیکه کې ښکېل شم. سربېره پر دې زه ستا مشاوره هم یم.»

هغه موسک شو او کړل یې: «ښایي زما مشاوره واوسې، مګر زما رییسه نه یې... همدارنګه ډېره جذابه یې او له زړه درسره خوشحاله یم.»

بیا یې خپلې شونډې د خپل مخ له ساره سره سمې خلاصې کړې او ویې موسل. چلن یې له وقار، آرامتیا او متانته رامنځته شوی و. په راتلونکو ورځو کې یې داسې ډېر دلیلونه راوړل چې زموږ اړیکه ولې باید زیاته وي. موږ له یو بل سره همغږي یو، یو بل خندوو، دواړه یوازې وو او تا هم چا ته راښکون نه درلود او ما هم. هغه ټینګار وکړ چې بلاخره د شرکت رییسان به له ده وغواړي چې له دې شرکت سره یو ځای شي او ویې ویل چې که زه او ته سره یو ځای و، نو زیات احتمال شته چې زه به هم ډېر ژر له دې شرکت سره یو ځای شم.

ومې خندل او ومې ویل: «او هو، نو بیا زه ستا لپاره یو ډول ښکار یم. ځان ته ډېر خوشحاله یې.»

شرکت به د دوبي په اوړدو کې د خپلو کارکوونکو لپاره ځینې تفریحي او سیاحتي برنامې لرلې. موږ هر یوه ته به یو فهرست رالېږل کېده چې په خپله خوښه یو ځای انتخاب کړو. یوه برنامه دا وه چې موږ یوه تیاتر ته تلو، هلته د بېوزلانو ننداره وړاندې کېده. دې تیاتر زموږ له شرکته دومره زیات واټن نه درلود. ما خپل او د باراک نومونه په لیست کې ولیکل. په هر حال، زه د دوبنیو محصلینو مسئوله وم او ما باید زیاته هڅه کړې وای چې هغوی ته شرکت ښه ورمعرفي کړم چې له زده کړو وروسته له موږ سره کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره د تګ ورځ راورسېده، د شرکت کارونو ستړي کړي وو. تیاتر ته لاړو او د تیاتر په سالون کې د یو بل ترځنګ کېناستو. پرده پورته شوه او غمجن پاریس مو ولید او د ننداريې لوبغاړي مو ولیدل چې سندرې ویل یې پیل کړل. یوه ساعت کې د بې عدالتیو مجموعه زموږ له سترګو تېره شوه، لکه ظلم، بدمرغي، زندان او بېوزلي. زه حیرانه وم چې دا کیسه په نړۍ کې ولې دومره مشهوره ده. ډېره ستړې شوې وم، غوسه راغلې وه او نه پوهېدم چې څه وکړم. له نېکه مرغه هماغه شېبه ځراغونه روښانه شول او د پردو ترمنځ دمه راورسېده. باراک ته مې وکتل. دی په خپله څوکۍ کې کاملاً لاندې تللی و او خپله څنګله یې پر څوکۍ تکیه کړې وه او د شهادت ګوته یې پر خپل تندي اېښې وه. ترې ومې پوښتل «فکرونه وهې؟»

ما ته یې وکتل او ځواب یې راکړ: «څومره مزخرفه ننداره، همداسې نه ده؟»

بیا پورته شو او سیده کېناست او کړل یې: «څنګه ده چې له دې ځایه لاړ شو. څه مجبوره خو نه یو چې تر پایه کېنو.»

په عادي وختونو کې مې هېڅکله داسې کار نه کاوه. زما لپاره دې ډېر اهمیت درلود چې نور وکیلان به زما په اړه څه فکر وکړي چې ومې ګوري څوکۍ مې خالي ده او له هغې ځایه تللې یم. هر څنګه چې کېدل نو د بېوزلانو غمجنه موزیکاله ننداره مې زغمله او تولنیز قواعد مې نه تر پښو لاندې کول. مګر هغه ورځ هر څنګه چې وو د وکیلانو، مشاورانو او محصلینو له منځه راپاڅېدم. سالون کې شورماشور و او موږ له تیاتر څخه راووتو. کله چې تازه هوا ته ورسېدو، نو اسمان د تیاره کېدلو په حال کې و. د زړه له تله مې ژوره ساه وایستله. باراک په خندا شو.

ترې ومې پوښتل: «اوس چېرته لاړ شو؟»

راته کړل یې: «څنګه ده چې یو څه وڅښو!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تل په شان زه وړاندې شوم او هماغه یوې نژدې کافې ته لاړو.

باراک تل آرامه پر لاره تلو او هېڅ بېړه یې نه کوله. برعکس که ما به کوم کار هم نه درلود، مګر بیا به هم په بېړه تلم. هغه ورځ مې پر ځان فشار راوړ چې ورو لاړه شم ترڅو وکولای شم چې د هغه ټولې خبرې واورم. ما خپل ژوند کې تل هڅه کړې چې خپل کارونه مرتبه او منظمه او د یوې برنامې له مخې ترسره کړم. اوس پوهېږم چې هغه وخت مې ولې په ناخودآګاه توګه د باراک غوښتنې منلې. هغه د یوه توپان په څېر و چې له ځانه سره یې هر څه وړل.

څو ورځې وروسته باراک له ما وغوښتل چې د کباب خوړلو یوې مېلمستیا ته ورسره لاړه شم. مېلمستیا د ښار شواخوا په یوه بنګله کې جوړېده چې زموږ یوه لوړپوړي وکیل نیولې وه او په خپله بنګله کې یې لمانځله چې د سین د ساحل ترڅنګ وه. هوا پاکه او لمرینه وه او موسقي هم ازانګې کولې. خدمتکارانو خواړه راوړل او ووېشل شول، مېلمانه هم له یو بل سره غږېدل او د هغې بنګلې ښکلاوې یې ستایلې. د کور په هره برخه کې د شتمنۍ او هوساینې نښې نښانې ښکارېدې. باراک تر اوسه هم نه پوهېده چې له ژونده څه غواړي او دا مسلک به په راتلونکي کې هغه چېرته رسوي. خو زه ډاډه یم چې زیاته شتمني یې نه خوښېده او پسې منډې ترړې یې نه کولې. له هر څه زیاته غوښتنه یې دا وه چې د ټولنې لپاره یو ګټور او اغېزمن کس واوسي. په مېلمستیا کې مو د دوو دوستانو په څېر څښاک کاوه، له خپلو همکارانو سره غږېدو او برګر او سلاټه مو خوړل. کله کله به سره بېل شوو، مګر بیا به سره یو ځای شو. هغه نازونه کول او ما به هم په ناز ځوابونه ورکول. څو کسه د باسکټبال لوبې ځای ته ورغلي وو او دا لوبه یې کوله. باراک هم دوی ته ورغی. هغه د شرکت له ټولو کارکوونکو سره ښه اړیکه درلوده، که پخواني وو او که اوسني. مدیران یې په کوچني نامه یادول. باراک وړاندې لاړ او لوبه یې پیل کړه. په ډېر مهارت یې توپ رااخیسته او حرکت یې کاوه او بیا یې توب په سبد کې ورغورځاوه. ما د یوه سړي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې مېرمنې سره خبرې کولې چې مېلمستیا ته راغلې وه خو سترگې مې په اوباما کې وې او داسې فکر مې کاوه چې دی په هر څه پوهېږي او زما سیال دی. هر څه ته حیرانه وم.

کله چې لمر ولوېده، په موټر کې کېناستو او ښار ته راروان شوو. داسې مې احساسول چې په وجود کې مې نوی شور او نوی هیجان راټوکېدلي. جولای میاشت وه او خبره داسې وه چې کېدی شول اوباما په اگست میاشت کې دا ځای پرېږدي او حقوق پوهنځي ته وروگرزي. بیا به معلومه نه وي چې ژوند به دی کوم لوري ته روان کړي. په موټر کې مو هغه خبرې وسپړلې چې په مېلمستیا کې نورو کړې وې. دا خبرې هم د تېر په شان له ټوکو او خنداوو سره مل وې. مگر د مینې گرمي مې په خپل وجود کې احساسوله. د موټر په کوچنۍ فضا کې، هغه ځان راټول کړی و او خپله څنگله یې پر سوچبورد ایښې وه او زنگون یې زما لاس ته نژدې و. هماغه شان چې د بایسکېلونو او د پلي تگ او منډو وهونکو له څنگه تېرېدو له ځانه سره مې فکر وکړ چې آیا کولای شم چې د هغه په اړه کوم فکر ونه کړم؟ آیا د ده په اړه مې چې کوم حس درلود، دې حس کولای شول چې زما کاري ودې او پرمختگ ته زیان ورواړوي؟ په هېڅ شي ډاډه نه وم. نه پوهېدم چې څه سم دي او څه ناسم؟

باراک په هایدپارک کې په یوه اپارتمان کې اوسېده. دا اپارتمان د ده یوه ملگري کرایه کړی و. کله چې د ده کور ته نژدې شوو، نو زما هیجان لا پسې زیات شو. داسې ښکارېدل چې گنې یوه ناڅاپي څه ته په تمه یم. هڅه مې وکړه چې پر احساس مې پوه شم. ښایي هغه هم همداسې و. یا ښایي ما ته یې د یوې نجلۍ په سترکه کتل چې په کولر لرونکي موټر کې ورسره وي او هر وخت هغه څه ورسره کولای شي چې زړه یې غواړي. یعنې چکر ورسره وهي او تفریح ورسره کوي.

بلاخره په هماغه گنگسکوونکو او مبهمو فکرونو کې مې موټر د ده د کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخنګ ودراوه. هماغه شان آرامه ناست و. پایله دا چې باراک وویل: «که دې زړه وي راځه چې آیسکریم وخورو؟»

ژر پوه شوم چې دا ځل مې زړه نه غواړي چې خپله مخه ونیسم. تصمیم مې درولود چې راحته واوسم او له ژونده خوند واخلم. په داسې ګرم ښار کې لمر په ډوبېدو و چې د زړه له تله مې ورسره مینه درلوده. د باراک کور ته نژدې یو آیسکریم پلورنځی و. په قوطیو کې مو دوه آیسکریمونه واخیستل او هماغلته نژدې یوه څنګ کې کېناستو او د آیسکریمو خوړل مو پیل کړل. کله چې آیسکریم پای ته ورسېدل، نو داسې ښکارېدل چې ګنې باراک زما په هغه دروني احساس خبر شوی چې د ده په اړه یې لرم. ماته یې وموسل او رانه ویې پوښتل: «مچې درنه اخیستلی شم؟»

له دې خبرې سره سم مې مخ وروړاندې کړ او هغه ماته ګرم او خوندور حس راپه برخه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۹

همدا چې د احساساتو له مخې مې پردې لرې کړې، نو هر څه جاري شول لکه مينه او محبت او حيراني او قدرداني. د ژوند او دندې په اړه مې چې هر ډول اندېښنه له باراک سره لرله په يوې مچې له منځه لاړه او ناڅاپه مې احساس کړل چې زړه مې غواړي ډېر يې وپېژنم. دی يوه مياشت وروسته هاروارډ ته بېرته ورستنېده. ما وپتېيله چې له دې فرصته ګټه واخلم. مګر زړه مې نه غوښتل خپل ملګری هغه کور ته راولم چې لاندې يې زما مور او پلار دي. پر دې اساس، د شپې به د باراک په اپارتمان کې وو. د ده کور د يوې ودانۍ په دويم پوړ کې و. لاندې کوڅې يې زيات شورماشور درلود. د کور خاوند يو محصل و چې په شيکاګو پوهنتون کې يې زده کړې کولې. ښکاره وه چې خپل اپارتمان يې هم په دويم لاس څوکيو او مېزونو ډک کړی و. کور کې يو کوچنی مېز او څو لق او بوق څوکې وې. په کوټه کې يوه ستره توشکه ښکارېده. د خونې غولی له کتابونو او ورځپاڼو ډک و. باراک به خپله کورتۍ د پخلنځي په څوکۍ راځوړندوله. د ده په يخچال کې کم خواړه وو. کور چندان راحته او هوسا نه و. مګر مونږ هغه وخت هرڅه ته په عاشقانه ليد کتل. ډېر ژر مې هلته هوساينه حس کړه.

باراک ډېر ژر پرځان ورمينه کړم. ده له هېڅ يوه هغه کس سره ورته‌والی نه درلود چې مخکې مې ملګري وو. د ده په څنګ کې مې د امنيت احساس درلود. ډېر مينه‌ناک و او تل يې ويل چې زه ښکلې او جذابه يم. د ده دې چلن ماته خوندور احساس راکاوه. دی ما ته په کيسو کې د هغه آس په شان و چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکر يې درلود. داسې چې انګېرل مې هم نه چې دا هر څه دې واقعيت ولري. هغې هېڅکله د کور اخيستلو، موټر اخيستلو، بوټونو اخيستلو او کاليو اخيستلو په اړه خبرې نه کولې. خپلې زياتره پيسې يې په نوو کتابونو مصرفولې. د کتاب لوستلو له لارې به يې هڅه کوله چې ځان قوي کړي. شپه کې به يې تر ډېره کتابونه لوستل. کله ناکله به زه ويده شوم او ده به هماغه شان مطالعه کوله. تاريخي کتابونه، ژوندليکونه او حتا د توني موريسون رومانونه يې لوستل. د ورځې په اوږدو کې يې څو ورځپاڼې هم لاندې باندې کولې. پر نويو کتابونو به چې نيوکې کېدې، هغه به يې لوستلې. کله به چې د باسکټبال سيالۍ وې، نو ده به د آمريکايي ټيمونو لوبې کتلې. څنګه يې چې د لهستان د انتخاباتو په اړه ښې خبرې کولای شوې، داسې خبرې يې د فلمونو او د هغې د نقد په اړه هم کولې.

د ده کور کولر نه درلود. موږ به د شپې اړ و چې کړکۍ خلاصې کړو. په دې توګه سکوت به مو تر خپلې آرمتيا ځاراوه. هغه مهال به ۵۳ سړک د شپې تر نيمايي برخې پورې له موټرو، موټرسايکلونو او خلکو ډک و او شورماشور به يې درلود. تقريباً هر يو ساعت وروسته به د پوليسو هارنګونه اورېدل کېدل. يا به د هغه چا غږونه اورېدل کېدل چې سره ښکر په ښکر به وو. دا ډول شورماشور ماته د يوه خيال په څېر و، مګر باراک هغې ته هېڅ پام نه کاوه. ګواکې داسې ښکارېدل چې په ډېره راحته توګه د دوينا له شورماشور سره غاړه غړې دی. يو ځل د بيرون شورماشور راويښه کړم او ومې ليدل چې باراک چت ته ګوري او د سړک څراغونو د ده د مخ نيمايي برخه روښانه کړې. خپه او اندېښمن ښکارېده؛ داسې ښکارېدل چې په ذهن کې يې له کوم شي سره جګړه ده. ښايي زموږ اړيکه به وه، يا ښايي د وفات شوي پلار له امله به و. ورو مې ترې وپوښتل: «د څه په اړه سوچ کوې؟»

مخ يې راواړاوه، موسک شو او ويې ويل: «د خلکو د اقتصادي نابرابرۍ او بې عدالتۍ په اړه مې فکر کاوه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تدریجي توګه پوه شوم چې د باراک ذهن د ځینو موضوعاتو په اړه فکرونه کوي. هغه تل د ټولنې د سترو مشکلاتو او مسایلو په اړه فکر کاوه. د ده دا کار ماته ډېر نوی و. تر هغې ورځې مې زیات داسې مهم کسان پېژندل چې د مهمو مسایلو په اړه یې فکرونه کول، مګر هغوی یوازې د خپلې دندې، کار او همدارنګه د خپل کور د اړتیاوو په اړه فکرونه کول. باراک له دوی سره توپیر درلود. ده نه یوازې د خپلو ورځنیو اړتیاوو په اړه فکر کاوه بلکې د شپې به یې په ډېرو کُلي موضوعاتو هم فکر کاوه.

هره ورځ به چې په سیدلی شرکت خپل شیک او ساده دفتر ته ورګرزېدم، نو خپل خیالونه به مې شاته پرېښودل او د پېرودونکو په چارو به بوختېدم چې هېڅکله مې هم نه لیدل. باراک به هم د دهلېزه ها بل پلو ته په خپلو دوسیو بوختېده او کله به یې چې همکارانو په کار کې پرمختګ لیده نو هره ورځ به یې د هغه ستاینه کوله.

همدارنګه زه خپلې اړیکې ته اندېښمنه وم او غوره مې بلل چې هغه له خپلو همکارانو پټه وساتم. که څه هم دا یو سخت کار و. خو نه کېده چې پټه شي. د مثال په توګه زما مرستیاله لورین څکه پوهېده چې کله به باراک زما دفتر ته راغی، نو ماته به یې معنالرونکي کاته کول او موسک به و. لومړنۍ شپه چې د مېړه او مېرمنې په توګه بهر ته وتلي و او یو بل مو سره مچې کړي وو، نو یوه چا غافلګیره کړو. له موزیمه تازه راوتلي و. غوښتل مو د سپایک لي جوړ کړی فلم «کار سم ترسره کړه» ووینو چې ناڅاپه د شرکت یوه لوړپوړي چارواکي او د ده مېرمنې ولیدلو. دوی په نوبت کې ولاړ و. له موږ سره یې ستړي مشې وکړل. د دوی چلن ډېر صمیمانه و، مګر زموږ د اړیکې په اړه یې له موږه څه ونه پوښتل.

دا وخت نو کار فرعي اړخ موندلی و. همدا چې د وکالت له دفتره به خلاص شوو، نو رسمي جامې به مو بدلې کړې او په لنډو جامو کې به هایت پارک ته تلو، هلته به مو خواړه خوړل او خبرې اترې به مو کولې. د موسقي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



البومونو د یوې یوې سندرې په اړه به مو بحث کاوه. باراک نو اوس د هېڅ شي په اړه اندېښنه نه درلوده او مهربانه آواز او زړه راښکونکي کاته یې درلودل.

مور د یو بل په اړه هره ورځ نوي شیان کشفول. د مثال په توګه، د باسکټبال بېلابېل ټیمونه مو خوښېدل، ما د کاپي ټیم پلوي کوله او هغه د وایټ ساکس ټیم سرسخته پلوی و. زما مکروني او برګر خوښېدل، خو هغه دا شان خواړه هېڅ نه خوښول. د هغه له جالبو او په عین حال کې له غمجنو فیلمونو سره جوړه وه، په داسې حال کې چې زما رومانټیک او کومېډي فیلمونه خوښېدل. هغه چپی و او په چپ لاس یې ښه لیکل کول، خو زه ښی لاسې وم او په ښي لاس مې لیکل کول چې بد خط مې هم درلود.

مخکې له دې چې یوه میاشت وروسته باراک بېرته کمبریج ته ورستون شي، نو مور خپلې ټولې خاطرې سره شریکې کړې. له ماشومانه لوبو نیولې د نوي زلمیتوب تر تېروتنو او ناکامیو او ژر تېرېدونکو عاشقیو پورې چې بلاخره مور یې یو بل ته ورسولو. پر باراک باندې زما تېر ژوند اغېز وکړ چې په یوکلید سړک کې مې له خپل ورور کرېګ او خپلې مور او پلار سره په یوه کوچني اپارتمان کې تېر کړی و. دا په داسې حال کې وه چې ده په دې کلونو کې په بېلابېلو کلیساګانو کې خدمت کړی و او له همدې امله یې دیني آدابو او لمانځنو ته اهمیت ورکاوه. مګر سنتي انسان نه و. له هماغې پیله یې راته څرګنده کړه چې رسمي واده ورته له یوه غیرضروري کار پرته بل څه نه ښکاري.

سم مې په یاد نه دي چې دی مې په هماغه دوبي کې خپلې کورنۍ ته وروپېژانده او که نه . خو کرېګ وایي چې هو هماغه دوبی و.

کرېګ هماغه شپه د مور او پلار لیدلو ته راغلی و. له دوی سره په چوتره کې ناست و. زه پورتني پوړ ته لاړم چې خپل ځینې اړین شیان راواخلم. په دې مهالي واټن کې کرېګ له باراک سره خبرې کړې وې. د پلار مې هغه خوښ شوی و. خو فکر یې نه کاوه چې زه دې پرې زړه بایلم. ځکه مخکې یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلونو ځلونو ليدلي وو چې د لېسې د دورې له ملګرو سره به مې د پرېنستون پوهنتون په انګړ کې خدای پاماني کوله. يا څنګه مې هغه کوين پرېښود چې د فوټبال د ټيم ټوکمار و. پلار او مور مې پېژندلم او پوهېدل چې څنګه مې د ژوند کنټرول په خپل لاس کې دی او پر دې هم پوهېدل چې د خپلې دندې او راتلونکې لپاره څومره هڅه کوم.

کرېګ وايي هغه ورځ چې کله پلار زه او باراک ليدلو چې سره لرې کېږو، نو سر به يې د خپګان له مخې ښوراوه او ورو يې کرېګ ته ويلي وو: «افسوس افسوس، ښه هلک دی، مګر پوهېږم چې ميشل به له هغې سره زياته پاتې نه شي.»

که زما کورنۍ د يوې مربع په شان وه، د باراک کورنۍ بيا د يوه پېچلي هندسي شکل ښه درلوده چې بعدونه يې تر سمندرګيو هم ها خوا ته کاږل شوي وو. هغه کلونه کلونه هڅه کړې وه چې خپل نيکونه وپېژني.

مور يې د هاوايي وه او آنا دانهام نومېده. نوموړې په ۱۹۶۰ کال کې په شپاړلس کلنۍ کې پر يوه هلک مَيَنېږي چې باراک اوباما نومېږي. هلک کنيايي وي او دوی دواړه په ښوونځي کې زده کړې کوي. مګر ډېر ژر يې پام کېږي چې هغه په نايروبي کې يوه بله مېرمن هم لري، نو ژر ترې بېلېږي او د جاوې له يوه ځمک پېژندونکي سره واده کوي چې لولو ستورو نومېږي او جاکارتا ته ځي. دا کوچنی باراک اوباما هم له ځانه سره وړي چې شپږ کلن وي.

باراک راته ويلي چې په اندونزيا کې خوشحاله و او له خپل پلندر سره يې ښه اړيکه درلوده. مګر مور يې زده کړو ته په اندېښنه کې وه. له همدې امله يې يوه خصوصي ښوونځي ته استوي او اړ کېږي چې له خپل پلار او خپلې مور (يعنې د باراک مورني نيا او نيکه) سره يې پرېږدي چې ورسره واوسي. مور يې بېرته اندونزيا ته ځي او بيا کله ناکله هاوايي ته هم ورځي چې خپل زوی ووينې. مګر کله چې باراک لس کلن کېږي نو مور يې د تل لپاره هاوايي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي. پلار يې يو دايم‌الخمره سړی و او د ده په سترېدلو کې هېڅ ونده نه لري. البته هغه هم ښه ذهن لري او ښه هوښيار وي.

له دې بدچانسيو سره سره، باراک په ماشومتوب کې ډېره مينه ليدلې وه. نيکه او نيا يې پر ده او د ده پر ميرنۍ خور مايا باندې مينان و او مور يې که څه هم په جاکارتا کې ژوند کاوه، خو له هغوی سره يې ډېره مينه درلوده. همدارنگه باراک وويل چې زما يوه بله ميرنۍ خور هم شته چې نايروبي کې ژوند کوي. له دې هر څه سره سره، د ده برخليک د دې باعث شوی و چې پر ځان باور ولري او خوشبينه ستر شي او که څه هم په ناخوالو کې ستر شوی و مگر پر دې توانېدلی و چې بريا خپله کړي او په خپل ژوند کې کلک او هوډمن واوسي.

د جولای يوه نمجنه شپه وه، باراک غوښتل چې د خپل يوه پخواني ملگري مرستې ته ورشي، زه هم ورسره ملگرې شوم او يو ځای او ورسره لاړم. ملگري يې ترې غوښتي و چې د وينا په خاطر دې په جنوبي ساحل کې د تور پوستانو يوې ځانگړې کليسا ته لاړ شي. دا کليسا د بېوزلو په سيمه کې وه. باراک د هغه وړانديز په مينه ومانه. ځکه دا داسې کار و چې دی يې خپلې پخوانۍ دندې ته بېرته ورستناوه. څو کاله يې په دې برخه کې کار کړی و. دواړه له هماغه اداري جامو سره کليسا ته ورغللو. په زينو کې ښکته او ځمکتل ته وردننه شوو چې ټيټ چت يې درلود او په يوه يا دو سپوږميزو گروپونو روښانه شوی و. کابو پنځه لس کسان څوکيو کې ناست وو چې اکثره يې مېرمنې وې. گرمي ډېره وه، ټولو ځانته پکې وهلې. زه همدا چې کليسا ته وردننه شوم نو په هماغه وروستۍ ليکه کې کېناستم. باراک وړاندې لاړ او ټولو ته يې سلام وکړ.

د ناستو کسانو باور و چې هوښيار ځوان ورغلی ځکه سر تر پايه يې وارزاوه چې وگوري آيا د ارايه کولو لپاره باارزښته څه لري او که نه؟ د هغه ځای فضا د روبي تروری د موسيقۍ ښوونتون ته ورته وه چې زه په ماشومتوب کې ورسره اشنا شوې وم. کومې ښځې چې هلته راټولې شوې وې، اکثره يې مجردې

(c) ketabton.com: The Digital Library



میندې او یا هم نېکوکاره نیاوې وې. دوی هغه وخت د خلکو مرستو ته ورتلې چې هېڅوک به هم د مرستې لپاره نه وو.

باراک خپله کورتۍ د یوې څوکۍ په شا کې راځوړند کړه او بیا یې خپل لاسي ساعت له لاسه راوایستو او مخکې یې پر مېز کېښود چې حواس یې راټول وي.

لومړی یې ځان معرفي کړ. بیا یې له هغوی سره خبرې پیل کړې چې شاوخوا یو ساعت یې ادامه درلوده. د هغه ځای له خلکو یې وغوښتل چې په هغه سیمه کې د خپل ژوند د ستونزو او اندېښنو په اړه خبرې وکړي. بیا یې خپله کیسه هم وکړه. ده غوښتل هغوی پر دې پوه کړي چې زموږ ټولو ستونزې سره ګډې دي او که له یو بل سره اتحاد ولرو نو خپلې ټولې ناراضیتۍ به کابو او پر یوه ښه څه بدلې کړو. ده وویل چې که څه هم دوی په کلیسا کې یوه ډېره کوچنۍ ډله ده، مګر کولای شي چې یو ښه سیاسي ځواک رامنځته کړي. البته پر دې یې ټینګار وکړ چې هغوی باید دقیقه برنامه ولري او بیا خپلو ګاونډیانو ته ورشي چې خبرې یې واوري او د هغوی باور او اعتماد راجلب کړي. یعنې اړینه وه چې هغوی ناپېژاندو او بېوزلو ته ورشي او له هغوی څخه وخت وغواړي او ورسره خبرې وکړي او یا هم ښایي چې څه نا څه پیسې ترې واخلي، مګر په دې لار کې د دې امکان هم و چې بیا بیا «نه» کلمه واوري. مګر باراک هغوی ډاډه کړل چې د دوی دا چلن به حتماً ګټه ولري. هغوی ته یې وویل چې وړاندې یې له داسې یوې ډلې سره کار کړی و چې پر دې بریالي شوي وو چې زیاتې رایې راجلبې کړي. بیا یې هغوی ته وویل چې ټول د ښار مسئولینو ته ورشئ او د ککړتیاوو په اړه یې خبر کړئ چې ښاروال پر دې راضي کړي چې په دې برخه کې یو سیمه‌یز ښوونیز مرکز تاسو ته رامنځته کړي.

زما څنګ کې یوه پنډه مېرمن ناسته وه. دې خپل نوی زېږېدلی ماشوم پر زنګنو اچولی و او زنګاوه یې. له څېرې یې ښکارېدل چې پر باراک ملنډې وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګواکې داسې ښکارېدل چې وايي: «ته څوک يې چې موږ ته وايې چې څه وکړو؟»

مګر باراک داسې ونه نه وه چې دا شان بادونه يې ولړزوي او دا ډول ملنډې يې ناراحته کړي. په هر حال هغه يو افسانوي آس و چې يوه شاخ يې درلود، عجيبه نوم يې درلود، هيښنده کورنی مېراث يې درلود او نژادي اصالت يې نامعلومه و. پلار يې ورک و، مګر ماغزه يې پياوړي وو او دا عادت يې درلود چې هر چېرې لاړ شي ځان ثابت کړي.

مېرمنو ته چې ده څه وويل، دوی پرې چندان راضي نه شوې او هيله مندې هم نه وې. روزلند سيمې زياتې ناخوالې زغملې وې. د سپين پوستو کورنيو له مهاجرته نيولې د پولادو د صنايعو تر رخصتېدو پورې او نورې ستونزې يې دا وې چې د ښوونځيو وضعه خرابه شوې وه او د نشه‌يي توکو راکړې ورکړې وده کړې وه. باراک ماته ويلي و چې دا پرلپسې ناکامۍ د خلکو د نااميدۍ باعث شوي وې. په ځانګړې توګه د تور پوستانو. زه پر دې ښه پوهېدم. ما دا خپګان او ناهيلي په خپله سيمه او کورنۍ کې هم ليدلي وو. دواړو نيکونو مې ژور خپګان درلود او له ژونده ناراضه وو. زموږ په ښوونځي کې زموږ د دويم ټولګي ښوونکې ناهيلې و. ګاونډيان مو هم ناهيلي و، ځکه نور يې د خپل کور د مخ چمنونه نه پالل او همدارنګه له دې هم ناهيلي و چې کله يې ماشومان له ښوونځي راځي، بايد چېرې لاړ شي، هغوی په پاکۍ کې هم ناهيلي و، ځکه کثافات او د څښاک بوتلونه يې هرچېرې غورځول. دا ناهيلي زموږ د ټولو په چلن کې وه. باراک کاملاً هوښيار و چې د خلکو ناهيلي او لنډپاري ونه رټي، هغه غوښتل چې د هغه تير په شان واوسي چې د دې خلکو د ناهيليو، بېچارګيو، بېوزليو، بدمرغيو او ظلم او زياتي زړې د دوی په زړونو کې خښ کړي، يوې ښې راتلونکې ته يې هيله‌من کړي چې په دې لار کې مبارزه وکړي او بريالی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورواليي تحقيري اړخونو هېڅکله پر ما اغېز نه دی کړی. زه داسې لويه شوې وم چې مثبت فکر وکړم. په مينه ستره شوې وم او ښايي چې دا زما د پلار او مور هڅې وې چې غوښتل يې ماشومان يې بريالي واوسي. ما په لاريون او د سانتيتا په څنګ کې، د دې د پلار خبرې اورېدلې وې چې ويل يې هېڅکله خپل غرور ونه بايلئ. زما موخه تل دا وه چې وړاندې وګورم او راتلونکې ته هيله‌منه واوسم. د دوو پوهنتونونو اسناد مې اخيستي و او په سيدلي اند اوستينګ شرکت کې مې دفتر درلود. پلار او مور او نيا او نيکه مې راباندې فخر کاوه. خو کله مې چې هغه ورځ د باراک خبرې واورېدې، نو پام مې شو چې هغه د داسې څه هيله لري چې تر دې هم ورهاخوا دي. هغه غوښتل ټولنه وژغوري. د ده ځانګړي ليدلوري پر ما اغېز وکړ او پام مې شو کومې ښځې چې هلته په غونډې کې وې، يو په بل پسې يې د موافقت په توګه د باراک خبرو ته سرونه وښورول او ويې ويل چې سمه ده.

بلاخره په خونه کې ناستو کسانو ته باراک په لوړ غږ وويل چې: «کومه غوره ده، آيا دا غوره ده چې همدا دونيا مو چې واک کې ده، ورسره سازش وکړو، که لستوڼي بډ وهو او د يوې ښې دونيا د جوړولو لپاره هڅه وکړو؟» دا جمله د ټولو مبلغانو او سياستوالو په ښوونيزو ليکلو مسودو کې وه او کلونه کېږي چې زما په ياد هم پاتې چې بايد غوره دونيا ورغوو. زما تر څنګ چې کومه پنډه مېرمن ناسته وه، د باراک خبره يې سمه وبلله او په هيجاني غږ يې وويل :«هو، سمه ده، همدا کار بايد وکړو.» د اګست مياشتې نيمايي ته چې ورسېدو نو مخکې له دې چې باراک د حقوقو پوهنځي ته لاړ شي، ماته يې څو څو ځله په ټينګار سره وويل چې فکر کوي راباندې مَيَن شوی. دا ګډ حس ډېر چټک او په طبيعي توګه د دواړو په وجود کې غځېدلی و. دا په داسې حال کې وه چې يوازې څو مياشتې کېدې چې موږ سره پېژندل او دومره عاقلانه هم نه ښکارېده، مګر هر څه چې وو، موږ يو پر بل مَينان شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو ۹۰۰ مایلو زما او د ده تر منځ واټن رامنځته کړی و. باراک باید په پوهنتون کې دوه کاله نورې زده کړې هم کړې وای. ده ماته ویلی و چې له هغې وروسته یې زړه غواړي په شیکاګو کې ژوند وکړي. هغه دا تمه نه درلوده چې زه خپله دنده پرېږدم او د هغه خوا ته ورشم. په سیدلي شرکت کې ما حساس پړاو تېراوه. ډېر ژر وه چې څرګنده شي دا څو میاشتې چې ما کار کړی، نو آیا زما کارونو او بریاوو ته په کتو سره ممکنه ده چې زه د هغوی همکاره شم. څنګه چې ما هم په پوهنتون کې د وکالت برخه لوستلې وه، نو پوهېدم چې پر باراک به څومره بیروبار و. سربېره پر دې، کمه موده کېده چې هغه د هاروارد د حقوقي مجلې چلوونکی هم ټاکل شوی و. دا یوه مهالنۍ مجله وه چې د محصلینو له خوا خپرېده او د هېواد مؤثقه حقوقي خپرونه شمېرل کېده. د هغې مجلې د چلوونکي په توګه کمارل کېدل، خپله یو ستر افتخار و، مګر په عین حال کې یې د یو چا پر اوږ دروند پېټی هم وراېښوده.

اوس نو یوه لار پاتې وه چې اړیکه سره وساتو، هغه هم تلیفون و. په ۱۹۸۹ کال کې ملفون نه و چې یو بل ته مسجونه واستولای شو. پر دې اساس د شپې به چې کله ستړي او هلاک له کاره کور ته راستنېدو او خوبوړي به وو، نو په تلیفون کې به مو خبرې کولې. البته باراک له تللو وړاندې راته ویلي وو چې لیک لیکل ورته ډېر راحته دي.

په ټول دوبي کې مو د تلیفون له لارې سره خبرې کولې. زړه مې نه غوښتل چې خپله مینه پوستخانې ته وروسپارم. څکه دوی ډېر ورو وو او چټک حرکت یې نه کاوه. مګر باراک خپل احساسات د لیک له لارې هم ابراز کولای شوای. په واقعیت کې هغه د لیک له لارې له خپلې مور سره هم اړیکه درلوده. مګر زه به د یکشنبې په شپه همېشه د ماښام د ډوډۍ د خوړلو لپاره د خپلې کورنۍ غړو لکه مور او پلار ته ورتلم او دا مې خوښېدل چې په مستقیمه توګه له ورسره خبرې وکړم. زموږ کورنۍ اجتماعي کورنۍ وه او خبرې اترې یې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښېدې. کمه موده کېده چې پلار مې خپل موټر پلورلی و او د هغې پر ځای یې ټونس غوندې موټر پېرلی و چې ناتوانۍ ته یې په کتو سره وکړلای شي چې په راحتۍ پکې سپور شي. هماغه موټر کې به د خپلو خپلوانو کره تلو چې هغوی ووینې. زموږ دوستان او خپلوان به هم همېشه یوکلید سړک ته راتلل چې زما مور او پلار ووینی او ورسره خبرې وکړي. ما باراک ته وویل د دې لپاره چې زموږ اړیکه پرې نه شي، نو ښه ده چې له تلیفون سره روږدی شي. هغه ته مې په ټوکه وویل: «که داسې وي چې له تا سره خبرې ونه کړم، نو بیا ځم بل څوک پیدا کوم چې خبرې مې واوري.» په دې توگه که څه هم ډېر بوخت وو، مگر له یو بل سره تلیفوني غږېدو او ورځنۍ پېښو به مو یو بل ته بیانولې چې راپېښې شوې به وې. دا چې ده به د ټولو شرکتونو مالیاتي قواعد او قوانین لوستل او یادول، نو زما زړه به پرې سوزېده او ورته ویل به مې چې زه د کار ټولې ستړیاوې په فټنس کې له منځه وړم. دواړو به سره خندل. که څه هم دا وخت زموږ له اړیکو میاشتې تېرې شوې وې، مگر په احساساتو کې مو بدلون نه و راغلی او لا نور هم سره نژدې شوي وو.

سیدلي حقوقي شرکت کې زه د شیکاگو د استخدام د برخې غړې شوې وم. دنده مې دا وه چې د دوبنیو کارونو لپاره د هاروارد د حقوقو د پوهنتون ځینې محصلین د مرکې له لارې پر کار وگمارم. یو پنډ لارښود کتاب هم راکړل شوی و چې د هېواد د ټولو حقوقي شرکتونو نومونه پکې ثبت وو او ماته ویل شوي و چې دا ټول شرکتونه غواړي د هاروارد پوهنتون د وکالت څانگې محصلین ځانته ورجذب او پر کار وگماري. یعنې هغه وخت به چې هر چا په هاروارد کې زده کړې کولې، نو په ښار او هره حقوقي برخه کې یې چې زړه و، هلته پر کار گمارل کېدلای شوای. که هغه په دالاس کې یو ستر حقوقي شرکت وای، یا هم په نیویورک کې د معاملاتو د لارښوونې کوم یو آژانس. یوازې اړتیا وه چې چېرته د مرکې غوښتنه وکړي. که له مرکې وروسته څوک منل کېدل، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو یوې مېلمستیا ته بلل کېدل چې د الوتکې آسانتیاوې یې هم لرلې او همدارنګه په پنځستاره هوټل کې یوه خونه هم ورکول کېده. کله چې زه هم په هاروارډ کې وم، له دې فرصته مې ګټه واخیسته او په کالیفرنیا کې مې د یوه حقوقي کار غوښتنلیک وړاندې کړ. زړه مې غوښتل چې دا ښار ووینم.

اوس چې د سیدلي شرکت کارکوونکې او د ګمارنې مسئوله وم، نو زړه مې غوښتل چې خلک نه یوازې د هوښیارۍ او توانایۍ پر اساس وګمارم، بلکې یوازې تور پوستې مېرمنې غوره کړم. د ګمارنې ټیم کې له ما پرته یوه بله تور پوستې مېرمن هم وه. هغه زما همکاره او تر ما لوړپوړې وه، مرسدس لاین نومېده او ترما لس کاله مشره وه. موږ صمیمي ملګرتیا درلوده. زه او هغه سره همغږې وو چې د انتخاب ساحه مو باید پراخه کړې وای. تر هغې وخته د کار غوښتنه داسې وه چې یوازې د هاروارډ، ستنفورډ، شیکاګو او اېلینوی د پوهنتونو د حقوقو د څانګې محصلین باید ومنو. دې کار د هر ډول تنوع مخه نیوله. ټولو حقوقي دفترونو او شرکتونو هم همدا ستونزه درلوده. د هېواد د یوې حقوقي مجلې په یوه ګزارش کې راغلي وو، څومره تور پوستان چې په سترو حقوقي شرکتونو کې کار کوي، شمېر یې حتا درې سلنې ته هم نه رسي او د دوی اسهام هم په دې شرکتونو کې له یو سلنې زیات نه دي. ما ټینګار درلود چې د دې بې عدالتۍ د له منځه وړلو لپاره باید د هېواد د نورو پوهنتونونو محصلین هم په پام کې ونیسم او د هغو محصلینو لپاره بیا فرصت پیدا کړم چې په ځینو درسونو کې یې پوره نومرې نه دي اخیستې. ځکه کېدی شي چې دوی وکړلای شي چې په عمل کې خپلې زیاتې وړتیاوې څرګندې کړي. له همدې امله فرصت مې پیدا کړ چې کمبریج ته لاړه شم او د هغې ځای له ځینې محصلینو سره مرکه وکړم. له دې سره سره دا یو فرصت هم و چې باراک ووینم. لومړۍ ځل چې کمبریج ته لاړم، هغه په خپل موټر کې ما پسې راغی. یوه ژېړ رنګه ډاکسنه یې درلوده چې د خپلې محصلۍ په پیسو یې اخیستې وه. کله چې موټر کې کېناستو، نو موټر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چالان کړ، مگر داسې لړزه یې وکړه چې زه یې ووېرولم. په ناباورۍ مې ترې وپوښتل: «دا نو څنگه موټر دی؟» د شوخۍ له مخې یې وموسل، بیا یې وخندل او کړل یې: «هغې ته باید فرصت ورکړې.» بلاخره حرکت مو وکړ. پر ما یې ټینگار وکړ چې «لاندې به بیخي نه گورې».

مگر زما اندېښنه شوه او لاندې مې وکتل. هلته مې د موټر په غولي کې درې سانتي متره سوری ولید چې سړک ترې ښکارېده. زه پوهېدم چې که له باراک سره ژوند وکړم، نو داسې خبرې به پکې وي. ځکه هغه داسې سړی نه و چې په پیسو او شتمنۍ پسې دې وي. ده د کمبریج په سامرفیلید کې په یوه کوچني اپارتمان کې ژوند کاوه. مگر شرکت ما ته په یوه لوکس هوټل کې ځای ریزرف کړی و. باراک مې هم هوټل ته راوغوښت. پر دې اساس زه او اوباما به پر یوه گرم او نرم کټ ویده کېدلو او مخکې له دې چې پوهنتون ته لاړ شي، په هوټل کې به یې سهار ښه سباناری کاوه. د شپې به له پوهنتونه زما خونې ته راتلو او د هوټل یوه ډبله کمپله به یې تر ځان تاووله او په خپلو پوهنتوني کارونو به بوختېده. د هماغه کال په کرسمېس کې مور له یو بل سره هونولولو ته لاړو. زه له هغې څخه مخکې هېڅکله هاوایي ته نه وم تللې. ژمی په شیکاگو کې همېشه اوږد و او مور به چې کله چېرې تلو، نو د موټر په ډاله کې به مو تل پشمي جامې درلودې. همدارنگه پاروگان به مو هم لرل چې واورې پاکې کړو. البته د محصلۍ په دوره کې له خپل ټولگیوال ډېویډ سره باهاما ته تللې وم او همدارنگه له سوزان سره جامایکا ته هم تللې وم. دا مې خوښېدل چې سمندرونو ته ورنژدې شم. په کنگستون کې سوزان ساحل ته بوتلم او هلته مو په سمندر کې ولمبل او بیا وروسته بازار ته لاړو چې له بیروباره ډک و. بازار کې مو له پېرودونکو سره چنې هم ووهلې. له باراک سره په هاوایي ټاپوگانو کې تقریباً یوه اونۍ وم. هلته په یوه اپارتمان کې اوسېدو چې د ده د کورنیو دوستانو و. د لمبلو په خاطر به هره ورځ سمندر ته تلو او بیا به په ساحل کې لمر ته پرېوتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته له مایا سره آشنا شوم چې د باراک مېرنۍ خور او مهربانه او هوښیاره نجلۍ وه. عمر یې شاوخوا نولس کاله و. بارنات کې یې زده کړې کولې. غټې قهوه‌یي سترګې او تور وېښته یې درلودل چې تر اوږو پورې یې رسېدل. همدارنګه د ده نیا او نیکه مادلین او ستنلي دانهام یا د بارک په وینا «توت» او «ګرامپس» مو هم ولیدل. حتا آنا دانهام مو هم ولیده. شوخه شنګه ښځه وه. لږ پنده ښکارېده. تور توني وېښته یې درلودل. پر ځان یې درنې نقره‌یی ګاڼې راځوړند کړې وې، سور چکې جامې یې اغوستې وې او کلکې څپلۍ یې پر پښو وې. چلن یې له راسره صمیمانه و. زما د دندې او زما د کورنۍ په اړه یې رانه پوښتنې وکړې. دې له خپل زوی سره ډېره مینه درلوده او هغه یې ستایلو. د یوه پخواني ملګري په څېر له هغه سره غږېده او له هغه سره یې د ده د کتابونو او رسالو په اړه خبرې اترې کولې.

په کورنۍ کې یې همداسې هغه بري بللو چې د دوی د صمیمیت څرګندونه یې کوله.

نیکه یې ګرامپس یو هڅور او د یږ په څېر و چې خوندورې او خندوونکې خبرې یې کولې. نیا یې توت، هم یوه پنډه ښځه وه چې خاورین وېښته یې درلودل او له ډېرو هڅو وروسته پر دې توانېدلې وه چې د یوه سیمه‌یز بانک مرستیاله شي. هغې به د سهار لپاره تل د تون کب سندیویچ برابرول. د شپې به یې موږ ته له ډوډۍ خوړلو وړاندې بسکېټ او ساردین کبان راکول چې ویې خورو. بیا به یې د شپې ډوډۍ پر کوچنیو مېزونو اېښودله چې ټول وکولای شي په تلویزیون کې خبرونه ووینې، یا د متقاطع کلماتو جدولونه حل کړي او یا هم ډوډۍ وخوري. ساده او متوسطه کورنۍ وه، زما د کورنۍ په څېر. همدا د دې باعث شول چې زه او باراک په خپلو کورنیو کې راحته واوسو. که څه هم موږ زیات توپیرونه لرل، خو په دې برخه کې سره ډېر ورته و او ګواکې داسې ښکارېدل چې له یو بل سره زموږ د جذبېدلو لامل یوازې همدا و. په هاوایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې باراک خپل هغه جدي او منطقي شخصيت پرېښود او يو بېخياله او راحته بنيادم شو. خپل کور کې راحته و او آزادي يې احساسوله. هلته يې نو نور ټينګار نه کاوه چې هر څه دې په خپل وخت ترسره کړو. د باراک د مکتب د دورې يو ملګری و چې يابي نومېده او کب نيوونکی و. هغه يو ځل مونږ په خپله جاله (قايق) کې سپاره کړو او چکر يې راکړ. باراک هلته ډېر خوښ، ډېر بېخياله او آرام و. تر اسمان لاندې اوږد غځېدلی و، بير يې څښل او له خپل پخواني ملګري سره ګړېده. نور يې په ورځنيو خبرونو، وکالت او په ټولنه کې په اقتصادي بې عدالتيو ری هم نه واهه.

اکثره کسانو به چې د ژوند شريک يا شريکه ټاکل، نو لومړی به يې د ځېرې له مخې او بيا به يې د مالي وضعې له مخې انتخابول او نورو شيانو ته يې چندان اهميت نه ورکاوه خو يوه بله خبره هم وه هغه دا چې کله به دوی وليدل چې مقابل لوری يې خبرې اترې نه کوي يا ډېر حساس دي او ژر رنځېږي، نو اهميت يې نه ورکاوه او ويل يې چې که واده هم وکړو، دا ستونزې به هوارې نه شي. مګر کله چې باراک زما په ژوند کې رادننه شو، تقريباً چې شخصيت يې بشپړ شوی و. زه له هماغه پيله متوجه شوم چې که کمزورتياوې يې بيان کړم، نو بده پرې نه لګي او کاملاً ساده او صميمي دی. يا په شرکت کې مې دې ته پام شو چې مهربانه او متواضع سړی دی او د دې لپاره چې خپلو سترو موخو ته ورسېږو، نو دې ته حاظر دی چې له خپلو اوسنيو اړتياوو هم تېر شي. اوس مې په هاوايي کې د ده د شخصيت ډېر ظريف اړخونه کتل. د ښوونځي له ملګرو او له پخوانيو ملګرو سره يې اړيکه ساتلې وه، نو زه پوه شوم چې په دوستۍ کې وفاداره او ثابته دی. همدارنګه له مور سره يې هم ښه اړيکه درلوده، خو خپلواکه و او اراده يې درلوده. له دې امله زه پرې پوه شوم چې داسې مېرمنو ته ځانګړی درناوی لري. په دې خاطر که په دې اړه خبرې هم ورسره ونه کړل شي، په راحتۍ سره کولای شي له هغه ښځې سره ګوزاره وکړي چې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې غوښتنې، خپل ځانګړي تمایلات او خپل ځانګړي ارمانونه لري. د ده دا ځانګړتیاوې داسې څه نه و چې یو چا ته دې ورزده کړل شي او حتا مینې او علاقې هم نشو کولای چې داسې ځانګړنې دې جوړې او یا یې دې بدلې کړي.

یوه ورځ مو له غرمې وروسته موټر کرایه کړ او د هاوایي شمالي سواحلو ته لاړو. ساحل کې کېناستو او هغو ورزشکارانو ته مو وکتل چې مورړ ته نژدې یې د اوبو په څپو کې ورزش کاوه، په یوه دړه به کېناستل او څپې به د دوی دړې پرمخ وړله. لمر لوېدلو، غروب و، د سین څپې لاندې باندې او ښکته پورته کېدې، کله به چې د لمر رڼا پرې ولګېده، نو خوندور رنګونه به یې خپاره کړل چې مورړ به ورته کتل او خوندونه به مو اخیستل. له یو بل سره مو خبرې کولې. دا وخت نو لږ لږ ماښې هم راپیدا شوې وې او مورړ یې چیچلو. له بل پلوه وږي هم وو. هاوایي ته ځکه تللې وم چې د اوباما د تېر ژوند په اړه وپوهېږم. مګر اوس مو په سمندر کې یوازې د راتلونکې په اړه خبرې کړې وې او بس. دا چې غواړم په ځنګه کور کې ژوند وکړم او ځنګه مور واوسوم او ته ځنګه پلار واوسې. دې ځرګندوله چې مورړ نور هېڅکله هم نه غوښتل چې سره بېل شو.

له دې وروسته مې له باراک سره مخه ښه وکړه او شیکاګو ته راوګرزېدم. همدارنګه د خپلو دوستانو په مېلمستیاوو کې مې هم ګډون کاوه. مګر نور به ډېر کم داسې پېښېدل چې تر ناوخته دې بیرون کې پاتې شم. باراک له کتاب لوستلو سره زیاته علاقه درلوده، د ده دا علاقه د دې باعث شوه چې د هرې شنبې په شپه کې زه هم په کور کې پاتې شم او یو ښه رومان مطالعه او خوند ترې واخلم.

کله به مې چې زغم پای ته رسېده، نو له خپلو پخوانیو دوستانو سره به مې اړیکه نیوه. سانتیتا اوس د روبرتا فلاک موسیقۍ سندرغاړې وه چې په مختلفو کنسرتونو کې یې ګډون کاوه. د دې پلار جَکسون نومېده چې کشیش و. کال وړاندې مې چې واورېدل د دیموکراتانو له خوا د جمهوي ریاست په انتخاباتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ګډون کوي، نو ډېره خوشحاله شوم. البته هغه په لسګونو مقدماتي انتخاباتو کې بریالی هم شو او بیا له دې وروسته یې خپل ځای بل نوماند ته پرېښود چې مایکل دوکاسیس نومېده.

له سانتیتا پرته، زما یوه بله ملګرې هم وه چې د حقوقو په پوهنځي کې راسره وه او ورنا ویلیامز نومېده. زه له دې سره هم په اړیکه کې وم. هغې یو دوه وارې باراک لیدلی و او هغه یې خوښ شوی و. مګر تل به یې ماته په ټوکه کې ویل چې غوښتنې دې راکمې شوې او له یوه سګرېټي سړي سره دې ملګرتیا پیل کړې. بله ملګرې مې آنجلا کندي وه چې د ښوونکې په توګه په نیوجرسي کې پر کار بوخته وه. دې یو کوچنی زوی درلود، مګر شریک ژوند کې له ماتې سره مخ شوې وه. له هغې سره به مې د ښوونځي د دورې یادونه شاربل او خپل لېونتوبونه به مو بیانول او خندېدو به. بله ملګرې مې سوزان وه چې په پرېنستون پوهنتون کې په یوه خونه کې راسره اوسېده. هغې هماغه شان د خپل ژوند کیفیت د خوش‌ګذرانۍ پر اساس ټاکلو. بېلابېلو مېلمستیاوو ته تله او کله به یې چې ورزش کاوه نو خپلې چټلې جامې به یې یو خوا ته ګوزار کړې چې زه به یې په غوسه کړم، مګر که څه هم زما د ژوند سبک او د هغې د ژوند سبک سره توپیر درلود، مګر بیا هم د خور په شان راباندې ګرانه وه. ماته یې ځانګړې جذابیت درلود، په هر حال، یو وخت دې ته دا موکه برابره شوه چې په یوه ښه پوهنتون کې د مدیریت څانګه ولولي، مګر دې دا پوهنتون ځکه پرېښود چې له عیش و نوش او خوشګذرانۍ پاتې نه شي، دا پوهنتون یې پرېښود او د دې په ځای یې د هېواد په یوه معمولي پوهنتون کې د مدیریت څانګه وویله او ماستري یې پکې واخیسته. زما له انده یې احمقانه کار وکړ او خپله راتلونکې یې تباه کړه. البته داسې کارونه دې تل ترسره کول. همېشه یې ډېر ساده شیان غوره کول او خپل زیات وخت به یې په خوشګذرانۍ کې تېراوه.

کله چې زما اړیکه له باراک سره جدي شوه، نو له سوزان سره مې اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوله او هغې ته مې وویل چې پر باراک مې زړه بایللی. هغه ډېره خوشحاله شوه او ما ته یې خبر راکړ چې د امریکا د متحده ایالتونو په مرکزي بانک کې کار کوي، مګر کېدی شي چې ډېر ژر استعفا ورکړي او د څو میاشتو لپاره له خپلې مور سره په ټوله نړۍ کې راتاو شي.

زما پام هېڅکله دې ته نه شو چې آیا سوزان پر دې پوهېده چې د وجود ځینو سلولونو یې د وجود بشپړ کنټرول په لاس کې اخیستی او هر چېرې چې غواړي هلته یې وړي. هر څه چې وو خو وو. په ۱۹۸۹ کال کې کله چې ما لوړ بوټونه پر پښو کول او په خپل کارځای کې به مې په سترې کوونکو او اوږدو غونډو کې ګډون کاوه او له دې کارونو سره به لاس او ګرېوان وم، نو دې به له خپلې مور سره په کامپوج ښار کې په سین کې لمبا کوله، یا به هم د مېلمستیا په یوه سالون کې پر نڅا بوخته وه. یا هغه وخت چې ما خپلې پیسې شمېرلې او خپلې جامې مې د جامو مینځلو له دوکانونو رااخیستلې، سوزان به په بانکوک کې په پاکه هوا کې ګرزېده او یا هم کېدی شي چې په ځانګړو موټرونو کې به ناسته وه او دا ښار به یې لیده او د خوښۍ چیغې به یې وهلې. رښتیا هېڅکله نه پوهېدم چې چېرته ځي او څه کوي، ځکه عکسونه یې نه رالېږل. پر دې پوهېږم چې هغه وخت یې ماته زنګ راوکړ چې کله مرېلند ته خپل کور ته راوګرزېده. په تلیفون کې یې زړه دوک کړی و او راته کړل یې: «زه په پرمختللي سرطان اخته یم».

په حقیقت کې ډاکټرانو ورته ویلي وو چې د وینې سرطان لري. دې خبرې ماته دومره ټکان راکړ چې نورې خبرې مه یې وانه ورېدې. مخکې له دې چې تلیفون پرې کړي، راته کړل یې چې مور یې هم پر یوې ناروغۍ اخته شوې. داسې ښکارېدل چې ګنې برخلیک دوی شا کړې ده. زه هېڅکله پر دې باور نه وم چې روزګار له بنیادمانو سره عادلانه چلن لري او تل پر دې باور وم چې هر څوک کولای شي چې د هڅو او کوښښونو له لارې پر هرې ستونزې غلبه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر د سوزان سرطان لومړني څه وو چې د دې باعث شول چې زه پر خپله عقیده شک وکړم. ما په خپلو خیالونو کې خپله او د سوزان راتلونکې په دې توګه لیدله چې هغه به زما د واده په مراسمو کې زما تر څنګ وي او زه به د هغې واده کې د دې ترڅنګ. پر دې هم ډاډه وم چې مېړونه به مو د موږ په شان سره توپیر لري. خو له موږ سره به مینه لري. ما فکر کاوه چې د دواړو به یوه وخت کې ماشومان پیدا کېږي، بیا به جامائیکا ته ځو او د هغه ځای په سواحلو کې به ښه وخت تېرو. بیا به د ماشومانو په روزلو کې پر یوه او بله نیوکې کوو او زه به د هغې د ماشومانو تروري وم او دا به زما. کله چې د دې د اولادونو د زېږدېدو ورځ وي، زه به د دې ماشومانو ته کتابونو ورډالۍ کوم او هغه به زما ماشومانو ته جادویي لکڼه ورډالۍ کوي چې پرې والوزي. له یو بل سره به خندېدو او تر هغې به مو خواله کول چې تر څو زړېدلو. صمیمي ملګرې به و او دې ته به هیښې وو چې وخت څومره ژر تېرېږي. مګر ګنې داسې ښکارېدل چې روزګار دې ته بل خېل برخلیک ټاکلی او ښایي اوس هم دا زما خاطر و چې سوزان په مریلند کې وه او له خپلې ناروغۍ سره یې مبارزه کوله. دې عملیاتونه هم کول او همدارنګه د خپلې مور پالنه یې هم کوله چې هغه هم په سرطان اخته وه. سوزان خپله ټوله کورنۍ کې یوازې دوې د تروري لوڼې درلودې چې له زړه یې له دې سره مرسته کوله. زما د پوهنتون د وخت یوه ملګرې وه چې ورنا نومېده. دا هم د زده کړې په وخت کې له سوزان سره آشنا شوې وه. د دې کور اوس په اتفاقي توګه د سوزان کور ته نژدې و. له ځانه سره مې وویل چې له هغې هیله وکړم چې سوزان ته ورشي او له هغې سره مرسته وکړي. مګر وروسته پوه شوم چې له بده مرغه په همدې نژدې وختونو کې د ورنا پلار وفات شوی. پر دې اساس له هغې مې څه نه شوای غوښتلی. مګر په ریښتیا چې هغه ډېره ستړه مېرمن ده. ځکه خپله سوزان ته ورغلې وه. بیا یې له ما سره اړیکه ټینګه کړه او راته یې وویل چې وېښته مه یې رېمنځ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه پوه شوم چې حالت يې ډېر خراب دی، ځکه حتا دا هم نشي کولای چې خپل وېښته ږمنځ کړي. د هغې د ناروغۍ په چټکې ودې او وخيمه وضعه هېڅ باور نه شم کولای. بلاخره يوه ورځ د هغې د تروري لور له ما سره اړيکه ټينګه کړه او راته کړل يې ميشل که غواړې ويې وينې نو فرصت له لاسه مه ورکوه. ژر مې ټکټ واخيست، الوتکه کې کېناستم او روغتون ته مې ځان ورورساوه. کله چې د سوزان خونې ته وردننه شوم، نو ومې ليدل چې بې حاله پر کټ اوږده غځېدلې او د تروري لور يې تر څنګ ناسته ده. پوه شوم چې د سوزان مور څو ورځې وړاندې مړه شوې وه. سوزان په کوما کې وه. د سوزان قهوه‌يي څېرې او راوتلو انګو ته مې وکتل او لږ آرامه شوم. ډېره عجيبه وه چې ناروغۍ د دې په ظاهري بڼې چندان اغېز کړی نه و. تياره وېښته يې هماغسې اوږده و او ځلېدل. شيږ ويشت کلنه جذابه نجلۍ اوس ويده وه. له کله راهيسې چې مور سره ملګرتيا درلوده، نو دې ته به مې ويل چې اشتباوې مه کوه. له دې امله مې پښېماني احساسوله. ځکه هغه شېبه کې پوه شوم چې هر څه يې کړي ښه يې کړي. خوشحاله په دې شوم چې زما سپارښتنو ته يې هېڅکله پام نه و کړی او د يوه بې اهميته سَند د ترلاسه کولو په خاطر يوه معتبره پوهنتون نه وه تللې او سختۍ يې نه وې ګاللې. خوشحاله شوم چې تاج‌محل ته تللې وه او له خپلې مور سره يې هلته لمر ختل ليدلي و. د سوزان مړاوی لاس مې په لاس کې ونيو او پام مې شو چې په سختۍ ساه کاږي. يوازې څو شېبې پاتې وې چې سوزان له ژوند سره مخه ښه وکړي. دا حقيقت څومره سخت، ظالمانه او بد و چې سوزان په شپږويشت کلنۍ کې مړه شوه. کله چې د روغتون په دهلېزونو کې تېرېدم، نو داسې ناروغان مې وليدل چې تر دې ډېر زاړه وو او د دوی ظاهري بڼې هم دا څرګندونه چې تر سوزان هم لا زيات ناروغان دي، خو هغوی تر هغې هم ژوندي و. کله چې بېرته شيکاګو ته راتلم، نو په الوتکه کې، له بيروباره ډک بس کې، لفت او دفتر کې مې زيات کسان وليدل چې سره ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دي، له يو بل سره خبرې کوي او خاندي يا په کافي کې ناست دي او يا هم مېز ته ناست دي او خپل کارونه کوي، خو هېڅوک د سوزان پر برخليک نه و خبر او نه پوهېدل چې کېدی شي هره شېبه د دې په شان له ژوند سره خدای پاماني وکړي. ژوند خپله لاره وهله، خو زما له سوزان پرته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۰

همدا چې دوبی راورسېد د خپلو خاطرو لیکل مې پیل کړل. یوه کتابچه مې واخیسته چې تور پوښ یې درلود او په پوښ کې یې تېز آبي رنګه ګلان ول. دا کتابچه مې د کټ تر څنګ کېښوده. کله به چې د شرکت له خوا کوم ځای ته د دندې په خاطر استول کېدم، نو دا کتابچه به مې هم له ځانه سره وړه. د ورځې به مې هم چې کله وخت پیدا کاوه نو خپل احساسات او عواطف به مې پکې لیکل. کله کله به مې یوه اونۍ په پرلپسې توګه پکې لیکل کول. مګر بیا به مې یوه میاشت هم حتا نه رااخیسته او هېره شوې به مې وه. ما نشو کولای چې هغې کې په مرتبه توګه خپل دروني احساسات او افکار بیان کړم. دا کار راته نوی و، دا عادت مې له باراکه زده کړی و. هغه په مرتبه او منظمه توګه خپلې خاطرې لیکلې او پر دې باور و چې دا کار آرمتیا ورکوي.

د هغه کال په دوبنیو روخصتیو کې باراک شیکاګو ته راغی. مګر دا ځل خپل کرایه کړي اپارتمان ته وروته ګرزېد، بلکې مستقیم په یوکلید سړک کې زما کور ته راغی. ما غوښتل زده کړو چې د یوه واقعي مېړه او مېرمن په توګه ژوند وکړو. له دې لارې د باراک پېژندګلوي زما له کورنۍ سره لا نوره هم زیاته شوه. د ورځې به چې کله زما پلار د اوبو د تصفیه کولو ادارې ته ورتللو، نو د چمتو کېدلو په وخت کې به باراک د باسکټبال د لیګونو په اړه ورسره غږېده. کله کله به یې زما له مور سره مرسته کوله او هغه شیان به یې چې اخیستې و هغه به یې له کراج څخه پخلنځي ته ورته وړل. له دې بابته ما ښه حس درلود. کرېګ هم هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اونۍ د پای باسکټبال لوبو ته بېولو چې زياتره لوبغاړي يې د ده د پوهنتون د دورې ټولګيوال وو. البته د دې کار په اړه ما کرېګ ته ويلي وو، ځکه د باراک په اړه د کرېګ نظر ماته اهميت درلود. زما ورور ډېر اجتماعي و او انسانان يې ښه پېژندل. په ځانګړې توګه هغه وخت چې د بسکټبال په لوبه کې به ورسره و. باراک د ده په ازموينه کې په ښو نومرو بريالی شو. کرېګ وويل چې باراک د لوبې په لوبغالي کې آرامه دی، نورو لوبغاړو ته ښه پاس ورکوي او توپ دې کړۍ خواته په ډېرې زړورتيا ورخطا کوي. باراک منلې وه چې د دوبني کار زده کوونکي په توګه د ښار په يوه حقوقي شرکت کې کار وکړي، دا شرکت زموږ شرکت ته نژدې و. خو ژر بايد کمبريج ته ورستون شوی وای، ځکه د هاروارد د حقوقي مجلې د مدير په توګه ټاکل شوی و او بايد د دې مجلې د اتو کڼو مطالب يې کتلي وای چې هره ګڼه يې تر درې سوه پاڼو زياته وه. د دې حقوقي مجلې د مديريت لپاره به هر کال شديده سيالي روانه وه چې يو څوک يې مدير شي. د دې مجلې لپاره به ټاکنې کېدې او اتيا محصلينو به يوه چا ته رايه ورکوله او بيا به هغه د مجلې مدير کېده. پر دې اساس د دې مسئوليت لپاره ټاکل کېدل، يوه ستره بريا وه. باراک لومړنی تور پوستی و چې د دې مجلې په ۱۰۳ کلن تاريخ کې د دې مجلې مدير شوی و. دا واقعه دومره مهمه وه چې حتا نيويارک ټايمز ورځپاڼې يې هم خبر خپور کړی و او د باراک يو عکس هم پکې و چې ژمنۍ جامې يې پر تن وې، دسمال يې تر غاړه تاوو کړی و او موسک و.

په بله وينا، زما نوی ملګری يو پېژندل شوی کس شوی و. هغه وخت يې کولای شول چې په لوړ امتياز هر حقوقي شرکت کې دنده واخلي. خو د ده ټول فکر او ذکر دا و چې کله تحصلي سند واخلي، نو د مدني حقوقو په برخه کې فعاليت وکړي. حتا دا کار د دې باعث کېده چې د خپلې محصلۍ قسط په زيات وخت کې پرې کړي. د ده چې شاوخوا څوک و، ټولو ترې هيله کوله چې د هاروارد د مجلې د نورو مديرانو په شان دې وکړي او د متحده ايالتونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالي ديوان کې دې پر کار بوخت شي. خو له دې دندې سره د باراک جوړه نه وه. هغه غوښتل په شکاگو کې کار او ژوند وکړي. پلان يې درلود چې د امريکا د بېلابېلو نژادونو په اړه يو کتاب وليکي او وروستۍ موخه يې دا وه چې داسې دنده پيدا کړي چې له ارزښتونو سره يې همغږې وي. يعنې ده نه غوښتل چې په داسې ځاينو کې کار پيدا کړي چې د شرکتونو د قوانينو په اړه وي. هغه پر خپل ځان ډېر باور درلود چې زه يې حيرانولم.

له شک پرته چې د باراک پر ځان فطري باور د ډېرې ستاينې وړ و، خو له ده سره ژوند کول، ډېر سخت کار و. باراک پټېيلې وه چې خپلې موخې ته ورسي. له همدې امله ما هم بايد له ده سره ځان غاړه او غړی کړی وای. هغه باور درلود چې کولای شي په دې نړۍ کې يو بدلون رامنځته کړي او ما په دې برخه کې تر ده ځان ډېر کوچنی احساساوه.

د خپلو خاطرو په کتابچه کې مې په هماغه لومړۍ پاڼه کې هغه دليلونه وړاندې کړل چې ولې دا خاطرې ليکم.

لومړی دليل، زه په ژوند کې اصلاً پر دې نه پوهېږم چې په څه پسې يم. غواړم څنگه واوسم؟ او په کومه نړۍ کې چې ژوند کوم، دې نړۍ ته څنگه خدمت کولای شم؟

دويم دليل، زما اړيکه له باراک سره په تدريج جدي کېږي. له همدې امله داسې احساسوم چې پر ځان بايد واکمنه شم.

د خاطرو دا کوچنۍ کتابچه تقريباً يوه لسيزه له ماسره وه. د څو کلونو په اوږدو کې مو چې ګډې کولې، دا کتابچه مې بيا هم همداسې خوندي ساتله. اته کاله چې په سپينه ماڼۍ کې وو، نو دا کتابچه مې د خپلې الماری په يوه روکه کې اېښوده. اوس چې نوي کور ته راغلي يو، دا کتابچه په يوه صندقچه کې اېږدم. هر کله سر ورښکاره کوم چې ياد ته مې راشي چې يو وخت ځوانه وکيله وم. اوس هغه ليکنې په دقيقه توگه لولم. څه چې بايد يوه هوښيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکي ما ته ويلي واى، ما په دې کتابچه کې ځانته ويلي دي. دا چې ما له وکالته کرکه درلوده، زه د داسې يوې ځانګې لپاره نه وم پيدا شوې او که څه هم کار مې ښه ترسره کاوه، مګر له دندې يې راضي نه وم او دا چې په دې دنده کې مې دومره زيار وګاله، اوس ناراحته او خواشينې يم. له نورو سره مې هسې سيالي کوله چې هر څه ماته راکړل شي چې سم يې ترسره کړم. ښاني مې سمې نه وې ليدلې او په يوه اشتباه تګلاره کې روانه ولوېدم.

دويمه موضوع داسې وه چې زه په ژوره توګه پر يو داسې سړي مَينه شوې وم چې په خپلې هوښيارۍ او جاه‌طلبۍ يې کولاى شول چې زما هوښياري او جاه‌طلبي هم محوه کړي. ما په شديده توګه پر باراک زړه بايللى و او د ده موخې زما د غوښتنو او هيلو پر لور داسې راتلې لکه ځواکمنې څپې. د دې څپو پر وړاندې بايد درېدلې واى. يعنې ډېر ژر مې بايد نوې دنده موندلې واى. خو له بده مرغه نه پوهېدم چې کومه دنده مې خوښېږي. کلونه کلونه مې په پوهنتون کې زده کړې کړې وې، خو له دې وروسته بيا هم نه پوهېدم چې د کومې دندې لپاره پيدا شوې يم. مګر باراک څو کاله د لږګيو تور پوستو د يوځاى کولو په برخه کې په بېلابېلو سيمو کې کار کړى و. حتا کله يې چې زده کړې پاى ته رسېدلې وې، نو د کسب او کار په يوه شرکت کې يې يو کلن مشاوريت هم تېر کړى و، زياتې تجربې يې درلودې او له بېلابېلو کسانو سره آشنا و. په همدې خاطر، ځکه يې په ژوند کې خپله موخه موندلې وه. مګر زه چې همېشه له ماتې وېرېدم او د درناوي د جذبولو او د ژوند د لګښتونو د پيدا کولو په فکرونو کې وم، نو د تېروتنې له مخې په حقوقو څانګه کې ښکېل شوې وم.

يو کال کې مې باراک تر لاسه کړى و او سوزان مې له لاسه وتلې وه. دې دوو پېښو رښتيا چې سربداله کړې وم. د سوزان ناڅاپي مړينې پر دې خبره کړم چې له ژونده بايد زيات خوند واخلم. که څه هم ژوند کې مې دا سربدالي او ګډوډي د باراک له شتون څخه ليده. مګر له بل بابته ترې منندويه وم. د خاطرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابچه کې مې ولیکل که هغه مې ژوند کې نه وای چې تل له ما وپوښتي چې ژوند کې مې موخه څه ده او څه مې ځوروي، نو آیا هېڅکله مې ذهن ته دا رسېدل چې دا وړ پوښتنې له ځانه وکړم؟ تل مې فکر کاوه چې کوم کارونه ترسره کولای شم او کوم نوي مهارتونه دي چې باید زده يې کړم. آیا ښوونکې کېدلای شوم؟ یا د یوه پوهنتون مدیره؟ یا پر دې توانېدلم چې د هغه وخت په شان شم چې په پرېنستون پوهنتون کې مې د چرني ماشوم قرارولو او د نورو ماشومانو پالنه مې کوله؟ آیا داسې دنده مې موندلی شوای چې ماته فرصت راکړي چې داوطلبانه کارونه وکړم، یا اجازه راکړي چې ماشومان راوړم. په کُلي توګه غوښتل مې چې هم ژوند وکړم او هم کمال ته ورسم. یوه ورځ کېناستم او د هغو شیانو لړلیک مې ولیکه چې خوشحالولم یې: ښوونکې، په پېغلو کې د امیندوارۍ موضوع، په تور پوستانو کې د ځانباورۍ او.... مګر پوهېدم چې دا دندې لږې تنخاوې لري. بیا مې بل لړلیک ولیکه، هغې کې مې یوازې د ژوند اصلي لګښتونه ولیکل او هغه لګښتونه مې ترې لرې کړل چې د سیدلي شرکت د تنخا له امله مې لرل، لکه لوکس توکي او تجملات. لکه د شرابو اخیستلو کارت یا د ورزشي لوبغالي د غړیتوب کارت. ما هغه وخت د پوهنتون ۶۰۰ ډالره فیس باید ورکړی وای. د خپل موټر ۴۰۷ ډالره قسط مې باید پرې کړی وای، همدارنګه د خوراک او څښاک او د تېلو او د بیمې لګښتونه مې باید پوره کړي وای. په پای کې که د مور او پلار له کوره وتلې وای، نو ۵۰۰ ډالره مې باید د کور کرایه ورکړې وای.

له ځانه سره مې سوچ وکړ چې که دا شیان ناممکنه نه دي، خو دومره ساده هم نه ښکاري. یوه ورځ مې په اتفاقي توګه په نیویورک ټایمز کې یو ګزارش ولوست.

په امریکایي وکیلانو کې سترېیا، سترس او نارضایتي ډېره عامه ده. په ځانګړې توګه په ښځینه وکیلانو کې. نارحته او په چورتونو کې لاهو شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې ټوله اګست میاشت مې په هغه خونه کې تېره کړه چې د کنفرانس په خاطر مو په واشنګټن کې کرایه کړې وه. د یوې دوسیې په خاطر هلته استول شوې وم. زموږ شرکت د تېلو د اتحادیې وکالت په غاړه اخیستی و. درې اونۍ کېدې چې واشنګټن کې وم. مګر په دې ځای کې مې لږ ځایونه لیدلي وو. ځکه له یو شمېر همکارانو سره به مې ټل یوه خونه کې ناسته وم، شرکت به اسناد په بکسونو کې رالېږل او موږ به دا اسناد بیا ارزول. که څه هم ما داسې انګېرل هم نه، مګر له دې مې خوند اخیسته چې په مهمو سوداګریزو چارو کې ښکېل شوې یم چې د ځینو کیمیاوي موادو په اړه دي. البته په پای کې د دې کیمیاوي شرکت دوسیه له محکمې بهر هواره شوه. یعنې د اسنادو او مدارکو په برخه کې زموږ ټولې ارزونې بېځایه وې. وکالت کې نو داسې پېښېږي. کومه شپه مې چې غوښتل بېرته شیکاګو ته لاړه شم او بیا خپلې ورځنۍ چارې پیل کړم، نو په ژور خپګان اخته شوم.

مور مې مینه راکړه او هوایي ډګر ته راپسې راغله. کله مې چې ولیدله آرمه شوم. اوس نو شواخوا پنځوس کلنه وه او په یوه بانک کې یې د مرستیالې په توګه فول ټایم کار کاوه. د هغه بانک ډېرى کارکوونکي نارینه وو، مګر مور مې کلک اخلاقي شخصیت درلود، درنې او ساده جامې به یې اغوستې او وېښته یې تل لنډ وو. زه او کریګ چې ماشومان و، نو دې هېڅکله زموږ په کارنو کې دخالت نه کاوه او تل یې پر موږ باور درلود. هر کله به چې له کوم ځایه په الوتکه کې راتلم، نو دا به راپسې راتله او زه به یې کور ته بېولم او که وږې به وم خواړه یې راکول. د دې دا آرمتیا ما ته یو نعمت و. هغه شپه همدا چې د ښار په لور روان شو، نو سوی اسوېلی مې وکاږه.

مور مې رانه وپوښتل: «لورې ښه یې؟»

ورته ومې کتل او ومې ویل: «نه پوهېږم، یوازې...» او په یو واري مې زړه ورته تش کړ. هغې ته مې وویل چې خپله دنده مې زیاته نه خوښېږي، اصلاً ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروتنه وکړه چې په دې څانګه کې داخله شوم. زړه مې ډېر غواړي چې خپله دنده بدله کړم، مګر وېرېږم چې هسې نه په خپل دې کار مې زياتې پيسې له لاسه ورکړم.

نهه کاله کېدل چې مور مې هغه بانک کې کار کاوه. دا کار يې ځکه کاوه چې زما د پوهنتون لګښتونه راکړي. له هغې ورځې يوازې په کور کې وه او زما د ښوونځي جامې يې ګنډلې، ما او زما ورور ته يې پخلی کاوه او زما د پلار جامې يې مينځلې. پلار مې هم په ورځ کې اته ساعته کار کاوه. د ښار د اوبو د تصفيې دستګاه‌ګانې يې پاللې. همدارنګه مور مې هر سهار ژر له خوبه پاڅېده چې له ناروغ پلار سره مې مرسته وکړي چې کار ته لاړ شي. له شک پرته هغې حالت کې مې مور د دې خپه کوونکو خبرو زغم نه درلود چې ما له خپلې دندې څخه د ناراضيتی په اړه کولې. مور او پلار مې دېرش کاله کېدل چې سره يو ځای و، خو دوی هېڅکله د شغلي رضايت په اړه سره خبرې نه وې کړې. مور مې داسې نه وه چې په هره برخه کې وغواړي ما ته نصحيت وکړي يا هم زما د پلار فداکاري او ايثار پر ما راوپاسلي. مګر هغه شپه يې موټر کې بد بد راوکتل او راته کړل يې: «که له ما وغواړې، نو درته وايم چې ښه دا ده چې لومړی پيسې پيدا کړې او بيا د خوښی او خوشحالی او خوندونو په فکر کې شې.»

حقيقتونه دوه ډوله دي. يو هغه حقيقتونه دي چې مونږ ژوند کې ورسره مخامخ کېږو او بل هغه حقايق دي چې ترې انکار کوو. هڅه مې وکړه چې شپږ مياشتې نور هم مقاومت وکړم. د شرکت له سرپرسته مې وغوښتل چې ماته داسې کارونه راکړي چې زيات جنجال ولري. يعنې داسې پروژې وي چې ډېرې مهمې وي. هماغه وخت کې مې د ورځپاڼو د کارموندنې برخه هم کتله. ما هڅه کوله داسې کار پيدا کړم چې له وکالت سره توپير ولري.

کور کې له داسې حقيقت سره مخ شوم چې لږ يې انديښمنه کړم. د پلار پښې مې پړسېدلې وې او پوستکی يې شين و. مګر هر ځل به مې چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال پوښته نو هماغه همېشنی ځواب به يې راکاوه او ويل يې چې ښه يم او بيا به يې خبره په بله اړوله.

شيکاګو کې بيا ژمی راغلی و او ما به هره ورځ سهار د ګاونډيانو شورماشور اورېده چې له خپلو موټرونو څخه به يې واورې او يخونه لرې کول. بادونه به کېدل او واورې به يې دلۍ کولې. د لمر رنګ مړاوی و او کمزوری. د خپل دفتر يا له ۴۷ پوړ څخه مې د ميشيګان سين ته کتل چې يخک و. اسمان د سُربو رنګ درلود. په ډبل ټکري او پشمي جامو کې به کار ته تلم او دوعا به مې کوله چې د هوا درجه له صفر څخه پورته شي. ژمی همېشه د انسانانو صبر قوي کوي. صبر د دې لپاره چې بيا د الوتونکو چغاري واروي او د ګلونو غونچې ووينې.

کرېګ به هم کله کله کور ته راته چې يو ځای سره د ماښام ډوډۍ وخورو. د ده مېرمن جنيس هم اوس زموږ د کور غړې شوې وه. هغه ښاده وه. ډېر زيار يې ايسته چې د ښار په مرکز کې د مخابراتي تحليلګرې په توګه يو کار پيدا کړي. زما د پلار ډېر درناوی يې کاوه. کرېګ هم له فارغېدلو وروسته د سوداګريز مديريت په برخه کې ماستري کوله او له دې سره هممهاله په کانتينتال بانک کې د رييس مرستيال هم و. ده په هايدپارک کې ښکلې بنګله اخيستې وه. شيکې او کرانبيه درېشۍ به يې اغوستې او په خپل ګرانبيه موټر کې به زموږ کور ته راتله. مګر بيا وروسته پوه شوم چې له دې شيانو هغه هم راضي نه و او نېکمرغي يې نه احساسوله. د ده هم زما په شان خپله دنده نه خوښېده، مګر څنګه چې پوهېدو چې پلار او مور د خپلو اولادونو په برياوو خوشحاله دي، نو د ماښامي په وخت کې مو د دا شان موضوعاتو په اړه هېڅ نه ويل.

کرېګ هم زما په شان د پلار په اړه اندېښنه درلوده. مګر کله به چې موږ ليدل چې خپله خپل کارونه کوي، له خپل ځايه پاڅېږي او کار ته ځي، يا يې خواړه د تېر په شان ښه دي، نو ويل مو چې ښه دی او په دې توګه مو ځان ډاډه کاوه. مور مې هم زموږ په شان هڅه کړې وه چې پلار مې راضي کړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر ته لاړ شي. مګر پلار مې هېڅکله دا خبره نه منله او دا يې هم نه خوښېدل چې د ده د ناروغۍ په اړه خبرې وکړو. کله يې چې پښې وپړسېدې، نو زما له مور څخه يې يوازې دا وغوښتل چې يوه جوړه سترې موزې ورته واخلي، بس همدا.

پلار مې په کور کې له څلورپايه لګښې ګټه اخيسته او پرې تلو به او کله کله به درېده چې ساه تازه کړي. هغه مهال به چې کله سهار له خوبه پاڅېد، نو په ډېرې سختۍ به له کټه راپورته کېده او ځان به يې تشناب ته رساوه. له تشنابه به راواته، پخلنځي ته به ته او بلاخره کراج ته به تلو، هلته به په موټر کې سپرېده او خپل کار ته به تلو. خپل کارځای کې يې هم له يوه برېښنايي سکواټوره ګټه اخيسته چې د هغې په واسطه يوې خوا او بلې خوا ته ګرزېده. ۲٦ کاله يې دنده کړې وه، خو د دې ټولو کلونو په اوږدو کې حتا يو کاري شفت هم ترې پاتې شوی نه و. که د اوبو د ذخيرې تودوخه به له حده زياتېده، نو بيا يوازې همدا زما پلار و چې په خپلې تجربې يې کولای شول چې له يوې فاجعې مخنيوی وکړي. دی به چې کله د شپې کور ته راتله، نو زياته موده به تلويزيون ته کېناسته او د باسکټبال او هاکي لوبې به يې کتلې. خو سترې او هلاکه ظاهري څېره يې درلوده. له پښو پرته يې ورمېږ هم پړسېدلی و او په غړ کې يې عجيبه خور خور هم و.

يو شپه مې نو زغم پای ته ورسېد او پلار ته مې وويل چې زما په خاطر دې ډاکټر ته لاړ شي. پلار مې ومنله. ما وپتېيله چې له ډاکټره ورته وخت واخلم. هغه شپه مې راضي کړ چې ژر ويده شي او استراحت وکړي. زه او مور مې ډېر خوشحاله شو چې پلار مې راضي شوی و چې ډاکټر ته لاړ شي. مګر کله چې سبا شو، د پلار نظر بدل شو. چې لاندې پوړ ته لاړم او ومې ليدل چې مور مې کار ته تللې او پلار مې په پخلنځي کې دی او هڅه کوي چې خپلې موزې واغوندي او کار ته لاړ شي. هغه ته مې وويل: «پلاره ژمنه دې راسره کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې داکټر ته راسره لاړ شې.»

اوږې يې پورته وارتولې او په دوکمن غږ يې وويل: «ګرانې پوهېږم، خو اوس ښه يم.»

موږ داسې کورنۍ کې ستر شوي وو چې هر چا خپلې ستونزې بايد خپله هوارې کړې واى. دې حالت کې هم ما بايد پر خپل پلار باور کړى واى او اجازه مې ورکړې واى چې خپله، خپله ستونزه حل کړي. همدا وو چې پلار مې ښکل کړ او پاس پوړ ته راوګرځېدم چې ځان تيار کړم چې دندې ته لاړه شم. بيا مې وپتېيله چې څو ساعته وروسته له خپلې مور سره اړيکه ونيسم چې فکر وکړو څنګه پلار راضي کړو چې ډاکټر ته لاړ شي. څو شېبې وروسته مې د اپارتمان د وره د تړل کېدلو غږ واورېد. ورو ورو د زينو په پوړيو کې ښکته او پخلنځي ته لاړم. پلار مې هلته نه و. د کولپ د کلۍ د ځاى تر سوري مې کراج ته ورو کتل، نو ومې ليدل چې پلار مې له خولۍ او کورتۍ سره د زينو په مخ کې ولاړ دی. داسې ښکارېدل چې په لرګينو کتارو يې تکيه کړې وه او پر دې نه توانېده چې وړاندې لاړ شي. څرګنده وه چې شل کاله يې له هغې ناروغۍ سره مبارزه کړې وه او له دې کلونو وروسته يې بدن پر دې نه توانېده چې لا نوره مبارزه وکړي. غوښتل مې بيرون ته ووزم او ورسره مرسته وکړم، مګر دا ځل مې خپله مخه ونيوله چې هسې نه د هغه غرور مات کړم. بېرته ډېره آرامه خپلې خونې ته راوګرځېدم او دې ته په تمه شوم چې کراج وتړل شي. هر څنګه چې کېدل، پلار مې خپل موټر ته ځان وررسراوه، موټر کې سپور شو او خپل کارځاى ته لاړ.

اوس څو مياشتې کېدې چې ما او باراک د يو بل د واده په اړه خبرې اترې کولې. زما او د ده د ګډ ژوند دوه نيم کاله تېرېدل او داسې ښکارېدل چې زموږ مينه له منځه تلونکې نه ده. دا مهال هغه د پوهنتون د وروستي کال محصل و او له دې سره سره د هاروارد حقوقي مجله يې هم چلوله. خو تصميم يې درلود چې ژر زما خوا ته راشي او زموږ په ښار کې ځانته کار پيدا کړي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده په اړه زموږ نظرونه متفاوت وو او زه له دې بابته لږ ناراحته وم. واده ما ته داسې یو څه و چې له هماغه ماشومتوبه مې په رویاوو کې درلود. ما به خپله دا هیله هغه وخت ننداریې ته وړاندې کوله کله به مې چې له نانځکو سره لوبې کولې. البته باراک هم د واده کولو مخالف نه و، یوازې یې د دې کار لپاره بېړه نه درلوده. د ده په باور، یوه ګډ ژوند مینې ته اړتیا درلوده چې هغه زموږ په منځ کې وه. که په ګوتو کې مو د نامزادۍ چلې وې یا نه وې څه توپیر یې کاوه. له شک پرته چې زما باور له خپل چاپېریاله او د باراک باور د هغه له خپل چاپېریاله ریښه اخیسته. مور یې دوه ځلې واده کړی و، دواړه ځلې یې طلاق هم اخیستی و، ماشومان یې هم راوړي و او خپل ژوند او دندې ته یې ادامه ورکړې وه. مګر زما پلار چې کله زلمی و، زما له مور سره یې واده کړی و. مور مې هم پېغله وه. دوی ټول تېر دېرش کلونه سره یو ځای تېر کړي وو.

ما او باراک واده ته د یوه عاشقانه اتحاد په توګه کتل چې هغې کې دوو کسانو خپل مسیرونه له دې پرته وهل چې فردي آزادي یې سلب شي یا یې ارمانونه پرېږدي. ما د خپل مور او پلار ګډ ژوند نه خوښاوه. نه مې غوښتل چې تل تر تله په یوه کور کې ژوند وکړم، یوه دنده ولرم او د ځان لپاره هېڅکله وخت ونه لرم. له همدې امله مې د خپلو خاطراتو په کتابچه کې ولیکل، سمه ده چې هر فرد ځانته خپل علایق، خپلې موخې او خپل ارمانونه لري، مګر دا مې نه خوښېږي چې د دې لپاره چې خپلو شخصي موخو ته ورسم، له بل چا سره خپل ګډ ژوند تباه کړم.

تصمیم مې ونیو چې کله باراک شیکاګو ته راغی او هوا لږ څه ګرمه شوه او د اونیو په پای کې بیا سره یو ځای و، نو زه به له ده سره د خپلې عاطفي اړیکې برخلیک ټاکم. نور نو صبر کول راته سخت و. زړه مې غوښتل چې زه او دی هم تل زما د مور او پلار په شان یو ځای واوسو او د شپېو شپېو له فدا کولو لاس راوکاږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره بریالۍ شوم چې د پلار لپاره مې وخت واخلم چې ډاکټر ته لاړ شي. خو هغه ورځ په کار کې وم چې مور مې په امبولانس کې هغه روغتون ته يووړ. پښې يې په بشپړه توګه پړسېدلې وې او پوستکی يې نازک شوی و. داسې چې خپله يې ويل چې داسې په تکليف دی چې کښې پر دوو ستنو ځي. پلار مې دوو هډورو نرسانو بيرون ته وړی و چې له دوی سره يې ټوکې هم کړې وې او هغوی يې خندلي وو. هغه يې مستقيم د شيکاګو پوهنتون روغتون ته بوت او له وينې اخيستلو وروسته يې بېلابېلې معاينې پرې ترسره کړې. همېشه يې خونې ته ډاکټران تلل او راتلل. پلار مې د روغتون خواړه نه خوړل. ځان يې ډېر پړسېدلی و او ډاکټرانو وويل چې په کوشينګ ناروغۍ اخته شوی دی. ستونی يې داسې پړسېدلی و چې زندۍ کاوه يې. د هغو کلونو په اوږدو کې مې پلار هېڅ درد حس کړی نه و. ډاکټرانو ته يې وويل: «خپله هم نه پوهېږم چې څنګه په دې ورځ واوښتم.»

زه او مور مې او کرېګ او جنيس به په نوبت روغتون ته تلو او د هغه ترڅنګ به کېناستو او د هوا او باسکټبال په اړه به مو ورسره خبرې کولې. د ده بالښت او کمپله به مو سمول. خو هغه دومره ستړی او ناتوانه شوی و چې حتا زمو خبرو ته يې هم ځواب نشو راکولای. ډاکټرانو د ده په بدن کې ډېرې دستګاوې او پيپونه وروصل کړل. دوی هڅه کوله چې درملنه يې وکړي. د ده د ناروغۍ په اړه يې مور ته داسې شيان ويل چې مور ته يې چندان مفهوم نه درلود. پلار مې لږ لږ غلی کېده. ما تېرې خاطرې ورته بيانولې، چې سينما ته تللي وو، د سوکوهنې په دستکشونو کې مو د سوکوهنې لوبه کړې وه، په حوض کې مو لمبلي و، روبي تروری د موسيقۍ درس راکړی و او هغه ماښامي او سهاري چې د فاميل له غړو سره مو خوړل. ده به يوازې راته غوږ نيوه.

يوه شپه چې کله روغتون ته لاړم، نو ومې ليدل چې پلار مې يوازې دی او څوک ورسره نشته. مور مې ډېره ستړې شوې وه او کور ته تللې وه چې ويده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. تقريباً لس ورځې کېدې چې پلار مې روغتون کې بستر و. دا مهال هغه يوازې پنځه پنځوس کلن و. خو سترګې يې مړاوې وې، رنګ يې ژېړ و، لاسونه يې درانه وو چې نه يې شول پورته کولای. داسې ښکارېده لکه يو عمرخوړلی بوډا. وېښ و، خو د ورمېږه د پړسوب په خاطر يې خبرې نه شوې کولای. د ده د کټ تر څنګ څوکۍ کې کېناستم او لاس مه يې په لاس کې راواخيست. نور مې نو حس کړل چې د ژوند لمر يې په ډوبېدو دی او دی نشي کولای چې زما نور ژوند وګوري. څو څاڅکي اوښکې مې پر اننګو راپرېوتې. پلار مې لاس ورواخيست خپلې خولې ته يې ورنژدې او بيا يې او بيا يې ښکل کړ. داسې ښکارېدل چې ګنې وايي چې څومره راباندې ګرانه يې او پر ما افتخار کوي. همدارنګه غوښتل يې ما پوه کړي چې تېروتنه يې کړې چې ژر ډاکټرانو ته نه دی ورغلی. چلن يې داسې و لکه مخه ښه چې کوي.

هغه شپه تر هغې د پلار ترڅنګ کېناستم تر څو چې ويده کېده. بيا مې په خواشينۍ او دوکمنۍ کې روغتون پرېښود، موټر کې سپره شوم او کور ته راوګرزېدم. همدا چې سپېدې وچاودېدلې، پلار مې وفات شوی و، تېره شپه يې قلبي سکته کړې وه او مړ شوی و. اوس نو زه او مور مې په کور کې يوازې پاتې شوې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۱

کله دې چې يو نږدې خپل وفات شي، نو له دې وروسته بيا ژوند کول سختېږي؛ دا حقيقت د انکار وړ نه دی. لا نور بيا هله سختېږي چې دهلېزه کې وګرزو، يا يخچال خلاص کړو او هغه مو ياد نه شي. جرابې به په اسانۍ نه شو په پښو کولای، يا به غاښونه نه شو بورسولی، ځکه تمرکز به نه لرو. خواړه خپله مزه بايلي، رنګونه محوه شي، د موسيقۍ غږ دردناکه شي او خاطرې غمجنې. هر کله چې يوه ښکلي څه ته ګورې- د غروب ارغواني رنګه اسمان يا د ماشومانو د لوبې ځای- نو په خواشينۍ به پکې ډېره ډوبېږې.

د پلار له وفاته يوه ورځ وروسته زه، زما مور او کرېګ د فاتحې د مراسمو يوې ترسره کوونکې مؤسسې ته ورغلو، چې فاتحه يې واخلو. زه دومره غمجنه او ويرجنه وم چې د هغې ورځې خاطره مې په ياد نه ده. يوازې دا مې په ياد دي چې کله زه او کرېګ د پلار د تابوت د اخيستلو لپاره لاړو، نو تابوت اخيستلو کې مو لانجه شوه، ځکه زما يو تابوت خوښ و او د کرېګ بل. ما وويل چې د مغازې ډېر شيک او ډېر ګرانبيه تابوت بايد واخلو چې طلايي رنګه فلزي لاستي ولري او منځ يې نرم وي. د دې انتخاب په دليل نه پوهېدم. داسې لويه شوې وم چې د خيرغوښتونکو انسانانو تکراري خبرو او نصيحتونو ته مې اهميت نه ورکاوه. هغوی ويل چې پلار مې يوه ښه ځای ته تللی، د پرښتو تر څنګ دی، خو ما باور نه کاوه. ما ويل چې پلار به مې يوازې په يوه نرم او راحته تابوت کې آرمتيا ته ورسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر کرېګ باور درلود چې که پلار اوس ژوندی وای نو یو ساده او ارزانبینه تابوت به یې ټاکلی و او ویل یې چې دا شان تابوت زموږ له کورني وضعیت سره همغږي لري.

زموږ بحث په آرامۍ پیل شو، مګر ورو ورو پسې ستوغېده. مور مې خواشینې وه او یوازې یې موږ ته کتل. بلاخره خبره داسې شوه چې پلار به مې په معمولي تابوت کې خاورو ته سپارو چې نه ډېر شیک وي او نه هم ډېر ساده. زموږ ترمنځ بېځایه او مسخره شخړه وه. ګواکې داسې ښکارېدل چې دواړه د پلار په مړینه غوسه شوي وو.

بیا مې له مور سره کور ته راوګرزېدم. پخلنځي ته لاړم، هلته مې مېز ته وکتل، چې څلور څوکۍ ورته ایښي، خو کله مې چې څلورمې تشې څوکۍ ته وکتل، لا پسې غمجنه شوم. ډېر وخت ونه واته چې په ژړا مې پیل وکړ. اوږده موده هلته کېناستم او ومې ژړل، تر هغې مې وژړل چې نوره ستړې شوم. مور مې چې تر هغې شېبې څه نه و ویلي، بلاخره په خبرو راغله، اسوېلی یې وایست او ویې ویل: «خدایه، موږ وساته. سترګې مو پړسېدلې، ماغزه مو ستړي شوي، دلته پخلنځي کې ناست یو، په بده ورځ کې ښکېل یو. هسې نه چې هېر شوي مو دي چې موږ څوک یو؟»

بیا یې ما او کرېګ ته وکتل او موسکه شوه. له شک پرته که پلار مې وای، نو د هغې دا کار یې خوښېده؛ پر دې اساس موږ هم وخندل.

پلار مې یوازې ۵۵ کاله او سوزان یوازې ۲٦ کاله درلودل چې وفات شول. د دوی دواړو مړینې دا درس راکړ چې ژوند ډېر لنډ دی او باید ترې غفلت ونه شي. کله چې له دونیا تلم، نو دا مې نه خوښېدل چې هغه څوک مې یاده کړي چې د دوی له حقوقي متنونو او قراردادونو مې دفاع کړې وه. غوښتل مې چې له دې څخه زیات اغېز پر دونیا ولرم.

که څه هم تر دې دمه هم نه پوهېدم چې کومه دنده غواړم چې پیل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم، مګر خپله کاري مخینه مې ټایپ کړه او د شیکاګو څو شرکتونو ته مې ورواستوله. د ښار څو خیریه بنسټونو او سترو پوهنتونونو ته مې لیکونه ورواستول. له نېکه مرغه ځینو راته ځواب راکړ او د ملاقات ژمنه یې راسره وکړه. زه په تدریج سره پوه شوې وم چې د یوه تحصلي سند لرل نشي کولای چې ما هغې دندې ته وروبلي چې خوښېږي مې. په همدې خاطر د هر چا په اړه مې چې فکر کاوه چې مرسته راسره کولی شي، نو مشوره مې ورسره کوله. بلاخره یوه ورځ له غرمې وروسته مې د شیکاګو پوهنتون له حقوقي مشاور سره لیدنه وکړه. دا سړی ډېر مهربانه و چې آرت ساسمن نومېده. مور مې یو کال د ده مرستیاله وه. هغه وخت زه د ثانوي دورې د دویم ټولګي زده کوونکې وم. آرت ډېر حیران و چې ولې هغه پوهنتون ته نه یم ورغلې چې مور مې وګورم یا یې هم هلته احوال واخلم. په حقیقت کې زه د دې پوهنتون په څو کیلومترۍ کې پیدا شوې وم، مګر هېڅکله مې د شیکاګو پوهنتون په زړه ودانۍ کې پښه نه وه اېښې.

کوم دلیل مې هم نه درلود چې شیکاګو پوهنتون ته لاړه شم. د ښوونځي له خوا هم دې پوهنتون ته نه وو تللي او زموږ کومو خپلوانو یا دوستانو هم په دې پوهنتون کې زده کړې نه وې کړې. د دې هر څه لامل دا و چې مشهوره وه شیکاګو پوهنتون یوازې د غوره محصلینو لپاره دی. یادېږي مې چې کله به له پلار سره په موټر کې سپره وم او د دې پوهنتون له څنګه به تېرېدو، نو پلار به مې هغو محصلیو ته په غوسه و چې ناپامه به له سړکه تېرېدل. ده به یول: «داسې ښکاري چې دې کسانو ته دا نه دي ورښودل شوي چې څنګه له سړکه تېر شي.»

که څه هم مور مې یو کال هلته کار کړی و، مګر زموږ د کورنۍ نور غړي د دې پوهنتون په اړه په هېڅ هم نه پوهېدل. له همدې امله، کله چې ما او کرېګ غوښتل چې پوهنتون ته لاړ شو، نو فکر ته مو هم دا نه رسېده چې د دې پوهنتون د شمولیت غوښتنه دې وکړو. موږ فکر کاوه چې پرېنستون پوهنتون کې ژر منل کېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرت په حیرانۍ کې رانه وپوښتل: «یعنې تاسې هېڅکله دلته نه يئ راغلي؟»
ځواب مې ورکړ: «نه حتا يو ځل هم دې ځای ته نه یم راغلې.»

ناڅاپه راپه زړه شول چې که دې ښار کې ډلې ټپلې نه وای او ما د دې پوهنتون په اړه معلومات درلودلای، نو ډاډه وم چې دې پوهنتون کې به مې زده کړې کولې. مګر افسوس چې توروالی او د ښار په جنوبي برخه کې ژوند راته خنډ شول او ستونزې يې راته پيدا کړې، نو له همدې امله زه هم پر دې ونه توانېدم چې دې موخې ته ورسم. د آرت ساسمن په څېر سړی هم له دې ټولو بې خبره و.

په هر صورت، هغه ورځ آرت په مهربانۍ راته وويل چې خپل کاري سوابق ارايه کړم. بيا يې وويل چې ښه دا ده چې له سوزان سره خبرې وکړم. سوزان تقريباً پنځه لس کاله له ما مشره وه. هغې مخکې په يو ستر حقوقي شرکت کې کار کاوه. مګر بيا وروسته زما په شان له هغې شرکته راووته. آبي او خاکستري سترګې او روښانه پوست يې درلودل چې د يوې ويکتوريايي ملکې په شان ښکارېده. ډېره خندرويه وه. که څه هم ډېره تحصيلکرده او بافرهنګه وه، مګر بيا هم ډېره متواضع او فروتنه وه او بيا وروسته زما په همېشنۍ ملګرې بدله شوه. کله چې د دې خوا ته ورغلم. نو راته ويې ويل: «که زما په لاس کې وای، نو همدا اوس مې پر کار ګمارلې او ته نور لکه چې نه غواړې د وکالت په برخه کې دنده ترسره کړې.»

بيا نو سوزان يوه بل چا ته ورمعرفي کړم. دا هغه څوک وه چې څو ځله يې زما د ژوند مسير بدل کړ. والري جارت نومېده او د ښاروالۍ په ودانۍ کې يې کار کاوه. هغه هم زما په شان وکيله وه، مګر د دې لپاره چې خلکو ته خدمت وکړي، وکالت يې پرېښی و او د شيکاګو په هماغه جنوبي برخه کې يې ژوند کاوه.

کمه موده کېده چې والري د شيکاګو د ښاروالۍ د کارکوونکو د چارو په اداري برخه کې پر کار ګمارل شوې وه او د ښار له تور پوستانو سره يې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکه درلوده. هغه څکه ښاروالۍ ته راغلی و چې د هارولد واشنګټن پلوی او ملاتړې و. په ۱۹۸۳ کال کې زه په پوهنتون کې وم، په دې کال کې هارولد لومړنی تور پوستی و چې د شیکاګو ښار ښاروال شوی و. زبردسته او بالیاقته سیاستوال و، زما د مور او پلار ډېر خوښېده. څکه تل یې په خپلو خبرو کې د شکسپیر خبرې رانقلولې او په عین حال کې ډېر مهربانه انسان هم و. کله به چې د ښار په جنوبي برخه کې مراسم و، نو دی به ورتلو، له خلکو سره به یې کېناسته او له دوی سره به یې ډوډۍ خوړله. هغه د شیکاګو په اداري نظام کې له بډو ډېر بېزاره و او د انتخاباتو په وخت کې یې له خلکو سره ژمنه وکړه چې د ښار سیاسي نظام به بدلوي او د ښار له محرومو خلکو سره به مرسته کوي. ده به داسې جامې اغوستې چې روښانه رنګونه به یې لرل. ډېر زړور و او تل به یې د ښار له سپین پوستو چارواکو سره ناندرۍ وهلې. اسطوره‌یی روحیه یې لرله، د خلکو منځ کې محبوب و چې په باراک یې هم اغېز وکړ او د دې باعث شو چې هغه په ۱۹۸۵ کال کې د سازماندهۍ او کارموندنې کار پیل کړي.

والري د هارولد واشنګټن د شخصیت مینه‌واله هم وه. په ۱۹۸۷ کال کې چې هارولد د دویم ځل لپاره د ښار ښاروال شوی و، نو والري ۳۰ کلنه و چې ښاراوالۍ کې پر دنده وګمارل شوه. هغه مهال یې یوه کوچنۍ لور درلوده، مګر غوښتل یې چې ډېر ژر له خپل مېړه څخه طلاق واخلي. کله مې چې واورېدل چې هغې هم له یوه حقوقي شرکته استعفا کړې او ځانته یې یوه دولتي دنده ټاکلې، نو هیښه شوم. خو په ښاروالۍ کې یې د کار څو میاشتې نه وې تېرې شوې چې هارولد واشنګټن له هغه کنفرانس وروسته مړ شو چې د بېوزلو خلکو لپاره د مېشتنځایونو د جوړولو په اړه و. ناڅاپه قلبي حمله پرې راغلې وه. او د مېز شاته ځای پر ځای وفات شوی و. له دې ترخې پېښې وروسته سپین پوستي بیا راپاڅېدل او بلاخره ریچارډ ام دلي ښاروال شو چې د ښار د یوه پخواني ښاروال زوی و او په بډو او فساد کې یې نوم درلود. که څه هم والري د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاروال په صداقت او رښتینولۍ شک درلود، مګر بیا یې هم وپتېیله چې په ښاروالۍ کې پاتې شي. بیا وروسته یې ما ته وویل دا چې دنده یې بدله کړې وه، نو ډېره خوشحالي یې احساسوله. داسې وه چې د اسمانڅکو ودانیو د غیرواقعي شرکتي قوانیو څخه دې یو ځل یوې واقعي دونیا ته تللې وي.

د شیکاګو د ښاروالۍ ودانۍ یوولس پوړه وه چې بېلابېل ستر سالونونه یې لرل. یاد مې دي چې کله په دوبي او په یوه ګرمه ورځ کې د مرکې لپاره والري ته ورغلم، نو د ښاروالۍ ودانۍ کې ډېر شورماشور او بیروبار راته ښکاره شو. ځینې د واده لپاره راغلي و، ځینې د موټرونو د ثبت، او ځینې د شکایتونو لپاره چې د خپلو کورنو له خاوندانو څخه به یې شکایت درلود یا به یې کور ته د سړک پیپونه یا نور ودانیز پیپونه او داسې نور ورغلي و او دوی به ترې شکایت درلود. هلته خبریالان او د پارلمان غړي هم وو. ځینې کمشمېر بېوزلان او بې سرپناه کسان هم و چې له بهر ګرمۍ راتښتېدلي وو او د ښاروالۍ د ودانۍ ساړه ځای ته یې پناه راوړې وه. د ښاروالۍ په پیاده رونو کې ځینې سیاسي فعالان ولاړ وو، په لاسونو کې یې د شعارونو پوسترونه نیولي وو او شعارونه یې ورکول. البته چې په یاد مه نه دي چې هغه څه شي ته خوشبینه وه. مګر زما دا شورماشور او جنجالونه خوښېدل او د خلکو شتون خوشحالولم. داسې فضا مې مخکې هېڅېرې هم نه وه لیدلې. هغه ورځ داسې وه چې والري به شل دقیقې راسره مرکه کوي. مګر مرکه یو نیم ساعت ته وغځېده. والري یوه ډنګره تور پوستې وه چې روڼ پوټکی یې درلود. شیکه دریشي یې اغوستې وه او د خبرو په وخت کې به یې قهوه‌یي سترګې نورو ته په ځیره نیولې وې. د دې په شخصیت کې داسې څه و چې ما ته یې آرامتیا رابښله. بیا وروسته والري راته وویل چې هغه ورځ په ځای د دې چې هغه له ما سره مرکه وکړي، داسې ښکارېدل چې ګنې ما دې له هغې سره مرکه کړې وي. ډېرې پوښتنې مې ترې کړې وې. له هغې مې پوښتلي و چې د خپلې دندې په اړه څه احساس لري؟ آیا ښاروال خپلو ټیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوړو چارواکو ته اهمیت ورکوي او که نه؟ د ده چلن له هغوی سره څنګه دی؟

کلونه وروسته چې د هغه وخت په اړه بیا فکر کوم، نو وینم چې ما غوښتل چې له هغه چا پوښتنې وکړم چې زما په شان یې تېرمهال درلود، مګر څو ګامه وړاندې تللې وه او ما غوښتل چې خپلې تجربې راته ووایي. والري آرامه، زړوره او معقوله مېرمن وه چې ما غوښتل ترې زده کړم.

بلاخره هغه ورځ یې له مخه ښې وړاندې راته وویل چې د ښاروال د مرستیالې په توګه دنده ترسره کولای شې. ما ورته وویل چې ښه فکر به وکړم او بیا به تصمیم ونیسم. کال کې راته شپېته زره ډالره تنخا وړاندیز شوې وه، یعنې سیدلي شرکت کې مې چې کومه تنخا درلوده، د هغې نیمایي وه.

زه هېڅکله له هغې ډلې نه وم چې ښاروال او ښاروالۍ ته اهمیت ورکړم. ځکه، تور پوستې وم، د ښار په جنوبي برخه کې لویه شوې وم او له سیاست سره مې چندان نه لګېده. البته سیاست هم له تور پوستانو سره دومره جوړ نه و، ځکه موږ یې له ټولنې ګوښه کولو او شړلو او موږ ته یې فرصت نه راکاوه چې زده کړې وکړو، کار پیدا کړو او که کومه دنده به یې راکوله، نو تر سپین پوستانو به یې کمه تنخا راکوله. زما نیکونو او نیاګانو د نژادي تبعیض په وخت کې ژوند کړی و، له همدې امله دوی مسئولینو ته د شک په سترګه کتل. پلار مې ډېر وخت دولتي چارواکی و او د دې لپاره چې شغلي ارتقا وکړي، نو د دیموکرات ګوند لپاره یې فعالیتونه کړي وو. البته پلار مې هم د تبعیض په خاطر په ښاروالۍ کې ګوښه شوی و.

له دې ټولو سره سره، اوس ما غوښتل چې په ښاروالۍ کې کار وکړم. د هغې کمه تنخا راته سخته وه خو تر یوې کچې پورې مې ورسره زړه لګېده. ما ځانته خیالونه او هیلې لرل، خو اوس مې احساسول چې یوه داسې مسیر ته ورکاږل کېږي چې زما له خیالونو او هیلو سره توپیر لري. څو ورځې وروسته والري له ما سره اړیکه ونیوه او راته کړل یې چې ځواب دې څه دی، آیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاروالۍ کې کار کوي او که نه. ما ورته وویل چې اوس هم په دې موضوع سوچ کوم. بیا مې له هغې څخه یوه عجیبه او غریبه پوښتنه وکړه: «د دې امکان شته چې زه دې خپل نامزد ته ورمعرفي کړم؟»

دلته غوره بولم چې لږ تېرو ته ورستنه شم. زما د پلار له مړینې وروسته، په هماغه ګرم او اوږده دوبي کې باراک شیکاګو ته راغی چې له ما سره غمشریکي وکړي او زما په څنګ کې وه اوسي. بیا د خپلو زده کړو په خاطر بېرته هاروارډ ته لاړ. بلاخره د هماغه کال په مې میاشت کې له پوهنتونه فارغ شو، خپله ژېړه ډاکسن یې خرڅه کړه او زما خواته شیکاګو ته راغی. له ما سره په کور کې مېشت شو. موږ سره مینه کوله او اوس له دوه کاله بیلتون وروسته موږ کولای شول چې تل سره یو ځای واوسو. پر یوه کټ ویده شو، ورځپاڼې مطالعه کړو، د خوړو په خاطر رستوران ته لاړ شو او یو بل سره خپلې نظریې او هیلې شریک کړو. اوس به مو چې څه اخیستل، نو ګډ به د توکو پلورنځیو ته تلو، په ګډه به مو تلویزیون کتلو او کله به چې شپه کې ماته خپل پلار رایادېده او ژړل به مې نو باراک به زما ترڅنګ و، په غېږه کې به یې نیولم او د زړه ډاډ به یې راکاوه.

باراک اوس ډېر خوښ و چې د حقوقو د پوهنتون په وکالت څانګه کې یې خپلې زده کړې پای ته رسولي. ده په شور او شوق غوښتل چې پوهنتون او زده کړې پرېږدي او یوه واقعي دنده پرمخ بوزي. یو کتاب یې لیکلی و چې کیسه‌یز نه و، بلکې د نژاد او هویت په اړه وه. د دې کتاب امتیاز یې په نیویورک کې یوې خپرندویې ټولنې ته ورکړ. د انتشاراتو مدیر د پېشکي په توګه هغه ته څه پیسې ورکړې وې او یو کال یې ده ته وخت ورکړ چې کتاب بشپړ او بیا یې هغوی ته ورکړي.

اوس نو د باراک په مخ کې ګڼشمېر لارې وې چې کومه غوره کړي. د ده ستاینه د حقوقو د پوهنځي استادانو هم کړې وه او همدارنګه کله چې دی د هاروارډ د حقوقي مجلې مدیر ټاکل شوی و، نو نیویورک ټایمز پرې یو ګزارش

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم جوړ کړی و، څکه مشهور و. په دې خاطر د کار لپاره یې ډېر وړاندیزونه ترلاسه کړل. لکه د شیکاګو د پوهنتون د حقوقو پوهنځي ده ته وړاندیز وکړ چې ده ته به یو کوچنی دفتر ورکړي چې د یو کال موده کې خپل کتاب ولیکي او بیا که غواړي چې هلته درس ورکړي، نو استاد به شي. له بل پلوه په سیدلي شرکت کې زما همکارانو هیله درلوده چې باراک د فول ټایم کارکوونکي په توګه له دوی سره یو ځای شي او اته اونۍ دې له دوی سره کار وکړي، بیا دې په جولای میاشت کې د وکالت په ازموینه کې ګډون وکړي. ده خپله هم همدا فکر کړی و چې دیویس حقوقي شرکت ته ورشي. دې شرکت د ښاریانو د حقوقو او د مسکن په برخه کې فعالیت کاوه. د دې شرکت وکیلانو له هارولد واشنګټن سره ښه اړیکه هم درلوده چې همدا د دې باعث شول چې باراک هلته وروکاږل شي.

دا مې ډېر خوښ شول چې لیدل مې چې هغه زیات فرصتونه لري او د دې اندېښنه نه لري چې باید ببړه وکړي چې هسې نه فرصتونه یې له لاسه ووزي. باراک له ډېرو سختیو او هڅو وروسته پر دې توانېدلی و چې داسې موقعیت ته ورسي، مګر د ځینو نورو وکیلانو په شان نه و. نور وکیلان به چې همدا فارغ شول، لومړنۍ هڅه به یې دا وه چې له ښاره بهر یوه ګرانبیه بنګله او په ښار کې یو شیک اپارتمان او ګرانبیه موټر واخلي. ده نور ارمانونه درلودل. باراک باور درلود، انسان باید خپل اصول تر پښو لاندې نه کړي.

دا وخت ما له بېلابېلو کسانو سره مشورې او خبرې اترې کولې او په همدې بوخته وم چې وګورم څنګه کولای شم هغه دنده پرېږدم چې پرمختګ مې پکې کاوه او ښه تنخا یې هم لرله. کله به مې چې دوی ته وویل چې پوروړې یم او تر اوسه هم نه یم توانېدلې چې ځانته کور واخلم، نو هغوی به په ځیره ځیره راته کتل. تل به مې همدا فکر کاوه چې پلار مې هم همېشه په خپل ژوند کې سترې هیلې نه درلودې او له رېسک کولو وېرېده. تر اوسه مې هم د مور دا وینا په غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کړنګېده چې ویل یې: «لومړۍ پیسې او شتمني راټوله کړه او بیا دې د خوښیو اندېښنه کوه.» څه ته مې چې ډېره اندېښنه درلوده هغه دا وو چې مور غوښتل ډېر ژر ماشومان وزېږوو او که ما غوښتلای چې نوې دنده واخلم، نو له دې موضوع سره به مې څه کول.

باراک شیکاګو کې و. د ده شتون ماته ډېره آرمتیا او د زړه ډاډ راکاوه. هغه زما اندېښنې درکولې او زما خبرې یې اورېدلې. ده هم ټنیګار وکړ چې غواړي ماشومان ولري او همدارنګه کړل یې چې زه او ته دواړه د یوه وکیل هوسا او لوکس ژوند نه غواړو، نو ځکه ناڅرګنده راتلونکې مو په تمه ده. مګر له ځنډ پرته یې زیاته کړه چې بېوزلان نه یو او کولای شو چې ځان لپاره یوه روښانه راتلونکې جوړه کړو. هغه یوازینی کس و چې زه یې وړاندې تګ ته هڅولم. ما ته یې وویل چې اندېښنه له ځانه لرې کړم. پر ما یې ټینګار وکړ چې زړوره واوسم او رېسک ومنم. ډاډه یم که د رابینسون کورنۍ هر یوه غړي، زما له نیکونو نیولې زما تر پلار پورې، هر یوه دا خبرې اورېدلې، نو له شک پرته به چې دوی لړزېدل.

کوم وکیلان چې نوي له پوهنتونه فارغ شوي وو او غوښتل یې چې د وکالت په برخه کې کار وکړي، نو دوی باید یوه ازموینه ورکړې وای. دا ازموینه په دوو ورځو او ۱۲ ساعته موده کې ترسره کېده چې د اداري قوانینو او د معاملاتو د عجیبو او غریبو قوانینو او داسې نورو په اړه به وه. باراک هوډ درلود چې په دې ازموینه کې ګډون وکړي. ما هم درې کاله وړاندې کله چې له هاروارډ پوهنتونه فارغه شوم، نو د ایلینوی د وکالت په ازموینه کې مې ګډون کړی و. له هغې وړاندې مې، د ازموینې لپاره چمتوالی نیولی و، په بېلابېلو ټولګیو کې مې ګډون کړی و او ازموینتي ازموینې مې ورکړې وې.

د هماغه کال په دوبي کې کرېګ وپتېیله چې له جنیس سره په دنور ښار کې واده وکړي. دنور هغه ښار و چې جنیس پکې زېږېدلې وه. جنیس له ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښتل چې تر څنګ يې واوسم. ما هم له څنډ پرته ومنله او په مينه او تلوسه مې له دوی سره د واده په چارو کې مرسته وکړه چې دوی واده وکړي. په هر حال د ورور واده مې و. زه ډېره ورته خوشحاله او هيجاني وم. له هغې وروسته مې د وکالت ازموينه هم تېره کړه. د وکالت د ازموينې پايله د پوستخانې له لارې رااستول کېده. په همدې خاطر يوه ورځ په کار کې وم چې پلار ته مې زنګ وواهه او له هغه مې وغوښتل چې وګوري چې کوم ليک راته راغلی او که نه. هغه ځواب راکړ چې هو له اېلينوی ايالته درته ليک راغلی. ترې ومې غوښتل چې ليک پرانيزي او پايله وګوري. پلار مې له ځنډ وروسته راته وويل چې په امتحان کې ناکامه شوې يم.

زه په خپل ژوند کې په هېڅ ازموينه کې ناکامه شوې نه يم. مګر کله چې د وکالت په ازموينه کې ناکامه شوم، نو په رښتيا چې ځانته خجالت شوم. ما ټول هغه کسان ناهيلي کړي و چې ما زه يې روزلې وم. تر هغې شېبې به چې ما هره ازموينه درلوده، نو ډېره هڅه به مې کوله چې ډېره مطالعه وکړم او کوښښ مې کولو چې په ازموينه کې بريالۍ شم. خو کله چې د وکالت ازموينه کې ناکامه شوم، نو پوه شوم چې په ذاتي توګه زه د دې ځانګې لپاره پيدا شوې نه يم. ما هيله لرله چې له خلکو سره په اړيکه کې واوسم، نه دا چې ګزارشونه وليکم، دوسيې جوړې کړم او تړونونه لاسليک کړم. په هر حال، له ماتې مې بد راتلل، نو ځکه د هماغه کال په مني کې مې بيا وپتېيله چې په يوه بله ازموينه کې ګډون وکړم. هر څه چې وو، زما غرور له خاورو سره خاورې شوی و. بلاخره ازموينه مې ورکړه او په ډېره اسانۍ کامیابه شوم.

اوس له هغې وخته څو کاله تېرېدل، باراک غوښتل چې دې ازموينه کې ګډون وکړي، د ده ازموينې ماته تېر يادونه رایاد کړل. هغه هم په هغو ټولګيو کې ګډون وکړ چې دې ازموينې ته يې خلک روزل. هر څېرته به چې تله، نو د ازموينې لارښود کتابونه به ورسره وو. مګر داسې يې نه ويل چې ګواکې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازموینه زیاته جدي انګېري. په هر حال، مور سره توپیر درلود. د باراک ماغزه له اطلاعاتو ډک وو چې هر وخت به یې غوښتل نو له هغې یې ګټه اخیستلی شوای.

د ۱۹۹۱ کال د جولای په ۳۱ ورځ باراک ازموینه ورکړه، له ازموینې وروسته مور د ښار یوه رستوران ته لاړو او له نتیجې اخیستلو وړاندې مو خوښي ولمانځله. دا روستوران زموږ دواړو خوښېده، ښه معماري یې درلوده، هنري و، رڼا یې مناسبه وه، پر مېزونو یې سپینې او چینداری سرمېزی پرتې وې او همدارنګه خوندور خواړه یې لرل لکه د خاویاري کبانو خاویار (هګیو ته ورته یو ډول ګرانبیه خواړه دي چې له خاویاري کبانو ترلاسه کېږي: ژباړن) او آرتیچوک (یو ډول ترکاري ده چې ګلپي ته ورته شکل لري: ژباړن).

له اصلي خوړو مو وړاندې سوپ او مارتیني راوغوښتل. بیا مو اصلي خواړه هم له ځانګړي څښاک سره وخوړل. بیا په خبرو راګرم شوو. چې خواړه مو پای ته ورسېدل، باراک موسک شو او د واده موضوع یې راوړاندې کړه. ویې ویل چې له ما سره مینه لري، مګر اوس هم د واده له مراسمو سره ستونزه لري. ناڅاپه مې احساس کړل چې وینې مې په اننګو کې راغونډېږي. ګواکې داسې ښکارېدل چې په وجود کې مې د اخطار یوه تڼۍ روښانه شوې وه. مور ډېر د واده په اړه سره غږېدلي وو، مګر کومه پایله مو ترې نه وه اخیستې. په هر حال، زه یوه سُنتي پېغله وم، مګر باراک داسې نه و. مور دواړه وکیلان و، نو په دې اړه مو باید په منطقي توګه خبرې اترې کړې وای. زموږ شاوخوا د روستوران نارینه او ښځینه مېلمانه ناست و، ځینو یې رسمي جامې اغوستې وې، ځیني بیا په شیکو جامو کې راغلي وو، مور هڅه کوله، چې خبرې مو پورته نه شي. په ډاډ مې ترې وپوښتل: «که یو بل ته ژمن یو، نو بیا ولې دا ژمنه باید رسمي نه کړو. د دې کار له کوم ځای سره ستونزه لرې؟» بیا مو یو بل ته هماغه تکراري خبرې وکړې. دلته باراک له ما نه وپوښتل چې زه څه ستونزه لرم چې دا واده رسمي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم. زموږ ناندرۍ همداسې پسې وغځېدې. له يو بل نه مو پوښتنې کولې او مقابل لوري هڅه کوله چې د وکيلانو له لحن سره سم ځواب ووايي. بلاخره له څو دقيقو وروسته ګارسون راغی، يو سرپټی قاب ورسره و، قاب نقره‌يي سرپوښ درلود، ګارسون قاب زما پر وړاندې کېښود، سرپوښ يې ترې ېرته کړ، مګر زه دومره عصباني وم چې هېڅ مې ورونه کتل چې منځ کې يې څه دي. هغې کې د يوه کېک پر ځای يو بخملي قوطی و. په قوطي کې يوه ګوتيې وه چې د الماسو غمی يې درلود. باراک د شوخۍ له مخې په ما کې سترګې وګنډلې. په واقعيت کې دا جر و بحث يو ډول نمايش و. ده ماته هغه خبرې کړې وې چې د واده د بې معناوالي په اړه وې. اوس نو هغه دوسيه پای ته رسېدلې ښکارېده. باراک زما پر وړاندې په ګونډو شو، په عاطفي حالت کې يې رانه وپوښتل چې آيا د دې افتخار ورکوم چې ورسره واده وکړم. بيا وروسته پوه شوم چې هغه مخکې زما مور او پلار ته هم ورغلی و او هغوی يې راضي کړي وو. کله مې چې هلته د «هو» ځواب ورکړ، نو څوک چې په روستوران کې وو، ټول پاڅېدل او لاسونه يې وپړکول. باراک ته مې هو وويل، له دې وروسته مې بيا والري جارډ ته هم مثبت ځواب ورکړ او ومې منله چې په ښاروالۍ کې کار وکړم. خو له هر څه نه وړاندې مې هغه ماښامي ته راوبلله چې له باراک سره آشنا شي او موږ سره خبرې وکړو. له دې کاره مې دوې موخې درلودې، يوه دا چې والري مې خوښېده، که دا دنده مې منلې وای يا مې نه وای منلې، مګر بيا مې هم غوښتل چې له هغې سره زياته آشنا شم. دا مې حتمي ګڼله چې دا به په باراک هم اغېزه وکړي. خو له ټولو مهمه دا وه چې غوښتل مې باراک د والري کيسه واوري. ځکه والري هم د باراک په څېر خپل ماشومتوب په بل هېواد کې تېر کړی و. پلار يې د ډاکټر په توګه په ايران کې کار کاوه. څه موده يې پلار په ايران کې کار کړی و، مګر بيا وروسته متحده ايالتونو ته راغلی و چې والري خپلې زده کړې وکړي. باراک دې ته اندېښنه درلوده چې زه په ښاروالۍ کې کار کوم. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم د والري په شان هارولډ واشنګټن خوښېده، خو د ښاروالۍ هغه پخوانی سیستم یې نه خوښېده چې ریچارډ ام ډېلي جوړ کړی و. په هر حال دی څو څو واره د خلکو د حقونو د ملاتړ په خاطر اړ شوی و چې د ښار له شورا سره ښکر په ښکر شي، مګر له دې سره سره یې ماته تل د زړه ډاډ راکاوه چې ناهیلې نه شم.

والري خپل ژوند داسې برابر کړی و چې د واشنګټن لپاره کار وکړي. خو د واشنګټن له مړینې وروسته هغه په رڼه میدان پاتې وه. دا زموږ امریکایانو لپاره یو درس و. موږ هم په شیکاګو کې د اصلاحاتو لپاره خپلې ټولې هیلې د یوه شخص پر اوږو وربارولې، خو داسې مو نه کول چې د خپل ښار سیاسي جوړښت داسې ورغوو چې د محرومانو له حقوقو ملاتړ وکړي. تور پوستو او لیبرالو رایو ورکوونکو، واشنګټن ته د خپل ناجي په توګه کتل. داسې کس ورته ښکارېده چې کواګې هر څه بدلولی شي. دا هغه کس و چې باراک او والري یې هڅولي وو چې له خصوصي برخې راووزي او ټولنیز فعالیتونه ترسره کړي. خو کله چې هارولد واشنګټن وفات شو، نو مدني فعالین پر رڼه میدان پاتې شول.

والري احساسول چې د واشنګټن له مړینې وروسته باید همداسې په ښاروالۍ کې پاتې شي. دې ویل چې راتلوونکی ښاروال، یعنې ډېلي به ترې ملاتړ وکړي. په هر حال، د دې هوډ او ارادې پر ما او پر باراک اغېز وکړ او په هغه ماښامي مېلمستیا کې مو نور احساس کړل چې والري زموږ د ژوند یوه برخه شوې ده. هغه شپه کې درېواړو وپتېیله چې دې اوږده لاره کې سره یو ځای واوسو او له یو بله ملاتړ وکړو.

اوس نو موږ په رسمي توګه کوژده کړې وه. زه په ښاروالۍ کې په نوې دنده ګمارل شوې وم او باراک هم له دیویس حقوقي شرکت سره تړون کړی و. یو بل کار مو هم باید ترسره کړی وای، هغه دا چې باید رخصتیو ته تللي وای. د اګست میاشتې په وروستیو کې مو فرانکفورت ته سفر وکړ. هلته اوږده موده تم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو. غوښتل مو کنیا ته لاړ شو. په شنه سهار کې نایروبي ته ورسېدو. ما احساس کړل چې یوې کاملاً متفاوتې دونیا ته راغلې یم. مخکې جامایکا، باهاما او اروپایي هېوادونو ته تللې وم، خو دا لومړی ځل و چې احساسول مې چې له خپل کوره لرې شوې یم. د سهار سپېدې وې. زما په ټول وجود کې یوه عجیب او غریب احساس غځونې کړې وې چې زما ډېر خوښېده. د دې ځای هوا کې د سوځل شوو لرګیو یا تېلو، یا د ګلونو د عطرونو یا د بوټو د وړمونو بویونه ګډ شوي وو. د دې ځای د لمر رڼا هم له نورو ځایونو سره توپیر درلود.

د باراک مېرېزۍ خور اوما هوایي ډګر ته زموږ هرکلي ته راغله. هغوی یوازې څو ځله سره لیدلي وو چې وروستۍ دیدن یې هم شپږ کاله وړاندې و چې اوباما شیکاګو ته راغلی و. مګر دوی دواړو صمیمانه او ژوره اړیکه لرله. اوما له باراکه یو کال مشره وه. د اوما مور ګریس کیزیا نومېده. کله چې د اوباما پلار په ۱۹۵۹ کال کې د زده کړو په خاطر له نایروبي څخه هاوایي ته لاړ، نو مېرمنې یې ترې حمل درلود. هغه مهال یې یو بل زوی هم درلود چې تي‌خوری و او ابونګو نومېده. د شپېتمې لسیزې په وروستیو کې چې کله د باراک پلار بېرته کنیا ته راوګرزېد، نو دوه نور ماشومان یې هم پیدا شول. د اوما پوستکی د سکرو په شان و، سپین غاښونه یې درلودل او په غلیظه انګلیسي غږېده. زه دومره ستړې وم چې خبرې مې نشوای کولای، خو کله چې د اوما د فولکس واکن په وروستۍ څوکۍ کې کېناستم نو د لارې په منځ کې مې پام شو چې د اوما موسکا څومره باراک ته ورته ده. اوما ته هم د کورنۍ هوښیاري په میراث رسېدلې وه. هغه کنیا کې ستره شوې وه او کله کله به هلته اوسېده هم. خو زده کړې یې په آلمان کې کړې وې او دکتورا یې اخیسته وه. دې په انګلیسي، آلماني، سوآهیلي او همدارنګه په خپلې کورنۍ سیمه‌یزې ژبې خبرې کولای شوې. هغه هم زموږ په شان د خپلې کورنۍ د لیدلو لپاره کنیا ته راغلې وه. اوما ما او باراک ته په داسې یوه اپارتمان کې ځای راکړ چې د دوستانو یې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکې سترې کړې وم، حالت مې ښه نه و، له ځایه نه شوای خوځېدلای، ژبه مې وچه وه او خبرې مې نه شوای کولای. د نایروبي کوڅې او سړکونه له پلیو کسانو، له بایسکل چلوونکو، له موټرو او له بسونو ډکې وې. په بسونو نقاشۍ شوې وې او ځینې دوعا ګانې پرې لیکل شوې وې. ځینې موټر به بار هم وو چې بارونه به د موټر پر چت باندې په کلکو رسیو تړل کېدل. ځینې کسان به په بسونو پسې سرېښ هم وو.

هلته افریقایي هېواد و. عجیبه او له بیروبار ډک هېواد چې نوی ودان شوی و. د اوما ابي رنګ فولکس موټر هم دومره پخوانی و چې کله به ګولېده، بیا به موږ ټېله کولو چې چالان شي. یوه ورځ مو څو څو ځله د اوما موټر ټېله کړ، له یوې ورځې وروسته ما ولیدل چې نوي سپین بوټونه مې د نایروبي د خاور په شان سره شوي. باراک وړاندې هم دې هېواد ته راغلی و. ځکه د راحتۍ احساس یې کاوه. زه که څه هم تور پوستې وم، مګر هلته مې د سیلانیانو په شان ځان پردی احساساوه. ما د ساده‌ګۍ له مخې انګېرل چې دا قاره زما مورنۍ ځمکه ده او په دې راتګ ورسره لا نژدې کېږم. مګر خواشینې شوم او احساسول مې چې په دواړو قارو کې زموږ ریښې بېلې دي.

هلته مو په راتلونکو ورځو کې همداسې د پردیتوب احساس کاوه. د دواړو ستونې هم خوړېدل. داسې ښکارېده چې ګواکې ستړیا د دې باعث شوې چې له حده زیاته حساسه واوسم. بلاخره له باراک سره مې نانديۍ شوې. دعوې او دنګلې مو ووهلې. د هغه له لاسه زیاته غوسه وم او احساسول مې چې زما او ده ترمنځ هېڅ کوم ګډ ټکی نشته. د هغو نامزادانو په شان وو چې د ژوند په پیل کې سره نانديۍ وهي. په معمولي توګه، هغه وخت به غوسه کېدو او وینې به مو ژر په جوش راتلې چې سترې به وو. په داسې وخت کې به زه د سرې مرمۍ په څېر کېدم او نه مې شول کولای چې د خپل چلن او غوسې مخه ونیسم. خو باراک به آرامه و او په آرامۍ به یې خبرې کولې. کلونه یې وغوښتل چې پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شوم چې دا چلن له خپلو والدینو راته په میراث پاتې او په تدریج پوه شوم چې څنګه کولای شم چې پر خپلې غوسې غلبه وکړم. اوسمهال ډېرې ورو سره دعوې او دنګلې کوو او معمولاً ډېر ژر سره مهربانه کېږو او له یو بل سره مینه کوو.

د بلې ورځ په سهار په نایروبي کې له خوبه تکړه راپاڅېدم. اوس مې روحیه تازه وه. اوما مو د ښار په مرکز کې د رېل‌ګاډو په تمځای کې ولیده. درېواړه په رېل‌ګاډي کې سپاره شو او د باراک د کورنۍ د نیکونو کلي ته مو حرکت وکړ. زموږ سره د رېل‌ګاډي په واګون کې نور کنیایان هم ناست و. له دوی سره پېټي و چې ژوندي چرګان یې پکې اچولي وو. ځینې نورو بیا چې کوم توکي په ښار کې اخیستي وو، هغه یې له خپلو پښو سره اېښي وو. زه له ښیښې سره ناسته وم او پر دې مې فکر کاوه چې یوه شیکاګویي وکیله کې څنګه بدلون راغلی او څنګه مې تر خوا یو داسې سړی ناست دی چې په یوه باراني ورځ کې مې دفتر ته راغی او څنګه یې پر خپل عجیب نامه او خپلو شوخو موسکاوو زما ټول ژوند بدل کړ. هماغه شېبه موږ د افریقا په ډېر ښېوزله ښار کې تېرېدو، د سړکونو شواوخواوو ته ګردې کوډلې او له خاورو او خځلو ډکې لارې وې او فقر او فلاکت له ورایه پکې ښکارېده. داسې خواشینې کوونکې صحنه مې هېڅکله نه وه لیدلې.

څو ساعته چې په رېل‌ګاډي کې و، باراک کتاب لوستلو، مګر ما له ښیښې بهر ته کتل او ومې لیدل چې څنګه د نایروبي له ګڼوډو او بېوزلو ودانیو تېر شوو او شنې سیمې کیسومو ته ورسېدو. زه، باراک او اوما له رېل‌ګاډي پلي او د وروستي ځل لپاره په ماتاتو بس کې سپاره شو. اوږده لار مو ووهله، چې ډېره پېچلې وه، ګړنګونه یې درلودل ، پخه نه وه او تېرې یې درلودې. له دې وروسته د باراک د نیا کلي ته ورسېدو چې کوهیلو نومېده.

زه به د کنیا د هغې برخې سره خاوره هېڅکله هېره نه کړم. دا خاوره غني خاوره وه. ماشومانو چې ولیدو رامنډې یې کړل، دوی ټول په دې سره خاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ککړل وو. کله چې د باراک د نیا کور ته ورورسېدو نو درې واړه تږي او خولې وو. د کور هره برخه له سیمانو رغلېدلې وه. په انګړ کې یې پالېز (باغچه) هم و چې بېلابېلې ترکارۍ پکې کرل شوې وې. د باراک نیا څو غواوې هم درلودې. هغې ته ټول سارا انا ویل. لنډۍ او هډوره مېرمن وه چې کله به یې خندل نو په مخ کې به یې ګونځې معلومېدې. انګلیسي خو یې بېخي زده نه وه، یوازې په لویو ژبه غږېده. زموږ لیدلو ډېره خوشحاله کړه. کله به چې د هغې تر څنګ درېدم نو ځان به مې دنګ احساساوه. ما ته یې په ځیره ځیره کتل، زما لاسونو او پښو ته یې کتل، غوښتل یې پوه شي چې د کوم ځای یم او ولې د هغې کور ته ورغلې یم. له ما یې لومړۍ پوښتنه دا وه چې مور دې سپین پوستې ده که پلار دې؟ ما یې په ځواب کې وخندل او د اوبا ما په مرسته مې هغې ته وویل چې زما ټول نیکونه تور پوستي دي او موږ ټول د امریکا یو. سارا نیا زما خبرو ته وخندل. ګواکې داسې ورته ښکاره شول چې زما خبرې د خندا وړ دي. حتا کله چې باراک ونه توانېده چې په سیمه‌یزه ژبه ورسره خبرې وکړي، مګر بیا یې هم ټوکې کولې. زه هیښه شوم چې هغه به ډېره ژر خوشحالېده او خندل به یې کله به چې مازیګر شو، موږ ته به یې چرک حلالاونه او پخولو به یې. دا وخت نو د سارا نیا کور ته د هغې ګاونډیان او خپلوان هم راتلل چې له زلمي اوباما سره وګوري او ما او باراک ته د کوژدې مبارکي راکړي. کله به چې هوا تیاره شوه، خواړه به مو وخوړل. هلته کلي کې برېښنا نه وه. زرګونه ستوري به په اسمان کې ځلېدل. په یوه کوچنۍ خونه کې به د باراک تر څنګ پرته وم او د چرچرکانو او نورو حیواناتو غږونه به مو اورېدل. دې پراخ هېواد او د هغې د اسمان ستورو هیجانی کړې وم. له باراک سره د کوژدې له لارې مې یوه کنیایي نیا هم پیدا کړې وه چې له ما سره یې ډېره مینه درلوده. له خپلې محدودې نړۍ راوتلې وم او اوس نو هر څه راته د خوښې وړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۲

ما او باراک د ۱۹۹۲ کال په اکتوبر میاشت کې واده وکړ. شنبې ورځ وه. لمر ځلېدو. واده مو په ترېنتي یونایتد کلیسا کې و. له درې سوو زیات کسان راغلي وو، زموږ خپلوان و او زموږ دوستان. موږ چې کومه کلیسا کې واده وکړ، د ښار په جنوبي برخه کې وه. ځنګه چې دا واده په شیکاګو کې و، نو نه مو شول کولای چې ټول خپلوان او دوستان خبر نه کړو. همدا لامل و چې د واده مراسم پراخ شول. زما کورنۍ ریښې ژورې وې. د تره، ترور، تروریۍ او ماما اولادونو مې خپله اولادونه لرل او ما نه غوښتل چې کوم څوک له لیسته وباسم. زموږ واده ته د دوی ټولو راتګ ښکلا او ځلا رابښله.

تروریانې، تره، د مور ټول خپلوان، پخواني دوستان او حتا د ښوونځي د دورې دوستان مې هم رابللي وو. ګاونډیان مو هم راغلي وو. اغلې سمېټ هم راغلې وه چې د ویتني یانګ ښوونځي د مدیر مرستیاله وه او په یوکلید سړک کې موږ ته نژدې اوسېدل. دوی له موږ سره په مراسمو کې مرسته وکړه. مخامخ ګاونډیان مو ښاغلی ټامسون او آغلې ټامسون د موسیقي آلې هم راوړې وې او موږ ته یې ساز جوړ کړ. سانتیتا جکسون هم راغلې وه، مُشکي جامې یې اغوستې وې، غاړه یې ترې معلومېده، زما تر ځنګ به ولاړه وه او راسره ملتیا یې کوله. د سیدلي شرکت پخواني همکاران او په ښاروالۍ کې مې خپل نوي همکاران هم رابللي وو. د باراک حقوقي همکاران او همدارنګه د ده پخواني ملګري هم راغلي و چې د تور پوستانو سازمانونه یې جوړ کړي وو. د باراک د ښوونځي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دورې ملګري او د ده ځينې کنيايي خپلوان هم و چې رنګارنګ افريقايي خولۍ يې پر سر کړې وې. له بده مرغه د باراک نيکه تېر ژمي کې د سرطان له امله وفات شوی و. خو مور او نيا يې راغلې وې. واده ته له دوو بېلو قارو څخه د ده مېرېزې خويندې هم راغلې وې. لومړی ځل و چې زما کورنۍ او خپلوانو د باراک کورنۍ او خپلوان په هغو مراسمو کې ليدل چې دا زموږ د خوشحالۍ سبب کېدل.**

**د اوباما څو فرهنګي خپلوان وو. همدارنګه رابينسون کورنۍ وه. د خوښۍ او ښادۍ څپې د کليسا په هر ګوټ ګوټ کې وې. کرېګ مې تر لاس ونيو. هغه هم زه تر لاس ونيوم، دهلېزه ته يې بوتلم چې د کليسا منځ کې و. کله چې د کليسا محراب ته ورسېدم، پر مور مې سترګې ولګېدې چې په لومړۍ ليکه کې ناسته وه، تورې جامې يې پر تن وې او په ډېر غرور يې ماته کتل. د پلار غم مې تر اوسه ګاللو، خو که دی هم وای، نو همدا به يې غوښتل. موږ هڅه کوله چې ژوند ته ادامه ورکړو.**

**د هغې ورځې پر سهار چې باراک له خوبه پاڅېد، شديد سردرد يې درلود. خو همدا چې کليسا ته رادننه شو، سردرد يې په عجيبه توګه ښه شو.**

**رسمي او کرايي درېشي يې اغوستې وه. ځل بل چرمي بوټونه يې په پښو وو چې نوي يې اخيستي وو. د کليسا په محراب کې په ځانګړي ځای کې ولاړ و او په خپلو خوشحاله سترګو يې ماته کتل. واده د ده لپاره يوه پېچلې او مبهمه موضوع وه. خو په هغو څوارلسو مياشتو کې چې موږ کوژده کړې وه، ده هېڅکله داسې خبره نه وه کړې چې د انصراف يا شاتګ په اړه دې وي. که څه هم باراک ويلي وو چې له شيکو او ځل بلې مراسمو سره علاقه نه لري، مګر په هغه شېبه کې يې هر څه ته په مينه کتل او د هر څه په اړه يې خپل نظر څرګنداوه. په کليسا کې له محفلي ګلانو نيولې د خوړو او ښناک تر ډولونو پورې چې خوړل او څښل کېدل. خاصه سندره مو ټاکلې وه. سندرغاړې سانتيتا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې په خپل خوندور غږ یې له پیانو سره زمزمه کوله. سندره د ستیوي واندر وه چې «موږ دواړه دونیا فتح کولی شو» نومېده. دا سندره په هغه البوم کې هم وه چې نیکه مې راته ډالی کړی و او د ښوونځي په دریېیم یا څلورم ټولګي کې مې اورېدلې وه. هر کله به چې له نیکه کره تلم، نو د دې سندرې صفحه به مې رااخیسته، په دسمال به مې پاکوله او په ګرامافون کې به مې اېښوده، سندره به چالانېده، یوازیتوب کې به مې اورېده، خوند به مې ترې اخیست او ما به هم زمزمه کوله: «موږ دونیا فتح کولی شو، ځکه زه او ته یو بل سره مینه لرو».

هغه مهال له نهه کلنۍ نه وم اوښتې او د مینې، ژمنې یا د نړۍ د فتحې په اړه په څه نه پوهېدم. یوازې به مې ښکلي څیزونه په خپل ذهن کې لاندې باندې کول. احتمالاً اتلان مې هم مایکل جېکسون یا خوزه کاردینان یا زما د پلار په شان څوک وو. خو اوس ترینیتي کلیسا کې ولاړه وم، ښاده او زړه راښکوونکې فضا وه. کله چې باراک د تور پوستانو سازمانونه جوړول نو دې کلیسا ته یې تګ راتګ کړی و. خو په دې وروستیو کې زه، هغه او زموږ ځینې نور تور پوستي دوستان د هغې غړي شوي وو. د کلیسا کشیش جرمیا رایس نومېده چې پېژندل شوی ویناوال و او د ټولنیزې برابرۍ لپاره یې مبارزه کوله. همدا کس و چې زموږ د واده مراسم یې ترسره کړل. لومړی یې ټولو هغو کسانو ته ښه راغلاست وویل چې په کلیسا کې وو. بیا یې زموږ د واده چلې پورته کړې چې ټول یې ووینې، بیا یې د واده په اړه څو ښکلې او له معنا ډکې جملې وویلې. ما او باراک د یو بل لاسونه نیولي وو، نو لوړه مو وکړه چې د عمر تر پایه به سره یو ځای اوسو.

د دې مراسمو برم او پرتم زما لپاره ډېر مهم و. خو عین حال کې پوهېدم چې تر ټولو مهمه زما او د باراک ترمنځ د انساني اړیکې ساتل دي او نه مې غوښتل چې دا موضوع هېڅکله هېره کړم. ما ایمان درلود چې هغه سره ګډ ژوند کولای شم او کله به مې چې هغه ته کتل، نو ډېره زیاته به ډاډه شوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم زموږ د اړیکې په اړه همدا احساس لري. هغه ورځ نه ده وژړل او نه ما. کله مو چې خبرې کولې، نو غږونه مو هم نورمال وو. د مراسمو بله برخه داسې وه چې له کلیسا وروسته له مېلمنو سره د پذیرایۍ سالون ته لاړ شو، وخورو او وڅښو، ونځېږو او ښاد واوسو.

په پام کې مو نیولې وه چې د خوړلنۍ میاشت به شمالي کالفورنیا کې تېروو. هلته به څښل کوو، د گلونو حمام ته به ځو او ښه خواړه به خورو. له همدې امله، کله چې واده پای ته ورسېد، نو د واده په سبا مو، ټېکټ وکړ او سانفرانسیسکو ته لاړو. څو ورځې مو ناپا کې تېرې کړې، بیا بیگسور ته لاړو چې په آرمتیا کې کتابونه ولولو، په آبي رنگه سمندر کې سترگې وگنډو او خپل ذهنونه له هر څه نه پاک کړو. که څه هم دا وخت د باراک ناروغي ببرته راگرزېدلې وه، سر یې درد کاوه او رېزش وو، د گلونو حمام هم موږ ته چندان آرمتیا را نه کړه، مگر په ټوله کې مو ښه وخت تېر کړ.

د یوه بشپړ کاري کال له تېرولو وروسته زه او باراک چمتو وو چې استراحت وکړو. باراک پتېیلې وه چې خپل کتاب پای ته ورسوي او په یوه نوي حقوقي شرکت کې پر کار بوخت شي. خو دا ټولې برنامې په ناڅاپي توگه گډې وډې شوې. د ۱۹۹۲ کال په لومړنیو کې د یوه غیرگوندي سازمان څو غړو د پروژې په نامه له ده سره اړیکه ټینگه کړه. دوی هغو ایالتونو ته تلل چې هلته د تور پوستو رای ورکوونکو شمېر ډېر کم وو او هڅه یې کوله چې رای ورکوونکي رای ورکولو ته وهڅوي. هغوی له باراکه وغوښتل چې په شیکاگو کې یوه نمایندگي پرانیزي او مخکې له دې چې د نومبر انتخابات راورسېږي، تور پوستي نوم لیکنه وکړي. شمېرنو ښودله چې په اېلینوی ایالت کې څلور سوه تور پوستي د رای ورکوونې د شرایطو وړ دي. اکثره دا کسان په شیکاگو او د هغې شاوخوا کې وو چې تر دې دمه یې نوم لیکنه نه وه کړې.

که څه هم دې کار کمه تنخا درلوده، خو دا مسئولیت د باراک له افکارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



باورونو سره سم و. همدا د رای ورکوونکو د راټولولو سازمانونه وو چې په ۱۹۸۳ کال کې یې هارولد واشنګټن بریالی کړ. یوه تور پوستې کاندیده وه چې کارول موزلي براون نومېده. دا پر دې توانېدلې وه چې د دیموکرات ګوند له خوا په سنا مجلس کې بریالۍ شي او اوس په ۱۹۹۲ کال کې شونې وه چې په انتخاباتو کې کمې رایې وګټي. سربېره پر دې، ولسمشریزې ټاکنې هم وې چې بېل کلینټن له جورج ډبیلیو بوش سره سیالي کوله. د دې وخت رارسېدلی و چې تور پوستي رای ورکوونکي میدان ته وردننه شي. د پروژې موخه دا وه چې هره اونۍ په ایلینوی کې د لسو زرو رای ورکوونکو نوم لیکنه وکړي. باراک او د ده همکاران په ټول پسرلي او ټول دوبي کې ډېرو کلیساوو ته ورغلل او حتا کور په کور په خلکو پسې وګرځېدل چې له هغو کسانو سره خبرې وکړي چې د رای ورکوولو لپاره یې نوم لیکنه نه وه کړې. باراک تل د ټولنیزو سازمانونو له مدیرانو سره په اړیکه کې و او له نیکوکاره شتمنو افرادو سره به یې خبرې کولې چې د تور پوستو په سیمه کې د انتخاباتو د رادیویي خبرتیاوو او د بروشرونو په لګولو کې او د کور جوړونې په پروژو کې مرسته وکړي. د دې سازمانونو پیغام هماغه و چې باراک هم پرې باور درلود: «په رای ورکولو کې ځواک دی. که غواړې چې په ژوند کې دې بدلون راولې، نو د انتخاباتو په ورځ کور کې مه پاتې کېږه.»

کله به چې شپه کېده، باراک به کور ته راتله، په کوچ کې به غځېده او تل به یې د سګرېټو بوی ورکاوه. مګر هماغسې باارداه او پرېکنده و. د هغو کسانو نومونه به یې شمېرل چې ثبت کړي به یې وو. خو تر اوسه هم د خپلې خوښې وړ شمېر ته نه و رسېدلی. باراک تل پر داسې لارو چارو فکر کاوه چې وشي کولای د رای ورکولو لپاره زیات داوطلبان راټول کړي او همدارنګه نور شتمن کسان پیدا کړي چې د مرستې لپاره یې رامیدان ته کړي. ما ته یې ویل د نورو په پرتله د ځوانانو راضي کول ډېر ستونزمن دي چې راضي شي. ځکه داسې ښکارېدل چې له ۱۸ کاله څخه تر ۳۰ کالو ځوانانو پر دولت باندې چندان باور نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا يو کال کېده چې ما هم د ښاروال په دفتر کې د والري ترڅنګ کار کاوه. زما دنده دا وه چې د ټولنيزو خدماتو او د روغتيايي خدماتو د سازمانونو اړيکې له دولتي برخو سره ټينګې کړم. زما بله دنده هېڅکله محدوده نه وه. له زياتو کسانو سره مې سرو کار درلود چې ما ته يې انرژي راکوله او کار يې راته جذابه کاوه. مخکې مې داسې ځای کې کار کاوه چې غلی مګر شيک دفتر يې درلود او کړکۍ يې د سين پلو ته وې چې زه به پکې تل د ګزارشونو په ليکلو او د متنونو په خلاصه کولو بوخته وم. خو اوس مې په داسې دفتر کې دنده ترسره کوله چې هېڅ کړکۍ يې نه درلودې او د ښاروالۍ د ودانۍ په لوړو پوړونو کې و. دلته به نو د ښاريانو ډېر شورماشور وو.

په تدريجي توګه مې زده کړل چې دولتي ستونزې او مسايل پېچلي او بې پايه دي. تل به مې د بېلابېلو برخو له مسئولينو سره غونډې جوړولې او کله ناکله به د شيکاګو ښار مختلفو برخو ته تلم چې د ښاريانو شکايتونو ته رسيدګي وکړم. کله کله به د هغو وچو ونو د ارزونې لپاره تلو چې بايد پرې شوې وای. روحاني پلرونه به چې د ترافيکو او د کثافاتو د وړلو له سيستم څخه ځورېدل، نو مورږ به ورسره خبرې کولې او حتا يو ځل د ښاروالۍ له خوا د بوډاګانو يوې مېلې ته لاړم، هتله دوه کسان سره ښکر په ښکر و، نو مجبوره شوم چې سره بېل يې کړم. يوې وکيلې چې په بېلابېلو شرکتونو کې کار کاوه، هېڅکله يې داسې تجربې نه درلودې. په همدې خاطر مې نوې دنده خوښېده او له هغې سره مې علاقه لا پسې زياتېده.

اوس نو زياتره مهال د والري او سوزان تر څنګ وم. په تدريجي توګه مې له هغوی څخه باارزښته شيان زده کول. د دوی ځانباوري زياته وه، له دې سره سره يې نور ستر انساني خصوصيات هم لرل. سوزان خونسرده او پربکنده وه. په غونډو کې به يې ګډون کاوه. والري هم له دې هېڅ نه وېرېده چې په داسې غونډو کې خپلې خبرې وکړي چې ضدي او متعصب کسان پکې وي. دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلونو ځلونو برياليۍ شوې وه چې په غونډه کې شته افراد له ځان سره همغږي کړي. هغه يوه ستورې وه چې په چټکۍ وړاندې تله. زما له واده وړاندې يې مقام لوړ شو او اوس نو د ښاري برنامه ريزۍ او اقتصادي پراختيا مديره وه. بيا يې له ځنډ پرته ماته وړانديز وکړ چې د مرستياله يې شم او تر څنګ يې کار وکړم. ما هم ومنله او ورته کړل مې چې د خوړلنۍ له مياشتې وروسته به له هغې سره کار ته ادامه ورکړم.

که څه هم ما په اداره کې والري له سوزان څخه زياته ليده، مګر پام مې وو چې له دواړو يو څه زده کړم. دا هماغه چلن و چې په پوهنتون کې مې له چرني سره درلود. دا هغه ښځې وې چې ځانباوره وې او له هر ډول وېرې پرته يې خپل فکرونه بيانول. البته په خپل وخت به ټوکمارې او متواضع کېدې هم. غالمغالي، جنجالي او ګډوډ کسانو پر دوی هېڅ اغېز نه کاوه او د دې نه باعث کېدل چې خپل باورونه ورته پرېږدي. سربېره پر دې دوی ميندې هم وې او دندې يې هم درلودې. ما به د دوی د ژوند دې اړخ ته زيات پام کاوه. ځکه ما هم غوښتل چې ژر مور شم. والري به چې په هر څومره مهمه جلسه کې وه، مګر کله به يې چې د لور له ښوونځي ورته زنګ راغی، نو ژر به يې غونډه پرېښوده. سوزان هم همداسې وه، هر کله به يې چې کوم زوی تبه کوله يا به يې ماشومانو د موسيقۍ په کومه ډله کې برخه درلوده، نو دا به په بېړه له ښاروالۍ وتله او هغوی ته به يې ځان وررساوه. که څه هم دې کارونو کله کله د ښاروالۍ په کارونو کې ځنډ رامنځته کاوه، مګر دوی هېڅکله له دې احساسه شرم نه کاوه چې لومړی د خپلو اولادونو اړتياوو ته لومړيتوب ورکوي او بيا اداري کار ته. دوی هېڅکله دا هڅه هم نه کوله چې د سيدلي شرکت د نارينه‌وو په شان، د خپل کور او کار موضوع سره په بشپړه توګه جلا کړي. همدارنګه والري او سوزان دواړو له خپلو مېړونو طلاق اخيستی وو او له مالي ستونزو سره يې زور ازمايه. هغوی تل خپل کارونه په سمه توګه ترسره کول او په خپل منځ کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ښه او له صمیمیته ډکه اړیکه درلوده چې ما ته ډېره جالبه وه.

ما او باراک د خوړلنۍ میاشت په شمالي کالیفورنیا کې تېره کړه، کله چې راوګرزېدو، نو له څو ښو او څو بدو خبرونو سره مخامخ شوو. ښه خبر د نومبر د انتخاباتو په اړه و چې بېل کلینټن په زیات توپیر سره د ولسمشرۍ ټاکنو کې بریالی شوی و او ولسمشر بوش ته یې ماته ورکړې وه. بوش یوه دوره ولسمشر هم و. کارول موزلي براون هم د سنا په انتخاباتو کې د اکثریتو رایه ګټلې وه او لومړنۍ تور پوستې مېرمن وه چې سناتوره شوې وه. دې خبر باراک زیات خوشحاله کړی و چې پروژه یې پر دې توانېدلې وه چې ۱۱۰ زره کسان د رایو ورکولو تر صندوقونو پورې راولي.

له یوې لسیزې وروسته دا لومړی ځل و چې په شیکاګو کې له یو نیم میلیون څخه زیات تور پوستي رای ورکوونکي د رای ورکولو لپاره راغلي وو او ثابته کړې یې وه چې په سیاست کې اغېز لرونکي واوسي. د دوی شتون د چارواکو غوږونو ته څرګند پیغام ورورساوه او هغه احساس یې بیا ورغاوه چې له هارولد واشنګټن وروسته له منځه تللی و: «احساس دا و چې د تور پوستانو رایه اهمیت لري.» له دې وروسته به چې هر سیاستوال د تور پوستانو اندېښې په پام کې نه نیولې نو له سیاسي پلوه به زیانمېده. دې پېښې تور پوستانو ته هم یو پیغام له ځانه سره راوړ. هغه دا چې د یووالي تر چتر لاندې پرمختګ کولای شي. دې پېښې باراک هم ډېر خوشحاله کړ. هغه پوه شو چې له خپل سازماني استعداد او مهارت څخه په زیاتو پراخو برخو کې هم ګټه اخیستلی شي. دی پر دې توانېدلی و چې که د ټولنیزو سازمانونو له رییسانو، عادي ښاریانو او همدارنګه دولتي چارواکو سره همکاري وکړي نو ښې پایلې به تر لاسه کړي. د شیکاګو یوې سیمه‌یزې مجلې د باراک په اړه ولیکل: «دنګ، مهربانه او هغه سړی چې تل په پرلپسې توګه زیار ګالي.» او وړاندیز یې کړی و چې هغه باید خپله هم یوه ورځ په انتخاباتو کې ګډون وکړي. مګر باراک ورته چندان پام ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بد خبر دا و چې له دې دنګ، مهربان، صمیمي او هوښیار سړي سره چې ما واده کړی و، هغه وخت یې پای ته رسېدلی و چې باید خپل کتاب یې نشراتي ټولنې ته ورسپارلی وای. هغه په انتخاباتو کې د بوختیا له امله پر دې نه و توانېدلی چې د خپل کتاب مسوده بشپړه کړي. پر دې اساس ناشر هوکړه‌لیک فسخه کړ او د خپل وکیل له لارې یې پیغام رالېږلی و چې باراک باید هغوی ته ۴۰ زره ډاله بېرته ورکړي.

نه پوهېږم چې هغه پیغام یې وکاته او که نه او یا حیران شو او که نه.

زه هغو ورځو کې په بشپړه توګه د ښاروالۍ په مسایلو کې ښکېله وم. د بوډاګانو مېلو ته هم نه تلم او د دې پر ځای به زیاتره مهال په غونډو کې د مدیره هیيت غړې وم. سمه وه چې د یوه شرکتي وکیل په کچه مې کار او فعالیت نه کاوه، مګر د ښاروالۍ ورځني مسایل او له ښاریانو سره اړیکې نیول د دې باعث کېدل چې زیاته ستړې شم. نور مې نو له شپې سترس نه درلود، یو ګېلاس څښاک به مې ځانته اچاوه، په کوچ کې به غځېدم او تلویزیون ته به مې کتل. د باراک په برخه کې مې هم زده کړي وو چې کارونو ته یې اندېښنه ونه کړم. بې نظمۍ او ګډوډۍ زه پرېشانه کولم. مګر داسې ښکارېدل چې باراک په شور او شوق راولي. هغه د یوه شعبده‌باز په څېر و چې تل یې زړه غوښتل خپل قابونه په هوا کې وڅرخوي او له هیجانه یې خوند واخلي. کار او فعالیت هغه په وجد راوسته. خپل وخت او خپلې انرژۍ ته یې نه کتل او نوې پروژې یې اخیستې. د مثال په توګه، له دوو خپلواکو شرکتونو سره یې کار کاوه او له دې سره سره یې منلې وه چې د شیکاګو پوهنتون په پسرلني سمستر کې پارټ ټایم درس هم ورکړي او هممهاله یې تصمیم درلود چې فول ټایم په یوه بل حقوقي شرکت کې هم ځان بوخت کړي.

البته د خپل کتاب لیکل یې هم نه وو هېر کړي. د باراک مشاور باور درلود چې هغه خپل کتاب پر بل ناشر پلورلی شي. هر څنګه چې کېدل ده باید خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب بشپړ کړی وای. ځکه غوښتل یې چې په پوهنتون کې درس ورکړي او همدارنگه په یوه حقوقي شرکت کې فول ټایم پر کار بوخت شي. دا مهال و چې یوه حلاره یې پیدا کړه چې دا ستونزې له مخې لرې کړي. ده وپتېیله چې یوه کوډله کرایه کړي او له هر ډول ورځنیو بوختیاوو پرته، پر خپل کتاب فکر وکړي او هغه پای ته ورسوي. هغه فکر وکړ چې کولای شي چې په دوو میاشتو کې خپل کتاب پای ته ورسوي. لنډه دا چې ده خپله دا پرېکړه له وادہ شاوخوا شپږ اونۍ وروسته راته کور کې وویله او په پای کې یې دا هم د احتیاط له مخې وویل چې دا وړ کوډله یې مور ورته پیدا کړې. حقیقت دا و چې باراک ته یې کرایه کړې هم وه. یوه ارزانبیه او غلې کوډله وه د سانور په ساحل کې چې د اندونیزیا په بالي ټاپو کې یې موقعیت درلود او له ما څخه شاوخوا نهه زره مایله لرې وه. ما ته یوه ټوکه ښکارېده، مگر هر څه ریښتیا وو. هغه له یوازیتوب سره مینه درلوده او له یوې داسې ښځې سره یې واده کړی و چې له ټولنې، معاشرې او خوش‌گذرانۍ سره یې مینه درلوده. هر څه چې وو، زه د گډې اړیکې د خوندي ساتلو په خاطر اړ وم چې د هغه خبره ومنم. بله چاره نه وه.

بلاخره د ۱۹۹۳ کال په اوایلو کې باراک بالي ټاپوگانو ته لاړ او شاوخوا پنځه اونۍ هلته پاتې شو. هلته یې «زما د پلار رویاوې» کتاب په خپل خط لیکه او د کوپرې په ونو او د سمندر د څپو په شاوخوا کې به یې چې تگ راتگ کاوه نو خپل فکرونه یې هم منظمول. دا په داسې حال کې وه چې زه په یوکلید سړک کې یوازې اوسېدم، د مور کور مې و او دویم پوړ. کله ناکله به د دوستانو لیدو ته ورتلم او کله به چې لمر لوېده نو ورزشي لوبغالي ته به تلم. په کاري چاپېریال کې یا گاونډیانو یا د سیمې هر چا به چې د ده په اړه رانه وپوښتل نو ورته وبه مې ویل: «زه او زما خاوند هیله لرو چې یو نوی کور واخلو. هغه لیکوال دی او خپل کتاب لیکي». دا وضعیت راته عجیب و. همدارنگه په باراک پسې خپه وم او زړه مې پسې تنگ شوی و، مگر بیا مې هم هڅه کوله چې په سنجېدلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



منطقي توګه له دې وضعیت سره غاړه غړۍ شم او ښايي چې دا وقفه زموږ د ګډ ژوند لپاره چندان بده هم نه وه.

هغه خپل نیمګړی کتاب وړی و چې په یوازیتوب کې یې بشپړ کړي. احتمالاً چې نه یې غوښتل چې د کتاب لیکلو په وخت کې یې له کتاب لیکلو سره لاس او ګرېوان ووینم. تل به مې ځانته یادونه کوله چې له داسې سړي سره مې واده کړی چې متفاوت فکرونه لري او هر کله چې یوازیتوب ځورولم نو بې ارادې به داسې سوچونه راتلل چې هغه له ما سره د خوړلنۍ میاشت تېره کړه او اوس دا دی د خپل یوازیتوب د خوړلنۍ میاشتې ته تللی.

موږ زده کول چې څنګه ګذاره وکړو او څنګه په بېلابېلو مسایلو کې همغږي شو. پر یوه بدن بدلېدو. دا په داسې حال کې وه چې زه هماغه پخوانۍ میشل وم او هغه هماغه باراک مګر یو بل پېژند مو هم درلود. یعنې هغه مې د ژوند ملګری و او زه یې مېرمن وم. موږ کلیسا ته تللي وو او دا اړیکه مو په لوړ غږ نورو ته وراورولې وه. پر دې اساس موږ په خپل ګډ ژوند کې مختلفې دندې منلې وې. زما او د نورو زیاتره مېرمنو په اند، مېړه یوه درنه معنا او تاریخي مخینه لري.

که یوه ښځه د ۱۹٦۰ کال یا د ۱۹۷۰ کال په لسیزو کې پیدا کېدلای، نو ځانګړنې به یې څنګه چې په تلویزیون کې بیانېدې، دا به وې چې سپین پوستې وي، خوشحاله وي، وېښته یې سینګار کړي وي، فټ بدن ولري، په کور کې د ماشومانو روزنه او پالنه وکړي، خواړه پاخه کړي، عشوه‌ګره وي او داسې نور... خو مور مې له دې ډول ښځو سره توپیر درلود.

موږ هم په یوکلید سړک کې په یوه کور کې ژوند کاوه، خو عجیبه دا وه چې مور مې د کور ښځه وه، له هېڅ نیوکې پرته یې د ماښام او سهار خواړه پخول او مازیګر به په تمه وه چې پلار مې له خپلې دندې راشي. باراک به په ټوکه ویل چې زموږ ژوند تلویزیوني سوریالونو ته ورته دی. زه هم کله چې ماشومه وم نو مېړي ټایلر سوریال مې ډېر خوښېده. مېړي به بهر کار کاوه، ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېښته يې درلودل او الماری به يې له ښکلو جامو ډکې وې. خو د هغو ښځو برعکس وه چې په تلويزيون کې څرګندېدې، ځکه دې هېڅ وخت کورنۍ چارې نه ترسره کولې او د ماشومانو د روزنې او پالنې په اړه يې څه نه ويل. هغه وخت مېري ټايلر هغو نجونو ته يوه بېلګه وه چې غوښتل يې خپلواک ژوند ولري.

اوس نو نهه ويشت کلنه وم او هغه خواږه مې خوړل چې مور مې په ډېر زيار برابرول. مګر ما زده‌کړې کړې وې، ځان مې ښه پېژانده او په مغزو کې مې ډېر پلانونه لرل. مور مې راته له وړکتونه واړندې لوستل رازده کړي وو. زه به ماشومتوب کې د هغې په غېږ کې ناسته وم او هغې به د کيسو کتابونه راته لوستل. همدارنګه تل به يې راباندې ټينګار کاوه چې بروکلي وخورم. زما جامې به هم دې خپله ګنډلې. اوس چې فکر کوم نو ګورم چې هغه د پخوانيو ميندو يوه بېلګه وه چې خپل هر څه يې تر خپلو ماشومانو ځارول او ځان يې هېر کړی و. هغې زه داسې وروزلم چې پر ځان باور ولرم. يا پر نفس اعتماد ولرم. ځان محدود نه کړم، باور ولرم چې مخ پر وړاندې لاړه شم او هغه څه ته ورسم چې غواړم يې. ما غوښتل چې د مېري په شان يوه خپلواکه، شادابه او په عين حال کې يوه مېرمن او يوه معمولي مور واوسم. غوښتل مې چې د خپل ژوند له ملګري سره يو بريالی ژوند ولرم.

بلاخره باراک له يوې مودې وروسته له بالي ټاپو څخه بېرته راستون شو. نقره‌يي بکس يې له پاڼو ډک وو. له يوازيتوبه يې ګټه اخيستې وه او خپل کتاب يې پای ته رسولی و. مشاور يې راغی او د ده کتاب يې پر بل ناشر وپلوره. د تېر ناشر پورنه يې هم خلاص کړل او ډېر ژر بيا خپل عادي ژوند ته بېرته ورستانه شوو. باراک زما طنزي خبرو ته خندل او زړه يې غوښتل چې ورته ووايم چې په دې موده کې ما څه څه کارونه کړي دي.

څو نورې مياشتې هم تېرې شوې. سربېره پر دې چې موږ خواږه پخول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور کارونه مو هم کول او له یو بل سره خندېدو او نوې نقشې مو کاږلې. اوس مو نو دومره پیسې ټولې کړې وې چې یو اپارتمان پرې واخلو. پر دې اساس، د یوکلید سړک له کوره مو کډه وکړه او په هاید پارک کې یوه ښکلي اپارتمان ته لاړو چې غولی یې پر لرگیو فرش شوی و او یوه شومینه بخارۍ یې هم درلوده. ما د باراک په ملاتړ بیا رېسک وکړ او خپله دنده مې بدله کړه. د ښاروالۍ په ودانۍ کې مې له سوزان او والري سره مخه‌ښه وکړه او پر هغه دنده بوخته شوم چې زه پکې رییسه وم. په دې دنده کې مې پرمختگ کولای شو. باید ډېر نوي شیان مې کشف کړي وای. باید اندېښنې مې یوې خوا ته کړې وای، ځکه اوس نو زه او هغه یو شوي او ډېر خوښ وو. ښادي کولای شي چې ډېر شیان درته ډالۍ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۳

نوې دندې مې سترس راته پيدا کړ. اندېښمنه يې هم کړم. ما په شيکاګو کې د پابليک ايلايز شرکت په نوې پرانيستل شوې څانګه کې کار کاوه. دا شرکت کال وړاندې د ونسا کرش او کاترينا براو له خوا په واشنګټن ډي‌سي کې تاسيس شوی و. دا دوه کسان نوي له پوهنتونه فارغ شوي وو. دوی غوښتل داسې سوداګريز شرکت پرانيزي چې له ځوانانو سره مرسته وکړي چې دولتي او خصوصي ادارو کې ځانونو ته دندې پيدا کړي. باراک په يوه کنفرانس کې له دوی سره پېژندلي وو، د دوی د مديره هيئت غړی و او بلاخره يې هغوی ته وړانديز کړی و چې له ما سره د دې دندې په خاطر اړيکه ونيسي. دې شرکت بااستعداده ځوانان او پېغلې پر کار ګمارل، د هغوی لپاره به يې لنډه ښوونيزه برنامه جوړوله او هڅه به يې کوله چې د هغوی له مهارتونو سره سم دوی ته يو مناسب کار پيدا کړي. د دې شرکت موخه دا وه چې د مديرانو يو نسل ټولنې ته وړاندې کړي چې ټولنې ته زياته ګټه ورسوي.

زما په اند د دې شرکت کار ډېر مهم او سنجېدلی و. ځکه يادېږي مې چې کله مې د پرينستون پوهنتون په څلورم کال کې زده کړې کولې، نو ليدل مې چې څنګه زياتره محصلين پرته له دې چې پوه شي چې نورې دندې هم شته، په هغو ازموينو کې ونډه اخلي چې د وکالت پوهنتونونو لپاره دي يا د عملي زده کړې په داسې پروګرامونو کې نومليکنه کوي چې د وکالت په اړه دي. پابليلک ايلايز شرکت اوس دا ستونزه هواره کړې وه او غوښتل يې د ځوانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکري اُفق پراخ کړي او له دوی سره مرسته وکړي چې په ډېره آزاده توګه خپله دنده وټاکي. په واقعیت کې دې شرکت هڅه نه کوله چې د واسطې له لارې د محصلینو لپاره کار پیدا کړي، بلکې غوښتل یې لومړی مختلف استعدادونه وپېژني، بیا پرې پانګونه وکړي او په ټولنه کې د هغوی ځای مشخص کړي. پر دې اساس، اړینه نه وه چې یو کس دې پوهنتوني سند ولري چې زموږ له شرکت سره یوځای شي. موږ ته یوازې سن مهم و چې له ۱۷ کالو زیات او له ۳۰ کالو کم وي او په خپل ژوند کې یې په یو ډول نه یو ډول د خپل مدیریت او رهبرۍ توانایي څرګنده کړې وي.

پابلیک ایلاز غوښتل د هغو ځوانانو او پېغلو هیلې پوره کړي چې یو ډول نه یو ډول یې استعدادونه نالیدلي انګېرل شوي وو. ما داسې ګڼله چې برخلیک له ما سره ډېر ښه کړي چې دا دنده یې راته ټاکلې. کله مې چې سیدلي حقوقي شرکت کې کار کاوه نو په ۴۷ پوړ کې به په خپل دفتر کې بندي وم، له هغه ځایه به مې په جنوبي برخه کې خپلې سیمې ته کتل او نه مې شول کولای چې د هغه ځای د ځوانانو لپاره کوم کار ترسره کړم. خو دلته مې داسې انګېرل چې کولای شم ګټوره واوسم. ځینې استعدادونه به مې په ځینو سیمو کې لیدل، لکه زموږ خپله سیمه کې چې کشف شوي به نه و. ما باور درولود چې استعدادونه کشفولی شم.

په نوې دنده کې مې فکرونه ماشومتوب او ښوونځي ته لاړل چې زده کوونکې وم. زموږ ټولګی ډک او شورماشور به پکې و. ماشومانو به تل یو بل په قلمونو او تباشیرونو ویشتل. خو زه نېکمرغه وم چې مور مې له هغه ټولګي راوایستم او یو بل ټولګي ته یې بوتلم. تل به مې د هغو شلو ماشومانو په اړه سوچ کاوه چې په ټولګي کې بندیان وو او داسې ښوونکي سره ښکېل وو چې انګېزه یې نه درلوده او بې مسئولیته و. پوهېدم چې زه له هغوی څخه زیاته هوښیاره نه یم. د ښوونځي د دویم کال هغه زده کوونکي چې کومه ګناه یې هم نه وه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کال له زده کړو شاته پاتې شوي وو او دې کار ځورولم.

د پابلیک ایلاز شرکت بنسټوالانو په واشنګټن کې یوه پنځه لس کسیزه ډله تر خپل پوښښ لاندې نیولې وه چې تازه کاره هم وه او د ښار په بېلابېلو سازمانونو کې یې کار هم کاوه. دا داسې شرکت و چې د بېل کلینټون د ولسمشرۍ په دوره کې یې له دولته مرسته ترلاسه کوله. له همدې امله یې کافي بودیجه لرله چې شیکاګو کې نوې څانګه پرانیزي. همدا مهال و چې له ما یې وغوښتل چې هغوی سره یو ځای شم. البته د دوی وړاندیز شوې تنخا زما د ښاروالۍ له تنخوا څخه ډېره کمه وه.

البته درنو، شرافتمندو او داوطلبو ځوانانو او پېغلو په دا ډول خپلواکو سازمانونو کې په کمو تنخاوو هم ګذاره کولای شوه، مګر زه د دوی په شان نه وم، ځکه اړ وم چې د خپلې محصلۍ پیسې ورکړم. ماته کوم میراث هم نه و رارسېدلې چې په دې کمه تنخا ګذاره وکړم. هره میاشت مې باید د محصلۍ ۶۰۰ ډالره پور ورکړی وای. همدارنګه له داسې چا سره مې واده کړی و چې هغه هم د محصلۍ قسطونه باید په خپل وخت ورکړي وای. زموږ د ګډ ژوند لګښتونه هم وو. بلاخره د شرکت رییسان سره سلا شول او یوه چاره یې وسنجوله چې زما تنخا دومره لوړه کړي چې له دوی سره همکاري وکړلای شم.

په دې توګه په ډېرې خوښۍ او خوشحالۍ له دې شرکت سره یوځای شوم. دا لومړنۍ موکه وه چې هر څه له بنسټه پیل کړم او زما برياوې او ماتې هم زما له هڅو سره تړلې وې. د ۱۹۹۳ کال په پسرلي کې مې په میشیګان سړک کې په یوه ودانۍ کې یو کوچنی دفتر پیدا کړ. د دې دفتر کرایه ټیټه وه. د مشاورې یوه شرکت چې خپل توکي نوي کول، نو ما یې دویم لاس څوکۍ او مېزونه واخیستل. څو کارکوونکي مې هم پر کار وګمارل. بیا مو د باراک په مرسته په شیکاګو کې هغو کسانو ته لاس وراوږد کړ چې پېژندل مو. موږ هڅه کوله چې د خیرغوښتونکو او زړه سواندو کسانو مالي مرسته تر لاسه کړو. همدارنګه په دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمانونو او ادارو او ځينو نورو ځايونو کې هم په داسې دندو پسې وو چې وشو کولای د خپلې خوښې وړ کسان هلته په کار وګمارو. والري له ما سره مرسته وکړه چې د ښاروال دفتر کې او همدارنګه د روغتيا سازمان کې ځينې ځايونه پيدا کړم چې خپل کسان د ماشومانو د واکسيناسيون د پروژې د ترسره کولو لپاره هلته واستوم. باراک هم خپلو څو پخوانيو سازمان‌ورکوونکو ته خبر ورکړ چې له موږ سره د دولتي مرستو او ښوونيزو فرصتونو په برخه کې مرسته وکړي. د سيدلي حقوقي شرکت ځينو همکارانو هم له موږ سره مالي مرسته وکړه او موږ يې له سترو خيرغوښتونکو او زړه سواندو کسانو سره آشنا کړو.

زما لپاره د دې کار ډېره هيجاني برخه هماغه وه چې کارموندونکي ځوانان او پېغلې به مې پيدا کول. موږ د هېواد په ټولو پوهنتونونو کې خبرتياوې خپرولې چې هغه کسان پيدا کړو چې کار غواړي او همدارنګه په خپل ښار شيکاګو کې هم د پټو استعدادونو په پلټلو پسې وو. زه او زما همکاران به د شيکاګو ټولو سترو پوهنتونونو او مکتبونو ته ورتلو. د کورجوړونې په پروژو کې به مو ګډون کاوه او مرستې به مو راټولولې. د پوهنتونونو په هغو عمومي غونډو کې مو هم ګډون کاوه چې مجردو ميندو ته يې ښوونيزې زده کړې برابرولې شواى. موږ د مجردو ميندو لپاره مرستې راټولولې. له کشيشانو او د پوهنتون له اوستادانو او همدارنګه د روستورانتونو له مديرانو مو وغوښتل چې کوم بااستعداده ځوانان او کومې بااستعداده پېغلې پېژني موږ ته يې دې راوپېژني. لنډه دا چې موږ هغه کسان غوښتل چې د يوې برخې مديريت او رهبري پر غاړه واخلي او هغه کسان مو غوښتل چې هيله يې دا وه چې د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورسي. کله به مو چې داسې کسان وموندل نو ترې غوښتنه مو کوله چې له موږ سره يو ځای شي. موږ له دوی سره مرسته کولای شوه چې خپلو هيلو ته ورسېږي. موږ دې ته چمتو وو چې د دوی د تګ راتګ کرايه ورکړو او يا هم که چا ماشومان لرل د دوی د ماشومانو د وړکتون پيسې يې ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مني تر اوایلو مو وکړلای شول چې شل کسه د کار زده کوونکو او کار موندونکو په توګه جذب کړو. دا کسان مو په ښاروالۍ او د ټولنیزو او ښوونیزو مرستو په آژانسونو کې د ښار په ها بله خوا کې ځای پر ځای کړل. زموږ کار موندونکي او کار زده کوونکي متفاوته کسان و او مختلفې هیلې او غوښتنې یې درلودې. د دوی تېر مهال هم سره توپیر درلود. د مثال په توګه زموږ په ډله کې یوه لاتین تباره مېرمن وه چې د ښار په جنوبي برخه کې لویه شوې وه او مخکې د جنایتکارانو او داړه مارانو د ډلې غړې وه. دې په هاروارد کې زده کړې هم کړې وې. یوه بله مېرمن وه چې شاوخوا شل کلنه وه، یوه ګډ کور کې یې ژوند کاوه، یو ماشوم یې هم درلود چې باید ستر کړی یې وای. په عین حال کې، دې غوښتل پوهنتون ته لاړه شي او د درس ویلو لپاره پیسې راټولې کړي. دې ډله کې یو شپږویشت کلن ځوان هم و چې ښوونځی یې پرېښی و او په کتابتون کې یې د آزادې مطالعې له رویه بیا پتېیلې وه چې خپله شهادتنامه تر لاسه کړي.

هره اونۍ د جمعې ورځ به د کارموندنې او کار زده‌کړې ټول غړي د شرکت په یوه دفتر کې سره راټولېدل. هلته به یې خپل کاري ګزارشونه وړاندې کول او همدارنګه له بېلابېلو کسانو سره به یې پېژندل هم. دا غونډې مې ډېرې خوښېدې. کار زده کوونکي به چې کله خونې ته رادننه شول، نو پنډې یا بیکونه به یې یوه ګوښه کې اېښودل، بیا به یې د کار جامې ایستلې او نورې جامې به یې اغوستې. له دې وروسته به سره راټولېدل او ګډ به ناست وو. ما هڅه کوله چې د دوی ستونزې هوارې کړم. ځینو په کاري برخه کې له اکسل برنامې سره ستونزه درلوده. ځینې نور یې نه پوهېدل چې یوې ادارې یا کوم شرکت ته ځي نو څه واغوندي او ځینې نور هم پر ځان بې باوره وو چې څنګه د لوستو کسانو په منځ کې خبرې وکړي. کله کله به مجبورېدم چې هغه کار زده کوونکي ته ګوتڅنډنه وکړم چې یا به ناوخته کار ته تللی و او یا به یې کار په سمه توګه نه و ترسره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا دا چې که کوم چا به د سترو کوونکو غونډو په خاطر نیوکه کوله یا به خپله اداره کې له ستونزو رامنځته کوونکو مشتریانو سره مخېده نو توصیه به مې ورته کوله چې صبر وکړي او بیا وروسته به مې د هغوی بریا هغوی ته وریادوله. ټولو ته مو هیله ورکوله. البته هر کله به چې کوم کار زده کوونکي د خپل فعالیت په برخه کې کوم پرمختګ کاوه یا به یې نوې بریالۍ تجربه زده کوله نو موږ به له ځنډ پرته لمانځلو. که څه هم ټول کار زده کوونکي او کار موندوونکي په دولتي یا شخصي ادارو کې نه بریالي کېدل او خنډونه یې له مخې نه شوای لرې کولای، مګر کله به چې څو کسه بریالي شول او تصمیم به یې درلود چې په ډېره ژمنتیا خپله دنده ترسره کړي، نو له خوشحالۍ به مې وزرونه کول او غوښتل به مې چې والوزم. اوس د پابلیک ایلایز د شرکت له تاسیس څخه پنځه‌ویشت کاله تېر دي او دا شرکت هماغسې بریالی مخ پر وړاندې روان دی او په شیکاګو او څلورویشتو نورو ښارونو کې هم څانګې لري. د دې شرکت زرګونه کار زده کوونکوي د هېواد په ګوټ ګوټ کې پر کار او فعالیت بوخت دي.

څه موده مې چې له پابلیک الایز شرکت سره همکاري کوله، نو هره شپه به مې دا سوچ کاوه چې سبا ته باید کوم کارونه ترسره کړم. بېګاه به مې د خپلو کارونو په اړه سوچ کاوه، کله به چې سبا سهار له خوبه پاڅېدم نو د هغو کارونو لړلیک به راسره و چې همغه اونۍ یا همغه میاشت کې مو باید ترسره کړي وای. اوس چې هغه مهال ته ورګرزم نو ګورم چې دا زما ډېره غوره دنده وه چې په ټول عمر کې مې درلودلې. که څه هم د کار په اوږدو کې له ډېرو اندېښنو، ډېرو وېرو او ډېرو رېسکونو سره مخ شوې وم. مګر د لومړي ځل لپاره مې احساس کړې وو چې یو موخه لرونکی او معنا لرونکی کار ترسره کوم او د خپل ښار پر فرهنګ او د خپل ښار د خلکو پر ژوند اغېز لرم. دا کار د دې باعث شو چې پوه شم چې باراک کله په پروژو کې د یوه سازمانورکونکي او همکار په توګه کار کاوه، نو څنګه تجربه یې احساسوله. پام مې شو کوم کار چې د انسان ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهني قواوې رېسک ته رابولي، نو په عين حال کې ډېر ارضا کوونکی او خوندور هم وي. باراک پرې دې ډول رېسکونو او مبارزو مين و او پوهېږم چې تل به ورسره مينه ولري.

کله مې چې له پابليک الايز شرکت سره کار کاوه، له ما سره هممهاله باراک يو باثباته وضعيت پيدا کړ. لومړی دا چې په شيکاګو پوهنتون کې يې د نژادپرستۍ په برخه کې درس ورکاوه او دويم دا چې د ورځې په اوږدو کې به يې د نژادي تبعيض او د رای ورکولو په اړه دوسيې څېړلې او درېيم دا چې کله ناکله به يې د سازمانورکونې په برخه کې ځيني ټولګي هم جوړول، ځينې وختونه به يې د جمعې په ورځو کې زما د ډلې د غړو لپاره هم ځيني ورکشاپونه جوړول. په ظاهره توګه دې روڼاندي څو دېرش کلن سړي چې د خپلو اخلاقي اصولو په واسطه يې څو ګټورې دندې پرېښودلې وې، څه ناڅه ښه ژوند يې ځانته جوړ کړی و او يو ډول تعادل ته رسېدلی و. اوس نو هم د پوهنتون اوستاد و او هم يو ويناوال او سازمان ورکوونکی چې برنامې جوړوي او ډېر ژر وه چې نوموتی ليکوال هم کېده.

کال کېده چې باراک له بالي ټاپو راغلی و. د دې يو کال په موده کې به چې کله بېکاره و نو خپل دويم کتاب يې ليکه. زموږ د اپارتمان په پای کې يوه کوچنۍ خونه وه. باراک له دې خونې ځانته دفتر جوړ کړی و او د شپې تر ناوخته پورې به يې هلته ليکل کول. خونه يې له کتابونو ډکه وه. کله به چې زه له هغه ځايه تېرېدم، نو ورته ويل به مې چې غار کې پټېدونکيه. کله به چې دې خونې ته ورتلم، نو د دلۍ دلۍ کتابونو او پاڼو له منځه به تېرېدم. دا به په داسې حال کې وه چې هغه به په مطالعه بوخت و. د ده مخامخ يوه څوکۍ کې به کېناستم او هڅه به مې کوله چې په خندنيو ټوکو يې لږ وخندوم او لږ يې ساعت ورتېر کړم. د هغه هم له دې کاره بد نه راتلل. مګر زيات وخت مه يې بايد نه وای نيولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پام شو چې باراک خپل ژوند کې يوه گوښه ځای ته اړتيا لري چې د هر چا له مزاحمت پرته هلته کتاب ولولي او يا هم ليکل وکړي. په واقعيت کې دا ځای د ده لپاره يوه کړکۍ وه چې د خپل ذهن پراخې نړۍ ته يې پرانيسته او داسې ښکارېدل چې له ذهني پلوه هلته خپل ځان چارجوي. له همدې امله هر کور کې به چې وو نو د ده لپاره به مې گوښه او خلوته ځای جوړاوه. د ده لپاره داسې گوښه او خلوته ځايونه د مقدسو ځايونو په شان وو چې هلته يې نوي فکرونه پنځول. په معمولي توگه، ده به هلته څو کتابونه سره گډ لوستل او همدارنگه د ده ورځپاڼې به په ځمکه تيت پرک پرتې وې.

بلاخره زما د پلار روياوې کتاب د ۱۹۹۵ کال په دوبي کې چاپ شو. که څه هم د منتقدانو له خوا يې ښه هرکلی ونه شو او زيات ونه پلورل شو، مگر مهمه دا وه چې باراک توانېدلی و چې د خپل ژوند کيسه وليکي او خپل گڼشمېر هويتونه وليکي چې افريقايي، کانزاسي، اندونيزيايي، هاوايي او شيکاگويي وو. په هر حال هغه يوازې پر دې توانېدلی و چې د خپل هويت معما يو ډول نه يو ډول هواره کړي. له ماشومتوب راهيسې هغه هر څه په يوازې توگه پرمخ وړل.

کله چې د دې کتاب ليکل پای ته ورسېدل او چاپ شو، نو د باراک په ژوند کې يوه تشه فضا رامنځته شوه. ده احساسول چې په يو ډول نه يو ډول دا تشه فضا ډکه کړي. خو دا مهال يې يو بد خبر واورېد، مور يې د رحم په سرطان اخته شوې وه او له جاکارتا څخه هونولولو ته د درملنې لپاره راغلې وه. مورِ ته خبر راورسېد چې يو ښه ډاکټر يې درملنه کوي او کيمياوي درملنه ورته گټوره ده. مايا او توت يې پالنه کوله او باراک به هم کله ناکله ورتله. خو څنگه چې ښکاره وه، نو د هغې ناروغي ډېر وروسته تشخيص شوې وه او سرطان يې ډېر پرمختگ کړی و. څرگنده نه وه چې څه به ورپېښ شي. زه پوهېدم چې دې موضوع د باراک ذهن ډېر مشغول کړی.

له بل پلوه په شيکاگو کې بيا سياسي بحثونه رامنځته شوي وو. د ۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال په پسرلي کې د ديلي ښاروال د درېيمې دورې لپاره ښاروال شوی و او اوس نو ټولو د ۱۹۹٦ کال د انتخاباتو لپاره چمتووالی نيوه. اېلينوی ايالت بايد نوی سناتور ټاکلی وای او همدارنګه کلينټون هم د ولسمشرۍ د دويمې دورې لپاره ځان چمتو کاوه. سربېره پر دې داسې ګنګوسې هم وې چې د متحده ايالتونو د کانګرس يو استازی د جنسي جرمونو په خاطر تر تعقيب لاندې دی او په دې توګه د هغه دېموکرات سيال زيات چانس لري چې انتخاباتو کې ګټونکی شي. يو مشهور سناتور و چې آليس پاملر نومېده. د نوموړوي په ځينو پروژو کې يو وخت باراک هم کار کاوه او ورسره پېژندل يې. دې سناتور په خصوصي توګه باراک ته ويلي وو چې هوډ لري د ولسمشرۍ په ټاکنو کې ګډون وکړي. له همدې امله په سنا کې د ده ځای خالي کېده او باراک کولای شول چې د هغه د څوکۍ لپاره په انتخاباتو کې ګډون وکړي. باراک رانه وپوښتل چې سربېره پر دې چې وکيل يم، اوستاد يم، سازمان ورکوونکی يم او ليکوال يم، غواړم چې د يوه ايالت استازی هم واوسم، نو په دې اړه ستا نظر څه دی؟ په ۱۹۹٦ کال کې د اېلينوی ايالت د استازولۍ په اړه زما استدلال دا و چې له سياستوالو سره مې چندان نه لګېده او زړه مې نه غوښتل چې مېړه مې د سياست ډګر کې ښکېل شي. د سياست په اړه مې چې هر څه لوستلي وو، نو ډېر ښه او مثبت نه وو. زما ملګرې سانتيتا جکسون راته ويلي وو چې سياستوال معمولاً له خپلې کورنۍ لرې وي. ما د هېواد قانون جوړوونکي د کيشبانو په څېر بلل چې کلک او غوړ پوست لري او ورو ورو او په غرور حرکت کوي او مخ پر وړاندې ځي. زما په اند باراک يو ريښتينی او زړور او مهربان کس و چې د کانګرس په ګونبدي شکله ودانۍ کې يې د زور او روخو (کينو) پر وړاندې مقاومت نشو کولای. زما په باور ښه او شريف کسان بله غوره لار هم لري چې پر ټولنه اغېز وکړي. ريښتيا بايد ووايم چې فکر مې کاوه چې د هغه سيال سياستوال به هغه تر کومې ژوندی تېر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بل پلوه مې داسې انګېرل چې که باراک غواړي سیاست کې دخیل شي او له خپلې ټولنې سره مرسته وکړي، نو زه یې باید خنډ نه وای شوې او د ده په ځای مې باید تصمیم نه وای نیولی. په هر حال، کله چې ما غوښتل وکالت پرېږدم، هغه یوازینی کس و چې دې کار ته یې وهڅولم. ما چې ښاروالي کې کار کاوه، دی مې ملاتړی و او اوس چې پابلیک الایز شرکت کې پر کار بوخته وم، بیا یې هم زما ملاتړ کاوه. په ګډه مو څو کارونه کول چې د ژوند لګښتونه پوره کړلای شو. هغه د شپږ کاله ګډ ژوند په اوږد کې زما پر توانایيو هېڅ شک نه و کړی او راته ویل به یې اندېښنه مه کوه، مخ پر وړاندې ځه، هر څه ترسره کولای شې. بلاخره یوه لاره پیدا کوو.

په دې توګه، لومړی ځل وو چې ما ومنله په انتخاباتو کې ځان نوماند کړي. البته ده ته مې دا هم وویل «که انتخاباتو کې بریالی شې او کانګرس ته لاړ ومومې، نو تا به مایوسه کړي او هر څومره هڅه چې هم وکړې، پایله به ور نه کړي، هغوی به تا لېونی کړي.»

خو باراک اوږې پورته واچولې او کړل یې: «شاید، شاید، شاید هم وکړلای شم چې تر عهدې یې ووزم او یو ګټور کار ترسره کړم. څوک څه پوهېږي.» ما نه غوښتل ناهیلی یې کړم. نو اوږې مې پورته وغورځولې او ورته ومې ویل «څوک څه پوهېږي، ښايي هم بریالی شې.»

په دې توګه زما خاوند یو سیاستوال شو. هغه یو غوره او شریفه انسان دی چې غوښتل یې په دونیا کې یو ګټور کار ترسره کړي. که څه هم زه دوه زړې وم، مګر دی پوهېده چې له دې لارې په ښه توګه کولای شي چې خپلې هیلې او غوښتنې پلې کړي.

بلاخره د ۱۹۹۶ کال په نومبر میاشت کې باراک د اېلینوی ایالت د سناتور په توګه وټاکل شو او دوه میاشتې وروسته د نوي کال په لومړیو کې مجلس ته وردننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته ډېره عجيبه وه چې کله به مې د هغه انتخاباتي فعاليتونه ليدل، نو ډېر خوند به مې ترې اخيست. د دې لپاره چې رايې يې زياتې شي، نو ما ډېر هلې ځلې وکړې او په دې برخه کې مې له ده سره مرسته وکړه. هره شنبه به خپلې پخوانۍ سيمې ته تلم او د خلکو کورونه به مې ورټکول او د دولت او حکومت او د دوی د ستونزو په اړه به مې دوی ته غوږ نيوه. د اونيو دا کار مې د هماغه وروستيو ورځو په څېر وو چې له پلار سره به مې د خلکو کورونو ته تلم. له هغه سره ځکه تلم چې د انتخاباتي حوزې د رييس په توګه خپلې دندې ترسره کړي. البته چې هغه زما فعاليت ته هېڅ اړتيا نه درلوده. ما ځکه په ټاکنيزو فعاليتونو کې برخه اخيسته چې يو ډول بوختيا وه راته او ساعت مې پکې تېرېده. هر کله به مې چې له دوی سره مرسته کوله، نو خوند مې ترې اخيسته او بيا له هغې وروسته به خپل کار ته راګرځېدم.

باراک چې خپله نوماندي اعلان کړه نو له دې نه يو څه موده وروسته يې مور په هونولولو کې وفات شوه. د هغې ناروغي په يوواري توګه داسې وخيمه شوې وه چې باراک حتا نه و توانېدلی چې ليدلو او خدای پامانۍ ته يې ورشي. د مور مړينې پرې ډېر اغېز وکړ. هغه يې غمونو کې ډوب کړ. آنا دانهام هغه څوک وه چې هغه يې له ادبياتو سره آشنا کړی و او باراک چې د بحث او منطقي استدلال کوم ځواک درلود، نو د دې پوروړی و. له هغې پرته باراک هېڅکله نه شو توانېدلی چې د جاکارتا موسمي بارانونه تجربه کړي او د بالي ټاپو آبي معبدونه وګوري، له هغې پرته باراک هېڅکله نشو کولای چې له يوې قارې بلې ته لاړ شي او هېڅکله يې نه شول زده کولی چې څنګه له ناآشنا شيانو سره مخ شي. مور يې له هر ډول وېرې پرته د خپل زړه غوښتنې تعقيبولې. د هغې شتون د باراک په وجود کې په بېلابېلو موقعيتونو کې څرګند و. د هغې د مړينې درد د تېرو چړو په شان و چې زما او د باراک په زړونو کې دننه شوې. دا درد زما د پلار د درد په شان و چې د دواړو زړونه يې زخمي کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمی رارسېدلی و. د استازو مجلس خپل کارونه پیل کړي وو. پایله دا شوه چې زه او باراک به د اونۍ اکثره ورځې سره لرې وو. باراک به هره دوشنبه څلور ساعته موټر چلاوه او سپرېنګ فیلد ته به تلو. به یو ارزانبیه هوټل کې به له نورو استازو سره اوسېده او هره پنجشنبه شپه به د شپې ناوخته کور ته راتله. استازو مجلس کې یې یو کوچنی دفتر درلود او په شیکاګو کې یې یو کار کوونکی په واک کې و چې نیمه ورځ یې کار کاوه. هغو ورځو کې ډېر کم حقوقي دفتر ته تلو، مګر د دې لپاره چې خپل قسطونه په وخت تسلیم کړي، نو د حقوقو په پوهنتون کې یې خپل درسي ساعتونه زیات کړل او هر کله به چې سنا مجلس رخصتېده، نو ده به درس ورکولو ته نور هم کش ورکاوه. د شپې مو تلیفوني اړیکه درلوده. یو بل ته به مو خبرې کولې او د ورځنیو چارو په اړه به غږېدو. هره جمعه به شیکاګو ته راګرزېده. بیا د شپې به دواړه بیرون ته تلو او د ښار په یوه روستوران کې به مو خواړه خوړل.

د خاطرو شپې وې. د روستوران تتې رڼا ته به کېناستو. زه د تل په څېر په خپل قول ولاړه وم، په وخت به هلته رسېدم او باراک ته به په تمه وم. که دی به ناوخته راته، نو نه ناراحته کېدم. کله به چې روستوران ته رادننه شو، خپل کوټ به یې ګارسون ته ورکړ او موسک به په مېزنو او څوکیو کې راتېر شو او ما ته به یې ځا راورساوه. بیا به یې ښکل کړم او له کېناستو وړاندې به یې کورتۍ کاږله او په څوکۍ به یې راځوړوله. هره جمعه مو یو شان خواړه راغوښتل. غوښه، بروکلي او کچالو. خواړه به مو تر وروستۍ مړۍ پورې خوړل. زموږ د ګډ ژوند طلایي دوران همدا و. ځکه دی په خپلو موخو پسې و او ما هم د خپلو موخو په لاره کې ګامونه وهل. هغه به مجلس کې هره اونۍ اووه نوې لایحې وړاندیزولې. په دې برخه کې احتمالاً چې د ریکارډ کچې ته رسېدلی و. دې کار څرګندوله چې په ټولنه کې له بدلون سره څومره مینه لري. ځینې دا لایحې له یوې اوږدې مودې وروسته تصویبېدې. خو اکثره یې د جمهوریپال ګوند له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفت سره مخامخېدلې هم. په لومړنيو مياشتو کې څرګنده شوه چې هغه بايد په سياست کې جګړه وکړي. له هر ډول تعصبونو، خنډونو، خيانتونو، سودخوړونکو او ناوړه کسانو سره بايد جنګېدلی وای چې دا ډېره دردناکه وه. خو باراک داسې کس نه و چې ځان راشاته کړي او ناهيلي شي. د مبارزې په جريان کې ده خپل زغم ساته او که ماته يې هم خوړله نو په راحتۍ يې منله. مګر خپله هيله يې نه بايله. پر دې يې ايمان درلود چې بلاخره که هڅه وکړي نو خپلې يوې موخې ته به ورسېږي. داسې ښکارېدل چې په رېښتا د دې دندې لپاره مناسب دی.

خو ما غوښتل چې بيا هم په خپله دنده او خپله حرفه کې بدلون راولم. ومې پتېيله چې پابليک الايز پرېږدم. دې شرکت کې ما ډېر ستر او ډېر مهم مسئوليت په غاړه اخيستی و. حتا مهمې پاڼې به مې کاپي کولې او کاپۍ به مې ځان سره ساتلې. شرکت اوس په کافي کچه وده کړې وه او له دولتي مرستو او د خيريه بنيادونو له مرستو برخمن شوی و. اوس مې احساسول چې دا شرکت نور پرېښودلای شم. د پوهنتون يو اوستاد و چې آرت ساسمن نومېده او د شيکاګو پوهنتون وکيل هم و. ما له ده سره څو کاله وړاندې پېژندلي وو. دې اوستاد د ۱۹۹۶ کال په مني کې له ما سره اړيکه ونيوله او راته ويې ويل چې پوهنتون په داسې چا پسې ګرزي چې له تور پوستانو سره ښې اړيکې ټينګې کړلای شي. هغوی غوښتل چې د تور پوستانو په مرسته يوه برنامه جوړه کړي چې محصلين د داوطلبانه مرستو لپاره په خپلو سيمو کې پر کار وګماري. دې کار زما له شخصي تجربې سره همغږي درلوده. هماغه شان مې چې وړاندې هم آرت ته ويلي وو چې شيکاګو پوهنتون د زياتره ځوانانو لپاره داسې ښکاري چې ګنې څوک ورته لاره نه شي پيدا کولی. ما اوس کولای شول چې ځوانان او محصلين له دې پوهنتون سره زيات آشنا کړم. له دې امله دا کار راته ډېر جالب و. د دندې دا بدلون زما لپاره له څو اړخونو ګټور و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پابلیک الایز د پرېښودلو بل دلیل دا و چې غوښتل مې داسې ځای کار وکړم چې معتبره وي. شیکاګو پوهنتون معتبر ځای و او له یوه خپلواکه او نوي شرکت څخه یې زیات ثبات درلود. همدارنګه زه په دې هم پوهېدم چې تنخا به مې هم زیاته وي. ښه کاري ساعتونه مې درلودل. هلته داسې کسان و چې معمولي کارونه لکه کاپي کول، یا د پرېنټرونو جوړول ترسره کړي. اوس نو دوه‌دېرش کلنه شوې وم او کله به چې کومه شپه له باراک سره روستوران ته تلم، نو په دې اړه به مې ورسره خبرې کولې چې هر یو څنګه او چېرته کولای شو چې په ډېره ښه توګه له خپل عمره او له خپلو توانايیو کار واخلو.

تر یوې کچې پورې مې نوې دنده له دې امله ومنله چې زموږ ګډ ژوند ته زیاته وزګاره شم او همدارنګه د پوهنتون د روغتیا له غوره بیمې څخه ګټه واخلم. د جمعې شپه وه. بیاځلې روستوران ته تللي وو. باراک ته مخامخ ناسته وم. تته رڼا خپره وه. مګر زموږ د نېکمرغۍ موضوع لږ نیمګړې وه. موږ هڅه کوله ماشوم ولرو، مګر نه بریالي کېدو.

دې حقیقت ته مې پام شو چې حتا ډېر نېکمرغه، ډېر بریالي او پر اخلاق ولاړ مېړه او مېرمن هم ممکنه ده چې ونه توانېږي چې هر وخت وغواړي هغه وخت ماشوم راوړي. زېږون او امیندواري داسې څه نه دي چې وشې کولای هر وخت پرې غلبه وکړې، یعنې کله کله که هڅه هم وکړې، نو نه شې کولای چې پایله ترلاسه کړې. دې موضوع زه او باراک دواړه حیران کړي وو. په عین حال کې ناهیلي هم وو. هر څومره به مو چې هڅه کوله نه امیندواره کېدم. له ځانه سره مې وویل چې کېدی شي لامل یې دا وي چې باراک زیات کار کوي او موږ سره ډېره اړیکه نه لرو. باراک به تل له شیکاګو څخه سپرېنګ فیلډ ته تلو او زموږ اړیکه به هغه وخت نه ترسره کېده چې زما په بدن کې به د امیندوارۍ هورمونونه ترشح کېدل. پوه شوم چې دا ستونزه هوارولای شو. سنا کې به چې کله د باراک کار خلاصېده، موټر کې به کېناسته، لرې ایالتي لاره به یې وهله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته به یې ځان رارساوه چې هغه وخت اړیکه سره ولرو چې زما د هورمونونو د ترشح وخت وي، خو بیا مو هم له ډېرو هڅو سره سره کومه پایله نه اخیسته. ډېره خندنۍ وه، کلونه کلونه کېدل چې پام مو کاوه چې ماشوم مو پیدا نه شي، مګر اوس مو چې هر څومره هڅه کوله چې امیندواره شم، نو نه کېده. بلاخره یو ځل زما د امیندوارۍ ټېسټ مثبت راووانه. دواړه خوشحاله شوو او خپلې اندېښنې مو بلې خواته کړې. خو څو اونۍ وروسته مې نقصان وکړ او زموږ ټولې هیلې پر اوبو لاهو شوې. هر کله به مې چې په سړک کې یوه ښځه لیده چې ماشوم یې ورسره دی، نو د ماشوم زېږولو شوق به مې بیا وجود کې راژوندی کېده. زما او د باراک یوازینۍ خوښي دا وه چې کریګ او د هغې مېرمنې ته مو نژدې ژوند کاوه. هغوی دوه ښکلي ماشومان د لسلي او اروي په نامه درلودل. موږ به چې هر کله د دوی کور ته ورتلو، نو د هغوی له ماشومانو سره به مو لوبې کولې او دوی ته به مو کتاب لوستو. په دې کار به مو ډېره آرمتیا احساسوله.

ناڅاپي نقصان، دردناکه واقعه ده. هره ښځه خواشینې کوي. مګر داسې موضوع ده چې زیاتره ښځو ته پېښېږي. کله چې ما د هغې په اړه له خپلو څو خورلڼو سره خبرې وکړې نو پوه شوم چې هغوی هم څو څو واره په ناڅاپي توګه نقصاد کړی. دا حقایق به مې چې واروېدل لږ به آرامه شوم او وبه پوهېدم چې دا معمولي مشکل دی. بیا مې یوې ملګرې یوې متخصصې ډاکټرې ته وروپېژندلم. زه او باراک دواړه د معاینې لپاره لاړو. ډاکټرې چې آزموینښتونه وکړل، نو موږ ته یې وویل چې کوم خاص مشکل نشته او تاسې ماشوم درلودلای شئ. بیا یې له ما وغوښتل چې د دوه میاشتو لپاره له کلومید دارو څخه ګټه واخلم چې په بدن کې مې تخمې تحریک کړي او زیاتې شي، مګر دې درمل هم کومه پایله نه درلوده. بلاخره موږ اړ شو چې د مصنوعي القاح لاره انتخاب کړو. له نبکه مرغه د دې کار زیات لګښت د پوهنتون روغتیایي بیمې راکاواه. خو کله مو چې د درملنې لومړني پړاوونه پیل کړل، د ایالتي سنا د مني فعالیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پیل شول او باراک پکې ښکېل شو. پایله دا شوه چې تر څو اونیو پورې ما هره ورځ ځانته دارو تزریقول چې زما د تخمدانونو د فعالیتونو مخه یې نیوله. بیا مې له داسې درملو باید کار اخیستلی وای چې تخمې مې فعال کړي.

ښه مې یادېږي چې کله به مې ماشومتوب کې له خپلو نانځکو سره لوبې وکړې او هغوی ته به مې نازونه ورکړل او سترې به شوم، نو خپلې مور ته به مې زارۍ کولې چې یو واقعي ماشوم راته وزېږوي چې لوبې ورسره وکړم. حتا د هغې د جامو په روکه کې مې هم داسې ګولۍ پیدا کړې چې د امیندوارۍ د مخنیوي په خاطر وې. ما فکر وکړ چې که یې لرې کړم، نو خپلې موخې ته به ورسم. خو داسې څه ونه شول. په هغې پېښې کلونه کلونه تېرېدل او زه هماغسې د ماشوم لرلو او د یوې کورنۍ جوړولو په مینه کې سوزېدم. باراک کور کې نه و. زه د کور په تشناب کې یوازې ولاړه وم. هڅه مې کوله چې خپله ټوله زړورتیا مې په لاسو کې راټوله او پېچکارۍ مې ورنو ته ورنژدې کړم.

ښایي هماغه شېبه وه چې په ټول عمر کې مې د لومړي ځل لپاره له سیاسته کرکه وکړه. ځکه باراک خپلې دندې او حرفې ته په شدیده توګه ژمن و. باراک هلته نه و او ما باید په یوازې دا مسئولیت پر اوږو ګاللی وای. له همدې امله مې داسې احساسول چې زموږ په ګډ ژوند کې له هغه څخه زیاته فداکاري زه کوم. له دې څخه څو اونۍ وروسته، باراک هماغه شان په خپل کار او فعالیت بوخت و. د دې لپاره چې زه له خپلو تخمو خبره شوم، نو سونګرافي مې کوله. په وار وار مې وینه ورکوله. معاینه کېدم. دا په داسې حال کې وه چې د هغه یوازینۍ دنده دا وه چې سپرمونه تولید کړي. ده به کله ناکله هغه مطالب هم راته ویل چې له رحم څخه د بهر امیندوارۍ په اړه و. که څه هم پوهېدم چې دې کې د هغه ګناه نشته، مګر په هر حال زما په اند دا کار غیرعادلانه ښکارېده چې د ماشوم زېږولو ټولو سختۍ دې د ښځې پر اوږو وي. دا مسأله راته حیرانوونکې وه، ځکه په مساواتو مې زیات باور درلود. پر هر حال، څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د زړه له تله مې ماشوم غوښته نو ستنه مې پورته کړه او په خپله غوښه کې مې وردننه کړه. شاوخوا اته اونۍ وروسته مې له وجوده يو غږ واورېده چې هغه ټول منفي حسونه يې ما کې پاک کړل. د زړه د ضربانو کمزوري غږونه وو. زه امیندواره شوې وم. د بل چا د احساساتو پر وړاندې د مسئولیت او فداکارۍ حس بدل شو. د هغې فضا په شان چې ناڅاپه رنګ بدلوي یا د کورنیو توکو په شان چې بیا پورته کېږي او بیا هر څه په خپل ځای اېښودل کېږي. اوس مې نو ښادي احساسوله او له خپل هغه دروني راز سره بهر ته تلم.

باراک هماغه شان هره اونۍ پلازمېنې ته تلو. زه هم خپل کار ته تلم. هلته به ډېر بیروبار و. که څه هم ډېره ستړې کېدم، خو د خوشحالۍ دروني احساس مې هېڅکله نه کمېده. اوس نو یوه کوچنۍ نجلۍ زما په ګېډه کې د ودې په حال کې وه. منۍ تېر شو. ژمی راغی. بیا پسرلی راورسېد. کوچنۍ ځان ته ټکانونه ورکاول، زما په ګېډه کې یې لغتې وارولې او وده یې کوله. زه هېڅکله یوازې نه وم، هغه تل راسره وه. په کار کې، کله به مې چې سلاته جوړوله او یا کله به چې شپه کې په کټ کې اوږده غځېدم. څوم ځل و چې «کله چې امیندواره یې باید څه ته په تمه واوسې» کتاب مې پاڼه په پاڼه لوسته.

د شیکاګو دوبي راته تل خوندور و. تر غروبه پورې لمر په اسمان کې پاتې کېده. مېشیګان سین له بادي بېړیو ډکېده. هوا ګرمېده او ژمی به دې هېراوه. همدارنګه کله به چې دوبی راورسېد، نو د سیاستوالو کارونه به کمېدل او دوی به خپل ژوند ته رسیدګي کوله. د تفریح او خوښیو خوا ته به ورتلل.

که څه هم کوم ځانګړی کار مې نه ترسره کاوه، مګر بیا هم هر څه د پلان له مخې پرمخ تلل. د ۱۹۹۸ کال د جولای میاشت په سهار کې مې د زېږد لومړني دردونه حس کړ. مایا هم له هاوایي راغلې وه چې د امیندوارۍ د وروستۍ اونۍ تر پایه له مورِ سره واوسي. مور مې هم وه. زه باراک، مایا او مور مې په ګډه د شیکاګو پوهنتون روغتون ته لاړو. مخکې له دې چې کبابیان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو کورو کې سکاره روښانه کړي، مخکې له دې چې خلک خپلې روجايۍ په ساحل کې وغوړوي، شورماشور وکړي او بيرغونه پورته کړي او په ساحل کې اور لوبې ته په تمه شي، دا مبارکه پېښه وشوه او ماليا اوباما، زما لومړنۍ ښکلې لور نړۍ ته سترګې پرانيستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱٤

مورولی په حرکت راوستم. زما ټول کارونه او زما د ژوند ریتم یې خپل واک کې واخیستل. مور شوې وم. ژوند کې مې نوی نقش راترغاړې شوی و. خو اړینه نه وه چې زیات وخت پرې ولګوم او فکرونه وکړم، ځکه زه داسې مېرمن یم چې جزییاتو ته پام کوم او ماشوم هم له جزییاتو ډک دی. ما او باراک په ډېر دقت مالیا تر نظر لاندې ونیوله او د هغې د کوچنیو سرو شونډو، د هغې د ګوړګوتي وېښتو، د هغې د حیرانو کتو او همدارنګه د هغې د لاسو او پښو ښورولو رازونه مو کشف کړل. هغه مو لمبوله، پمپر به مو ورتاړه او په سینه مو کلکه نیوله. د هغې شیدې خوړل، د هغې د خوب او د هغې غږونه مور ته ډېر جالبه وحتا د هغې چټل پمپرونه به مو په ډېر ځیره کتل او ګواکې داسې راته ښکارېدل چې پټ رازونه لري.

هغه کوچنی انسان و چې مور ته راسپارل شوی و. ما په خپل ټول ځان د هغې مسئولیت اخیستی و. کله ناکله به حتا یو ساعت کېناستم او د هغې ساه ایستل به مې کتل. کله چې په کور کې یو ماشوم ولرئ، نو کله وخت ډېر اوږدېږي او کله هم ډېر چټک او ډېر لنډ. د مثال په توګه یوه ورځ داسې ښکاري چې هېڅ خلاصېږي نه مګر بیا ناڅاپه شپږ میاشتې د برېښنا په څېر تېرېږي. کوم اغېز چې مالیا زموږ په ژوند کړی ورته خندا مو راتله. وړاندې به چې کله ماښام شو، نو ما او باراک به د خپل هېواد د قضایي سیستم د قوانینو په اړه بحث کاوه. دا بحث به د مجرمو او بېلارو ماشومانو او نویو ځوانانو په اړه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پابلیک الایز شرکت کې ما په دې اړه ډېر تجربې تر لاسه کړې وې، نو باراک ته به مې ویلې چې هغه یې د سنا مجلس په لایحو کې شاملې کړي، خو اوس مور په ډېره مینه او ډېره خوښۍ په دې اړه بحث کاوه چې مالیا له چوشک سره ډېره روږدې شوې نه ده او همدارنګه مور به د هغې پرېوتل سره پرتله کول چې څوک یې خندګه او څوک یې خنګه خملوي. د نورو نویو میندو او پلرونو په څېر وسواسي شوي وو او سربېره پر دې هېڅ شي هم مور په دې کچه نه خوشحاله کولو. د جمعې شپه کې به مو مالیا په وړونکې زنګو کې واچوله او له ځانه سره به مو رستورانت ته بوتله. مور به مخکې له دې ډوډۍ خلاصه کړه چې هغه بېتابه او بېقراره شي. ډوډۍ به مو وخوړله او له روستورانت نه به راووتو.

مالیا چې د څو میاشتو شوه، په پوهنتون کې خپل کار ته ورستنه شوم. البته نیمه ورځ مې کار کاوه او څنګه مې چې مخکې غوښتل، هغسې مېرمن وم چې دنده مې درلوده او زړه سواندې مور وم. د ماشومانو یوه پرستاره مې پیدا کړه چې ګلورینا کاسابل نومېده، له ما نه لس کاله مشره او فلیپینۍ وه چې د پرستارۍ زده کړې یې هم درلودې او خپل دوه ماشومان یې هم غټ کړي وو. دې ته مې ګلو ویل، چابکه او لنډۍ مېرمن وه، وېښته یې لنډ وو، د طلایي قاب عینکې یې درلودې. دا دومره چټکه وه چې دوولسو ثانیو کې یې د ماشوم پمپر بدلاوه. ډېره تر او تازه او شوخه وه چې څو کاله زمور د کورنۍ د یوې غړې په شان وه. د دې ستره ځانګړنه دا وه چې د زړه له تله یې زمور له ماشومې سره مینه کوله.

یوه حقیقت ته مې وروسته پام شو، هغه دا چې نیمه ورځ یا پارټ ټایم دنده له یو ډول غولونې پرته بل څه نه ده. ځکه یو کس هماغه د فول ټایم کارونه ترسره کوي، په هماغه همېشنیو غونډو کې ګډون کوي او هماغه مسئولیتونه یې پر غاړه وي. یوازینی توپیر یې دا دی چې د پخوانۍ تنخا نیمایي اخلي. که کله ناکله به یوه غونډه له خپل وخته وروسته ترسره کېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنډېده به نو ما به له ځنډ پرته ځان کور ته رساوه چې مالیا واخلم او د موسیقي ښوونځي ته یې بوزم چې له غرمې وروسته و. مالیا به خوښه او خوشحاله وه، مګر زه به په خولو کې لمبېدم او ساه به مې بنده بنده کېده. کور کې به چې وم، نو کاري تلیفون ته به کاري زنګونه راتلل چې ما به ځواب ورکاوه او یو بد احساس به مې درلود. همدارنګه کله به چې دنده کې وم او د مېز شاته به ناسته وم، نو فکر به مې کاوه چې که مالیا له موپلیو سره حساسیت ولري څنګه به شي. لنډه دا چې ټول فکرونه به مې مالیا ته وو. په هر حال پارت ټایم کار په واقعیت کې زما د ژوند ټولې برنامې ګډې وډې کړې وې.

خو د ماشومې شتون د باراک لپاره هېڅ ستونزه نه وه رامنځته کړې. کله چې مالیا پیدا شوه، نو دی د څلورو نورو کلونو لپاره هم په سنا مجلس کې وټاکل شو. ۸۹ سلنه رایې یې ګټلې وې. دې څرګندوله چې ډېر محبوبیت لري. اوس یې نو په لوړو موخو فکر کاوه. غوښتل یې د سنا د مجلس د یوه دیموکرات استازي ځایناستی شي چې بابي راش نومېده. زما باور و چې د کانګرس په انتخاباتو کې د ده نوماندېدل، ښه فکر نه دی. ځکه راش ډېر نفوذ درلود او پېژندل شوی شخص و، دا په داسې حال کې وه چې باراک تر دې دمه دومره مشهور نه و او د بریا احتمال یې کم و. مګر د ده ګوندي دیموکراتو مشاورانو ورته وړاندیز وکړ چې خپل چانس وازمايي. د یوې نظرپوښتنې له مخې یې د بریا امکان شته و. په هر حال، ما نور خپل مېړه پېژانده. که ده ته به داسې موکه برابره شوه چې ټولنې ته به یې زیاته ګټه رسوله، نو دا موکه به یې هېڅکله نه له لاسه نه ورکوله.

د ۱۹۹۹ کال په وروستیو کې مالیا شاوخوا د اتلسو میاشتو شوې وه. دا مهال د کرسمېس لپاره هاوایي ته لاړو چې توت نیا یې ووینې. توت اوس ۷۷ کلنه وه او په خپل پخواني کوچني اپارتمان کې یې ژوند کاوه. هغې کال کې یو ځل خپله لمسۍ او خپلوان لیدلی شوای. شیکاګو کې ژمی رارسېدلی و او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آبي رنګه اسمان ګرموالی ورو ورو کمېده. زه هم له خپل کوره او له خپل کاره او کارځایه ستړې شوې وم، نو په وایکیکي ساحل کې مو یو معمولي هوټل ریزرف کړی و. سفر ته چمتو و. په حقوقو پوهنځي کې د باراک تدریس هم پای ته رسېدلی و. ما هم له کاره رخصتي اخیستې وه. هر څه برابر و، مګر سیاست مو بیا خنډ شو.

د اېلینوی ایالت مجلس هوډ درلود چې یوه مهمه جنايي لایحه تصویب کړي. استازو غوښتل چې له کَلَنیو رخصتیو وړاندې په یوه جلسه کې رایې ورکړي او دا لایحه تصویب شي. باراک له سپرېنګ فیلډ څخه ما ته زنګ راوکړ او راته کړل یې یو څو ورځې باید تګ وځنډوو. ښه خبر نه و، مګر پوهېدم چې ګناه د ده نه ده. زړه مې نه غوښتل چې کرسمېس کې دې توت یوازې واوسي. له بل پلوه، ما او باراک هم استراحت ته اړتیا درلوده او د هوايي دا سفر موږ ته ډېر ګټور واقع کېده.

اوس نو په رسمي توګه باراک د کانګرس استازولۍ ته نوماند شوی و. له همدې امله کور ته هم ډېر نه راته. له یوې سیمه‌یزې ورځپاڼې سره یې په مرکه کې وویل چې شپږ میاشتې کېږي چې کانګرس ته نوماند شوی او په دې شپږو میاشتو کې یوازې څلور ورځې له خپلې کورنۍ سره پاتې شوی او بس. ټاکنې په مارچ میاشت کې ترسره کېدې. باراک تل په انتخاباتي کمپاینونو کې فعالیت کاوه او زه پوهېدم چې هره شېبه او دقیقه چې په کورنۍ کې له موږ سره تېروي، نو د انتخاباتي کمپاین د مسئولینو له انده د وخت ضایع کول شمېرل کېږي.

اوس مې نو په کافي کچه شناخت درلود او په کافي کچه مې تجربه لرله چې ځان د انتخاباتو په لوړو ژورو کې ښکېل نه کړم. له باراک سره مې منلې وه چې په انتخاباتو کې ګډون وکړي. دا کار مې له دې امله کړی و چې نه مې غوښتل نادري سره ووهو. داسې مې انګېرل چې خپله هڅه به وکړي، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناکامېږي او دا به بیا د دې باعث شي چې بل کار پیل کړي. زما د خوښې وړ دنده دا وه چې باراک د یوه داسې شرکت مدیر شي چې د ټولنې د ستونزو د هوارولو مسئولیت ولري او دا کار ده ته دا امکان برابر کړي چې د شپې کور ته راشي.

له نېکه مرغه هغه لایحه تصویب نه شوه او سنا مجلس رخصت شو. موږ هم پر دې وتوانېدو چې د ډیسمبر په درویشتمه هاوایي ته الوتنه وکړو. وایکیکي ساحل یو ډېر ښکلی ځای و. مالیا به په سمندر غاړه کې له شکو سره لوبې کولې، د اوبو څپې به یې په لغتو وهلې او دومره لوبې به یې کولې چې ستړې به شوه او له پښو به وغورځېده. موږ د توت په اپارتمان کې له خوشحالۍ څخه یو ډک کرسمېس تېر کړ. ډالۍ مو پرانیستې. خو هغه وخت ډېر هیښ شو چې له جنجال توکي سره مو د توت مینه ولیدله. (جنجال توکی دې ته وایي چې انځور له څو ټوټو جوړ شوی وي، که دا ټوټې سره یو ځای شي نو هغه انځور څرګند شي: ژباړن) جنجال توکي څو زره ټوټې درلودې چې پر مېز پرتې وې. د هاوایي شنو اوبو او د دې سیمې خوشحاله خلکو زموږ په وجود کې ټولې ستړیاوې او سترسونه له منځه یوړول او موږ یې هم ښاد او خوشحاله کړو. لورکۍ مو هم ډېره خوشحاله وه. څنګه چې ورځېانو ویل، موږ د ۱۹۹۹ کال وروستۍ ورځې تېرولې او نوې زریزې ته وردننه کېدو.

رخصتۍ ښې تېرېدې. خو ناڅاپه له اېلینوی څخه باراک ته زنګ راغی او ورته وویل شول چې د سنا مجلس غواړي چې د جرایمو د لایحې په اړه رای ګیري وکړي او هغه باید د ۴۸ ساعتونو په اوږد کې ځان ورورسوي. باراک څنډ ونه کړ. ژر یې زموږ د الوتکې ټکټونه بدل کړل چې د هغې ورځې سبا ته لاړ شو او خپل سفر پای ته ورسوو. البته ما کولای شول چې له مالیا سره هلته پاتې شم، مګر ډاډه وم چې وخت به راباندې ښه تېر نه شي. په هر حال زما سیاست همدا و. دې لایحې ځانګړې اهمیت درلود. په ځانګړې توګه دې لایحه کې د وسلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لېږد قانون هم شامل و چې باراک يې ډېر ملاتړ کاوه او داسې ښکارېدل چې گنې د يوه سناتور رايه هم د هغې په تصويبېدلو کې ونډه او اهميت لري. خو له دې وروسته يوه بله ناڅاپي پېښه وشوه. چې شپه شوه، ماليا تبه وکړه. ځکه ټوله ورځ يې د سمندر ځپې په لغته وهلې وې او لوبېدلې وه. خو اوس زما کوچنۍ لور بېحاله او ناروغه پر کټ غځېدلې وه. اوښکې يې تويولې او واويلاوې يې کولې او نه يې شول کولای څه ووايي. هغې ته مو ستامينوفن گولۍ ورکړه، مگر گټه يې ونه کړه. بيا بيا يې خپلو غوږونو ته لاسونه وروړل. زه پوه شوم چې غوږونه يې ميکروبي شوي. موږ د ماليا په کټ ناست وو او حيران حيران مو ورته کتل. الوتنې ته مو يوازې څو ساعته پاتې و. باراک په بد وضعيت کې راگير شوی و. اندېښمن ښکارېده. هغه ته مې وويل:

«ماشومه په دې حالت کې الوتکې ته نه شو پورته کولای.»

باراک وويل:

«پوهېږم».

بيا مې وويل:

« ټکټونه بايد بدل کړې.»

باراک بيا وويل:

«پوهېږم».

هغه يوازې په ټکسي کې سپرېدلی او هوايي ډگر ته تللی شوای چې په خپله موکه ځان مجلس ته ورسوي او رايه ورکړي. خو ما نه غوښتل چې داسې يو وړانديز ورته وکړم چې نه مې خوښېده او خپله يوازې له هغه ستونزې سره لاس او گرېوان شم چې ماليا ته راپېښه شوې وه. که اړتيا مو درلودلای چې روغتون ته لاړ شو نو بيا څه؟

موږ هلته ناست وو، دا په داسې حال کې وه چې نړيوالو- هغه کسان چې په خيالونو کې ډوب وي او خيال پلو وهي- پيسې او خوراکي توکي زېرمه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د داسې ځای په لټه کې و چې امن وي چې هسې نه د ۲۰۰۰ کال وړاندوینه رېښتیا شي او برقي شبکې او ارتباطي سیستمونه د کمپیوټري ستونزو په خاطر کار پرېږدي. دوی دا کار ځکه کاوه چې خوندي پاتې شي.

هر څه چې وو، نو راپېښه وه. باراک فکر کې ډوب شو، شېبه وروسته یې له خپل مرستیال سره اړیکه ټینګه کړه او هغه ته یې وویل چې نه شي کولای چې ځان د هغې لایحې رای ورکوونې ته ورورسوي. زه پوه نه شوم چې دا موضوع یې څنګه ورته وویله، مګر هر څه وو، وو به. داسې وخت کې، موږ باید له هر څه نه زیات پام خپلې کوچنۍ لورکۍ ته کړای وای.

بلاخره ۲۰۰۰ کال له هېڅ ناوړه پېښې پرته راورسېد. مالیا ته مو هم انتيبیوتک ورکړل، دوه ورځې یې استراحت وکړ او جوړه روغه شوه. څنګه مې چې فکر کاوه هماغسې وه غوږ یې میکروبي شوی و. له څو ورځو وروسته په الوتکه کې سپاره شوو او شیکاګو ته، د ژمي سړو ته او سیاسي ګډوډیو ته مو ځانونه ورورسول. هغه لایحه چې د جرایمو په اړه وه پنځه موافقې رایې یې کمې شوې وې، نو تصویب شوې نه وه. څرګنده وه چې که بارک په خپله موکه وررسېدلی هم وای، بیا هم د رایو په پایله کې کوم اغېز نه راتله. خو د باراک نشتون د دې باعث شو چې د کانګرس په انتخاباتو کې یې د سیالانو له خوا ګرم شي. سیالانو یې وویل چې دی خپله ساعتېري کوي. ځکه نه غواړي چې خپلې رخصتۍ او مزې چړچې پرېږدي او له هاوایي ټاپوګانو راشي چې داسې مهم قانون په مجلس کې تصویب شي چې د وسلو د لېږدولو په اړه دی.

څو میاشتې وړاندې، د کانګرس د استازي بابي راش د کورنۍ یو غړی په ګولۍ لګېدلی او وژل شوی و، همدا موضوع هم د دې باعث شوه چې د باراک وضعیت خراب شي. څرګنده وه چې چا نه غوښتل پوه شي چې هغه د هاوایي دی او د خپلې یوازې نیا لیدو ته هلته تللی و او بیا یې په ناڅاپي توګه هلته ماشومه ناروغه شوې وه. څه چې دوی ته مهم و هغه هماغه مسخره رایې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنیو هم دا موضوع څو اونۍ پسې وغځوله. د شیکاګو تریبون ورځپاڼې مدیر هغه سناتوران چې هغه ورځ یې رایه نه وه ورکړې د ناپوهه پسونو په نامه یاد کړل. د باراک یوه بل ایالتي سیال دان تروټر له دې پېښې ګټه واخیسته او یوه خبریال ته یې وویل چې ماشومه یې پلمه کوي او کار ته نه راځي چې دا خپله د ده د شخصیت کمزورتیا څرګندوي.

رسنیو کې زموږ د کورنۍ په اړه ډېرې بدې خبرې کېدې چې زه ورسره روږدې نه وم. نه پوهېدم چې د یوه سم تصمیم له امله زما د مېړه شخصیت ولې تر داسې پوښتنې لاندې راغلی. باراک په ډېر زغم سره د هغوی په ځواب کې یوه مقاله ولیکله او یوې سیمه‌یزې ورځپاڼې ته یې ورواستوله. ده خپله مقاله کې وویل چې موږ له خپلو سیاستوالو ډېرې خبرې اورېدلې چې پر کورنیو ارزښتونو ټینګار کوي. ما هم د یوه ایالتي سناتور په توګه هڅه وکړه چې د همدې ارزښتونو ساتوونکی واوسم.

داسې ښکارېدل چې زموږ د ماشومې د غوږ میکروبي کېدلو، په سنا مجلس کې د باراک ټولې درې کلنې هڅې په بشپړه توګه له منځه وړې وې. هغه وړاندې د انتخاباتي کمپاینونو د مالي لګښتونو په اړه نوي قوانین وړاندې کړې وو، د مالیاتو د راکمېدو او بېوزله کورنیو ته د پور ورکولو په برخه کې یې هم زیاته مبارزه کړې وه، همدارنګه زیاته هڅه یې کړې وه چې د زړو ښاریانو درملیز لګښتونه راکم شي او د دې کارونو له امله یې د دیموکراتو او جمهوریپالو باور هم تر لاسه کړی و، خو په څرګنده توګه، هغه شېبه کې یو کس هم دې ته حاضر نه شو چې د هغو بریدونو مخه ونیسي چې بر باراک کېدل. د هماغه انتخاباتي فعالیتونو له پیله، د ده سیالانو، په ده پسې بدې شایعې خپرې کړې چې تور پوستی رای ورکوونکي پرې بدبینه کړي. باراک پسې ویل کېدل چې د هایدپارک د سپین پوستو یهودیانو استازی دی. دان تروټر د شیکاګو ریډر ورځپاڼې خبریال ته وویل: «باراک یو سپین پوستی دی خو د تور پوستانو نقاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وهلی دی». بابي راش هم دې خپرونې ته يوه مقاله وليکه او نشر يې کړه. په مقاله کې يې ليکلي وو هغه هاروارد ته تللی، د دې پر ځای چې عالم شي، احمق شوی او موږ د داسې پوهنتوني کسانو تر اغېزې لاندې باید رانه شو. ده ټينگار کړی و چې باراک زموږ په ټولنه پورې اړه نه لري او يو واقعي سپين پوستی نه دی. څوک چې هغسې خبرې کوي او داسې ظاهري بڼه لري، که څه هم زيات کتابونه يې لوستلي وي، مگر بيا هم تور پوستی نه شي کېدی.

څه شي چې ډېره ځورولم، هغه دا وو چې باراک په دقيقه توگه هماغه څه وو چې زموږ د سيمې پلرونو او میندو يې هيله درلودله چې اولادونه يې هاغسې وي. زده‌کړې يې کړې وې او پر ځای د دې چې د تور پوستانو ټولنې پرېږدي له هغوی سره پاتې شوی و او غوره يې دا بلله چې د دوی خدمت وکړي. حيرانه به دې ته وم چې په انتخاباتو کې په ده پسې داسې بې اساسه شايعې خپرېږي. دې چلن ډېره ځورولم. خو باراک وړاندې هم ليدلي و چې سياست تر کومې کچې پورې چټل او ناځوانمردانه کېدی شي. دی له ما څخه زيات ځواکمن و چې له داسې وضعې سره جورجاړی وکړي. احساسات يې ځپل شوي وو، مگر نه يې غوښتل تسليم شي. ژمي کې يې خپلې انتخاباتي مبارزې ته ادامه ورکړه. که څه هم مالي ملاتړي يې ورو ورو کم شوي و او د بابي راش ملاتړ زيات شوی و، مگر ده بيا هم همداسې خپلو ټاکنيزو تبليغاتو ته ادامه ورکوله. هر څومره چې ټاکنو ته نژدې کېدو، نو هومره به په کور کې د ده شتون کمېده. خو ده به هره شپه له موږ سره اړيکه نيوه چې موږ ته شپه پخير ووايي.

څنگه چې ما هم څو ورځې رخصتي په هاوايي ساحلونو کې تېره کړې وه نو خوشحاله وم او پوهېدم چې باراک هم د زړه له تله خوښ دی. کومې شپې به چې له موږه لرې و، څه به يې چې نه هېرول، هغه له موږ سره مينه وه. هر ځل به يې چې زنگ راواهه نو ما به د لرېوالي درد او غم د ده په غږ کې احساساوه. گنې داسې ښکارېدل چې د کورنۍ او سياست په منځ کې يې کش و

(c) ketabton.com: The Digital Library



گير دی او ځوروي يې.

بلاخره د مارچ مياشتې ټاکنې راورسېدې او باراک پکې ناکام شو. بابي راش بريالی شو. دا ټوله موده مې خپله لور په غېږ کې نيولې وه.

بيا زموږ دويمه لور پيدا شوه. ما څه ناڅه هوسا او بې جنجاله اميندواري تېره کړه. دويمه لور مې هم د شيکاګو پوهنتون په روغتون کې وزيږېده. ناتاشا ماريان اوباما، د ۲۰۰۱ کال د جون د مياشتې په ۱۰ نېټه له يوې بلې مصنوعي القاح وروسته نړۍ ته سترګې پرانيستې. اوس نو ماليا درې کلنه وه. موږ په کور کې پرېښې وه. مور مې هم ورسره وه او موږ ته په تمه وې. زما دويمې ماشومې، کوچنۍ ګلالۍ مې، تور وېښته لرل، سترګې يې قهوه‌يي وې، ډېره هوښياره وه او زموږ د کورنۍ د مربعې څلورمه ضلعه شوه. زه او باراک د هغې پيدا کېدو ته ډېر خوشحاله شوو.

له مشورې وروسته مو وويل چې ساشا به ورته وايو. دا نوم ما غوره کړی و او هغه چا ته ويل کېده چې پر خپل ځان باور ولري. ما او باراک هم د نورو ميندو او پلرونو په شان له خپلو ماشومانو سره مينه درلوده او نه مو غوښتل چې هغوی ته کوم زيان ورسي. ما هيله درلوده چې زما لوڼې هم د خپل پلار په شان هوښيارې شي او د خپلې مور په شان زياته انرژي او انګېزه ولري. له هر څه نه مې زياته هيله دا وه چې زما ماشومان کلک او باارادہ وي چې په هر ډول شرايطو کې وکولای شي خنډونو لرې کړي او مخ پر وړاندې لاړ شي. نه پوهېږم چې په راتلونکې کې به زما د کورنۍ برخليک څنګه وي. مګر ما دا خپله دنده ګڼله چې د خپلو ماشومانو لپاره هر څه چمتو کړم.

په پوهنتون کې کار ډېره ستړې کولم. همدارنګه دومره تنخا يې هم نه راکوله چې کافي وي او زما ژوند پرې وچلېږي. اوس مې نو چورتونه وهل چې د ساشا له پيدا کېدو وروسته هغې کار ته وروګرزم او که نه. ښايي هم چې تصميم به مې درلود داسې مېرمنه واوسم چې يوازې په کور کې کار کوي، يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور مېرمن. په ځانګړې توګه هغه وخت ډېره چورتي شوم چې ګلو وپتېيله چې له مور ښخه لاړه شي او په داسې ځای کې پر کار وګمارل شي چې زیاته تنخا ورکوي. ما نشو کولای چې د دې کار له امله یې ملامته کړم. مګر د هغې تلو، زما زړه ودرداوه. ځکه هغې به نجونې ساتلې او ما بېرون کې خپله دنده ترسره کولای شوه. کومه ورځ یې چې دا خبر راکړ، ډېر مې وژړل. هغه زما لپاره ستره ډالۍ وه. چې تله کمزورتیا مې احساس کړه. داسې راته ښکارېدل چې ګنې یو لاس مې پرې کېږي.

زما هم ډېر خوښېدل چې په کور کې واوسم او خپل وخت له خپلو لوڼو سره تېر کړم. د هغو شپېو شپېو قدر مې پېژانده. په ځانګړې توګه داسې وخت کې چې د باراک کاري ساعتونه ډېر نامنظمه شوي وو. مور مې راپه یاد شوه چې زما او د کرېګ پالنه یې کوله، روزلو یې او دنده یې پرېښې وه. زما هم زړه غوښتل چې فکر مې په دوو ځایونو یعنې کور او کار کې ښکېل نه وي. سربېره پر دې که ما دنده نه وای ترسره کړې، نو زموږ په مالي وضعیت یې چندان اغېزه نه کاوه. ځکه باراک اوس په شیکاګو پوهنتون کې استاد و او موږ له همدې امله کولای شوای چې مالیا په وړکتون کې شامله کړو او له تخفیفه برخمن شو.

موده وروسته سوزان شېر راسره اړیکه ونیوه چې زما مشاوره وه او مخکې یې راسره ښاروالۍ کې کار کاوه. هغه اوس د شیکاګو پوهنتون د طبي مرکز مرستیاله وه چې ساشا هم پکې پیدا شوې وه. د دې طبي مرکز رییس یو شریفه انسان و. دې سړي غوښتل طبي چوپړتیاوې هغو عمومي کسانو ته هم وړورسوي چې لاسرسی ورته نه لري. له دې امله د عمومي اړیکو لپاره په یوه مدیر پسې ګرزېده. دا یوه داسې دنده وه چې ما ته جوړه شوې وه. له همدې امله سوزان راسره اړیکه ونیوه چې دا دنده غواړم او که نه.

خو کله مې چې د خپل ژوند ټولو اړخونو ته وکتل، نو غوره مې دا وګڼله چې کور کې پاتې شم او د خپلې کورنۍ خدمت وکړم. ډېرې مهال به حتا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې هم ويښه وم، ځکه ساشا به بېقراره وه او زه به ورته له خوبه پاڅېدم چې شيدې ورکړم او آرامه يې کړم. له همدې امله مې تل خوب ته اړتيا درلوده. نو بيا په داسې حالت کې مې څنګه کولای شول چې سهار وختي له خوبه پاڅم، ځان پرېمينځم، وېښته ږمنځ کړم، رسمي جامې واغوندم او له کوره ووزم. که څه هم پاکه او بانظمه مېرمن وم، مګر هغه وخت مې دومره هم نشو کولای چې په سمه توګه حتا خپل کور وساتم. کوټې مو له نانځکو، د ماشومانو له کتابونو او له پمپرونو ډکې وې. کله به چې بېرون ته تلم، نو د ماشومانو ستره ګاډۍ، ستر لاسي بکس، څو نانځکې او څو جوړه اضافه جامې به د ماشومانو په خاطر راسره وو.

خو مورولي د دې باعث هم شوه چې څو ښې او صميمي ملګرې پيدا کړم. دې خورلڼو مې دنده هم درلوده. له دوی سره به کېناستم او خبرې به مې ورسره کولې. د ماشوم ساتنې په اړه يې ښه معلومات درلودل چې ما به ترې زده کول. د عمر له پلوه هم سره نژدې وو چې د ډېريو عمر مو له څو دېرشو کاله نه و اوښتی. مختلفې دندې مو هم ترسره کړې وې، لکه بانکداري او په دولتي يا شخصي شرکتونو يا خپلواکو سازمانونو کې کار. ماشومان مو هم سره همځولي وو. د اونۍ په پای کې به مو سره ليدل او کله ناکله به په ګډه ژوبڼ ته هم تلو او يا به مو په ګډه والټ ديسني کارتون ليده. کله کله به مو ماشومان په لوبغالي کې پرېښودل چې لوبې وکړي او موږ به هم سره کېناستو او څښاک به مو کاوه. دا مېرمنې هم زما په شان لوستې، جاه‌طلبه او په عين حال کې د خپلو ماشومانو پر وړاندې زړه سواندې وې. هغوی هم نه پوهېدې چې څنګه په بيرون کې خپل حرفه‌يي ژوند او خپل کورنی ژوند سره همغږي کړي. په دوی کې ځينې داسې مېرمنې هم وې چې فول ټايم يې کار کاوه، ځينې داسې وې چې پارټ ټايم يې کار کاوه او ځينې نورې يې په بشپړه توګه يوازې په کور کې وې. ځينې به داسې وې چې خپلو ماشومانو ته به يې سنديويچ، چېپس يا جوار ورکول، ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورۍ بیا پر دې باور وې چې ماشومان یې باید حبوبات وخوري. دوی کې د هغو ښځو شمېر کم و چې مېړونو به یې د ماشومانو د ساتنې په برخه کې له دوی سره مرسته کوله. ځینې زما په شان هم وې چې مېړونه یې دومره بوخت وو چې ډېر کم یې کورونو ته راتلل. زما ځینو دې خورلڼو، په هر حال کې ځانونه نېکمرغه احساسول او ځینې نورو بیا داسې انګېرل چې خپل ژوند ته لږ بدلون ورکړي او غوره ژوند ځانته جوړ کړي.

له دې مېرمنو سره دوستۍ رازده کړل چې د سمې مورولۍ لپاره کوم ځانګړی فورمول نشته. مګر موږ ټولو میندو هڅه کوله چې له خپلو ماشومانو سره سم چلن وکړو او بلاخره هم له یو بلې سره د مرستې له لارې دې موخې ته ځانونه ورسوو.

لنډه دا چې یو څه موده مې له دوستانو او باراک سره مشورې وکړې چې آیا په شیکاګو روغتون کې هغه دنده ترسره کړم او که نه. احساسول مې چې دا داسې دنده ده چې له عهدې یې وتلی شم. ما باید کتلي وای چې دې دنده کې آزادي راکوي چې د هغوی په غیرضروري غونډو کې ګډون ونه کړم یا کله ناکله هم په خپل کور کې دنده پرمخ بوزم، یا د اړتیا په وخت کې رخصتي اخیستلای شم چې لونې مې ډاکټرانو ته بوزم. البته دا مې په یاد و چې نور باید پارټ ټایم کار ونه کړم. غوښتل مې فول ټایم دنده ولرم چې کافي تنخا ولري. ځکه زیاتې تنخا ته مې اړتیا درلوده چې نجونو ته مې پرستاره او خدمتکاره ونیسم چې له کوره مې زړه بې غمه شي او په عین حال کې ما نه غوښتل چې ماشومې ته د شیدو ورکولو او د بلې درې کلنۍ ماشومې د ساتلو او همدارنګه زما د مېړه نامنظمه سیاسي برنامې له چا نه پټې کړم.

له همدې امله، کله چې د روغتون نوي رییس مایکل ریوردان ته د مرکې لپاره ورغلم، نو دا مسایل او خپلې ټولې ستونزې مې ورته وویل. حتا یادېږي مې چې درې میاشتینۍ ساشا مې هم له ځانه سره بېولې وه. هغه زما د ژوند یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیت و چې نه انکارېده. د مرکې وخت کې مې ساشا په مېز اېښې وه. خو دې موضوع ډېره هیښه کړم چې رییس زما داسې ګډوډ حالت درک کړ. بیا مې ساشا غېږ کې راواخیسته او هیله مې لرله چې خپل پمپر چټل نه کړي. رییس ته مې په زړورتیا وویل چې زما وضعیت باید درک کړي او له ما سره سختګیري ونه کړي. هغه مې خبرې واورېدې او کومه نیوکه یې ونه کړه. له مرکې راضي وم. ډاډ مې درلود چې دا دنده به ما ته راکړل شي. د ځواکمنۍ احساس مې کاوه. کله چې مرکه پای ته ورسېده، ماشومه مې راواخیسته، ځکه بېتابي یې کوله او ژر مې ځان کور ته ورساوه.

اوس مې نو خپل ژوند کې دوې ماشومانې، درې دندې، دوه موټره او یو اپارتمان لرل او کله چې بېکاره وم، نو غوره مې بلله چې هغه روغتون کې کار وکړم. باراک هم په پوهنتون کې درس ورکاوه او هم یې په سنا کې کار کاوه. له دې سره سره موږ دواړه د څو خپلواکو شرکتونو د مدیره هییت غړي هم وو. که څه هم باراک د کانګرس په انتخاباتو کې ماته خوړلې وه، مګر د یوه لوړ مقام په فکر کې و. جورج ډبلیو بوش ولسمشر شوی و. د سپټمبر د یولسمې نېټې د ترهګریزو بریدنو له امله هېواد مو په وحشت کې لاهو شوی و. دا احتمال مخ پر زیاتېدو و چې په افغانستان به برید وشي. په امریکا کې یو خبرورکونکی سیستم هم رغول شوی و چې څو رنګونه یې لرل او د خطر په وخت کې یې خلک خبرول. داسې هم ویل کېدل چې اسامه بن لادن په یوه غار کې ځان پټ کړی. باراک د تل په څېر ورځپاڼې تعقیبولې او لوستلې او کله به یې چې کار کاوه نو ځینې پلانونه به یې هم له ځانه سره جوړول. په دقیقه توګه نه پوهېږم چې کله ده ته دا فکر لومړی ځل پیدا شو چې د امریکا د سنا مجلس غړیتوب ولري او ځان ورته نوماند کړي. یادېږي مې، کله مې چې ده ته ځواب ورکاوه، نو په ناباورۍ مې ورته کتل او خپل نظر مې ورته وواېه چې فکر نه کوې چې په کافي کچې په خپل ژوند کې بوخت یو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سیاسته زما کرکه ورځ په ورځ زیاتېده او بېزاره کېدم ترې. دا د هغو پېښو له امله نه وو چې په سپرینګ فیلډ یا واشنګټن کې پېښې شوې وې، بلکې لامل یې دا و چې په دې پنځو کلونو کې چې باراک ایالتي سناتور و، کارونه یې دومره زيات او پراخه وو چې ورو ورو یې زما اعصاب خرابول. ساشا او مالیا هم ستړېدلې او پالنې او روزنې ته یې اړتیا ورځ په ورځ زیاتېده. ما او باراک ټوله هڅه کوله چې د لوښو ژوند مو هوسا او له هر ډول ستونزې پرته وي. نوې پرستاره مو هم د کار لپاره نیولې وه چې کور کې له ما سره مرسته وکړي. مالیا هم ښوونځي ته تله، ښوونځی یې له شیکاګو پوهنتون سره تړلی و. دا خوشحاله وه او زیاتې خورلڼې یې هم پیدا کړي وې. دا به له خپلو خورلڼو سره د اونۍ په پای کې مېلمستیاوو یا هم د لمبا ټولګیو ته تله. ساشا هم اوس یو کلنه شوې وه او په لړزانو پښو به ګرزېده هم. خبرې یې هم نوې نوې زده کړې وې. کله به یې چې وخندل، نو موږ به ډېر ورته خوشحالېدو. ډېره ځیرکه نجلۍ وه. تل به په مالیا او د هغې په خورلڼو پسې وه. په روغتون کې زما دنده هم ښه پر مخ تله. خو پام شوی مې و چې د دې لپاره چې خپلې دندې ښې ترسره کړم، نو سهار پنځه بجې باید له خوبه پاڅېږم او یو دوه ساعته د کمپیوټر شاته کار وکړم.

همدا موضوع د دې لامل شوه چې مازیګري کې لږ ستړې او کسله شم. حتا کله ناکله به د شپې پر دې هم نه توانېدم چې له خاوند سره مې کېنم او ورسره خبرې وکړم. کله ناکله به غوسه هم راتله. کله به چې پنجشنبه شوه، هغه به په ډېره مینه او خوشحالۍ کور ته راغی. ده غوښتل چې خپل نشتون جبران کړي. کله به یې چې موټر کې کېناسته او د کور خوا ته به یې حرکت راکاوه، نو ما ته به یې تلیفون کاوه، راته ویل به یې چې په لاره کې یم او ډېر ژر به کور ته درورسېږم. ما به ماشومانې پاکې پرېمینځلې او تر هغې مې خوب ته نه پرېښودلې چې څو به یې پلار کور ته نه و راغلی. دا کار مې ځکه کاوه چې پلار یې ووینې او په غېږه کې یې ونیسي. خو کله ناکله به مې د بېګاه ډوډۍ ورکړه او ویدې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې کړې. خو خپله به مې ډوډۍ نه خوړله. څو شمعونه به مې پر مېز لګول او منتظره به وم چې باراک راشي، خو باراک همداسې په ژمنه نه و ولاړ. وخت ته يې نه کتل. کله به چې موټر کې ناست و او کور ته به راتله، نو په لار کې به له خپل کوم همکار سره مخ شوی و او ۴۵ دقيقې به يې ورسره مجلس کړی و. يا کله به کور ته راورسېد، نو سوچ به ورولوېد چې غوره ده ورزشي سالون ته لاړ شي او لږ نرمش وکړي. له همدې امله کله ناکله به ساشا او ماليا دومره خپل پلار ته په تمه کېدې چې نور به يې سترګې له خوبه ډکې شوې او زه به اړ شوم چې د خوب خونې ته يې بوزم او ويدې يې کړم. زه به هم وږې تږې ناسته وم او غوسه به راتله. چوړتونه به مې وهل. د مېز پر سر اېښي شمعونه به تر وروستي څاڅکي وڅڅېدل او اور به مړ شو.

چې ماشومان مو نه و پيدا شوي د هغه داسې بې قولۍ مې منلې او ځان به مې غلی نيوه خو اوس مې صبر پای ته رسېدلی و، ځکه يوه مور وم، پارټ ټايم مې دنده درلوده او سهار بايد وختي له خوبه پاڅېدلې وای. له همدې امله کله به چې باراک بې قولي کوله، نو ټول شمعونه او څراغونه به مې ګولول او غمجنه به په کټ کې غځېدم. پرې دې اساس هغه به زه هېڅ نه ليدم که يې ليدلې وای، نو غوسه حالت کې مې پرې نيوکه کوله.

موږ انسانان ژوند کې داسې چلن کوو کوم چې په وړکتوب کې په ميراث رارسېدلی وي. له باراک سره په وړکتوب کې داسې شوي وو چې پلار يې ترې تللی و او مور يې هم زياته ورسره نه وه. له همدې امله باراک به سين غاړه او د هغې شاوخوا غونډيو کې ګرزېده او همدارنګه په خپلو فکرونو کې به ډوب و. له همدې امله ځوانۍ کې خپلواکۍ ورته زيات اهميت درلود. مګر ما خپل وړکتوب د خپل پلار، خپلې مور او خپل ورور تر څنګ تېر کړی و، خپله سيمه کې مو ژوند کاوه او تل به مې نيکه، نيا، ترورياني، ترونه، ترورۍ ګانې او ماماګان ليدل. په ځانګړې توګه هره يکشنبه به سره راټولېدو او په ګډه به مو د شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ خوړله. دیارلس کاله مو داسې ژوند همدا شان خوندي ساتلی و او له یو بل سره څنګ کې اوسېدو. له همدې امله، کله به چې باراک کور کې نه و نو ناراحتي مې احساسوله. د دې لامل دا نه و چې پر ده مې شک درلود، بلکې دلیل یې دا و چې ما تل په ستره کورنۍ کې ژوند کړی و او له دې ډول اړیکو او ګډ ژوند کولو سره روږدې وم او په یوازیتوب کې ځورېدم. زموږ لوڼو هم پلار ته اړتیا درلوده. زه وېرېدم چې هسې نه دې ته یې پام نه شي چې کور کې نه وي نو موږ بد حس لرو. خو له دې بیا ډېره وېرېدم چې کومه تګلاره یې د خپل کار لپاره ټاکلې، هسې نه چې په پای کې یې زموږ ټولې اړتیاوې هېرې کړي. کلونه وړاندې چې ده غوښتل د سنا مجلس د ټاکنو لپاره نوماند شي، نو ما یوازې د دوو کسانو په اړه فکر کاوه چې یوه زه وم او بل دی. هغه مهال مې دا نه شوه درکولای چې که ده ته هو ځواب ورکړم، نو د ده سیاست به زما او زموږ د اولادونو پر ژوند څه اغېز وکړي. خو اوس مې په کافي کچه تجربه تر لاسه کړې وه چې پوه شم سیاست به پر هېڅ کورنۍ هم رحم ونه کړي. ما د سیاست دا نامهربانۍ هغه وخت څکلې وې کله چې مالیا ناروغه شوه او باراک ونشو کړی چې د لایحې انتخاباتو ته لاړ شي او له موږ سره پاتې شو. کله کله به مې د سیاستوالو انځورنو ته کتل چې په ورځپاڼو کې به چاپ شوي وو. لکه د کلينټن د کورنۍ، د بوش د کورنۍ او د کېندي د کورنۍ پخواني عکسونه. کله به مې چې دا انځورنه کتل، نو له ځانه مې پوښتل چې دوی له هغې ظاهري موسکا شاته آیا په خپل ژوند کې په ریښتیا هم خوشحاله او نېکمرغه دي او که نه.

ما او باراک د زړه له تله سره مینه درلوده. خو داسې ښکارېدل چې اړیکه کې مو یوه ړنده غوټه ده چې په آسانۍ نه خلاصېږي. زه اوس اته دېرش کلنه شوې وم او د ډېرو کسانو ژوندونه مې لیدلي وو. ځینو به سره واده وکړ، یو بل به یې خوښدل هم، مینه به یې هم سره لرله، خو د بې اعتنایۍ او ځینو ستونزو له امله به یې خبره آن تر ناندریو ورسېده او په پای کې به سره بېل شول. لکه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ورور کرېګ چې واده یې په دردناکه توګه پای ته ورسېد او خپله د لنډ مهال لپاره هغه اپارتمان ته راوګرزېد چې پکې لوی شوی و.

زما او د باراک همدا ستونزه وه. غوښتل مو د کورنۍ مشاور ته ورشو چې ستونزې مو هوارې شي. په پیل کې هغه نه منله چې ورشو. دی تل په دې روږدی و چې خپلې ستونزې په عقل او منطق حل کړو. ده باور درلود چې یوه ناپېژانده کس ته ورتلل او خپلې ستونزې هغه ته ویل، ډېر بد دي او یو څوک باید دا کار ونه کړي. ویل یې چې کتاب پلورنیځیو کې دې خپله د کورنۍ د ارواپوهنې څو کتابونه اخلي او بیا به ستونزې خپله سره هوارې کړو. خو ما ورته وویل چې زما ځینې ملګرې د کورنۍ مشاور ته ورغلي چې له دې کاره ډېرې راضي دي او مشاور هم په ډېره ښه توګه له هغوی سره مرسته کړې. ماته یو روانپوه ډاکټر زما ملګرو راښودلی و، نو له هغه مې وخت واخیست او له باراک سره یو ځای ورغلو. زموږ مشاور ډاکټر وودچر نومېده، سپین پوستی او مهربانه و، په ښو پوهنتونونو کې یې زده کړې کړې وې او تل یې روښانه قهوه‌یی جامې اغوستې. ما داسې انګېرل چې کله ډاکټر زما خبرې او شکایتونه واوري نو له شک پرته به زما پلوي وکړي. داسې ښکارېدل چې باراک هم همدا انګېرنه لري.

خو وروسته مې پام شو چې د ډاکټر کار دا نه دی چې زما یا هم د باراک پلویتوب وکړي، بلکې هغه یوازې په زړه سوي او صبر زموږ دواړو خبرې واورېدې او پرې یې ښودل چې دواړه د یو او بل پر وړاندې څومره ترخه احساسات لرو، هغه ټول بیان کړو. ډاکټر هڅه کوله چې موږ خپل وجود کې د داسې احساساتو د رامنځته کېدو ریښه او انګېزه کشف کړو. له موږ څخه یې ډېرې جزیي پوښتنې کولې. بلاخره له ساعتونو خبرو اترو وروسته پر دې وتوانېد چې زما او د باراک ترمنځ شته ړنده غوټه پیدا او بیا یې پرانیزي.

زه ورو ورو پوه شوم چې داسې نورې لارې هم په واک کې لرم چې ځان پرې خوشحاله کړم او هېڅ اړتیا نشته چې باراک له سیاسته ځان ګوښه کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه شرکت کې ځانته یوه دنده پیدا کړي چې کاري ساعتونه یې د سهار له نهو بجو څخه د مازیگر تر شپږو بجو وي. مشاور روانپوه راته کوتځندېنه وکړه چې له باراک څخه چې ځومره تمه لرم، دا تمه واقعي او سمه نه ده. ما د هاروارد پوهنتون د وکالت د پوهنځي د یوې پخې وکیلې په شان هڅه کړې وه چې داسې مدارک راټول او وړاندې کړم چې ځان پر حقه ثابت کړم. د مثال په توگه، په باراک له دې امله غوسه وم چې یوه ټاکلې وخت یې د ورزش لپاره ځانگړی کړی و. دا په داسې حال کې وه، چې ما هم باید یو ټاکلې وخت د ورزش لپاره په پام کې نیولی وای. بیا مې پر ده فشار راوړی و چې حتماً به کور ته په خپل وخت راځي او له ما او لورانو سره به ماښامی خوري او دا چې له ده پرته ماښام خوندور نه دی.

په دې توگه ما په مشوره کې خپل ځای درک کړ او د یوې غر ختونکې په څېر وم چې د غره له یخ وهلو دېوالنو راغورځېږي او د دې لپاره په یخونو کې تبر وهي چې کلک شي او ځان پرې راټینگ کړي چې راونه غورځي او وژغورل شي. باراک هم د مشاورې له لارې پوه شو چې زموږ گډې ښېگڼې وپېژني او هڅه یې وکړه چې زموږ ژوند ته ښه خوند ورکړي. البته له هر څه نه وړاندې، لومړی ما د خپلې سلامتیا په اړه فکر کاوه. ما او باراک دواړو په یوه ورزشي لوبغالي کې نوملیکنه وکړه. لوبغالي یو ښه ښوونکی درلود کرنل مکدانل نومېده. ده به له موږ سره مرسته کوله. د تل په شان دې لاره کې هم زما فداکاره مور زما مرستې ته راغله. هغه به د اونۍ په ځینو ورځو کې د سهار په څلورو او پنځه څلوېښت دقیقو زموږ کور ته راتله چې زه وکړلای شم چې په پنځو بجو د کرنل لوبغالي ته ځان ورسوم، له یوې ملگرې سره مې ورزش وکړم او بیا په شپږ نیمو بجو ځان کور ته ورسوم چې لونې له خوبه پاځوم او چمتو یې کړم. دې نوې برنامې هر څه بدل کړل او هغه بدني ځواک یې بیا راکړ چې اندېښنه مې ورته وه چې وبه یې بایلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابنامي ته د باراک د ناوخته راتلو ستونزې ته مې هم ځينې قوانين برابر کړل او له هغې سره سم مو چلن وکړ. موږ به هره شپه په شپږ نيمو بجو مابنامی کاوه، په اوو بجو به مو حمام کاوه، بيا به مو لږ کتاب لوستلو او بيا به په اتو بجو ماشومانې د خوب کټ ته تلې او ويدې کېدې به.

دا زموږ ثابته برنامه وه. اوس نو وار د باراک و چې ځان داسې تنظيم کړي چې مابنامي ته ځان راورسوي. دا کار له دې ډېر غوره او عاقلانه و چې ډوډۍ ناوخته وخوړل شي او نجونې خوب ته پرې نه ښودل شي. ما غوښتل چې نجونې ځواکمنې او بارده سترې شي او د نرواکو سنتي کورنيو د دودونو او دستورونو تابع نه وي. دا مې نه خوښېدل چې داسې باور د دوی په ذهنونو کې ريښه وکړي چې ژوند هله شروع کېږي چې يو سړی کور ته راشی. په دې توګه، موږ نور د نجونو پلار ته په تمه نه پاتې کېدو. څکه اوس يې په باراک پورې اړه درلوده چې په خپل وخت ځان مابنامي ته راورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۵

د شیکاګو ښار د شمالي برخې په کلایبورن سړک کې یو ستر پلورنځی پرانیستل شوی و چې موږ دنده لرونکو میندو ته د جنت په شان و. یعنې د پېر کار یې موږ ته ډېر آسانه کړی و. د خلکو د اړتیا وړ ټول شیان پکې موندل کېدل. د کمود له خلاصوونکې مایع نیولې تر اووکادو پورې او د ماشومانو له جامو نیولې آن د ماشومانو لپاره تر ډالیو پورې هر څه پکې وو.

اوس نو ساشا درې کلنه وه او مالیا شپږ کلنه. دواړې تکړه او هوښیارې وې. چټکه وده یې کوله. د دوی د زړه زور ډېر و چې زه یې ډېره ستړې کولم. همدا د دې لامل کېدل چې کله ناکله د ځینو شیانو او خوراکي توکو په خاطر دې ستر پلورنځي ته لاړه شم. هلته به چې لاړم، موټر به مې یو ځای پارک کړ، یوازې به موټر کې کېناستم، راډیو به مې چالانه کړ، تیار خواړه به مې راواخیستل خوړل به مې او راحته ساه به مې کاږله. داسې به مې لږ استراحت کاوه او پوهېدم چې ماشوم لرل نو دا ستونزې لري. په هر حال همدا ژوند و. اوس نو څلوېښت کلنی ته رسېدلې وم. نورو به چې له لرې زموږ ژوند ته کتل، نو زموږ کورنۍ به ورته متعادله ښکارېده. خو که له نژدې راغلي وای، نو لیدلي به یې وو چې ژوند مو چندان تعادل نه لري. په روغتون کې مې چې کومه دنده اخیستې وه، ښه دنده وه، مګر چالشونه یې زیات و، زه ترې راضي وم او زما له باورنو سره همغږې وه. پوهنتوني طبي مرکز ۹۵۰ کارکوونکي لرل، مګر په سنتي ښه اداره کېده او دې ته ډېره حیرانه وم. د دې مرکز پوهان او څېړونکي له شواخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطرافي خلکو وېرېدل او ډارېدل چې هسې نه چې د پوهنتون له انګړه بهر شي، څوک زيان ورونه رسوي.

ما د خپل عمر اکثره ورځې بېوزلۍ کې تېرې کړې وې او دې ته مې پام شوی و چې د خلکو ترمنځ داسې پولې شته چې سره بېل کړي يې دي. ليدل به مې چې څنګه بانفوذه او يوه سپين پوستي زموږ له سيمې تښتي او تل هڅو سيمو ته ورځي چې شتمن پکې دي. زړه مې غوښتل چې د انسانانو ترمنځ دا بېلتون له منځه يوسم او پولې يې راونړوم. زما نوي رييس هم له ما څخه په ښه توګه ملاتړ کاوه او اجازه يې راکړه چې خپلې برنامې پلې کړم او د روغتون د کارکوونکو اړيکه د سيمې له خلکو سره ځواکمنه کړم. په پيل کې يوه کس زما تر لاس لاندې کار کاوه، خو اوس يې شمېر دوه ويشتو ته رسېدلی و. له برنامې سره سم به مې د روغتون کارکوونکي او مسئولين کليوالو جنوبي سيمو ته بېول. دوی به د تور پوستانو ښوونځي او مرکزونه ليدل. دوی کې ځينې داسې کسان هم وو چې په ځينو ځايونو کې يې د مشاور، ښوونکي يا د علومو د ننداړتون د لارښوونکي په توګه په ځينو ځايونو کې خپل نومونه ثبت کړل چې داوطلبانه کار ترسره کړي. موږ به د هماغه سيمې په روستورانونو کې ډوډۍ هم خوړله. همدارنګه د سيمې ماشومان به مې د روغتون کارکوونکو ته وروستل چې په داوطلبانه توګه ورسره مرسته وکړي. له يوې دوبنۍ ښوونيزې موسسې سره مو هم همکاري وکړه چې د سيمې زده کوونکي او محصلين وهڅوي چې طبي پوهنتون ولولي. کله چې يوه شوم چې روغتون هوډ لري د ځينو خدماتي چارو په خاطر له تور پوستانو کار واخلي، نو د کارموندنې يو دفتر مو هم رامنځته کړ.

بلاخره چا چې شديده روغتيايي اړتيا درلوده، پيدا مو کړل. د شيکاګو جنوبي برخې څه باندې يو مليون نفوس درلود. خو دې برخه کې زيات روغتيايي امکانات نه و. د دې ځای ډېری وګړي، په ځينو مزمنو ناروغيو، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالنډی، شکر، د وینې لوړ فشار او د زړه په ناروغیو اخته وو. زیاترو یې بیمه هم نه درلوده. د روغتون بېړنۍ برخه به تل له هغو ناروغانو ډکېده چې بېړنیو درملنو ته به یې اړتیا نه درلوده. کله ناکله به دې برخه کې داسې کسان هم وو چې پاملرنه به ورته نه وه شوې او مرستې ته به یې ډېره اړتیا درلوده. دې ستونزې د روغتون چارواکو ته ډېرې ربړې پیدا کړې وې. دوی یې اندېښمن کړي وو او بل دا چې ډېرو لګښتونو ته یې هم اړتیا وه. عاجلې برخې هم نشوای کولای چې د مزمنو ناروغیو د ناروغانو د سلامتیا لپاره زیات څه ترسره کړي او د دوی درملنه وکړي. د دې لپاره چې دا ستونزه هواره شوې وای، نو موږ ځینې مهربانه سیمه‌یز کسان د ناروغانو د مرستیالانو په توګه پر کار وګمارل او هغوی ته مو ورزده کړل چې په عاجله برخه کې له ناروغانو سره کېني او له هغوی سره مرسته وکړي. دوی په نورو برخو کې هم مرسته کوله او د ارزانه درملنې په خاطر د سیمې بېلابېلو برخو ته هم تلل. که څه هم زما دنده ګټوره وه او په عین حال کې راته جالبه هم وه، خو ما باید د دې اجازه نه وای ورکړې چې ټول وخت مې ونیسي او ټوله انرژي مې ضایع کړي. احساسول مې چې هغه چارې هم باید ترسره کړم چې په لوښو پورې مې اړه لري. ځکه ما تصمیم نیولی و چې باراک په آزادانه توګه په خپلو هیلو پسې لاړ شي، زه مجبوره وم چې خپلې هڅې راکمې او د خپلو لوړو توقعاتو مخنیوی وکړم. د مثال په توګه، کله ناکله به مې غوښتل چې په زیاتو پروژو کې کار وکړم، خو ترې ډډه به مې کوله. ما محتاطانه چلن کاوه. ځکه پوهېدم چې د خپلې کورنۍ د غړو لپاره هم باید کافي انرژي ولرم.

زما موخه دا وه چې همدا عادي او ورځنی ژوند تېر کړم. خو باراک نورې موخې لرلې. ما هم آزاد پرېښودلی و چې خپلې موخې تعقیب کړي. زه ین (Yin) وم او هغه یانګ (Yang). ما د ژوند له عادي او ورځنیو چارو سره علاقه لرله چې ترتیب او تنظیم یې کړم، مګر د باراک بل څه خوښېدل. هغه غوښتل چې په سمندر کې واوسي او ما غوښتل چې په یوه کوچنۍ سین کې. مګر کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به چې باراک کور کې و، نو خپل ټول پام یې مور ته رااړاوه. له نجونو سره به یې لوبې کولې او کله به چې شپه شوه، نو له مالیا سره به یې یو ځای په لوړ غږ باندې هري پاټر کتاب لوسته او زما ټوکو ته به یې خندل، زه به یې په غېږ کې نیولم او مخکې له دې چې بیا د څو ورځو لپاره لاړ شي، خپل محبت به یې پر مور لوراوه. زیاتره مهال به مو په ګډه خواړه خوړل او د دوستانو لیدو ته به تلو. کله به زما څنګ کې ناست و او له ما سره به یې زما د علاقې وړ سریال «سکس او ښار» کاته او کله به زه له ده سره کېناستم او د ده د علاقې وړ سریال «د سوپرانو کورنۍ» به مو کاته.

زه نوره له دې حقیقت سره روږدې شوې وم چې د دې لپاره چې دی خپلو موخو ته ورسېږي، نو مجبوره دی چې له مور لرې شي. دا مې ډېر نه خوښېدل، مګر نور یې دومره نه ځورولم. باراک په راحتۍ کولای شول چې په لرې هوټل کې واوسېږي او سیاسي مسایلو ته رسیدګي وکړي، خو ما د کور هوسا او امن چاپېریال ته اړتیا درلوده. زما دا خوښېدل چې مالیا او ساشا هره شپه د دوی د خوب کټ ته ورسوم او له پخلنځي څخه د لوښو مینځلو هغه غږونه واورم چې دوی مینځل او بیا ویده شم.

په هر حال، بله چاره نه وه او مور باید د باراک له نشتون سره روږدي شوي وای. اوس یې له معمولي کارونو پرته نور کارونه هم ډېر شوي وو. انتخاباتي کمپاین یې هم پیل کړی و. ځکه د ۲۰۰۴ کال په مني کې د امریکا د سنا مجلس لپاره ټاکنې کېدې. هغه په شیکاګو کې له محدود سیاسي فعالیت څخه ستړی شوی و، بد یې ترې راتلل او باور یې درلود چې په واشنګټن کې یې اغېزمني زیاته ده. ځکه ما نه غوښتل چې سناتور شي، مخالفه یې وم، خو ده په دې کار ډېر ټینګار کاوه. د ۲۰۰۲ کال په منځنیو میاشتو کې مو د خپلو دوستانو لپاره یوه مېلمستیا جوړه کړه چې لس یا دوولسو کسانو پکې ګډون کړی وو. د مازیګري خوراک لپاره د والري جرت کور ته لاړو چې د ټولو پر وړاندې موضوع مطرح

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو او د هغوی نظر وپوښتو.

والري موږ ته نږدې هايد پارک کې په يوه اپارتمان کې اوسېده. د دې اپارتمان ډېر ښکلی و، نوی و، پاک او ستره و او سپين کوچونه او مېزونه پکې اېښي وو. شاوخوا ګلان هم و. دا د معاملاتو د لارښوونې د يوې موسسې اجرايي مرستياله وه او د شيکاګو پوهنتون د طبي مرکز د مديره هييت غړيتوب يې هم درلود. کله چې ما په پابليک الايز شرکت کې کار کاوه، نو زما له هڅو څخه يې ملاتړ کاوه. کله به چې باراک انتخاباتی مبارزه کوله، نو د هغه لپاره به يې پيسې هم راټولولې او د هغه تر شا به ولاړه وه. زموږ سره ډېره صميمي وه. له دې امله، داسې وه لکه زموږ د کورنۍ يوه غړې چې وي. له ما او له باراک سره يې يو شان دوستي لرله. دا ډېره کمه پېښېږي چې يو څوک دې هممهاله له داسې يوې ښځې او د هغې له مېړه سره نږدې او صميمي وي. ما اوس هم له ځينو مجردو ميندو سره ملګرتيا درلوده او باراک هم ځينې داسې دوستان لرل چې له هغوی سره به يې باسکټبال لوبه کوله. څو نور دوستان مو هم لرل چې ماشومان يې هم زموږ د ماشومانو ملګري وو. له دوی سره به کله ناکله سفر ته هم تلو. خو والري په ټولو کې استثنا وه. له همدې امله، کله به چې له کومې مسألې سره مخامخ کېدو نو دې ښه مرسته راسره کولای شوه، ځکه زما او د باراک له ځانګړنو سره يې ښه آشنايي درلوده. هغې وړاندې په خصوصي توګه راته ويلي وو چې په انتخاباتو کې د باراک ګډون چندان معقولانه نه دی. له همدې امله هغه ورځ د مازيګري لپاره د والري کور ته لاړو. د هغې موضوع مې مطرح کړه. ما فکر کاوه چې باراک به زموږ خبره مني او له دې کاره به لاس واخلي. خو تېروتلې وو.

هغه ورځ باراک موږ ته وويل چې د سنا دا ټاکنې د ده لپاره يو زرين فرصت دی او داسې انګېري چې دا ځل به بريالی شي. د سنا اوسنی استازی پيتر فيترجرالد نومېده چې يو محافظه‌کاره جمهوريپالی و. دی په داسې ايالت کې و چې اکثره وکړي يې ديموکراتان و. د ده خپل ګوند هم له ده څخه ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کاوه. د دې لپاره چې باراک د ډیموکرات ګوند له خوا نوماند شوی وای، نو زیاتې رایې یې باید ګټلې وای. د انتخاباتي کمپاین په برخه کې یې هم له ما سره ژمنه وکړه چې زموږ له شخصي خزانې به ګټه نه اخلي. له ده مې وپوښتل که موږ وغواړو چې په واشنګټن او یا شیکاګو کې کور ولرو، نو څنګه به یې لګښت پوره کړو. هغه له ځنډ پرته وویل: ډېر ښه یو بل کتاب لیکم. یو ښه کتاب چې زیات وپلورل شي.

د ده دې خبرې ته زما خندا راغله. باراک د هغو کسانو له ډلې و چې فکر یې کاوه چې یو کتاب کولای شي چې زموږ ټولې ستونزې هوارې کړي. هغه ته مې په ټوکه وویل: «ته د جک او کوډګرې لوبیا په کیسه کې د هغه هلک په شان یې چې ټول شته یې څو کوډګرې لوبیاوې دي. ځکه دوی فکر کاوه، چې لوبیاوې به یې ورته معجزه وکړي او دوی به شتمن کړي».

د نورو ستونزو په برخه کې د باراک ټول دلیلونه په بشپړه توګه منطقي ښکارېدل. ډېر ژر د والري له خبرې هم پوه شوم چې ورسره همغږې ده. سربېره پر دې، دا چې موږ غوښتل واشنګټن ته کډه وکړو او هغه له موږ څخه لرې وي، نو خواشینې او غمجنه شوم، مګر بیا کله چې پوه شوم چې خبرې یې منطقي دي، غلې پاتې شوم.

په هر حال، موږ څو څو ځلې د ده د سیاسي چارو او زموږ په کورنۍ باندې د هغې د منفي اغېزو په اړه سره خبرې کړې وې. مګر ما له باراک سره مینه لرله او له همدې امله مې نه غوښتل چې د هیلو مخه یې ډب کړم. هغه تل په دې لټه کې وو چې زیات کار او ډېره هڅه وکړي.

مګر هغه ورځ موږ سره یوه معامله وکړه. لومړی والري ومنل چې د باراک د انتخاباتي کمپاین مدیره شي. زموږ ځینو دوستانو هم له موږ سره ژمنه وکړه چې له هغه څخه به مالي ملاتړ وکړي. ما هم ومنله چې هغه دې خپلې لارې ته ادامه ورکړي، مګر دا مو هم په لوړ غږ وویل چې که انتخاباتو کې ماته وخوري، نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په بشپړه توګه له سیاسته لرې کېږي او بل کار به ځانته پیدا کوي.

خو برخلیک داسې و چې هر څه د باراک په ګټه څرخېدل. لومړی دا چې پیټر فیتزجرالد په انتخاباتو کې ګډون ونه کړ، له انتخاباتو تېر شو او میدان یې خپلو هغو سیالانو ته خالي پرېښود چې نوي میدان ته راوتلي وو. په دوی کې زما مېړه هم و. دویم دا چې د دیموکرات ګوند منتخب نوماند په لومړنیو انتخاباتو کې او همدارنګه د جمهوریپال ګوند نوماند په اخلاقي رسواییو تورن شو. اوس نو څو میاشتې ټاکنو ته پاتې وې، خو باراک په جمهوریپال ګوند کې هېڅ یو سیال نه درلود.

باراک په تېرو انتخاباتي کمپاینونو کې ناکامه شوی و، نو له شک پرته چې له دې ماتو یې ډېر درسونه اخیستي وو. ځکه دا ځل انتخاباتي کمپاین یې منسجم او غوره و. داسې چې خپلو اوو سیالانو ته یې ماته ورکړه او له له نیمو رایو څخه یې زیاتې رایې وګټلې. د ایالت هرې برخې ته یې سفر وکړ او له خپلو احتمالي پلویانو سره یې اړیکه ټینګه کړه. څنګه چې په کور کې ټوکي، جذابه، هوښیار او حاظر ځوابه و، داسې بهر کې هم وو. د ښاروالۍ په غونډه کې او نورو انتخاباتي کمپاینونو کې یې چې کوم منطقي ځوابونه لرل، نو ټولو ته یې ډاډ ورکاوه چې هغه د سناتور کېدلو وړ دی.

بیا وروسته په ۲۰۰۴ کال کې جان کېري ده ته بلنه ورکړه چې په بوستون ښار کې دې د دیموکرات ګوند په ملي غونډه کې ګډون وکړي. کېري هغه مهال د ماساچوسټ سناتور و او د ولسمشریزو ټاکنو لپاره یې ځان چمتو کاوه چې له جورج ډبلیو بوش سره سیالي وکړي.

هغه مهال باراک یو ساده ایالتي استازی و. ده هېڅکله دومره کسانو ته وینا نه وه کړې چې شمېر یې ۱۵ زره وو او هېڅکله یې په هغو تلویزیوني برنامو کې ګډون نه وو کړی چې لیدونکي یې ډېر وي. په هر حال، یو نوموړکی تور پوستی و چې عجیب او غریب نوم یې درلود او غوښتل یې چې د یوه سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستي دندې ترسره کړي او له ديموکراتانو سره کار وکړي. څنګه چې وروسته کارپوهانو وويل چې د زرګونو او ښايي ميليونونو کسانو پر وړاندې باراک انتخابول چې ورته وينا وکړي، ستره جواري (قمار) وه.

مګر داسې ښکارېدل چې ګنې برخليک دا موقعيت د باراک لپاره پنځولی و. ما چې له باراک سره څومره ګډ ژوند کړی او دی مې له نژدې ليدلی، نو کتلي مې دي چې تل د کتابونو او ورځپاڼو په لوستلو بوخت دی او په خپلو مغزو کې د هغې مطالب هضموي. همدارنګه ده به چې کله نوې تجربه کسبوله، نو له خوښی څخه به په جامو کې نه ځايېده. هغه کلونه کلونه په ډېر زغم د سياستوالو په ليدلوريو کار کړی و او اوس په بشپړه توګه چمتو و چې د دومره کسانو په مخ کې وينا وکړي.

نجونې مې له مور سره پرېښوې. خپله بوستون ته لاړم چې د وينا په وخت کې يې تر څنګ واوسم. کله چې باراک په تته رڼا کې صحنې ته لاړ چې د ميليونونو کسانو پر وړاندې وينا وکړي، زه د سالون په يوه څنګ کې ناسته وم. لږ سترس مې درلود. لږ مضطربه هم وم، مګر دواړو نه غوښتل چې خپلې اندېښنې څرګندې کړو. باراک تل همداسې و. هر څومره چې له ربړو سره مخ کېده، هومره آرامېده او زغم يې زياتېده. د خپلې وينا متن يې د دوو اونيو په اوږدو کې هغه وخت ليکلی و کله چې په سنا مجلس کې رای ګيري کېده. خپله وينا يې کلمه په کلمه ياد وه او دومره يې ليکلې او تکرار کړې وه چې کومه اړتيا نه وه چې خپلې وينا ته وګوري او له مخې يې ولولي. خو که سترس يې زيات شوی وای، نو حافظه يې له کاره لوېده او بيا مجبوره و چې له مخې يې ولولي. خو اصلاً داسې څه پېښ نه شول. باراک په سالون کې شته ليدونکو او تلويزيوني کمرو ته کتل، د خپلو مغزو موتور يې په خندا چلاناوه او مخ پر وړاندې تلو.

هغه شپه يې لس دقيقې خبرې وکړې. خبرو کې يې وويل چې څوک دی او د کوم ځای دی. ويې ويل چې نيکه يې د امريکا د پوځ غړی و او د جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټون تر نظر لاندې یې خدمت کړی، نیا یې د جګړې په وخت کې د مونتاژ په یوې کارخانه کې کار کاوه، پلار یې په نوي زلمیتوب کې د کېلو بڼ درلود او د کېلو ونې یې ساتلې، همدارنګه دا یې هم وویل چې د مور او پلار ترمنځه یې مینه نه وه او ده ته ویل کېدل چې د شتمنې او اغېزمنې کورنۍ نه دی، نو درس ویل ورته ګټه نه لري. ده په ډېر مهارت داسې څرګنده کړه چې یو پردی نه دی، بلکې یو ساده او شریفه امریکایي دی. لیدونکو ته یې وویل چې ملت یوازې د سره او آبي بیرق په درلودلو سره نه تعریفېږي، بلکې دا د انسانیت او ټولنې ته د اهمیت ورکولو حس دی چې یو ملت سره راټولوي. ده له ټولو وغوښتل چې هیلې هېرې نه کړي. د ده خپله ټوله وینا هم له هیلو ډکه وه.

باراک په اوولسو دقیقو کې خپله ژوره خوش‌بیني په ځانګړې استادۍ او ځانګړي مهارت سره څرګنده کړه. کله یې چې وینا پای ته ورسېده، نو ټول شته کسان له خپلو ځایونو پاڅېدل، هورا چیغې یې وهلې او ده ته یې لاسونه پړکول. ما چې د لوړو کوریو بوټونه او سپین کورتي دامن اغوستي وو، ستېج ته ورغلم باراک مې غېږ کې ونیو او مبارکي مې ورکړه.

د خلکو تشویقي نارې په اوج کې وې. اوس نو باراک د یوه شریف کس په توګه دیموکراسۍ ته څرګنده کړې وه چې سترې موخې او جدي باور لري.

څه یې چې ترسره کړي وو، ما پرې افتخار وکړ. غافلګیره یې نه کړم، ځکه چې د هغه په ټولو توانایيو مې باور درلود. اوس چې د تېر په اړه سوچونه کوم، نو هماغه شېبه کې وو چې پوه شوم چې ده کومه لاره غوره کړې، شاتګ نه لري او اوس نو یوازې پر ما او پر نجونو پورې اړه نه لري. د لیدونکو چیغې مې اورېدلې چې ورته ویل یې خپلو خبرو ته ادامه ورکړه، ادامه، ادامه...

رسنیو د باراک وینا ته په اغراقي ډول غبرګون وښود. کریس متیوز د ان‌بي‌سي شبکې خبریالانو ته وویل چې ما تېره شپه لومړنی تور پوستی ولسمشر په خپلو سترګو ولید. بله ورځ شیکاګو تریبون ورځپاڼې په خپل لومړي مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکل: «د یوې پدیدې ظهور.» د باراک ملفون ته په پرلپسې توګه زنګونه راتلل. تلویزیوني کارپوهانو راک ستوری وباله او د هغه وینا یې یو ستره بریا وګڼله. ریښتیا چې د داسې بریا لپاره یې کلونه کلونه هڅې کړې وې. په هر حال، د ده دا وینا نه یوازې د ده لپاره بلکې زموږ د ټولې کورنۍ لپاره نوي څه وو. اوس نو د ټولو موږ ته سترګې وې او له اوباما څخه د خلکو غوښتنې هم زیاتې شوې وې. دا حالت زما لپاره خیالي او غیرواقعي حالت و. یوازې مې په طنزي ډوله حالت کې ورته کتلی شول. خلکو به په کوڅو او سړکونو کې د باراک مخه نیوله او له هغه څخه به یې لاسلیکونه اخیستل او هغه ته به یې ویل چې پر ویناوو یې مین دي. ما به هغه ته ویل: «ښه وینا دې وکړه.» په شیکاګو کې یوه روستوران ته تللي وو، کله چې ترې راوتو نو په پیاده رو کې زیات کسان موږ ته ولاړ وو. نو بیا هم ما ورته وویل: «داسې ښکاري چې ډېره ښه وینا دې کړې ده».

کله چې خبریالانو د هېواد د بېلابېلو مسایلو او ستونزو په اړه ترې پوښتنې کولې، کله یې چې څنګ کې د ستراتېژیو ستر متخصصین کېناستل، همدارنګه کله یې چې «زما د پلار رویاوې» کتاب بلاخره له نهو کلونو وروسته دویم ځل چاپ شو او د نیویارک ټایمز د زیاتو پلورل شوو کتابونو په لیست کې راغی، یا کله چې اوپرا وینفري په ډېر شور او هیجان زموږ کور ته راغله چې د خپلې مجلې په خاطر له هغه سره خبرې وکړي، نو بیا هم ما دې ټولو ځایونو کې بیا بیا ورته وویل چې : «ډېره ښه وینا دې وکړه».

زه نه پوهېدم چې څه راپېښېږي، خو یوه څه ته په تمه وم. باراک نومبر میاشت کې د ایالت اویا سلنه رایې وګټلې او د سناتور په توګه سنا مجلس ته ورمعرفي شو. داسې لوړه سلنه د اېلینوی په تاریخ کې بې مخینې وه. اکثرو سپین پوستانو، تور پوستانو او لاتین تبارانو هغه ته رایه ورکړې وه. نارینه‌وو، ښځینه‌وو، شتمنو، بېوزلو، ښارمېشتو، کلیوالو ټولو له ده ملاتړ کړی و. کوم لنډ سفر مو چې آرېزونا ته درلود، دې سفر کې مې په خپلو سترګو ولیدل چې سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستانو هم ورته ارادت پیدا کړی. په دې توګه زه د ده د شهرت په ژورتیا وپوهېدم. زموږ کورني ژوند د تېر په شان ادامه درلوده. زه لوبغالي ته تلم، دندې ته تلم، کور ته راتلم او... لوښي مې مینځل، لونې مې د لمبا زده کولو او فوټبال زده کولو لوبغالیو ته وروستلې او هر څه د تېر په شان و. له خپلو خپلوانو او دوستانو سره مو تګ راتګ کاوه. لونې مو هم د تېر په شان په خپلو فعالیتونو بوختې وې، خو د باراک لپاره هر څه بدل شوي وو. اوس یې واشنګټن کې هم د ځان لپاره ځینې مسایل درلودل چې د سناتور په توګه باید ورسره ښکر په ښکر شوی وای. هلته یې په یوه کوچني اپارتمان کې یو دفتر جوړ کړی و چې معمولاً به له کتابونو او لیکنو او... ډک و. زه به هر کله له نجونو سره یو ځای د ده لیدلو ته ورتلم. خو د ده دفتر ته به نه ورتلو او څلور واړه به هغه هوټل ته ورتلو چې نژدې و. هوټل کې به مو کوټه کرایه کوله.

یوه ورځ ستر پلورنځي ته تللې وم، موټر مې یوه خوا کې درولی و، پکې ناسته وم او تیار خواړه مې خوړل چې مدیر مې راسره اړیکه ونیوه او راته کړل یې چې کولای شم چې یوه اړیکه له تاسې سره وصل کړم. ما ورته هو وویل. له واشنګټن څخه یوې ښځې زنګ راوهلی و. دې وویل چې څو ځله یې هڅه کړې وه چې له ما سره اړیکه ونیسي خو بریالۍ شوې نه وه. د دې مېړه سناتور و. ښکلې او زړه راښکونکی غږ یې درلود. ماته یې وویل چې خوشحله یم چې ستاسو غږ اورم. ما هم ورته وویل چې زه هم خوشحاله یم چې له تاسې سره مې پېژندلې.

بیا یې وویل: «اړیکه مې له دې امله نیولې چې لومړی تاسې ته ښه راغلاست ووایم او دویم دا چې تاسې ته بلنه درکړم چې زموږ د ډلې له مېلمستیاوو سره یو ځای شئ.»

دا ډله د واشنګټن د بانفوذو او معرفو کسانو د مېرمنو ډله وه چې کله ناکله به سره راټولېدې، د غرمې خواړه به یې سره خوړل او د ورځنیو مسایلو په اړه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې کولې. دې زیاته کړه: «تاسې له دې لارې کولای شئ چې زموږ د ښار له نورو کسانو سره هم آشنا شئ. پوهېږم چې کله څوک نوی یوه ښار ته ځي نو ژر نشي کولای چې له نوو کسانو سره آشنا شي. دا مېلمستیا به له تاسې سره مرسته وکړي.»

له دې وړاندې ماته چا بلنه نه وه راکړې چې داسې ډلې ته ورشم. کله مې چې پرېنستون کې درس وایه، نو کله ناکله به سوزان ته په تمه وم چې ښاده او خندانه به له مېلمستیاوو راتله. داسې ښکارېدل چې گنې هغه وخت زموږ د شرکت د وکیلانو نیمایي برخه د داسې سیمه‌یزو ډلو او انجمنونو غړي وو. ما هم کلونه وړاندې چې د باراک انتخاباتي کمپاینونو کې بوخته وم او پیسې مې راټولولې، نو داسې څو انجمنونو ته ورغلې وم. مگر د داسې انجمنونو د غړو د دوستۍ اړیکې ډېر مصنوعي وې. پر دې اساس، د سناتور د مېرمنې له لورېینې مې مننه وکړه او د هغې بلنه مې رد کړه. هغې ته مې وویل: «ډېره مننه چې ماته مو بلنه راکړه، مگر زه واشنگټن کې نه اوسېږم.» هغې ته مې وویل چې دوې کوچنۍ لوڼې لرم چې شیکاگو کې درس وایي او خپله هم دنده لرم او هغې ته ورځم. یوازې باراک په واشنگټن کې دی او کله ناکله زموږ لیدلو ته راځي. البته دې ته مې ونه ویل چې د باراک کتاب بیاځلې چاپ شوی او د هغې پیسې مو ټولې کړې او د هغه د نوي کتاب پیسې هم راسره دي چې پېشکي یې اخیستي او غواړو واشنگټن کې نوی کور واخلو.

د سناتور مېرمنې زما په ځواب کې په مینه‌ناک انداز وویل: «خو ژوند داسې ښه نه دی، ځکه د کورنۍ د پاشل کېدو باعث گرزي.»

له شک پرته چې موخه یې دا وه چې ښځه او مېړه نشي کولای چې زیات له یو بله لرې پاتې شي. بل یې غوښتل راته ووایي چې ما خطرناکه تصمیم نیولی. په هر حال، مننه مې ترې وکړه او تلیفون مې بند کړ. له ځانه سره مې فکر وکړ دا چې زه له باراکه لرې واوسم، زما انتخاب نه دی او زه باید داسې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم چې یوازې د خپل مېړه د موخو ملاتړ وکړم او خپلې موخې او غوښتنې هېڅ کړم. سربېره پر دې ما ته دا گستاخي ښکاره شوه چې یو څوک دې ماته نصیحت وکړي چې د خپلې دندې ساتل مې غلط کار دی. بله دا چې د ځینو نورو سناتورانو مېرمنې هم له خپلو خاوندانو سره واشنگټن ته نه وې تللې او سنا مجلس کې سل سناتوران و چې څوارلسو سره یې مېرمنو هلته ژوند کاوه.

چې انتخابات پای ته ورسېدل، څو اونۍ وروسته له باراک سره واشنگټن ته لاړم چې سنا ته د نوو سناتورانو د معرفي کولو په غونډه کې گډون وکړو. غونډه ژره پای ته ورسېده، له نوو سناتورانو او د هغوی له مېرمنو سره پېژندگلوی هم لږ وخت ونیوه او له ځنډ پرته کله چې د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه نو سیاستوال او سناتوران یوې خونې ته لاړل او مېرمنو ته یې لارښوونه وشوه چې بلې خونې ته لاړې شي. ما فکر کاوه چې دې غونډه کې به موږ له فدرال سنتي اصولو سره آشنا کړي چې د سناتورانو او د هغوی د مېرمنو په اړه دي او یا به راته ووایي چې د چا ډالۍ ومنو او د چا نه او یا دا چې واشنگټن ته راځو د سفر لگښتونه څنگه پرې کړو او یا به په دې اړه راته لارښوونې وکړي چې د راتلونکي انتخاباتي کمپاین لپاره چې چمتووالی نیسو او نغدي مرستې تر لاسه کوو، نو دې کار کې باید کوم اصول او مقررات رعایت کړو. خو ما اشتباه کوله. د دې ټولو په ځای یې موږ ته د کانگرس د تاریخ او د کانگرس د ودانۍ په اړه کلي معلومات راکړل او بیا د سنا د مجلس د سناتورانو مېلمستیا پیل شوه. خواږه په چینی لوښو کې وو او موږ ته یې ډېره ښه ډوډۍ راکړه. څنگه چې ما یوه ورځ رخصتي اخیستې وه او نجونې مې هم مور ته پرېښې وې، نو بېړه او سترس مې درلود، چې ژر وروگرزم. له همدې امله دا مراسم راته چندان خوندور نه و. البته ما سیاست ته هېڅ اهمیت نه ورکاوه. مگر زړه مې دا هم نه غوښتل چې د باراک د پرمختگ په لاره کې خنډ شم.

په حقیقت کې په واشنگټن کې ځل بل دودونه وو، ډېری پکې ځانباوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، سپین‌پالنه او نرواکي پکې دود وه او مېرمنو به د سالون په یوه کونج کې ډوډۍ خوړه چې دې ټولو کنګسه کولم او د دې ګنګستوب په منځ کې یو ډول بوختیا او یو ډول ډار وو. اوس نو دوولس کاله کېدل چې آغلې اوباما وم، یعنې د ځان لپاره مې خپلواک شخصیت نه درلود. بلکې داسې وم چې پر یو سړي پورې مې اړه درلوده. زه د پېژندل شوې څېرې باراک اوباما مېرمن وم چې د سیاسي نړۍ ستوری و او سنا مجلس کې یوازینی تور پوستی و چې په ځواکمنۍ غړېده او هیجانونه او امیدونه یې راټوکول. اوس یې د ټولو خلکو هیلې هم ځانته راجلبې کړې وې. هغه یو سناتور و. مګر داسې ښکارېدل چې ګواکې ځینې خلک ترې ډېرې تمې هم لري. اوس نو ټولو سوچونه کول چې آیا د ۲۰۰۸ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې به نوماند شي او که نه. هر خبریال به چې ده ته وررسېده نو په هوښیارۍ به یې همدا پوښتنه ترې کوله. نه یوازې خبریالانو بلکې هغو کسانو چې په سړکونو کې یې لیدلو او حتا هغو کسانو چې روغتون کې زما همکاران و، ټولو غوښتل چې له ټولو وړاندې دا خبر واوري چې آیا په ولسمشریزو ټاکنو کې ګډون کوي او که نه. کومه ورځ کې چې باراک په سنا مجلس کې لوړه وکړه، مالیا شپږ نیم کلنه وه او هغه ورځ یې شیرچایي پخملي جامې اغوستې وې. دې هم له خپل پلاره همدا پوښتنه وکړه. البته زموږ لور په لومړي ټولګي کې وه او په کافي اندازه هوښیاره هم وه چې وپوښتي: «پلاره که ته غواړې ولسمشر شې، لومړی دا فکر نه کوې چې د یوه ولسمشر مرستیال شې؟»

زه هم له مالیا سره همغږې وم. ځکه ډېره محافظه کار یم. تل پر دې باور ولاړه یم چې خپلې موخې ته باید په تدریج ورنژدې شو. زه تل د پلان جوړولو او عاقلانه حرکت پلوۍ یم. البته باراک هم خبریالانو ته ویل چې غواړي په سنا کې په هغو دندو ځان بوخت کړي چې پر غاړه یې دي. هغه تل یادونه کوله چې د لږګیو د ګوند یو کوچنی غړی دی او د پردې شاته خدمت کوي او کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به یې هم دا پسې زیاتیوله چې دوې ماشومانې لري چې باید ستړې یې کړي.

خو نورې ډنډورې هم وې او نه کېدل چې غلې شي. باراک «د هیلې جسارت» کتاب لیکه. د شپې تر ناوخته به ویښ و او د یوه هېواد په اړه یې خپل باورنه او نظرونه لیکل. ماته یې وویل چې چېرې دی، هلته راضي او خوشحاله دی او غواړي له مهال سره سم خپل نفوذ پراخ کړي او په خپل وار سره د هېواد د مسایلو په اړه خپل باورنه او نظرونه د استازو په مجلس کې بیان کړي. خو بیا توپان راورسېده.

د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر میاشتې په وروستیو کې یو شدید توپان د امریکا خلیجي سیمه کاترینا سواحل وځپل. نیورلیان سیمې ته یې هم زیات زیان ورواړاوه او اکثره خلک یې زیات زیانمن کړل چې ډېری یې تور پوستي وو. حالت دې ته رسېدلی و چې ځینې کسان د دې لپاره چې وژغورل شي، د خپلو کورونو بامونو ته پورته شوي وو. څنګه چې خبریالانو ویل، روغتونونو هم بېړنی برېښنا نه درلوده. زیاتو خلکو سوپرداون ستېډیوم ته پناه وړې وه او بېړنیو مرستوو، کلینیکونو او روغتونونو او مرستندویه وسایلو او تجهیزاتو ته یې لاسرسی نه درلود. همدا مسأله د دې باعث شوه چې ۱۸۰۰ کسان خپل ژوند بایلي او له نیم میلیون وګړو زیات هم ګډوال شي. دې فاجعې ډېر اړخونه لرل چې څرګنده یې کړه چې دولتي چارواکي بې کفایته دي، خپله دنده په سمه توګه نه ترسره کوي او په عادلانه توګه یې هېوادني امکانات په سمه توګه نه دي وېشلي. په ځانګړې توګه دې حالت دا څرګنده کړه چې د طبیعي او اضطراري ناروینونو په وخت کې تور پوستان او د نورو نژادونو ټول بې وزله وګړي څومره زیانمن کېدی شي.

اوس نو هیلې چېرته موندل کېدې؟

موږ د کاترینا توپان په اړه ډېر خبرونه اورېدل او لیدل او اندېښنه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده چې څه به کېږي. له ځانه سره مې ویل چې که داسې ناورین په شیکاګو کې راغلی وای، نو زما خپلوانو او ګاونډیانو به زیات زیان لیدلی وای او یا به هم وژل شوي وو. له توپانه اونۍ وروسته اوباما په الوتکه کې هوستون ته لاړ چې له ولسمشر جورج ډبلیو بوش، بېل کلینټن او هیلري کلینټن سره یو ځای شي. یاد کسان نیورلیان ته تللي وو. موخه یې داوه چې د هغې ځای له وګړو سره مرسته وکړي. باراک لپاره دا تجربه دردناکه وه. ده داسې انګېرل چې څنګه چې ښايي هغسې د خپلې ټولنې خلکو ته ګټور نه دی.

تقریباً کال وروسته د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د نوماندېدلو موضوع بیا راپورته شوه. آیا هغه کولای شول او یا یې غوښتل چې دا کار ترسره کړي؟ د ۲۰۰٦ کال په دوبي کې چې د انتخاباتو په اړه نظرپوښتنې شوې وې نو د ولسمشریزو ټاکنو لپاره پکې یو احتمالي کاندید باراک هم راغلی و. که څه هم هیلري کلینټن په سر کې وه. مګر کله چې منی راورسېد او د هیلې جسارت کتاب چاپ شو او رسنیو یې د پلور لپاره تبلیغات وکړل نو په انتخاباتو کې د باراک د بریا احتمال زیات شو. اوس نو نظرپوښتنو څرګندوله چې باراک د دیموکرات ګوند د مخیکینیو نوماندانو، لکه الګور او جان ګېري سره په یوه لیکه کې دی او حتا کله کله یې له هغوی څخه رایې ډېرې شوې هم دي. زه خبره وم چې باراک په پټه توګه له خپلو دوستانو، مشاورانو او له خپلو مالي ملاتړو سره خبرې اترې کوي چې ځان نوماند کړي او که نه. مګر له ما سره یې تر دې دمه کومه خبره نه وه کړې.

البته دی ښه پوهېده چې زه په دې اړه څه فکر کوم. د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د ده د نوماندېدلو موضوع هر چېرې زموږ مخې ته راتله لکه د ماښامي وخت کې، هغه وخت کې چې ماشومانې به مو ښوونځي ته رسولې، لنډه دا چې هر وخت مو په همدې اړه سوچونه کول. زما په نظر تر هغې شېبې پورې باراک په خپل وار سره د آمریکایي ټولنې لپاره ګټور کارونه ترسره کړي وو او ما باور

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود چې که غواړي ځان ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند کړي، نو ښه دا ده چې په تدریجي توګه ورته چمتوالی ونیسي. یعنې تر ۲۰۱٦ کال پورې صبر وکړي چې نجونې په کافي کچه غټې شي.

زه چې له کله راهیسې له باراک سره آشنا شوې یم، نو لیدلي مې دي چې تل د راتلونکي په اړه ژور فکر کوي، پراخ لرلید لري او دې سوچونو کې ډوب وي چې دونیا باید څنګه واوسي. له خپل اوسني ژونده هېڅکله راضي نه و. دا مهال نو مالیا اته کلنه شوې وه او ساشا پنځه کلنه. دوی به خپل وېښته د لکۍ په شان تړل، خوشحاله وې، شوخې وې او هوښیارې. خو کله به چې باراک دوی ته کتل، نه پوهېدم چې دوی ته څنګه ګوري، آیا ګوري دوی ته او فکر یې بل چېرې دی او که څنګه. دا موضوع کله ناکله راته ډېره دردوونکې وه.

اوس زه او باراک په یوه ارغونچک سپاره شوي وو چې یوې خواته یې ښاغلی و او بلې خواته یې د ښاغلي مېرمن. په ښه کور کې مو ژوند کاوه. کور مو پوخ جوړ شوی و چې په کنوود سیمه کې واقع و او په انګړ کې یې دنګې او زړې ونې درلودې. زه او کرېګ به چې کله د یکشنبې په ورځو کې له پلاره سره په خپل بیوک موټر کې سپرېدو او شواخوا ځایونو ته به تلو، نو ځینې کورنو به مو لیدل چې ما به یې د لرلو هیله کوله، اوس مو همداسې کور کې ژوند کاوه. ما تل د خپل پلار په اړه او د هغو شیانو په اړه فکر کاوه چې موږ ته یې برابر کړي وو. زړه مې غوښتل چې کاشکې ژوندی وای او زموږ ژوند یې لیدلای وای. کرېګ هم اوس خوښ او خوشحاله او راضي و. د پانګونې بانک کې یې خپله دنده پرېښې وه او خپلې لومړنۍ مینې یعنې باسکټبال ته ورګرزېدلی و. له څو کلونو وروسته په نورس وسترن پوهنتون کې د باسکټبال د استاد مرستیال شو. اوس په براون پوهنتون کې د باسکټبال د ټیم سرمربي دی. ده غوښتل چې له یوې ښکلې نجلۍ سره واده وکړي چې کلي مک کرون نومېده او په پوهنتون کې د پذیرش مسئوله وه. د کرېګ دوه ماشومان هم غټان شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړې ونې يې لرلې، ځناباوره وو او د هېواد د راتلونکي نسل بېلګې شمېرل کېدل.

زه د يوه سناتور مېرمن وم او مهمه دا چې داسې يوه دنده مې لرله چې خوښېده مې. کال وړاندې په پسرلي کې د شيکاګو پوهنتون د طبی مرکز مرستياله شوې هم وم. څو کاله وړاندې مې د ښار په جنوبي برخه کې د روغتيايي بيمې د طرحې په اړه کار کړی و او له يو زرو پنځه سوه څخه د زياتو ناروغانو درملنه مې کوله چې هر ځل به د روغتون عاجلې برخې ته راتلل. ټول وړيا روغتون ته راتلل. هېڅ پيسې يې نه ورکولې. اوس مې داسې تور پوستان ليدل چې د بېلابېلو ناروغيو لکه شکر په خاطر عاجلې برخې ته راتلل، ځکه د دوی ناروغۍ ته پاملرنه نه وه شوې او اوس يې مور باید يوه پېنه پرې کړې وای. هر کله به مې چې دا ډول ناروغان ليدل نو په ناخودآګاه توګه به مې خپل پلار راياد شو چې د ام.اس ناروغۍ ټولې نښانې يې پټې کړې وې چې پيسې يې لاړې نه شي او يا هم په ادارو کې روشوت ورکولو ته اړه نه شي، يا د سپين پوستو پر وړاندې د حقارت حس پيدا نه کړي، نو پايله يې دا شوه چې خپل ژوند يې بايلود.

که څه هم دنده او ژوند مې دومره ښه او بشپړ نه وو خو بيا مې هم ورسره علاقه درلوده. لږ موده پاتې وه چې ساشا ښوونځي ته لاړه شي او ما داسې احساسول چې بيا کولای شم لوړ فکرونه وکړم او د ځان لپاره نوې موخې وټاکم. خو بيا ځلې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره کمپاينونه پيل شول چې زما ټولې نقشې يې راخرابې کړې. ما او باراک په تېرو يوولسو کلونو کې په پنځو انتخاباتي کمپاينونو کې ونډه اخيستې وه او په هر يوه کې يې اړ شوي وو چې خپلې برنامې او طرحې يوې خواته کړو او په کمپايونونو بوخت شو. دې کار مې اروا ډېره ځورولې وه او زموږ پر ګډ ژوند يې هم بد اغېز کړی و. اوس مې نو وېره دا وه چې هسې نه د ولسمشريزو ټاکنو لپاره دا نوماندېدنه په بشپړه توګه زموږ ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



برباد کړي. که ولسمشری ته رسېدلی وای، نو کاري ساعتونه یې زیاتېدل او له هغو دندو نه به زیات بوختېده کومې چې په سپرینګ فیلډ او یا واشنګټن کې یې ترسره کولې. مخکې به نیمه اونۍ له موږه لرې و، مګر اوس به داسې وخت هم راغی وای چې ټوله اونۍ به هم کور ته نه راتله. د دې پر ځای چې له څلورو څخه تر اتو اونیو له موږه لرې په واشنګټن کې واوسي او کله ناکله زموږ لیدلو ته راشي، غوره به یې بلله چې میاشتې میاشتې له موږه لرې واوسي. که داسې شوي وای، نو دې پېښې به زموږ په کورنۍ کومه بلا رانازلوله. یا به له نجونو سره څه کېدل؟

څه مې چې کولای شول ومې کړل چې زما او د بارک ترمنځ چې کومه فضا رامنځته شوې سترګې پرې پټې کړم. د تلویزیوني شبکو کارپوهانو به تل په انتخاباتو کې د ده د بریا په اړه پروګرامونه برابرول. د نیویارک ټایمز پخواني مقاله لیکونکی ډېویډ بروکس هم د باراک په اړه یوه مقاله خبره کړه. اوس نو چې هر چېرې تلو، هر چا پېژانده. خو زه همداسې نومورکې وم او چا نه پېژندم. یوه ورځ د خوراکي توکو لپاره په لیکه کې ولاړه وم چې ناڅاپه مې په ټایمز مجله سترګې ولګېدې چې پر پوښتی یې زما د مېړه یو ستر عکس چاپ شوی و. له عکس سره یو سرلیک هم و چې لیکل شوي وو: «د امریکا راتلونکی ولسمشر ولې باید باراک اوباما شي.»

ما زیاته هیله لرله چې بلاخره به باراک یوه ورځ ووایي چې نه غواړي ولسمشر شي او رسنۍ به هم بلې خواته واستوي. خو ده داسې ونه کړل او کلک هوډ یې درلود چې ولسمشر شي. مګر ما داسې څه نه غوښتل. هر ځل به چې کوم خبریال له باراکه پوښتنه کوله چې په ولسمشریزو ټاکنو کې ګډون کوې نو دی به دوه زړی شو او وبه یې ویل: «اوس هم په دې موضوع فکر کوم. دا یو کورنی تصمیم دی.» منظور یې دا و چې «که میشل یې ومني نو زه دې کمپاین ته وردننه کېږم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومې شپې به چې باراک واشنګټن کې و، نو زه به یوازې په کټ غزېدم او احساسول به مې چې ګواکې د امریکا د خلکو پر وړاندې ولاړه یم. ما غوښتل چې باراک یوازې په خپله کورنۍ پورې اړه ولري، مګر ګنې داسې ښکارېدل چې ټول خلک غواړي چې دی د خپل هېواد لپاره راپاڅي او د هغوی خدمت وکړي. د ده مشاوران دا کسان و: ډېویډ اکسلرود او رابرټ ګیبز. چې باراک سنا ته تلو، دې کسانو یې په ورتګ کې ستره ونډه درلوده. بل مشاور یې ډېویډ پلوف نومېده چې د اکسنترو شرکت مشاور هم و. بل مشاور یې پیت راوس و او بله مشاوره یې والري وه چې ټول د ده تر شا ولاړ وو. همدارنګه دوی ټولو ټینګار هم کړی و چې که باراک تصمیم ونیسي چې د ولسمشریزو انتخاباتو سیالیو کې ګډون وکړي نو زه او دی دواړه باید سره همغږي واوسو او په ګډه کمپیان ته ملا وتړو. باید یوه دقیقه او منظمه برنامه جوړه شوې وای او همدارنګه زیاتو پیسو ته هم اړتیا وه. ما هم باید په ټولو انتخاباتي کمپاینونو کې د ده ترڅنګ له ده سره ګډون او له ده څخه ملاتړ کړی وای. ما او زما اولادونو باید په خپله خوښه موسلي وای او بېلابېلو کسانو ته مو لاسونه ورکړي وای او په عمومي غونډو کې مو ونډه اخیستې وای. کرېګ چې تل زما ملاتړی و، د باراک د کمپاین له پلویانو سره یو ځای شوی و. یوه شپه یې راته تلیفون وکړ او په دوستانه لحن یې راته وویل: «ګوره میشل، پوهېږم چې ډېر مضطربه او اندېښمنه یې، مګر که باراک په انتخاباتو کې د بریا لپاره کوم چانس ولري باید ویې آزمایي. متوجه یې؟»

هر څه چې و، ښه و او که بد، زه پر داسې چا مینه وم چې ذاتي خوشبیني یې درلوده او له هېڅ ډول جدل او مبارزې نه وېرېده. یوه شپه دویم پوړ کې وو. د مطالعې خونه کې ناست وو. ده تر لاس ونیولم او راته کړل یې: «دا کار کولای شو که څنګه؟ موږ ټول هوښیاران او ځواکمنان یو او شک نه لرم، موږ بریالی کېدلای شو.»

له شک پرته، د ده منظور دا و چې هر څه چې نه وي، انتخاباتي کمپاین

(c) ketabton.com: The Digital Library



به زیات لګښت وغواړي او مور باید له ډېرو شیانو تېر شو، که هغه له کورنۍ سره نشتون وي او که زما او ستا خصوصي خلوتونه. په هر حال په دقیقه توګه نه پوهېدم چې څومره پیسې باید ولګوو او څومره محدودیتونه باید ولرو. لنډه دا چې هېڅ مشخص نه وو. دا په داسې حال کې وو چې زه په محافظه کاره او برنامه لرونکې کورنۍ کې ستره شوې وم. یعنې په داسې کورنۍ کې چې ځان یې احتمالي اورلګېدنې ته چمتو کاوه او زده کړې یې و چې په کارګره طبقه کې له معلول پلار سره ژوند وکړي او برنامه ولري چې ژوند یې ښه تېر شي. دا زمور د کورنۍ لپاره مهم وو. ځکه زمور ژوند تل تر ګواښ لاندې و. که یوه میاشت مې پلار تنخا نه وای اخیستې، نو مور د برېښنا د بل لګښت نه شوای ورکولای. یا که ما یو ځل هم په ښوونځي کې کورنۍ دنده ترسره کړې نه وای، نو شاته پاتېکېدم او ښایي هم چې پوهنتون ته مې هم لاره نه وای موندلې.

له بل پلوه ما او باراک د کاترینا توپان ټولې ویجاړۍ لیدلې. داسې میندې او پلرونه مې لیدلي وو چې خپل اولادونه یې له اوبو پاس نیولي وو او لیدلي مې وو چې تور پوستې کورنۍ څنګه هڅه کوي چې خپل ځان وژغوري او سوپردوان لوبغالي ته لاړې شي چې هلته پناه واخلي. ما په ښاروالۍ او پابلیک الایز کې کار کړی و او همدارنګه اوس مې د پوهنتون په طبي مرکز کې کار کاوه. زما دې دندو ماته څرګنده کړې وه چې خلک په ډېرې سختۍ له روغتیایي بیمې برخمنېدلی شي او دا ورته ډېره سخته ده چې استوګنځای ولري. باراک هم د خپلو فعالیتونو په جریان کې د ډېرو اخراجي کارګرانو او معیوبو سرتېرو خبرې اورېدلې وې، یا نورې ستونزې دا چې ځینې میندې اړ وې چې خپل ماشومان هغو ښوونځیو ته واستوي چې هېڅ امکانات یې نه درلودل. مور دواړو احساسول چې د خپلې ټولنې د خلکو په اړه باید فکر وکړو او په دې لاره کې کلک ګامونه واخلو. ما او باراک څو څو ځله په دې اړه خبرې کړې وې. حتا هغه وخت مو هم دا خبرې شاربلې وې کله چې هاوایي ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**توت لیدلو ته تللي وو. زموږ ځینې خبرې په واویلاوو، چیغو او ژړاوو پای ته رسېدلې وې، ځینو یې هیلې راټوکولې وې او موږ یې هڅولي وو چې ستونزې له مخې لرې کړو. بیا بیا مې له ځانه پوښتلي وو چې په ژوند کې زموږ ارزښتونه کوم دي او څه تر لاسه کولای شو؟**

**بلاخره هغه ناندرۍ په دې پای ته ورسېدې چې باراک ته مې مثبت ځواب ورکړ. ځکه پوهېدم چې یو فوق‌العاده ولسمشر به شي. هغه ښه هوښیار و، پر ځان یې ښه باور درلود، همدارنګه کلک و او د ډېرو ستونزو پر وړاندې یې مقاومت کولای شوای. همدارنګه ده لایقه مشاوران او همکاران هم درلودل. پر دې اساس ما حس کړل چې حق نه لرم چې مخه یې ونیسم. کله چې ډاډه وم چې باراک د ولسمشر په توګه د میلیونهاوو محرومو او اړمنو وطنوالو ژوند ښه کولای شي، نو بیا څنګه د ده پر وړاندې درېدلای شوای او په خپلو او د خپلو لوښو پر اړتیاوو او غوښتنو مې ټینګار کولای شوای؟**

**البته که څه هم ما هو وویل چې په انتخاباتو کې ګډون وکړي، مګر بیا هم چندان هیله‌منه نه وم چې بریالی به شي. په هر حال، باراک تور پوستی و، چندان هیله نه وه چې سپین پوستې ټولنه یې ومني.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱٦

همدا چې له باراک سره مو هوکړه وکړه چې ولسمشریزو ټاکنو ته دې نوماند شي، نو له دې سره سم یې په کور او کورنۍ کې شتون پیکه شو. اوس انتخاباتو ته کال پاتې و، مگر موږ خپل تبلیغات په آیوا کې پیل کړل. باراک باید د خپل انتخاباتي کمپاین مسئولینو ته ویلي وای چې فعالیتونه پیل کړي او له مالي ملاتړو مرسته وغواړي. باراک باید خپل ځان خلکو ته څرگنده کړی وای، دوی ته یې باید ویناوې کړې وای چې د دوی په زړونو کې ځای پیدا کړي. دا هر څه د دوو ډېویډانو له لارښوونې سم ترسره کېدل چې یو یې ډېویډ اکسلرود او بل یې ډېویډ پلوف نومېدل. اکسلرود ډېل برېت لرل، آرامه خبرې یې کولې. له خلکو سره یې په درناوي چلن کاوه او مخکې د شیکاگو تریبون خبریال و. له مشورو وروسته وپتېیل شوه چې دی د باراک د رسنیز نظام مسئولیت پر غاړه واخلي. پولوف نهه دېرش کلن و، د ماشومانو په شان به یې له زړه خندل او د سیاست سره یې مینه درلوده. دې کس د انتخاباتي کمپاین ټول مدیریت پر خپله غاړه واخیست. البته چې زموږ ډله په چټکۍ زیاتېده او باتجربه کسان به راسره یو ځای کېدل چې وروسته به موږ دا کسان د مالي چارو او د مراسمو جوړولو د برخو د پرمخ بېلولو لپاره پر دندو گمارل.

یو کس ډېر عاقلانه وړاندیز وړاندې کړ. ده وویل چې غوره دا ده چې باراک په رسمي توگه په سپرینگ فیلډ کې خپله نوماندي اعلان کړي. ټولو دا وړاندیز ومانه. باراک کلونه کلونه په دې سیمه کې د سازمان ورکوونکي په توگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده ترسره کړې وه او پوهېده چې د دې سيمو خلک ډېر ځورېدلي او د ديموکراسۍ په اړه په څه نه پوهېږي. پروجکټ وټ پروژې ده ته څرګنده کړې وه چې که چېرې دې خلکو ته په بېلابېلو چارو کې ګډون ورکړل شي نو ستر ستر کارونه به ترسره کړي. خو که داسې شوي وای نو آيا د ده پيغام بيا د هېواد اکثرو وګړو ته رسېدلای شوای؟آيا نورو کسانو هم له باراک سره مرستې ته لاسونه رابړ وهلي وو؟

باراک په ښه توګه پوهېده چې يو غيرمعمولي او عجيب نوماند دی چې غواړي انتخاباتي کمپاين يې هم غيرعادي وي. هغه وپتېيله چې د سنا مجلس د پخوانۍ ودانۍ په سرو زينو او سړه هوا کې ودرېږي او خپله نوماندي اعلان کړي. دا کار زما چندان نه خوښېده چې هلته له نجونو سره يو ځای تر واورې لاندې ودرېږم، يخني وزغمم، موسکه شم او باراک هم هڅه وکړي چې ځان قوي، باراده او بانرژي وښيي. په هر حال، د امريکا په متحده ايالتونو کې هوا په يوه حال نه وه او په ناڅاپي توګه يې کولای شول چې هر څه سره ګډوډ کړي. ځکه ما دا نه شوای زغملی چې باراک دې دومره ژر ماته وخوري.

هيلري کلينټن شاوخوا مياشت وړاندې خپله نوماندي په ډاډه زړه د انتخاباتو لپاره اعلان کړې وه. دې پر ځان ډېر باور درلود. د جان کېري پخواني انتخاباتي سيال جان ادواردز په شمالي کارولينا کې تقريباً مياشت وړاندې په ولسمشريزو ټاکنو کې خپله نوماندي اعلان کړې او خلکو ته يې د نيواورليان توپان ځپلې سيمه کې وينا هم کړې وه. په ټوله کې نهو ديموکراتانو غوښتل چې انتخاباتو کې ګډون وکړي. پر دې اساس سيالي سخته شوې وه. داسې پتېيل شوې وه چې باراک به په خلاصه هوا کې خپله نوماندي اعلانوي، خو ما ټينګار کاوه چې د باراک د وينا ځای به په بخارۍ ګرم کړل شي چې هسې نه د وينا په وخت کې د سړو له امله په عذاب او ناراحته ښکاره شي. له دې پرته مې هېڅ نشو کولای چې وضعه کنترول کړم يا هم کوم نظر ورکړم. هر څه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتي کمپاین مسئولینو برابر کړي وو. ما د ځان او مالیا او ساشا لپاره ژمنۍ جامې په پام کې ونیولې چې په هغه سړه هوا کې زکام نه شو. خو هېر مې شول چې نجونو ته خولۍ واخلم. مګر څو ورځې لا نورې هم پاتې وې چې باراک په انتخاباتو کې خپله نوماندي اعلان کړي. همدا وو چې یوه ورځ مې چې کله کار پای ته ورسېد هټۍ ته لاړم، ژمنۍ جامې مې وکتې او بلاخره دوې اوبدل شوې خولۍ مې پیدا او واخیستې. یوه سپینه وه چې مالیا ته مې ورکړه او بله ګلابي وه چې د ساشا شوه.

خو د انتخاباتي وینا په ورځ، یعنې د ۲۰۰۷ کال په فبرورۍ میاشت کې هوا ښه وه او لمر ځلېدو. زموږ کورنۍ ورځ وړاندې سپرینګ فیلډ ته ورسېده. د هوټل په یوه اپارتمان کې مېشت شوو چې درې کوټې یې درلودې. البته د باراک د انتخاباتي کمپاین مسئولینو زموږ یو شمېر خپلوانو او دوستانو ته هم هوټل کې اپارتمانونه نیولي و چې زموږ سره راغلي او په غونډه کې یې ګډون کاوه. زموږ د خپلوانو او آشنایانو شمېر شواخوا دولس کسه وو.

څه موده تېره شوې نه وه چې د باراک په انتخاباتي کمپاین ټولنیز فشارونه پیل شول. په تصادفي توګه، د باراک د وینا ورځ د تور پوستانو د اتحاد له ورځې سره برابره شوه. په دې ورځ یوه تلویزیوني خپرونه هم وه چې د پي‌بي‌اس چینل مشهور خبریال تاویس اسمایلي چلوله. دې کار دا خبریال غوسه کړ او د باراک د انتخاباتي کمپاین مسئولینو ته یې خپله ناخوښي او ناراحتي څرګنده کړه او ویې ویل چې دا هممهالي تور پوستې ټولنې ته یو ډول بې احترامي ده او باراک به زیان وکړي. دا چې لومړنۍ نیوکې د تور پوستې ټولنې له خوا پر موږ وشوې زه ورته هیښه شوم. د باراک له وینا څخه ورځ وړاندې، د رولینګ ستون مجلې یو خبریال ترینیټي کلیسا ته تللی و او د باراک په اړه یې یوه مقاله لیکلې وه. موږ اوس هم د هغې کلیسا غړي وو، مګر کله چې نجونې پیدا شوې نو طبیعي وه چې وخت مو نه درلود چې ورشو. د ده مقاله له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکو سپورو ډکه وه چې یوه برخه کې یې د جرمیا کشیش خبرې هم راغلې وې. د دې کشیش خبرې هم ستوغې وې چې کلونه وړاندې یې د تور پوستانو د چلن په اړه کړې وې او ویلي یې وو چې خدای پر خپلو بنده‌گانو بر دی نو ځکه امریکایان هم باید دې ته اهمیت ورکړي چې سپین پوستي پر تور پوستو غوره دي.

که څه هم مقالې مثبت اړخونه درلودل، مگر په مجله کې یې سرلیک داسې راغلی وو: «د باراک اوباما د نظریاتو افراطي او رادیکالي ریښې.» موږ پوهېدو چې ټولنیزې رسنۍ لکه تلویزیون او نور به دا خبرې زموږ پر وړاندې د یوې وسلې په توگه وکاروي. دا موضوع د باراک له انتخاباتي وینا څخه ورځ وړاندې یوه بده پېښه وه. په ځانگړې توگه هغه وخت لا بده شوه چې روحاني پلار، رایټ کشیش، باراک ته نېشونه ورکړل. باراک له روحاني پلار سره اړیکه ټینگه کړه او له هغه یې هیله وکړه چې د دوعا او مناجاتو په ځای، زموږ د انتخاباتي کمپاین بریا ته دعا وکړي. باراک وویل چې د روحاني پلار احساساتو ته زیان رسېدلی و. مگر زموږ ستونزمن شرایط یې پېژندلي و او بیا یې هغه ته ویلي و چې ملاتړ به ترې وکړي.

هغه ورځ پوه شوم چې داسې ځای ته رسېدلي یو چې شاتگ ترې ناشونی دی. اوس نو زموږ کورنۍ باید د امریکا د خلکو پر وړاندې درېدلې وای او ځان یې ورته څرگنده کړی وای. د انتخاباتي ټیم ټولو غړو څو اونۍ وړاندې د داسې ورځې لپاره ځانونه چمتو کړي وو. ټول کوربانه وېرېږي چې هسې نه مېلمانه په وخت راونه رسېږي، زه هم همداسې په اندېښنو کې ډوبه وم. بیا مې هم هماغه د ماشومتوب اندېښنې او تشویشونه لرل چې پر دې ولاړ وو چې آیا په کافي کچه غوره یم او که نه. له ځانه مې پوښتل چې آیا باراک چې څومره فکر کوي هومره محبوبیت لري. آیا پر وخت یې کمپاین پیل کړی. کله چې له یوه فرعي دهلیز څخه د مجلس خونې ته وردننه شوو نو نه پوهېدو چې بهر څه خبره ده. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې ځان مې پوهولی وي نو مالیا او ساشا مې وېلسون مور ته ورکړې. هغه وړاندې هم د باراک مشاوره او لارښوده وه او په څو وروستیو کلونو کې یې د نجونو د دویمې نیا ونډه هم لوبوله.

ما ته خبر راکړل شو چې ډېر کسان راغلي. خلک سهار وختي هلته راغلي وو. له برنامې سره سم، لومړی باید باراک ورغلی وای او څو شېبې وروسته زه او نجونې باید د زینو له څو پوړیو پورته شوې وای او د خلکو په مخکې درېدلې وای او لاسونه مو ښورولی. ما له هر څه وړاندې هم د خپل انتخاباتي کمپاین مسئولینو ته ویلي وو چې مور د باراک د وینا ټولې شل دقیقې له دریځ سره نه پاتې کېږو. لومړی دا چې نجونې سترېدلې او نه شوای درېدلی. دویم دا چې زه داسې نه وم چې داسې ساختګي او نمایشي چلنونه ترسره کړم او خپل مېړه ته ښه په ځیره وګورم او څرګنده کړم چې ټولې خبرې یې عاقلانه او له هیلو ډکې دي.

د غونډې چلوونکي خبرې پیل کړې، ښه راغلاست یې وویل او بیا کشیش رایت پاڅېد دعا یې وکړه، خلکو ته یې ښه راغلاست وویل. له دې وروسته باراک راغی. همدا چې د خلکو باراک ته پام شو، نو شور او غوغا یې جوړه کړه چې مور هر څه آن له خونې اورېدل. سترس مې ټول وجود کې غځونې کړې وې. مالیا او ساشا ته مې ورغږ کړل او ورته کړل مې چې چمتو یئ؟

ساشا په ډېرې غوسې خپله ګلابي خولۍ له سره هیسته کړه او راته ویې ویل چې مورې زه چمتو نه یم.

ما خولۍ ترې واخیسته او بیا مې ورپه سر کړه او ورته ومې ویل: «ګرانې خولۍ دې په سره کړه. بهر هوا ډېره سړه ده.»

هغې وویل: «خو مور خو بهر کې نه یو. مور خو اوس هم سالون کې یو.»

زه نه پوهېدم چې د خپلې ریښتیانۍ او کوچنۍ لور د منطقي خبرې په مقابل کې څه ووایم. د کمپاین یو مسئول مور ته نژدې ولاړ و هغه ته مې وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اشاره مې پوه کړ چې نجونې غوسه دي او هر څومره ژر چې کېږي باید وروو‌ځو.

هغه هم سر وښوراوه او زما خبره یې ومنله. موږ ته یې لارښوونه وکړه چې له خروجي دروازې ووځو.

ما د باراک په مختلفو سیاسي مراسمو، د رای ورکوونې په سترو ډلو او همدارنګه په هغو مېلمستیاوو کې ونډه اخیستې وه چې د انتخاباتي کمپاین په اړه وې او باراک مې د هغه د دوستانو او ملاتړو په منځ کې لیدلی و. خو د سپرینګ فیلډ هغه ورځ په ریښتا چې بل څه وه.

دریځ ته ورسېدو خو همدا چې خلکو ته مې وکتل لاره رانه ورکه شوه او حواس مې د ساشا خوا ته لاړل چې هسې نه موزې یې چپرته بندې شي او پر ځمکه راوغورځي. هغې ته مې وویل چې ګرانې سر دې پورته ونیسه او موسکه شه. مالیا سر پورته کړ، له موږ څخه وړاندې یې ځان خپل پلار ته ورورساوه او لاسونه یې ښورول. هغه ورځ له پنځه لسو زرو زیات کسان راغلي و.

زما هېڅکله نه خوښېدل چې سیاسي غونډو کې ونډه واخلم یا ورزشي سټوډیمونو ته لاړه شم یا هم په ښوونځیو یا نورو ځایونو کې خبرې واورم. خو هغه ورځ راته ډېره عجیبه وه، ځکه ډېر ساړه وو او زه نه پوهېدم چې دومره یخنۍ کې څنګه دا دومره خلک هلته سره راټول شوي. البته که د موسیقۍ کنسرت یا د سوپربول سیالیو ته دومره کسان راټول شوي وای کومه خبره نه وه، مګر سیاست ته د دومره خلکو راټولېدل، ډېر هیښنده وو. خو ژر پوه شوم چې موږ د یوه ورزشي ټیم په څېر یو چې غواړو میدان ته ورودانګو. اوس مې نو مسئولیت ډېر احساساوه. هغوی په موږ باور کړی و. اوس موږ مؤظفه وو چې د هغوی شور او شوق د دوولسو راتلونکو میاشتو په اوږدو کې هماغسې تاند وساتو او سپینې ماڼې ته وردننه شو. تر هغې شېبې مې حتا دا فکر ته هم نه راتلل چې باراک به بریالی شي، مګر کله مې چې دومره خلک ولیدل نو ناڅاپه مې زړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله پیدا شوه. اوس نو له پنځه لسو زرو نورو دلیلونو سره سره زما زړه هیله کوله چې باراک په انتخاباتو کې ګټونکی شي. که څه هم نه پوهېدم چې راتلونکې به څنګه وي. مګر اوس زموږ کورنۍ ژمنه کړې وه. موږ څلور واړه په هغه یخنۍ کې د خلکو او کمرو پر وړاندې ودرېدو او خپله ژمنه مو اعلان کړه.

سرسخته او جدي سیاله مو هیلري کلینټن وه. د دیموکرات ګوند په لومړنیو نظرپوښتنو کې، کلینټن له ټولو زیاتې رایې ګټلې. له هغې وروسته باراک و چې له دې څخه یې رایې له لسو څخه تر شلو سلنې کمې وې. درېیم ادواردز و چې رایې یې له باراکه ټیټې وې. اکثره رای ورکوونکو د کلینټن کورنۍ ښه پېژندله او هیله یې کوله چې ګټونکي شي. خو رای ورکوونکو باراک بېخي پېژانده نه. حتا د هغه نوم هم د چا سم نه و زده چې تلفظ یې کړي. موږ ټول، یعنې زه او باراک او د هغه د ټول انتخاباتي کمپاین غړي، د هغه له وینا وړاندې ښه پوهېدو چې دا احتمال ډېر ناچیزه دی چې د باراک حسین اوباما په نامه یو تور پوستی دې ولسمشر شي، که څه هم زیاتې سیاسي وړتیاوې ولري. تور پوستانو هم چندان هیله نه درلوده چې باراک دې ګټونکی شي. حتا هغوی دا منلې نه شوه چې یو تور پوستی نوماند دې وکولای شي چې د سپین پوستو په سیمو کې رایې وګټي. له همدې امله د کلینټن پلویان شول. بارک چې کوم کار باید ترسره کړی وای، هغه دا و چې د هغو تور پوستانو رایې د ځان خواته راواړوي چې له کلونو کلونو راهیسې بېل کلینټن ته وفاداره وو. بېل کلینټن له تور پوستانو سره ښه اړیکه رامنځته کړې وه. باراک هم د اېلینوی ایالت د جنوبي برخې له سپین پوستو کروندګرو سره ښه اړیکه ټینګه کړې وه. اوس نو د ټولنې د زیاتو کسانو باور باید باراک د ځان پر لوري رااړولای وای.

ټولو باراک په دقیقه توګه څاره. ده هم د یوه تور پوستي نوماند په توګه باید هېڅ تېروتنه نه وای کړې. د بریا لپاره یې باید ډېرې پیسې راټولې او بیا یې په تبلیغاتو کې لګولې وای چې د انتخاباتو په مقدماتي دوره کې یې ځان ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګند کړي او د کلينټن له ګوندي کمپاينه مخکې شوی وای.

زموږ ټولې هيلې آيوا ښار ته وې چې کوچنی ښار و. د دې ښار اکثره مېشتندويان کليوال او نوي سلنه يې سپين پوستي وو. خو دا ايالت په سياسي فعاليتونو کې له ټولو ايالتونو وړاندې و. آيوا له ۱۹۷۲ کال راهيسې د ولسمشرۍ په مقدماتي انتخاباتو کې وړاندې و او کله به چې ولسمشر ټاکل کېدو د ټولو سترګې به دوی ته وې. د دواړو ګوندونو يعنې د ديموکراتانو او جمهوريپالو پلويانو د ژمي په منځنيو شپو ورځو کې خپلې مقدماتي رايې د دې ښار په صندوقونو کې واچولې. په دې توګه دوی ټولو ته د ولسمشرۍ غوره څېره وړاندې کوله. موږ په ښه توګه خبر وو چې که ځانونه په ښه توګه آيوا کې څرګند کړو، نو دا به يو ښه پيغام وي چې د نورو ايالاتو تور پوستو ته يې ورکړو چې باراک ومني. آيوا د ايلينوی ايالت په ګاونډ کې يو ايالت و. پلوف باور درلود چې په آيوا کې به ډېر کم چانس ولرو.

پر همدې اساس پلان داسې جوړ شو چې هره اونۍ به زه آيوا ته ځم. سهار به وختي الوتکه کې سپرېدم او د ورځې په اوږدو کې به درې يا څلورو ځايونو ته تلم او د اوباما د برنامو په اړه به مې تبليغات کول. سربېره پر دې زما دا خوښېدل هم چې د انتخاباتو لپاره تبليغي غونډې جوړې کړم، مګر بيا مې هم د کمپاين له مسئولينو غوښتنه وکړه چې برنامه داسې جوړه کړي چې وکولای شم د شپې په خپل وخت کور ته لاړه شم او خپلې لونې ويدې کړم. البته مور مې هم خپل کاري ساعتونه کم کړي وو چې هغه وخت له نجونو سره واوسي چې زه په کور کې نه وم. باراک خپل زيات وخت په آيوا کې تېراوه، مګر ما او هغه ډېر کم يو بل سره ليدل. کوم مهال به چې دی په سدارفالز ښار کې په وينا بوخت و، يا به يې تبليغات کول، يا به يې په نيويارک کې مالي مرستې راټولولې، نو ما به د آيوا ښار په مختلفو سيمو کې رای ورکوونکو ته خبرې کولې. په ځينې ځايونو کې به زه او باراک يو ځای هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باراک له خپلو زیاتو مرستیالانو سره یو ځای بل ځای ته سفرونه کول. مگر ما د خپلو فعالیتونو د محدودیتونو له امله د ځان لپاره یوازې دوه مرستیالانې ټاکلي وې چې راته کافي وې. یوه ملیسا وینتر وه چې د انتخاباتي کمپاین له لوري راته ټاکل شوې وه. دا مېرمن عینکي وه او شواوخوا څو دېرش کاله عمر یې درلود. هغې مخکې د یوه سناتور په دفتر کې کار کړی و چې جو لیبرمن نومېده. له نوموړي سره یې په ۲۰۰۰ کال کې هم همکاري درلوده چې د ولسمشرۍ معاونیت ته یې ځان نوماند کړی و. په شیکاگو کې په خپل کور کې مې له دې سره مرکه وکړه، ډېره هوښیاره راته معلومه شوه، ځکه جزییاتو ته یې ډېر پام کاوه. دا مې خوښه شوه. زه دوه ځایه بوخته وم، هم مې روغتون کې کار کاوه او هم په انتخاباتي کمپاین کې خو د دې چټکۍ او کارنده‌گۍ ماته ډېره گټه راورسوله. هغه د کمپاین له نورو ځوانانو لږ مشره وه، نو همدا لامل و چې له ما سره ډېره صمیمي هم شوه، زما هم ورسره جوړه وه، بیا وروسته مې په بشپړه توگه پرې اعتماد هم درلود.

دویمه مرستیاله مې کیتي مک‌کورمیک لیلیویلد نومېده چې د عمومي اړیکو د مدیرې په توگه له موږ سره یو ځای شوه. له دېرشو کلو یې کم عمر درلود، مگر په انتخاباتي کمپاینونو کې یې کار کړی و. هغه وخت یې هم له هیلري کلینټن سره کار کاوه چې د امریکا لومړۍ مېرمن وه. نو له بېلابېلو مسایلو او له موږ سره یې زیاته آشنایي درلوده. دا هوښیار، ترو تازه او شیک وه او د خبریالانو او د تلویزیون د کارکوونکو په مرسته یې زموږ مراسم په ښه توگه تر خبري پوښښ لاندې راوستل. له دې سره به چرمي لاسي بکس و چې د گنډلو وسایل، اضافه جرابې، ژوالې او داسې نور شیان به یې هم پکې ساتل. دې ماته ډېره گټه رارسولې ده، په ځلونو ځلونو یې په هوایي ډگر او د انتخاباتي کمپاین په مراسمو کې زما عزت خوندي ساتلی.

تېرو کلونو کې مې په ورځپاڼو کې د ولسمشرۍ لپاره بېلابېل نوماندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلي وو چې آیوا ته تللي وو او له خلکو سره به یې یو ځای په روستورانتونو ناسته پاسته کوله او قهوه به یې څکله او یا به هم پلورنځیو ته ورتلل او د خلکو پر وړاندې به یې نمایشي او تبلیغاتي چلَنونه او حرکتونه کول. زه نه پوهېدم چې د دوی دا کړنې پر رای ورکوونکو څه اغېز لري. خو د باراک مشاورانو ماته سپارښتنه کړې وه چې د دې ایالت په هره برخه کې هڅه وکړم چې له دیموکراتانو سره په اړیکه کې شم. د هغوی له کوچنیو ډلو سره خبرې وکړم او پرنفوذه افراد یې تر خپلې اغېزې لاندې راولم. د دې ایالت خلکو د نوماندانو په اړه ډېرې څېړنې او گروېږنې کولې او له هغوی نه یې پوښتنې کولې چې سیاسي نظریې یې څه دي. زه نه پوهېدم هغوی ته څه ووایم او هغوی ته کوم سیاسي پیغامونه ورولېږدوم.

زما لومړنۍ تبلیغاتي غونډه د اپرېل میاشتې په منځنیو شپو ورځو کې د دموین ښار په یوه ساده کور کې ترسره شوه. د دې ښار ځینې وگړي په سالون کې په څوکیو ناست وو او ځینو نورو پَلَترۍ وهلې وې او پر ځمکه ناست وو. دلته مې په حیرانتیا ولیدل چې پر مېزونو هماغه زما د نیا گلدوزي شوي سرمېزۍ او د روبي ترورۍ ختېنې مجسمې شته. زه په آیوا کې وم مگر چې دا شیان مې ولیدل نو احساس مې کړل چې خپل کور کې یم. د آیوا خلکو احمقان او ناپوهان نه شوای زغملی او هغه کسان یې هم نه خوښېدل چې مغرور وو او لاپې به یې وهلې. دوی غولوونکي کسان له لرې پېژندل. پر دې اساس ما حس کړل چې هغه څه واوسم چې یم او د نورو پېښې باید ونه کړم. همدا کار مې ترسره هم کړ او ومې ویل: «له هر څه وړاندې زه خپل ځان باید تاسې ته دروپېژنم. زه میشل اوباما یم. د شیکاگو په جنوبي برخه کې په یوه کوچني اپارتمان کې ستره شوې یم چې په دویم پوړ کې و. زموږ کور د دې ځای کورنو ته ورته و. پلار مې د اوبو د تصفیې په کارخانه کې کار کاوه. مور مې هم د کور مېرمن وه او زما او زما د ورور پالنه او روزنه یې کوله.» لنډه دا چې د هر څه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه مې دوی ته وویل. د خپل ورور په اړه مې هم دوی ته معلومات ورکړل او همدارنګه هغه ارزښتونه مې ورته بیان کړل چې زه ورسره لویه شوې وم. همدارنګه د هغه وکیل په اړه مې هم ورسره خبرې وکړې چې په خپل کار ځای کې مې ورسره لیدلي وو. هغه سړی چې په خپلې هوښیارۍ او ریښتینولۍ یې رانه زړه وړی و. هغه سړی چې هره ورځ به یې جورابې یوې خوا ته غورځولې او په خوب کې به خرېده. همدارنګه دوی ته مې د خپلې دندې په اړه هم وویل چې روغتون کې کار کوم او لوڼې مې ښوونځې ته بیایم چې بیا وروسته یې زما مور بېرته له ښوونځې څخه کور ته راولي. د سیاست په اړه مې هم خبرې وکړې او د سیاست په اړه مې په ریښتینولۍ سره خپل احساسات هم هغوی ته بیان کړل. دا مې وویل چې سیاست د شریفو او سمو خلکو لپاره مناسب نه دی او ورته ومې ویل چې کله په پیل کې باراک غوښتل چې د ولسمشرۍ لپاره نوماند شي نو له ده سره مې مخالف کړی و او اوس چې د هغه انتخاباتي کمپاین ته ورغلې یم، لامل یې دا دی چې پر خپل خاوند مې باور لرم چې د هېواد د راتلونکې لپاره ښې نظریې لري، نو ځکه پرې باور کوم. ومې ویل چې باراک ډېره مطالعه کوي او ما نه غوښتل چې د خپلې خودخواهۍ له مخې یې د کورنۍ په تنګه هډانه کې بندي کړم.

په پرلپسې توګه څو اونۍ تېرې شوې، زه د آیوا بېلابېلو سیمو ته لاړم، کتاب پلورنځیو ته، ټولنیزو سالونونو ته، د پوځیانو پوستو او روزنځایونو ته او د زړو ګډو کورنو ته چې دې ټولو ځایونو کې مې خپله هماغه کیسه تکراروله. خپله کیسه مې خوښېده. دا کیسه مې په ډېرې راحتۍ هغو کسانو ته ویله چې د پوستکي رنګ یې له ما سره توپیر کاوه. لکه د پوستې ماموراتو ته چې زما د نیکه په څېر وو یا د پیانو غږولو ښوونکو ته چې زما د روبي ترورۍ په څېر وو یا د کور مېرمنو ته چې زما د مور په څېر وې او د ښوونځې په انجمنونو کې فعاله وې. همدارنګه دا کیسه مې کارګرانو ته هم کوله چې زما د پلار په څېر وو چې زړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې غوښتل د کورنۍ لپاره هر کار چې وي هغه ترسره کړي. نور مې نو اړتيا نه وه چې تمرين وکړم او يادښتونه راسره وګرزوم. د خپل زړه خبرې مې په رينښتينولۍ له نورو سره شريکولې. کله به مې چې خبرې کولې نو د خبرو په جريان کې به ځينو خبريالانو يا حتا ځينو آشنايانو رانه ځينې پوښتنې کولې چې هيڅ مې نه خوښېدې. دا پوښتنې ډېرې عجيبې وې لکه راته ويل يې چې ته تور پوستې يې، ۱۸۰ سانتري متره ونه لرې نو کله چې د آيوا د سپين پوستو په مخ کې خبرې کوې څه احساس لرې؟

زما له انده دا پوښتنه نژادپالې پوښتنه وه. ګنې داسې ښکارېدل چې زما تور پوټکی د دې باعث شوی چې زه د سپين پوستو له نړۍ سره توپير ولرم. البته ما چې د خلکو په منځ کې څه تجربه کړي وو دې پوښتنې ترې ډېر توپير درلود. کله به مې چې وينا پای ته ورسېده نو ځينې کسان به راته راغلل، ځکه دوی به غوښتل چې د خصوصي چارو په اړه د زړه خواله سره وکړو. د مثال په توګه، يوې يا يوه کس به ويل چې پلار يې په ام‌اس ناروغۍ اخته شوی يا زما په شان نيا يا نيکه لري. ډېريو به ويل چې له سياست سره چندان جوړ نه دي مګر اوس زما انتخاباتي فعاليتونو پرې اغېز کړی او غواړي چې زموږ د کمپياين په سيمه‌يزه څانګه کې په داوطلبانه توګه کار وکړي. نارينه‌وو ويل چې خپلې مېرمنې او مېرمنو ويل چې خپل مېړونه به د رای ورکولو لپاره راولي او همدارنګه دوی به ويل چې حتا ګاونډيان به راولي چې رايه درکړي. همدا انساني اړيکې وې او اوس نو ما په بې ارادګۍ کې دوی غېږ کې نيول او ښه احساس مو سره تبادله کاوه.

همدا مهال و چې ماليا مې له مهالوېش سره سمه د معاينې لپاره د ماشومانو متخصص ډاکټر ته وروستله. هغه د باراک له نوماندۍ سره سم په يوې ناروغۍ اخته شوې وه چې ساه‌بندي نومېده. هر شپږ مياشتې به موږ له هغې سره متخصص ډاکټر ته ورتلو چې ناروغي يې کنټرول شي. ډاکټر يې د سن، ونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزن له پرتلې وروسته وویل چې نورمال جسمي حالت (BMI) يې د زياتېدو په حال کې دی. البته هغه ټينګار وکړ چې وضعه يې بحراني نه ده. خو غوره دا ده چې موضوع جدي وګڼو. هغه ماته ګوتڅنډنه وکړه چې که خپل غذايي عادتونه بدل نه کړو نو شونې ده چې ماليا د وينې په لوړ فشار يا هم په دويم ډول شکر اخته شي. کله چې ډاکټر زما اندېښمنې څېرې ته وکتل نو زياته يې کړه چې د چاغښت موضوع اوس په ټولو هېوادونو کې شته او معمولاً د تور پوستو په کارګره طبقه کې يې ډېره پراختيا موندلې.

دا خبره د جوشو اوبو په څېر وه چې پر سر مې راواچول شي. ځکه ما تل پاملرنه کړې وه چې ماشومانې مې روغې او خوشحاله وي، نو بيا کومه تېروتنه وه چې داسې حالت ته يې ورسولو؟

له کله راهيسې به چې د کاري بوختياوو له امله باراک ډېر کم کور ته راته ما به د يو څه د پخولو لپاره وخت نه درلود. همدا وو چې ډېرې وخت به مو له بيرونه خواړه راغوښتل. سهار به مې هم کله چې دېشونو کې نجونو ته خواړه اچول نو هماغه خواړه به وو چې له بيرونه به مو راغوښتي وو. د اونۍ په پای کې به چې دوی د نڅا له روزنځای څخه راغلې نو له مک ډونالډ روستوران څخه به مې ورته خواړه راغوښتل. خواړه به يې چې وخوړل فوټبال ته به لاړې. ډاکټر راته وويل چې تاسې ډېرې مهال له بيرونه تيار خواړه راغواړئ چې داسې ستونزې يې درته رامنځته کړي.

هر څه چې وو، د دې کار بدلول راته سخت وو. له بيرونه د غذايي توکو اخيستلو، بيا يې برابرولو او مينځلو او په پای کې يې پخولو زيات وخت غوښته چې ما نه درلود. همدا مهال راياد شول چې څو اونۍ وړاندې زما يوې پخوانۍ ملګرې په الوتکه کې راته وويل چې د سم کاس په نامه يو ځوان يې پر دې کار ګمارلی چې په کور کې ورته روغتيايي خواړه پاخه کړي. ناڅاپي وه چې ما او باراک هم دا کس ليدلی و او پېژانده مو. هغه مې راوغوښت او دنده مې ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په اونۍ کې څو وارې راشي او زموږ د ماښام او د نجونو د سهار لپاره خواړه برابر او پاخه کړي. ما هېڅکله دا نه انګېرل چې یوه ورځ به یو څوک پر دې دنده ګمارم چې موږ ته خواړه پاخه کړي. پوهېدم چې خپلوان او آشنایان به مې راپورې ملنډې ووهي. د باراک هم دا نظریه چندان نه خوښېده. ده نه غوښتل چې خلکو ته د راتلونکي ولسمشر داسې انځور وړاندې کړي. خو زما په اند د دې ستونزې د هوارې لپاره یوازې همدا عاقلانه لاره وه. په هر حال له ما پرته هېڅ د روغتون وضعیت ته رسېدګي نشوای کولای، یا به مې له انتخاباتي کمپاین سره همکاري کوله او یا به هم مالیا او ساشا ته رسېدم. اوس مې دومره کولای شول چې همدا کور ته ورسم له یخچاله خواړه راواخلم او یوازې تاوده یې کړم.

سم شېږ ویشت کلن ځوان و، په سر یې تار وېښته نه وو، وېښته یې تراشلي وو او لږ ږیره یې درلوده. ده به خواړه هم پخول او کله کله به یې تهوکې هم کولې. ده نجونو ته ورزده کړل چې څنګه ګازرې وتراشي، ترکارۍ څنګه په جوشو اوبو کې پرېمینځي او سلاته جوړه کړي. په دې توګه موږ یې د رستورانتونو د تکراري خوړو له منګولو وژغورلو. ده به په خپل وخت مَټر، شاتوت او پاخه شفتالو اخیستل او نجونو ته به یې ورکول. د غذایي موادو په اړه یې هم ښه معلومات درلودل او هغه مضر خواړه یې هم پېژندل چې د خوړو تولیدوونکو شرکتونو به تولیدل او پر خلکو پلورل. په کوم روغتون کې مې چې دنده لرله په دې روغتون کې مې هم پام شو چې له همدې ډول تیارو خوړو څخه ګټه اخیستل کېږي. یوه شپه له سم سره په پخلنځي کې ناست و، خبرې مو کولې، ما ده ته وویل چې که باراک ولمشر شي نو زه به د امریکا د لومړۍ مېرمنې په توګه له خپل واکه ګټه واخلم او دا ستونزه به هواره کړم. موږ کولای شوای چې په سپینه ماڼۍ کې ترکارۍ وکرو او خلک د ترکاریو او تازه خوړو خوړلو ته تشویق کړو. همدارنګه ما غوښتل چې میندو او پلرونو ته هم ګوتځنډنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم چې د خپلو ماشومانو روغتیا ته پاملرنه وکړي. مګر د خبرو اترو په پای کې مې له سوزه ډکه آه وکړه او کړل مې: «دریغه چې باراک به په انتخاباتو کې ګټونکی نه شي.» بیا مو له سم سره وخندل.

زه یوه مور وم، خو اوس مې ټول ټولنیز کارونه او فعالیتونه له کورنیو دندو سره ګډوډ شوي وو. کله به مې چې باراک سره هم اړیکه نیوله نو له هغه څخه به مې یوازې دا پوښتنه کوله چې چېرې یې؟ وضعیت څنګه دی؟ نجونې څنګه دي؟ او پر دې هم پوهېدم چې یو بل سره هېڅ مرسته نه شو کولای. ژوند مو چټک شوی و، په منډه روان و او له زغملو پرته مو بله چاره نه درلوده.

د ټولنپوهنې د څانګې یو محصل هم له مور سره په انتخاباتي کمپاین کې په داوطلبانه توګه کار کاوه. ده ټیوېټا موټر هم درلود. کله ناکله به وضعه دومره ګډوډه شوه چې زه به اړ شوم چې د ده له موټره له خپلو همکارانو سره اړیکه ونیسم او هغوی ته ووایم چې څه وکړي او کومې برنامې پلې کړي. کله به مې د یوه روستوران له کومې ګوښې څخه کوم چا ته ځینې دندې ورسپارلې. د باراک د انتخاباتي وینا څو میاشتې تېرېدې. اوس نو زه، ملیسا او کیتي هر څو ورځې وروسته یو ځل په سفر تلو. سهار به په بېړه په هوایي ډګر کې د خلکو په منځ کې تېرېدو او نور نو اکثره تور پوستو مېرمنو زه په خپل نامه میشل یادولم. ناپېژاندو کسانو پېژندلم، خپله مینه یې راسره څرګندوله، دوستانه چلن یې راسره کاوه، زه د باراک د مېرمنې په توګه او د هغه چا په توګه چې نوې په سیاست کې ښکېل شوې وې دا هر څه راته عجیب وو. هغوی به په ډېره مینه ماته لاسونه راکول. له ما سره به یې مهرباني کوله، زما خبرې به یې اورېدې او له ما سره به یې عکسونه اخیستل. د بارک د مېرمنې په توګه چې هرڅومره زیاته پېژندل کېدلم، نو هومره زما شتون نالیدلی انګېرل کېده. ډېرو کمو خبریالانو زما د دندې په اړه له ما پوښتنې کولې او کله نا کله به حتا داسې هم راته ویل کېدل چې ته له دې امله په روغتون کې پر لوړه چوکۍ ګمارل شوې یې چې مېړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سیاست کې مشهور دی. دې خبرو به ځورولم. یو ورځ ملیسا راته زنګ راوکړ او راته کړل یې چې د نیویورک ټایمز د خبریالې مورین دود مقاله ولولم. هغې زه د جنوبي شیکاګو ملکه نومولې وم او ویلي یې وو چې د دې (یعنې زما) موخه دا ده چې خپل مېړه تحقیر کړي نو ځکه وایي چې باراک خپلې جرابې ها خوا دې خوا غورځوي او یا کله چې پوځه (پنېر) راواخلي نو بیا بېرته یې په یخچال کې نه کېږدي. ما دا خبرې کړې وې خو د دې جزییاتو له ویلو مې موخه دا وه چې خلکو ته څرګنده کړم چې باراک هم د دوی په شان یو عادي کس دی. نه کوم ناجي چې له بلې سیارې راغلی وي. فکر کوم چې دې خبریالې غوښتل دا غوره وبولي چې زه یوازې د خپل مېړه مخکې موسکه شم او په مینه‌ناک انداز ورته وګورم. په هر حال ما هڅه کوله چې د ځان په اړه د نورو نظرونه واورم. مګر کله ناکله یې زغمل راته ډېر سخت وو.

د وخت په تېرېدو سره څومره چې په ټولنه کې زیات څرګندېدو هومره زیات مشهورېدو، هومره زیات دروغ راپسې ویل کېدل او هومره زیاتې شایعې راپسې جوړېدې. د مثال په توګه ویل کېدل چې باراک په یوه رادیکال اسلامي ښوونځي کې زده کړې کړې، یا دا چې په مجلس کې یې لاس پر قرآن اېښی او لوړه یې کړې یا هم څو ترهګر ملګري لري. دا دروغ او شایعې تل د معتبره رسنیو له خوا ردېدلې مګر موږ ته په پرلپسې توګه عجیب او غریب الکترونیکي لیکونه راتلل. حتا له دې امله زموږ د ځینو همکارانو او ګاونډیانو ذهنونه هم خراب شوي وو او دا ورتیا یې بایللې وه چې دروغ او ریښتیا تشخیص کړي.

په دې حال کې د باراک د امنیت او روغتیا موضوع هم مطرح وه. دا هغه څه وو چې ما نه غوښتل چې په اړه یې فکر وکړم. امریکا مخکې ډېرې سختۍ شاته پرېښې وې. د کېندي کورنۍ ترور شوې وه. مارتین لوترکېنګ ترور شوی و. پر رونالد ریګان او جان لنون ډزې شوې وې. لنډه دا چې د تور پوستي باراک لپاره هم داسې ګواښونه شته وو. ما داسې انګېرل چې هسې نه د تېلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پمپ کې پرې برید وشي. باراک چې نوماند شو د لومړۍ میاشت په لومړیو کې ساتندویه سرتېري ورکړل شول. د ولسمشرۍ هېڅ کوم نوماند ته هم دومره ژر ساتندویه سرتېري نه ورکول کېږي. اوس نو باراک د مرمۍ ضد موټر درلود چې یوه ځای او بل ځای ته پکې تلو او یوې وسلوالې ډلې یې په سفرونو کې ساتنه کوله چې ښځینه او نارینه پکې وو. زموږ د کور په انګړ کې هم یو ساتونکی ولاړ و چې زما او زموږ د لوڼو ساتنه یې کوله. ما د ناامنۍ او ګواښ چندان احساس نه درلود. هره ورځ به چې چېرته تلم نو خپلو سفرونو کې به مې زیات کسان د ځان خواته راماتول. کله کله به مې یوې شل کسیزې ډلې ته په یوه کوچني کور کې وینا کوله او کله به مې سل ګونو کسانو ته د یوه ښوونځي په لوبغالي کې. د انتخاباتي کمپاین همکارانو مې راته ویل چې ویناوې دې د دې باعث شوې چې خلک له موږ سره زیاته مالي مرسته وکړي. اوس نو پوهېدم چې له ناروغۍ یا بلې هرې ستونزې سره سره څنګه خپل کار ونه درووم. زده کړې مې وو چې غیرصحي روستورانونو کې خواړه ونه خوړم او مک ډونالد روستورانتونو کې خواړه وخورم. زده کړې مې وو چې پام وکړم چې هسې نه په جامو مې څه تویې شي او چټلې یې کړي. څکه هره شېبه به د عکاسانو پر وړاندې وم. همدارنګه اوبه څښل مې هم کم کړل څکه کله چې چېرته تلم نو په لارو کې تشناب ته تللو زموږ وخت نیوه. همدارنګه له دې سره روږدې شوې وم چې له نیمې شپې وروسته چې رېل‌ګاډو کې څم، د هغې له زړه بوږنَونکو غږونو سره سره بیا هم ویده شم یا هر څنګه چې کېږي له هغه شورماشور سره سازش وکړم چې په هوټل کې به زما خونې ته په څنګ خونه کې وو. ما خپل استراحت دا ډول کاوه.

که څه هم انتخاباتي فعالیتونو ډېرې لوړې او ژورې درلودې مګر لومړی کال یې له خنداوو او جالبو خاطراتو ډک وو. هر کله به چې امکانات وو نو ما به مالیا او ساشا هم له ځانه سره بېولې. هغوی په مسافرۍ کې تګړه وې او خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ښکارېدې. یوه ورځ یوه نندارتون ته تللې وو چې په نیو همپ شایر ښار کې و. زه وړاندې لاړم چې له ځینو رای ورکوونکو سره خبرې وکړم. نجونې مې د انتخاباتي کمپاین له یوه مسئول سره پرېښودې. موخه مې دا وه چې له ګڼ انځور اخیستلو وړاندې د نندارتون څو برخې وګوري. یو ساعت وروسته چې کله نجونو ته ورغلم او ساشا مې ولیده نو ځای پر ځای هکه پکه شوم. هغې خپل ټول مخ په تورو او سپینو کرښو نقاشي کړی و او د پانډا ییږې په څېر شوې وه. ټولو ښه سره وخندل. بیا حمام ته لاړو چې مخ یې پاک او پرېمینځې.

کله ناکله به څلورو واړو یو ځای سفر کاوه. یعنې ټوله کورنۍ به چېرته تلو. انتخاباتي کمپاین یو ستر موټر کرایه کړی و چې موږ وکولای شو چې پکې کېنو او د آیوا ایالت کوچني ښارونه ووینو. یوه ورځ له غرمې وروسته یوه پارک ته لاړو. له معمول سره سم عکاسان او ویدیویي کمرې هم راپسې وې خپل عکسونه یې اخیستل او ویډیوګانې. برېښنایي موټرو کې سپاره شوو. بیا له اوبو څخه ډکو پوقانو ته ورغلو، ډزې مو پرې وکړې، موخه مو دا وه چې ښایي کومه نانځکه وګټو. د دې لپاره چې موږ درې واړه ښځې په پارک کې خپل ښه ساعت تېر کړو او په راحته هر چېرې لاړ شو، نو باراک فداکاري وکړه او له موږ څخه بېل شو او بلې خوا ته لاړ. ده پسې ډېر خلک هم ورغلل، خبریالان هم ورپسې وو. شاوخوا یې ساتندویه ډله هم ګرزېده او د انتخاباتي کمپاین مسئولین هم هر چېرې ورسره راوان وو. ډېره جالبه صحنه وه.

آیوا ایالت ته سفر مې ډېر خوښ شو. کله چې له دې ایالته په الوتکه کې تېرېدو، له کړکۍ څخه مو لاندې ځایونه ولیدل چې د دې ایالت په مځکو کې فصلونه څنګه بدلېږي او څومره څړ ځایونه لري او په کروندو کې یې د سویا او جوارو بوټي څنګه په دقت سره په یوه لیکه کې کرل شوي او سترې لارې یې څومره پاکې او مستقیمې دي. دا ټول هغه څه وو چې زه یې ورور ورو پر دې ایالت مَینه کولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو نيم کال تېر شوی و چې باراک او د ده د انتخاباتي کمپاين غړو په آيوا ايالت کې فعاليتونه کول. خو د هغه رايې هماغسې له هيلري او جان ادواردز څخه ټيټې وې. باراک به له هيلري څخه تل پنځه‌لس يا شل سلنه شاته وو او دا تريخ حقيقت به تل د هوايي ډګرونو يا روستورانتونو په تلويزيونونو کې اعلانېده. زه د سي‌ان‌ان او نورو شبکو له تکراري او مسخره ګزارشونو ډېره ستړې شوې وم او څنګه به چې له شپې کور تلم نو يوازې به مې د تفريحي شبکو برنامې نيولې. همدا شبکې وې چې زموږ فکر يې آرامه کاوه. لکه د رويايي کورنو برنامه يا هم د واده د جامو برنامه. کوټې ته به تلم او همدا برنامې به مې ليدلې.

حقيقت دا و چې د رايو په اړه نه ما د خلکو په نظرپوښتنو باور درلود او نه هم د خبري کارپوهانو په شننو او تعبيرونو. ډاډه وم چې هغوی تېروتي. هغوی چې د تلويزيون په خبري سټېډيوګانو کې او ګرديو مېزونو کې څه ويل نو له هغو خبرو او شننو سره يې په بشپړه توګه توپير درلود چې ما به د آيوا ايالت په مختلفو کليساګانو او بېلابېلو ټولنيزو مرکزونو کې اورېدل. هېڅ کوم يوه خبريال او هېڅ يوه خبري کارپوه دا نه ليدل چې باراک د ښوونځيو ستورو ټيم هم لري چې له فوټبال يا د ښوونځي له لمانځنو وروسته په داوطلبانه توګه زموږ کمپاين ته راځي او راته کار کوي. هغوی د سپين پوستې نيا لاسونو ته هم نه کتل چې د خپلو دوه رګه لمسيانو لپاره يې د غوره راتلوونکې وړاندوينه کوله يا يې هغه شور او هيجان نه ليده چې زموږ د کمپاين په انتخاباتي فعاليتونو کې يې جريان درلود.

اوس نو موږ د آيوا په بېلابېلو ځايونو کې ۳۷ ځانګې درلودې چې ۲۰۰ کسانو پکې فعاليت کاوه او ښايي چې د دې ښار په تاريخ کې به د انتخاباتي فعاليتونو يوه ډېره ستره شبکه هم شمېرل کېده. زموږ زياتره پلويان ځوانان وو. له ۲۲ څخه تر ۲۵ کاله پورې چې له ډېر شوق او ډېرې انرژۍ سره آيوا ته راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو چې زموږ له انتخاباتي کمپاین سره یوځای شي. هر یو هغه وړتیا او هغه استعداد درلود چې باراګ ته یې انګېزه ورکړې وه چې په شیکاګو کې د سازمان ورکوونکي او برنامه جوړوونکي په توګه په فعالیت بوخت شي. د ځوانانو دا روحیه او دا آرمانپالنه په نظرپوښتنو کې هېڅ نه لیدل کېده. ما به چې هر ځلې دوی لیدل نو وجود کې به مې هیلو غځونې کولې. هغوی داسې کسان وو چې له غرمې وروسته یې فعالیت کاوه. څلور یا پنځه ساعتونه به بوخت وو. کورونو ته به ورتلل او خلک یې هڅول چې باراک ته رایه ورکړي. هغوی پښېړ باور درلود چې د کډوالۍ د قانون د اصلاح په برخه کې باراک سم نظریات لري.

دې ځوانانو زموږ کمپاینونه پرمخ وړل او زه پر دې باورمنه وم چې همدا ځوانان به د هېواد راتلونکي مدیران وي. له یو بل سره یې اوږه په اوږه کار کاوه او سترګیا یې هېڅ پېژندله نه. له خلکو سره به یې مخامخ اړیکه نیوه یا د باراک په وینا د انټرنېټ له لارې به یې خلک هڅول چې موږ ته رایه راکړي. باراک ویل کوم فعالیتونه چې موږ ترسره کول یوازې د انتخاباتو لپاره نه وو، بلکې سیاست مو هم رغاوه چې پیسه‌پرستي راکمه شي او د هېواد په سیاسي نظام کې خلکو ته زیاته ونډه ورکړل شي. حتا که په انتخاباتو کې بریالي کېدلای هم نه موږ دومره کولای شول چې تېولنه یو ګام مخ پر وړاندې بوزو.

کله چې هوا بیا سړه شوه باراک پوه شو چې د دې لپاره چې د آیوا په انتخاباتي سیالۍ کې بریالی شي باید د جفرسون جکسون په ماښامنۍ مېلمستیا کې ځان څرګند کړي چې هر کال په سُنتي توګه د دیموکرات ګوند له خوا د آیوا په شمول په هر ایالت کې نیول کېږي. دا مراسم تر خبري پوښښ لاندې هم راتلل. په دې مېلمستیا کې هر یوه انتخاباتي نوماند له کومې لیکنې او یادښت پرته خبرې کولې. دا کار یې ځکه کاوه چې خپل پلویان زیات کړي او زیاتې رایې وګټي.

تلویزیوني شبکو کې له میاشتو میاشتو راهیسې سیاسي شَنونکو تبلیغات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول چې دا به ډېره لرې وي چې د آیوا خلک له باراکه ملاتړ وکړي. هغوی باور درلود چې باراک یو غیرمعمولي نوماند دی، په بېره دی او هرې خوا ته لاس اچوي، مګر نشي کولی چې د خلکو رایې ځانته وروا ړوي. خو هغه ورځ چې د جفرسن جکسون مابنامي مراسم و، نو د آیوا له ګوټ ګوټ څخه دې مراسمو ته زموږ درې زره پلویان راغلل او تلویزیوني تحلیلګرانو ته یې غاښ‌ماتوونکی ځواب ورکړ. هغه شپه جان ادواردز د دریځ شاته لاړ او پر کلینټن یې نیوکه وکړه او له خلکو سره په ریښتینولۍ وغږېد. جو بایډن هم د باراک ګڼ شمېر پلویانو ته مخ کړ او د طعنې په انداز کې یې وویل: «سلام شیکاګویانو.» د هیلري لړ ساړه کېدل، مګر بیا هم د دریځ شاته لاړه او په غیرمستقیمه توګه یې باراک ته طعنې ورکړې او ویې ویل: «که اړینه تجربه ونه لرئ چې خپلې برنامې او خپل ارمانونه پلي کړئ نو هغه به یوازې یو شعار پاتې شي او بس.»

هغه شپه باراک وروستی کس و چې دریځ ته لاړ او له خپلو برنامو یې دفاع وکړه. ده وویل چې اوس د دې وخت رارسېدلی چې د بوش د دولت پرلپسې وېرې او پرلپسې ماتې شاته پرېږدو او د هېواد دا دوه ګوني والي پای ته ورسوو. بیا یې ټینګار وکړ: «زه نه غواړم چې په راتلونکو څلورو یا اتو کلونو کې خپله ټوله انرژي په هغو جګړو کې اوبه کړم چې په ۱۹۹۰ کلونو کې مو پیل کړي. نه غواړم چې د امریکا له سرو او شنو جګړو سره یو ځای شم او جمهوریپال او دیموکراتان سره لاس او ګرېوان کړم. بلکې زه دا هوډ لرم چې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر شم.»

ټولو شته کسانو ورته هورا وکړل، ټولو ورته لاسونه پړکول. په هغه شېبه کې ما په ډېر غرور په باراک کې سترګې وګنډلې. باراک وویل«امریکا! اوس یې وخت رارسېدلی».

هغه شپه کې د باراک وینا هغه څه وه چې هغه شېبه کې زموږ انتخاباتي کمپاین ورته زیاته اړتیا درلوده. همدا وینا د دې باعث شوه چې په راتلوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو کې د آیوا ایالت په نیمایي نظرپوښتنو کې باراک په لومړي کس بدل شي او ځان د نظرپوښتنو په جدول کې پورته کړي.

له کرسمېس څخه څو ورځې وروسته په آیوا کې زموږ انتخاباتي فعالیتونو ته تقریباً یوه اونې پاتې وه. هوا ډېره سړه وه. د شیکاګو د جنوبي برخې تقریباً نیمایي کسان زموږ له کمپاین سره ملګري شول. زما مور، زما ورور، کلي ماما او د هغې اولادونه، سم‌کاس، والري، سوزان او په سدلي شرکت کې زما دوستان او همدارنګه د باراک د وکالت د پوهنځي ځینې اوستادان هم په دې ډله کې شامل وو. زه د دې کسانو په لیدلو ډېره خوشحاله شوم. ټولو غوښتل چې په وروستیو شپېو کې خپله ټوله هڅه وکړي، د خلکو د کورنو دروازو ته ورشي، د باراک او د هغه د برنامو په اړه ورته ووایي او رایې ورته راټولې کړي. هغوی به د شپې له خوا زموږ د پلویانو د کورونو په اضافي خونو کې ویده کېدل او د ورځې به د ښار بېلابېلو برخو ته ورتلل.

ما هم یو موټر کرایه کړی و او له ملیسا او کیتي سره یو ځای د ورځې پنځو یا شپږو غونډو ته ورتلم. زموږ ډرېور هم د داوطلبانو له ډلې و. باراک هم همداسې و او ویناوې به یې کولې.

هر چېرې به چې تلم نو داسې برنامه به مې جوړوله چې د شپې هغه هوټل ته راوګرزم چې موږ پکې اوسېدو او مالیا او ساشا ویدې کړم. البته هغوی به د ورځې له خوا له خپلو ملګرو او زما د خپلوانو له اولادونو سره په لوبو بوختې وې او دې ته یې ډېر پام نه کاوه چې چېرې یم. یوه شپه هوټل ته راغلم، غوښتل مې پر کټ اوږده وغځېږم، خو ومې لیدل چې خونې ته د پخلنځي ټول لوښي راوړل شوي او د تلویزیون پر ښیښه او پر قندیلونو ګردونه پراته دي. مالیا راته وویل چې سام نن موږ ته رازده کړل چې څنګه په خپله مکروني پاخه کړو.

خندا راغله. زه اندېښمنه دې ته وم چې که په کرسمېس کې نجونې له خپلې نیا کره لاړې نه شي، نو خپه به وي، مګر اوس مې لیدل چې یو خلطې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږو هغوی څنګه بوختې کړې وې.

څو ورځې وروسته د وروستۍ غونډې ورځ راورسېده. سهار زه او باراک د خپل انتخاباتي کمپاين څو ځانګو ته ورغلو چې له رای ورکوونکو سره سترې مشې وکړو او د هغوی حال واخلو. له غرمې وروسته هم له خپلو ځينو دوستانو او خپلوانو کره لاړو چې له هغوی مننه وکړو چې يوولس مياشتې يې نه سترې کېدونکې هڅې راسره وکړې. خو له ماښام وروسته مو ځان وزګار کړل چې خپل هوټل ته لاړ شو چې هغه شپه باراک وکولای شي خپله وينا برابره کړي. همدې وينا يا ماتې ته رساوه او يا هم بريا ته. څو شېبې وروسته مليسا او کيټي هم له نوو خبرونو سره راورسېدلې او راته کړل يې چې موږ بريالي شوي يو. له ډېرې خوښۍ نه هيجاني شوم، چيغې مې کړې چې د هوټل څو ساتونکي زموږ اپارتمان ته راغلل چې ډاډه شي چې موږ ته خو کوم څه نه دي راپېښ شوي.

هغه شپه کې چې څومره کسانو په غونډه کې ونډه اخيستې وه شمېر يې د تېرو څلورو کلونو په پرتله دوه برابره زيات و او دې څرګندوله چې باراک په ښه توګه بريالی شوی چې سپين پوستي، تور پوستي او ځوانان له ځان سره مله کړي. حتا په دې غونډه کې نيمايي يې هغه کسان وو چې له هغې يې وړاندې په هېڅ انتخاباتي غونډه کې برخه نه وه اخيستې او احتمالاً چې همدا کسان وو چې باراک يې بريالیتوب ته ورساوه. تلويزيوني خبريالان آيوا ته راغلي وو چې هغه نوي سياستوال ته مبارکي ورکړي چې په راحتۍ يې کلينټن او د پخواني ولسمشر مرستيال شاته پرېښودلي وو.

د بارک د هغې ورځ وينا د بريا وينا وه چې موږ څلور واړه زه، باراک، ساشا او ماليا له دريځ سره ودرېدو. زه د زړه له تله خوشحاله وم. ښايي چې لږ پښېمانه هم وم ځکه ما حتا د دې فکر هم نه کاوه مګر باراک پر حقه و او کومه وړاندوينه يې چې کړې وه، هغه ريښتيا شوې وه. ده هم پر ځان باور درلود او هم پر خلکو ځکه ويل يې چې که متحد شو، نو خنډونه به لرې کړو او اغېزه به مو ډېره زياته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يوه ستره تاريخي او ستره برخليک ټاکونکې بريا وه. دا بريا يوازې زما او د باراک نه وه بلکې د مليسا، کيتي، پلوف، اکسلرود، والري، د انتخاباتي کمپاين د ټولو ځوانانو او داوطلبانو، ښوونکو، کروندګرو، زده کوونکو او تقاعد شوو کسانو بريا هم وه چې يو بل ته يې لاسونه سره ورکړي وو او هڅې يې کړې وې.

شپه نيمايي ته رسېدلې وه چې زه او باراک هوايي ډګر ته لاړو چې له آيوا لاړ شو. زه او نجونې شيکاګو ته لاړو، ځکه ما غوښتل چې د دندې لپاره بيا روغتون ته لاړه شم او نجونې هم ښوونځي ته لاړې شي. باراک نيوهمپ شاير ته لاړ. ځکه اوس هم تر مقدماتي ټاکنو پورې يوه اونۍ پاتې وه.

آيوا زموږ هر څه بدل کړ. په ځانګړې توګه زما باور يې لا پسې پياوړی کړ. اوس نو زموږ دا دنده وه چې دا باور د ټولو امريکايانو په زړونو کې هم راويښ کړو. پلان داسې وو چې په راتلوونکو ورځو کې به زموږ د انتخاباتي کمپاين غړي نورو ايالتونو ته هم ځي چې نوادا، جنوبي کارولينا، نيومکزيکو، مينه سوتا او کاليفرنيا به پکې شامل وي او دوی ته به دا پيغام وررسوي چې بدلون شونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**دا زما کورنۍ ده. انځور د ۱۹٦۵ کال دی چې مور مېلمستیا ته تلو. ورور ته مې پام وکړئ، د دې لپاره چې ځان زما ملاتړی وښيي، نو زه يې تر لاس نيولې يم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د روبي شېلډز تروري انځور دی چې زه يې غېږ کې نيولې يم. مور د دې د اپارتمان په دويم پوړ کې اوسېدو. روبي تروري ماته کلونه کلونه پيانو راوښوده او کله ناکله به سره جوړې نه وو خو د دې يو ښه اړخ دا و چې زما د شخصيت بهترين اړخونه يې راڅرګندول.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**دا مې پلار دی، فریزر رابینسون چې له شلو کالو یې زیات د شیکاګو ښار لپاره کار وکړ او د اوبو د تصفیې په برخه کې یې دنده درلوده. که څه هم هره ورځ د ده ایم‌اېس ناروغي زیاتېده او په لاره تلل ورته سختېدل، خو یوه ورځ یې هم غیرحاضري ونه کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




دا هم زما د پلار بیوک موټر دی چې د خوښۍ او سرلوړۍ لامل یې و او زه هم ورسره ښې خاطرې لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library







کله چې په ۱۹۶۹ کال کې وړکتون ته لاړم نو زموږ سيمه يعنې جنوبي شيکاګو کې د منځنۍ کچې د بېلابېلو نژادونو کورنۍ اوسېدې، خو کله چې دا کورنۍ څه شتمنې شوې نو ښار ته يې کډه وکړه او دې کډې کولو ته سپينه تېښته وويل شول. له دې امله زموږ سيمه کې نژادي تنوع راکمه شوه. خلک هم راکم شول او کله چې پنځم ټولګي ته لاړم، نو دا نژادي تنوع بيخي له منځه لاړه.

پورتنی انځور: زما د وړکتون د دورې دی چې زه په دريیمه ليکه کې له ښي پلوه دويمه يم. لاندې انځور: زما د پنځم ټولګي دی چې زه د منځنۍ ليکې په منځ کې يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا انځور مې پرینستون پوهنتون کې اخیستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې پوهنتون ته تلم نو غوښه وم خو هلته مې صمیمي خورلنې پیدا کړې. لکه سوزان
اَلېل چې د ښه ژوند په باره کې یې ډېر څه رازده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دا انځور د ۱۹۹۲ کال د اکتوبر میاشتې د درېیمې نېټې دی چې زما د واده او خوشحالۍ ورځ وه. د پلار په ځای مې ورور تر لاس نیولې یم چې د کلیسا سالون ته مې بوزي ځکه پلار مې یو نیم کال وړاندې وفات شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله مې چې له باراک سره واده وکړ نو له هماغه اوله پوه شوم چې ښه پلار به شي. ده تل له خپلو ماشومانو سره مینه لرله او دوی ته یې وخت ورکاوه. کله چې په ۱۹۹۸ کال کې مالیا پیدا شوه نو دواړه نېکمرغه شوو او زموږ ژوند کې ژور بدلون راغی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماليا او ساشا تل سره خوږې وې چې زه يې خوږوالي ته اوس هم په زړه کې ګوري ماتوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




په شیکاګو کې درې کاله د یوه دفتر اجرایي مدیره وم. دا هغه سازمان و چې له ځوانانو سره یې مرسته کوله چې ټولنیزې چارې ترسره کړي او ځانته یوه دنده پیدا کړي. دلته زه (ښۍ خوا کې) د مدني فعالانو له مشرانو او ښاروال ریچارد ایم‌دېلي سره یم چې یوه غونډه کې مو ګډون کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا د شیکاګو پوهنتون په طبي مرکز کې پر دنده بوخته شوم. هلته مې هڅه کوله چې د لږګیو اړیکې له روغتون سره ښې کړم. دې ځای کې ما د شیکاګو د جنوبي برخې له زر ګونو کسانو سره مرسته وکړه چې مناسبه روغتیایي بیمه تر لاسه کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



والري جَرېت (له چپې خوا) مې لومړی ځل په ۱۹۹۱ کال کې ولیده. کله مې چې له دې سره لیدل نو د شیکاګو په ښاروالۍ کې یې کار کاوه. دا ډېر ژر زموږ باوري ملګرې او مشاوره شوه. دا عکس د ۲۰۰۴ کال دی چې موږ انتخاباتي کمپاین کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ناکله به مو خپل ماشومان هم سره راوستل چې د باراک کمپاین وګوري. دا انځور د ۲۰۰۴ کال دی چې مالیا د کمپاین په بس کې ناسته ده او د خپل پلار وینا اوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ۲۰۰۷ کال د فبروري د میاشت په یوه سړه ورځ کې باراک ولمسشریزو ټاکنو ته خپله نوماندي اعلان کړه. دا ایلینوی ایالت او سپرینګ فیلد ښار دی. د دې سړې ورځې لپاره مې ساشا ته ستره ګلابي خولۍ اخیستې وه او دې ته مې ډېره اندېښنه وه چې هسې نه له سره یې وغورځي؛ خو له نېکه مرغه داسې ونه شول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا انځور د انتخاباتي کمپاين انځور دی چې خبريالان راټول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**له انتخاباتي کمپاين سره مې ډېره مينه درلوده او له دې به مې انرژي اخيسته چې د امريکا په گوټ گوټ کې له راى ورکوونکو سره اړيکه ټينگه کړم، خو وخت ډېر ورو تېرېده او کله به چې هم شونې وه نو استراحت به مې هم کاوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له سرتاسري انتخاباتو څو میاشتې وړاندې د انتخاباتي کمپاین الوتکه زما په واک کې راکړل شوه چې کارنده‌گي مې زیاته او سفرونه مې هوسا شي. دا زما د کوچني ټیم انځور دی. (له چپ لوري) کریستېن جارویس، کیټي مک‌کورمیک لیلیویلد، چان ریش (د هغې وخت ریستیوره) او ملیسا وینټر.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زياتو دليلونو له مخې جو بايډن د باراک لپاره غوره انتخاباتي سيال و. بله دا چې زموږ کورنۍ هم سره ډېر ژر صميمي شوې. ما او جېل له هماغه پيله د دې په اړه خبرې وکړې چې څنګه له نظامي کورنيو سره مرسته وکړو. دا د هغه وخت انځور دی چې په ۲۰۰۸ کال کې د پنسيلوانيا له انتخاباتي کمپاينه راغلي وو او دلته مو استراحت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له سخت انتخاباتي کمپاین وروسته مې په ۲۰۰۸ کال کې د دیموکراتانو په ملي کنوانسیون کې خبرې وکړې. دې ځای کې اجازه راکړل شوه چې د لومړي ځل لپاره خپلو زیاتو اورېدونکو ته د خپل ژوند کیسه وکړم. بیا مالیا او ساشا هم دریځ ته راغلې چې د ویدیو له لارې خپل پلار ته سلام وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ۲۰۰۸ کال د نومبر د میاشتې د څلورمې نېټې انځور او د انتخاباتو د پایلو د اعلانولو شپه ده. مور مې ماریان رابینسون د باراک تر څنګ ناسته ده. دواړه د انتخاباتو پایلې ګوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۹ کال د جنوري میاشتې انځور دی چې باراک د ولسمشر په توګه لوړه وکړه. انځور کې مالیا لس کلنه ده او ساشا اوه کلنه. ساشا ډېره کوچنۍ وه او د دې لپاره چې په مراسمو کې ولیدل شي نو په څوکۍ ودرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا هم لورا بوش او د هغې لوڼې جېنا او باربارا دي چې موږ ته سپینه ماڼۍ راښیي. لورا بوش ډېره مهربانه وه چې دلته یې زما لوڼو ته د سپینې ماڼۍ تفریحي برخې راوښودې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د کوچنۍ ساشا د ښوونځي د لومړۍ ورځې انځور دی چې د زرهي موټر له ښیښې څخه بهر ته ګوري. دا خاطره به مې ذهن کې تل وي. هغه مهال مې دې شان تجربو ته ډېره اندېښنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر وخت تېر شو چې له خپلې ساتندویه ډلې سره روږدي شو خو د وخت په تېرېدو سره په دوی کې داسې زیاتره کسان وو چې زموږ ډېر صمیمي دوستان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلسون جرمن (په انځور کې) لومړی ځل په ۱۹۵۷ کال کې سپینې ماڼۍ ته راغی او د دې ځای د نورو ډېریو خدمتکارانو او کارکوونکو په شان یې په هسکه غاړه د ولسمشرۍ د څو کورنیو خدمت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د سپينې ماڼۍ پالېز داسې رغول شوی و چې د روغتيايي تغذيې او هوسا ژوند څرګندونه وکړي. ما له دې پالېزه ګټه واخيسته او لږ څه سترې برنامې مې جوړې کړې لکه د «راځئ چې حرکت وکړو!» برنامه. له دې پالېزه سره مې ډېره مينه درلوده، ځکه هلته ما کولای شول چې له ماشومانو سره خاورې وکيندم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل مې سپینه ماڼۍ داسې یو ځای واوسي چې ټول پکې هوساینه احساس کړي او ماشومان پکې ماشومان واوسي او د دې موکه ولري چې له لومړۍ مېرمنې سره رېسمان بازي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما او باراک له ملکې الیزابت سره ځانګړې علاقه درلوده. باراک به چې لیدله نو نیا به یې وریادوله. څو ځله چې موږ له دې سره ولیدل نو ماته یې څرګنده کړه چې انسانیت له تشریفاتو ډېر مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له نېلسون ماندېلا سره لیدنې دا لیدلوری راوبانه چې د راتلوونکو کلونو لپاره مې په سپینه ماڼۍ کې ورته اړتیا درلوده. هغه دا چې واقعي تحول، آرامه رامنځته کېږي، په څو میاشتو یا یوه کال کې نه ترسره کېږي بلکې لس ګونه کاله غواړي او یا هم ټول عمر ته اړتیا لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غېږ کې نیول، زما لپاره هغه لاره ده چې خپل تظاهر پکې ولې کوم او له نورو سره اړیکه رامنځته کوم. دلته آکسفورد پوهنتون دی او د الیزابت ګرت اندرسون ښوونځي نجونې راسره لاړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هېڅکله به پوځیان او د دوی کورنۍ هېر نه کړم، ځکه دوی هیلې درلودې او روحیه یې لوړه وه. دا هغه انځور دی چې د والتر رید په ملي طبي مرکز کې مې له هغوی سره لیدلي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د هایدي پندلتن مور کلوپاترا کاولي پندلتن ده. دې ډېرې هڅې وکړې چې خپله لور له وسلوال تاوتریخوالي وساتي، خو داسې ونه شول. کله مې چې له دې سره ولیدل نو له ځانه سره مې وویل چې څومره غیرعادلانه ژوند دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




تر شوني بريده مې هڅه کوله هغه وخت کور کې واوسم چې نجونې له ښوونځي څخه کور ته راځي چې ښه راغلاست ورته ووايم. دا په سپینه ماڼۍ کې د ژوند کولو يوه آسانتيا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ له مالیا او ساشا سره ژمنه کړې وه چې که باراک ولسمشر شي نو یو سپی به ورته اخلو. دا ژمنه مو پوره کړه. بیا مو دوه سپي واخیستل چې انځور کې یې یو وینې چې «بو» نومي. په بل هغه مو «ساني» نوم کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر پسرلی به مې چې کله د محصلینو په فارغتغونډه کې وینا کوله نو هیله به مې دا وه چې له دوی سره مرسته وکړم چې خپلې توانايي درک کړي او هیله ولري. دا انځور په ۲۰۱۲ کال پورې اړه لري چې د ویرجینیا د تکنالوژۍ پوهنتون کې مې د وینا لپاره چمتووالی نیوه. شاته مې هم تینا تچین ده، دې مېرمنې ډېر زغم درلود او پنځه کاله یې له ما سره کار وکړ او هر کله به یې څو کارونه یو ځای ترسره کول، لکه دې انځور کې چې هم له ما سره مرسته کوي او هم په موبایل کې بوخته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ سپیان د سپینې ماڼۍ په اکثره ځایونو کې آزاده وو خو ډېر یې دا خوښېدل چې په بڼ کې څملي یا هم پخلنځي ته لاړ شي. دلته خورخه دویلا ته ورغلي چې زموږ خدمتکار و او دې ته په تمه دي چې یوه څه ورکړي چې ویې خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ډاډه وو چې لوڼې مو فرصت لري چې د ځوانانو معمولي کارونه زده کړي، لکه موټر چلول خو دا راته مهمه نه وه چې له چا يې زده کوي، يوازې زده کړه راته مهمه وه چې که هغه له استخباراتي چارواکو څخه هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**که څه هم لومړۍ مېرمن وم او ډېر امتیازونه مې لرل چې ستونزې هم ورسره مل وې مګر ما او باراک هڅه کوله چې د خپلو ماشومانو لپاره عادي واوسو. په دې انځور کې مالیا، باراک او ما د ساشا د باسکټبال ټیم لپاره تشویقي نارې وهلې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که په ژوند کې مې یوازیني څه زده کړي وي نو هغه به د وینا له ځواکه ګټه اخیستل وي. ما ډېرې هڅې کړي چې حقیقت ووایم او داسې مسایل وړاندې کړم چې نور ورته چندان اهمیت نه ورکوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۱۵ کال کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای د کانګرس له غړي جان لوییس او مدني ټولنو سره یو ځای شوو او د آلاباما د سلما له اېډمېنډ پټوس برېج سره مو د لاریون د پنځوسمې کلیزې په یاد لاریون وکړ. هغه ورځ رایاد شول چې هېواد مو تر کومه راغلی او څومره لاره ورته پاتې چې هغه ځای ته ورسي چې غواړي یې او وړ یې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۷

کله چې په لومړي ټولګي کې وم نو یو هلک راغی او په ښوونځي کې یې پر دې مخ په سوک ووهلم. پېښه ناڅاپي وه، ګنګسه یې کړم او همدا سوک د دې باعث شو چې په سترګو مې تپه تیاره شي او په غوږونو کې مې کړنګاری. د غرمې ډوډۍ ته په لیکه کې ولاړ وو. ما له خپلې یوې ملګرې سره خبرې کولې چې څوک له ټولو تېز ځغلي یا دا چې شمعي رنګه‌ګان ولې داسې عجیب نومونه لري. د دې هلک نوم مې هېر کړی و خو دا مې په یاد و چې ډېره یې ژوبله کړم، ډېره خوږېدم، لاندینۍ شونډه مې پړسېدلې وه او په سترګو کې مې اوښکې راغلې وې. د دې پر ځای چې غوسه شم ځای پر ځای ولاړه وم. له همدې امله منډې مې کړې، کور ته لاړم او مور ته مې ځان وروړساوه.

زموږ ښوونکي له هغه هلک سره خبرې وکړې او هغه ته یې وویل چې ولې دې دا کار کړی؟ سبا ته زما مور هم ښوونځي ته راغله چې خپله هغه هلک ووینې او ډاډه شي چې بیا به داسې کار نه کوي. هغه ورځ زموږ نیکه هم موږ کره و چې هغه هلک ته ډېر غوسه و او غوښتل یې چې له مور سره مې ښوونځي ته راشي. په هر حال سبا ته هلک په خپل کار پښېمانه و او له ما یې ښښنه وغوښته. ښوونکي هم پر ما ټینګار وکړ چې نوره اندېښنه ونه کړم.

کور ته چې لاړم مور مې خواړه پخول. راته یې وویل چې: «هغه هلک له یو شي وېرېده او غوسه و او د ده غوسه په تا پورې اړه نه لري.» بیا یې سر وښوراوه او له ځانه سره یې ورو وویل: «بېچارګی زر رقمه کورنۍ ستونزې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورسره لاس او ګرېوان دی.»

موږ په خپله کورنۍ کې له بدماشانو او زورګویانو سره داسې چلن درلود. زه په هماغه ماشوموالي کې پوهېدم چې بدماشان ډېر ډارن دي او د دې لپاره چې خپله وېره پټه کړي نو هڅه کوي چې ځانونه قهرجن وښيي. ما د دې مثالونه خپله شواخوا کې ليدل لکه زموږ د سيمې په يوه نجلۍ کې چې ډډي نومېده، همدارنګه زما په نيکه کې چې له خپلې مېرمنې يا زما له نيا سره يې ډېر بد چلن کاوه. څنګه چې دا کسان وېرېدل نو پر نورو يې بريد کاوه. مور مې ويل چې له داسې کسانو بايد لرې واوسې او يوازې هغه وخت يې پر وړاندې ودرېږې چې مجبوره شې. مور مې دا شعار د خپل ژوند اساس ګرځولی و چې: «هېڅکله د بدماشانو او زورګويانو توهين شخصي موضوع مه ګڼه. ځکه که داسې وکړې، نو له شک پرته به زيان وکړې.»

وروسته چې کله ستره شوم نو دا موضوع ژوند کې راته ستره ستونزه شوه. ځلولېښت کلنه وم، هڅه مې کوله چې خپل مېړه سره مرسته وکړم چې ولمسشر شي، مګر فکر مې هغې ورځې ته و چې په لومړي ټولګي کې د غرمنۍ لپاره په ليکه کې ولاړه وم او مخ ته مې چا سوک راکړ. بيا مې ياد ته راوړل چې کله په ناڅاپي توګه يو کس ضربه ويني نو څومره خوږېږي او درد ګالي. ۲۰۰۸ کال کې به ډېری وخت زما زياته اندېښنه دې ته وه چې هسې نه څوک راسره بدماشي وکړي او زور راته ووايي.

البته له هغه کال څخه نورې ډېرې ښې خاطرې هم لرم. د جولای پر پنځمه مو په مونتانا ايالت کې له بوټ ښار څخه ليدنه کوله چې دا ورځ په تصادفي توګه د ماليا د زېږېدو له کليزې سره هم برابره وه او انتخاباتو ته څلور مياشتې پاتې وې. بوټ يو تاريخي ښار و چې د مسو معدنونه يې درلودل او د غرونو په سمسورو لمنو کې ودان شوی و. تېرو انتخاباتو کې د مونتانا وګړو جورج ډبليو بوش ته رايه ورکړې وه، مګر اوسنی والي يې د ديموکرات ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړی هم و. زما په اند دا ځای ډېر مناسب ځای و چې باراک باید ترې لیدنه کړې وای.

موږ داسې پلان نیولی و چې باراک به هره شپه کې خپلو چلنونو او حرکتونو ته پام کوي. ځکه هر چېرې ده ته سترګې وې. هر ایالت ته به چې تلو نو خلک به دې ته ځیر وو چې چېرته سهارې کوي او کوم ډول غوښه راغواړي او څنګه هګۍ خوري. ده به چې سفرونه کول د بېلابېلو تلویزیوني شبکو شاوخوا پنځه ویشت خبریالان به ورسره وو او کله به چې په الوتکه کې وو نو دا خبریالان به د ده د انتخاباتي کمپاین له مسئولینو سره ناست وو. د هوټلونو په دهلېز او هوټل کې به هم په ده پسې ول، په هر تمځای کې به يې هم ورپسې منډې وهلې او د ده هر څه يې ثبتول. که د ولسمشرۍ نوماند به زکام کېده یا به ګرانبیه سینګارتون ته تلو یا به يې په روستوران کې ګرانبیه خردل (یو ډول بوټي دی چې سویا ته ورته دی: ژباړن) راغوښتل، نو دوی به يې هر څه يې ثبتول. (باراک په تېرو کلونو کې داسې تېروتنې کړې وې چې د نیویارک ټایمز په لومړۍ پاڼه کې پرې مطالب لیکل شوي وو او همدا خبرونه شپېه په شپېه په انټرنېټ کې هم خپرېدل.) دې خبریالانو غوښتل چې دې پوښتنو ته ځوابونه ومومي: «آیا انتخاباتي نوماند یو کمزوری کس دی؟ مغرور دی؟ غولوونکی دی؟ یا یو واقعي امریکایي دی؟»

ټاکنې ازموینې ته ورته وې چې څو پړاوونه يې لرل او دا پکې څرګندېدل چې آیا د یوه هېواد یو رهبر د رهبرۍ اړینې وړتیاوې لري او که نه. داسې وو چې هره ورځ پر ایکس وړانګه باندې د راتلوونکي ولسمشر د اروا انځور اخیستل کېده. که کوم چا به خپله ټوله کورنۍ په بشپړه توګه امریکایانو ته نه ورښودله نو نه ټاکل کېده. هر نوماند خپل ټول اجتماعي، شغلي او مالیاتي سوابق باید په کامله او شفافه بڼه وړاندې کړي وای، خو که بیا چا داسې کولای نو ډېره زیانونه يې هم لرل. هغه وخت ملفون نوی نوی بازار ته راغلی و. همدارنګه فېسبوک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوېټر هم نوي رامنځته شوي وو. موږ نوي پېر ته ورننوتلو چې له راتلونکي څخه مو يې خبر نه درلود.

باراک نو نوره هڅه نه کوله چې يوازې ديموکرات راى ورکوونکي خپلې خوا ته راواړوي بلکې د امريکا ټول خلک يې په پام کې نيولي وو. د آيوا غونډه تېره شوې وه. له دې غونډې وروسته سيالي نوره هم سخته شوې وه او کله کله ډېره بده هم وه چې ځوک پرې شرمېدل. په ۲۰۰۸ کال کې باراک او هيلري کلينټن په دې هڅه کې وو چې له يو بله وړاندې شي. د جنوري مياشتې تر وروستيو پورې جان ادواردز، جو بايډن او ځينې نور نوماندان له انتخاباتو ووتل. د فبروري مياشتې تر نيمايي پورې باراک وکولاى شول چې په پرېکنده توګه له خپلو سيالانو وړاندې شي. ماليا به هر کله له ما پوښتل چې ابا مې کله ولسمشر کېږي؟

ما به ورته ويل: «ګرانې، تر اوسه څرګنده نه ده.»

بلاخره جون مياشت کې هيلري ومنله چې په انتخاباتو کې يې د بريا چانس لږ دى. هغې به په دې کار کې چې هر څومره ځنډ کاوه نو هومره به يې زموږ زياته انرژي ضايع کوله او که هر څومره ژر يې دا واقعيت ويلى واى نو باراک کولاى شول چې ځان چمتو کړي چې له جمهوريپال نوماند جان مکېن سره سيالي وکړي. مکېن د آريزونا ايالت پخوانى سناتور و، همدارنګه د جګړې د اتل په نامه هم يادېده او د ولمسشر جورج ډبليو بوش په پرتله يې متفاوته څېره درلوده.

موږ چې د جولاى په څلورمه بوت ښار ته لاړو دوې موخې مو درلودې. باراک څلور ورځې وړاندې په ميسوري، اوهايو، کولورادو او شمالي داکوتا ايالتونو کې تبليغات کړي وو او په هغه حساسو شېبو کې يې نه شول کولاى چې د ماليا د زېږېدنې د کليزې په خاطر زموږ خوا ته راشي. له همدې امله موږ الوتکه کې کېناستو او ده ته ورغلو. له موږ سره د باراک مَيرېزې خور مايا، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې مېړه کونراد او د هغوی څلور کلنه لور سهیلا هم وو. د باراک خورځه هم ډېره ښکلې، ګلالۍ او مینه‌ناکه وه. هغه ورځ کې په امریکا کې یو بل ستر ملي جشن هم وو. د بوت ښار خلک ډې مېلمه‌پاله وو او د خپلو دوکانونو په مخ کې یې پوسترونه راځوړولي وو چې هغې کې یې لیکلي وو چې مالیا د زیږېدو کلیزه دې مبارک. له چا سره به چې موږ کتل نو زموږ له لوښو سره به یې په ډېرې مهربانۍ چلن کاوه او موږ ته به یې ډېر درناوی درلود. حتا دوی خپله هم اعتراف وکړ چې که یوه دیموکرات ته رایه ورکړي نو دا به داسې وي چې ګنې یو پخوانی دود تر پښو لاندې کېږي.

زموږ انتخاباتي کمپاین داسې پلان جوړ کړی و چې انتخاباتي غونډه او د مالیا د زیږېدو د کلیزې لمانځل به په یوه ورځ ترسره کېږي. زه چې غونډې ته لاړم او دومره کسان مې ولیدل چې شمېر یې ډېر زیات وو نو بیخي ډېره حیرانه شوم. همدارنګه د دوی په چلن کې صمیمیت و چې ما ته یې ډېر ارزښت درلود. په هر حال د ۲۰۰۸ کال د جولای میاشتې څلورمه نېټه ماته یوه داسې ورځ ده چې ډېرې ښې خاطرې ترې لرم. لس کاله وړاندې ما او باراک په زېږدخونه کې هېڅکله داسې فکر نه کاوه چې د راتلونکې یوې لسیزې په اوږدو کې به د هغې دونیا په اړه په دومره څه وپوهېږو چې ژوند کې کوو.

ما د تېرو لسو کلونو اکثره وختونه د دې لپاره تېر کړي وو چې د خپلې کورنۍ او خپل کار ترمنځ تعادل رامنځته کړم. ما غوښتل چې هم مالیا او ساشا ته ښه مور واوسم او هم په ټولنه کې یوه ښه او مناسبه دنده ولرم. خو اوس د دې وخت رارسېدلی و چې خپله موروليي باید له سیاست او د باراک له هیلو سره همغږې کړم چې په ټولنه کې ستر بدلونونه راولو. سیاست ماته ډېر متفاوته و. سربداله کولم یې. کله چې له آیوا څخه راخلاص شوو، نو دومره بوخته شوم چې ومې پتېیله چې له روغتونه رخصت واخلم. حتا دومره وخت مې هم پیدا نه کړ چې دفتر ته لاړه شم او هلته خپل وسایل راټول کړم او یا هم مخه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم. اوس مې په انتخاباتي کمپاین کې ټول وخت لګېدو او ټوله انرژي مې پکې خلاصېده. خو په عین حال کې مې دا هڅه هم کوله چې خپلو ماشومانو ته هم وخت ولرم.

دا وخت مونتانا ایالت کې وم. غونډې مو لرلې او د مالیا د زېږېدو کلیزه مو لمانځله. پارک کې وو، زیات خلک راغلي وو، ټولو د زیږېدو د ورځې ترانه زمزمه کوله، زه هم هلته له مالیا سره ولاړه وم له خلکو سره غږېدم، ډېر خلک چمنونو کې ناست وو همبرګرونه یې خوړل، زموږ خواته به هم راتلل او مالیا ته به یې مبارکي ورکوله. هلته چې څوک راغلي وو نو داسې ورته ښکارېدل چې موږ ډېرې ښې او خوږې لونې لرو. همدارنګه دوی زموږ د کورنۍ صمیمیوالي ته هم په ښه سترګه کتل. خو زه په دې فکر کې وم چې زموږ لونې دې مراسمو ته په کومه سترګه ګوري او له غرمې وروسته چې ما او باراک له رای ورکوونکو سره مخه ښه وکړه او یو بل ته مو غېږه ورکړه آیا زموږ لونې به دا ورځ په یاد ولري.

په ژمي کې دولتي چارواکو ما او زما لوڼو ته شخصي ګاردان راکړل چې زموږ ساتنه یې کوله. یعنې کله به چې ساشا او مالیا ښوونځي یا بل ځای ته تللې نو ساتوونکي به هم ورسره وو او د دوی ساتنه به یې کوله. حتا هغه مېله کې چې موږ ګډون کړی و نو بیا هم هماغه ساتونکي له موږ سره وو او شاوخوا یې هر ډول مشکوکو حرکاتو ته پام کاوه. البته په معمولي توګه نجونو ساتونکي نه لیدل، یعنې پټ به ګرزېدل او پټه ساتنه به یې کوله. د دوی شتون ما او باراک ته ډاډ راکاوه. موږ ته کورنۍ د انتخاباتو له رایو مهمه وه. نجونو له سیاست یا د خپل پلار شاوخوا کسانو یا دیموکراسۍ او یا سپینې ماڼۍ سره علاقه نه درلوده. هغوی یوازې په یوه کوکري پسې وې چې لوبې ورسره وکړي یا شاوخوا یوه نژدې پلورنځي ته ورشي او هتله ځانونو ته آیسکریم واخلي.

اوس مهال زه او مالیا هغه تېر وختونه رایادوو او هغه ورځ یادوو چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته کلنه وه، باراک یې د کټ ترڅنګ ناست وو او ترې ویې پوښتل: «که پلار دې ولسمشر شي ته به څنګه احساس ولرې؟ دا ښه فکر دی؟» مالیا هم خپل پلار ښکل کړ او ورته کړل یې: «هو پلاره دا به ډېر ښه وي.»

هغه شپه مالیا هېڅکله پر دې نه پوهېده چې که باراک تصمیم نیسي چې ولسمشرۍ ته ځان نوماند کړي، نو زموږ ژوند کې به په بشپړه توګه بدلون راشي. له دې وروسته دا په خپل کټ کې په بل اړخ شوه، خوب پرې راغی او ویده شوه.

هغه ورځ موږ په بوټ ښار کې له یو بل سره په ګډه د هغې ځای سیمه‌یز موزیم ولید. له اوبو ډک ټوپکونه مو راواخیستل، یو بل سره مو ټوکې وکړې، ښه ساعت مو تېر شو او په چمن کې مو فوټبال وکړ. باراک په ځینو ځایونو کې خبرې کولې. ډېرو کسانو ته یې لاس ورکاوه. خو بیا به کله ناکله زموږ خوا ته هم راغی، مالیا او ساشا به ورسره مستي کوله او موږ به خندل. باراک ښې وړتیاوې درلودې چې له خنډونو او ستونزو سره مقابله وکړي. ما د ده دا کار په زړه کې ډېر ستایه او پوهېدم چې که هر کله وخت ومومي نو خپلو ماشومانو ته به ښه پلار وي. هغه له مایا او کنراد سره خبرې کولې او کله به چې سره ګرزېدو نو لاس به یې زما پر اوږه رااچولی و. خو موږ هېڅکله سره یوازې شوي نه یو او خلوت مو نه دی کړی. تل به ساتوونکي، مطبوعاتي خبریالان، زموږ د کمپاین کارکوونکي او عکاسان رانه چاپېر وو چې له لرې به یې انځورونه اخیستل. مګر دا موضوع نوره راته عادي شوې وه. موږ خپل ژوند څو ځوانانو ته ورسپارلی و چې هوښیارن او ځواکمن وو. مګر دا موږ ته ډېره دردناکه وه چې نور د خپل ژوند په هېڅ اړخ کنترول نه لرو. د مثال په توګه، کله به چې ما غوښتل چې له سوپر مارکېټ څخه څه واخلم، نو له چا نه به مې غوښتل چې دا کار راته وکړي، یا که به مې غوښتل چې له باراک سره خبرې وکړم، هغه به نه و، ما به د هغه د انتخاباتي کمپاین له کوم غړي سره اړیکه نیوه چې هغه به بیا باراک ته زما پیغام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وررساوه. یا به مې په داسې برنامو او فعالیتونو کې ګډون کاوه چې نه مې خوښېدل.

هغه شپه مو په بوټ ښار کې یوه کورنۍ مرکه هم درلوده. موږ به معمولاً خبریالان له خپلو لوڼو لرې ساتل، مګر دا ځل مو ومنله چې هغوی هم له موږ سره په مرکه کې وي. د انتخاباتي کمپاین غړو هم باور درلود چې ډېره ښه ده چې خلک په تلویزیون کې باراک د یوه پلار په نقش کې هم وویني. هغه له خپلو ماشومانو سره مینه درلوده او همدارنګه نور ټول ماشومان یې هم خوښېدل. ښايي همدا لامل هم وو چې ولسمشر شوی وای.

په دې توګه موږ څلور واړه په یوه پارک کې په یوه کوچ کې کېناستو او شاوخوا پنځلس دقیقې مو په اکسس هالیوود برنامه کې له ماریا منونس سره مرکه وکړه. مالیا خپل وېښته د لکۍ په څېر تړلي وو. ساشا هم سرې جامې اغوستې وې. منونوس په ډېرې مهربانۍ او صمیمیت ځینې پوښتنې کولې او مالیا به هم له لږ فکر کولو وروسته ځواب ورکاوه. د مثال په توګه یو ځل یې ویل چې کله یې پلار کوم ملګري یا ملګرې ته لاس ورکوي نو خجالت باسي یا کله یې چې پلار د انتخاباتي کمپاین ځینې توکي د دروازې په مخ کې ږدي نو دا کار یې د کور د بې نظمۍ باعث کېږي. مګر ساشا همداسې بې حرکته ناسته وه. په مرکه کې یې یوازې یو ځل مخ راواړاوه او رانه ویې پوښتل: «مورې، نو کله ځو او آیسکریم خورو؟» یو ځل یې هم د مرکې په پای کې وویل: «د ابا وېښته یو وخت چنګچنګي وو اوس خو داسې نه دي. ټولو وخندل.»

دا مرکه څو تلویزیوني چینلونو کې هم خپره شوه چې خلکو یې ښه هرکلی وکړ. ساشا او مالیا د ماشومتوب په خاطر د خپل پلار په اړه ځینې خبرې کړې وې. مګر په ناڅاپي توګه د هغوی خبرې د نړۍ په ورځپاڼو او انټرنټي سایټونو کې په بېلابېلو ډولونو تعبیر او تفسیر شوې چې زه او باراک یې خواشیني کړو. ډېر پښېمانه شوو چې په داسې مرکه کې مو ګډون وکړ چې کومه سیاسي بڼه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه درلوده او بل دا چې په دې مرکه کې مو باید ماشومانو ته ګډون نه وای ورکړی.

موږ کې هېوادوالو سترګې خښې کړې وې او موږ هم د خپلو خلکو په اړه په ډېر څه وپوهېدو. په وړکتوب کې مې د خوښې وړ هنرمنده وينفري وه. د دې سندرې مې ډېرې خوښېدې. دا به په بېلابېلو وختونو کې زموږ انتخاباتي کمپاين ته راتله او خلکو ته به يې سندرې ويلې. خلکو به هم له موږ سره ډېره مينه کوله. زه به ډېره حيرانه وم. پوهېدم چې که امريکايانو لومړی ځل يو تور پوستی ولسمشر انتخاب کړی وای نو دا به د امريکايانو له خوا نړيوالو ته يو ښه پيغام و.

البته څومره چې باراک مشهورېده هومره يې مخالفان هم زياتېدل چې د ده په تېر ژوند کې به يې پلټنې کولې او غوښتل يې چې د ده په تېر ژوند کې يوه داسې موضوع پيدا کړي چې د ده په شخصيت يو تور داغ کېږدي. له نېکه مرغه باراک په داسې چټلو چلونو باندې پوهېده او دا موضوع د دې باعث نه کېده چې خواشينی شي او يا هم شاتګ وکړي. خو ما که له ټولنيز ژونده څومره درسونه هم زده کړي وو او پر ځان مې زيات باور هم درلود مګر بيا هم ماشومتوب مې راته مهم و او دې ته مې اندېښنه وه چې نور د ما په اړه څه فکر کوي.

کله چې باراک د آيوا ايالت په نظرپوښتنو کې بريالی شو نو له دې وروسته زما ويناوې او پيغامونه هم ورو ورو حساس او پرشوره شول. ما به چې ليدل چې زرګونه کسان په ډېره مينه د باراک انتخاباتي کمپيين ته راځي نو ډېره به خوښېدم او خوشحالي به مې احساسوله.

يوه ورځ ميلواکی ته تللي وو. ماته د وينا وار راورسېد. دا مهال مې فکر وکړ چې نوره اړتيا نشته چې د پاڼو يا د يادښتنونو له مخې خبرې وکړم. زما خبرې ساده او صميمانه وې. يعنې زما د مېړه پر خلاف وې، ځکه هغه په فصاحت او بلاغت غږېده او خبرې يې سنجېدلې وې. پر دې اساس ما وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې که باراک په ټاکنو کې بریالی شي نو هیله یې دا ده چې امریکایي پوځیان له عراقه راووزي. همدارنګه په هوسا طبقه به مالیات د تېر په شان کړي او هڅه به وکړي چې د امریکا د ټولو خلکو لپاره روغتیایي بیمه تصویب کړي. په پای کې مې د خپلو تېرو ټولو ویناوو په شان خپله خبره په دې جمله پای ته ورسوله چې که هغه انتخاب کړئ نو هېواد ته به مو ټولې هیلې بیا راشي.

د دې ورځې په سبا په ویسکانسین ایالت کې وم. کیتي راته زنګ وکړ او راته کړل یې چې د انتخاباتي کمپاین کوم غړي راسره اړیکه نیولې او راته ویلي یې دي چې کومه ستونزه رامنځته شوې. ګواکې داسې ښکارېدل چې ما په میلواکي ښار کې داسې خبره کړې وه چې ستونزې یې راټوکولې وې. زه هم حیرانه وم او کیتي هم. ځکه څه چې ما په میلواکي کې ویلي وو هغو ویناوو ته ورته وو چې د تېرو میاشتو په اوږدو کې مې په بېلابېلو ځایونو کې ویلي وو. دا څنګه شونې وه چې هغه وخت ستونزې نه رامنځته کېدې او اوس رامنځته شوې؟

څېړنې او ارزونې مې وکړې چې بلاخره پوه شوم چې داسې ولې شوي. یوه کس زما څلوېښت دقیقه‌یي خبرې اېډېټ کړې وې او د هغې ځینې برخې یې پاکې کړې وې او ځینې ځانګړي کلمات یې سره نژدې کړي وو او یو لس ثانیه‌یی کلېپ یې جوړ کړی و. دا کلېپ ډېر ژر هر چېرې خپور شو. په دې کلېپ کې زما ټولې سمې او هیله ښوونکې خبرې سانسور شوې وې او یوازې هغه برخې یې پکې راغلې وې چې د ناهیلۍ وې. د وینا محتوا مې هم په بشپړه توګه بدله شوې وه. بلاخره په ورځپاڼو کې دا هر څه داسې راغلي وو چې میشل یوه واقعي هېوادپالې نه ده، تل یې له امریکا څخه بد راځي او همدا د دې واقعي شخصیت دی او کومې نورې خبرې چې کوي دا ټولې خبرې یې له ځانښودنې پرته بل څه نه دي. دا لومړنۍ ضربه وه چې ما خوړله او لامل یې هم زه وم. ما هڅه کړې وه چې ساده خبرې وکړم او عادي وغږېږم، مګر په ناڅاپي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه مې يوه جمله پر خوله راوړې وه چې اوس يې له داسې ستونزو سره لاس او ګرېوان کړې وم او همدا جمله هر چېرې راته يادېده. هغه جمله چې زه يې ځورولې وم دا وه: «زه په خپل ټول ژوند کې دا لومړی ځل دی چې په پر خپل هېواد افتخار کوم.» دا جمله داسې معنا شوې وه چې له دې مخکې مې له خپل هېواده کرکه درلوده او له امريکا متنفره وم.

هماغه شپه شيکاګو ته لاړم. بد احساس مې درلود. پوهېدم چې مليسا او کيتي هم دا منفي ګنګوسې اورېدلي خو زما روحيې ته په کتو سره يې څه نه ويل. مور، تېر کال کيلومترونه کيلومترونه سفرونه کړي وو، د هېواد بېلابېلو برخو ته تللي وو، د هېواد په ګوټ ګوټ کې مو په مختلفو غونډو کې ګډون کړی وو، ډېر وخت مو نه درلود نو په ولاړه ولاړه مو څه کم خواړه خوړلي وو، د زياتو شتمنو کورنو ته تللې وو چې پيسې راټولې کړو او په ډېرو ارزانبيه الوتکو کې مو سفرونه کړي وو او اوس نو ګواکې داسې ښکارېدل چې ما هر څه يوازې په يوه وينا خراب کړي وو. کيتي څومره زيار ګاللی و او له څومره عکاسانو سره لاس ګرېوان شوې وه چې د دې دوه برابره عمر يې درلود او دوی ته يې ويلي وو چې څنګه انځور واخلي او څومره هغه خبريالان يې دګلي وو چې ناوړه او بې ځايه پوښتنې يې کړې وې، يا مليسا څومره برنامې برابرې کړې وې او د څومره مراسمو همغږي يې ترسره کړې وه او که څه هم دا يې خوښېدل چې د خپلو خپلوانو او دوستانو محفلونو ته ورشي خو زمور په خاطر يې هر څه پرېښي وو او خپل شخصي ژوند يې ماته ځانګړی کړی و چې زه وکولای شم چې کومې دندې لرم دا دندې په ښه توګه ترسره کړم او اوس نو دا زه وم چې په يوه احمقانه جمله مې هر څه خراب کړي وو.

کله چې کور ته ورسېدم، نجونې مې ويدې کړې او مور مې ولېږله چې خپل کور ته يې لاړه شي او استراحت وکړي. له دې وروسته مې باراک ته زنګ وروکړ. د ويسکانسين ايالت لومړنۍ ټاکنې پيل شوې وې او سيالي ډېره شديده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلري تل په باراک باندې د هغه د روغتیایي بیمې د برنامې په خاطر نیوکه کوله.

احساس مې کړل کله چې باراک زما خبرې واورېدې نو اوږې یې پورته واچولې او راته کړل یې: «گوره کرانې، دا ټول له دې امله دي چې ته اوس زموږ په انتخاباتي کمپاین کې په یوه مهمه مهره بدله شوې یې او ډېره ځواکمنه یې نو ځکه ځینې هڅه کوي چې په تا کې منفي ټکي پیدا کړي او ستا پر وړاندې یې وکاروي او همدا بیا نشر کړي.»

زما چارې یې وستایلې، مننه یې رانه وکړه او راته کړل یې چې ښه روانه یې، زه درسره مینه لرم او غواړم پوه شې چې دا کار ډېر سخت کار دی. مگر بلاخره پای ته رسي، اندېښنه مه کوه.

په دې برخه کې هم باراک هم پر حقه و او هم نه. د ۲۰۰۸ کال د فبروري په ۱۹ نېټه باراک د ویسکانسین ایالت په لومړنیو انتخاباتو کې په زیات توپیر سره بریالی شو. یعنې ما د خپلې وینا په خاطر هغې ته هېڅ کوم زیان نه وو رسولی. هماغه ورځ سیندي مککین یو نېشداره پیغام راواستاوه. په خپل پیغام کې یې راته ویلي وو: «زه پر خپل هېوادا افتخار کوم. نه پوهېږم چې ته څه نظر لرې. مگر ښنگه مې چې وویل زه پر خپل هېواد ډېر ویاړم.» انټرنټ کې هم په دې اړه ډېرې ریشخندۍ وشوې. خو شاوخوا یوه اونۍ وروسته دا ټول شورماشور غلی شو. ما او باراک له خبریالانو سره خبرې وکړې او ټینگار مو وکړ دا چې گورو چې دا دومره خلک زموږ په انتخاباتي کمپاین کې فعالیت کوي، دا ټول هغه کسان دي چې په دې هېواد کې په دیموکراسۍ باور لري او دا ټول هغه کسان دي چې له ټولو هېوادوالو سره اړیکه نیسي او دوی هڅوي چې موږ ته رایه راکړي. موږ په دوی ټولو ډېر ویاړو. له هغې وروسته ما هڅه وکړه چې څه وایم باید ورته پام وکړم او هېڅکله داسې وینا ونه کړم چې ستونزې راوټوکوي. مگر بیا هم ترې نه خلاصېدم او راپسې ویل یې چې تندخویه او جنگره یم. د داسې کسانو د مخالفت محتوا د نژاد پرستۍ له مخې وه. دوی په ماپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډنډورې جوړولې او غوښتل يې چې په رای ورکوونکو کې وېره رامنځته کړي او د ويناوو لنډيز يې دا وو: «اجازه مه ورکوئ چې تور پوستان پر مورږ غلبه وکړي. هغوی زموږ او ستاسو په شان نه دي.»

په دې تېل ماتېل کې اې‌بي‌سي تلويزيوني چينل د جرميا وايټ کشيش له موعظو يو کلېپ جوړ کړ چې له تاوتريخوالي ډک و. دې کلېپ کې نوموړي کشيش په ډېرې غوسې د امريکا په سپين پوستانو وردانګلي وو او ويلي يې وو چې هغوی د هر ډول تږولنيزو بدمرغيو سرچينه دي. ما او باراک هم دا کلېپ وليد. کشيش ډېر غوسه ښکارېده. همدې کشيش زما او د باراک نکاح هم تړلې وه او زموږ اولادونو ته يې د تعميد غسل هم ورکړی و. زموږ دواړو نيکونو هم سپين پوستانو ته په بده سترګه کتل. ما خپله څو څو ځلې ليدلي وو چې نيکه مې له سپين پوستو کرکه کوله او د خپل پوستکي د رنګ په خاطر پر دې بريالی شوی نه و چې په خپل ژوند کې پرمختګ وکړي. همدارنګه ده به دا هم ويل چې لمسی يې بايد په هغو سيمو کې لوبې ونه کړي چې سپين پوستي پکې دي. ځکه هلته يې امينت خوندي نه دی. خو باراک له خپلې نيا توت سره همغږی و چې د نژاد په اړه يې داسې يو باور درلود چې له نژاده هاخوا وو. مګر بيا هم له دې سره سره دې خپل تور پوستي لمسي ته يو ځل ويلي وو چې کله ناکله چې په سړک کې له تور پوستانو سره مخ کېږي نو ترې وېرېږي. زموږ ټولو نيکونو په نژادي تبعيض کې وده کړې وه او همدې حالت کې روزل شوي وو. له همدې امله کله چې موږ د رايټ کشيش افراطي خبرې واورېدې نو ډېر ووېرېدو. موږ پوهېدو چې داسې کسان په دواړو نژادونو هم تور پوستو او هم سپين پوستو کې شته چې خبرې تحريفوي او نژادي برتري غواړي.

حتا شل کاله وړاندې ما په پرېنستون پوهنتون کې په دې اړه يوه رساله هم ليکلې وه. دې رساله کې مې د تور پوستانو د هويت او نژاد په اړه د دوی احساسات بيان کړي وو. هغه وخت هم رسنيو وويل چې دا د يوې تور پوستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا توندې او تېزې وېناوې دي او لیکواله یې یوه افراطي لیکواله ده چې بې ځایه خبرې یې لیکلې. حتا یوه کس په یوه انټرنټي مقاله کې لیکلي وو چې زما دا رساله اصلاً د لوستلو وړ نه ده، ځکه د یوه انسان په خوله نه ده لیکل شوې. زموږ دښمنانو هڅه کوله چې زموږ څېرې تخریب کړي او په ښکاره یې راپسې ویل چې موږ د دې هېواد نه یو او په دې هېواد پورې اړه نه لرو. د باراک یو انځور هم ایستل شوی و چې لونګۍ یې پر سر وه او سومالیایي جامې یې اغوستې وې. په یوه انټرنټي سایټ کې داسې ګونګوسې هم وې چې باراک مسلمان دی او ځان یې پټ کړی. بیا بله خبره وشوه چې ویل یې باراک په هاوایي کې نه دی پیدا شوی، بلکې په کنیا هېواد کې پیدا شوی نو ځکه امریکایي نه دی او د دې وړتیا نه لري چې ولسمشر شي.

په اوهایو، تګزاس، ورمونت او میسي‌سي‌پي ایالتونو کې چې کله ما د انتخاباتو په لومړني پړاو کې خبرې کولې نو تل مې خلک یووالي ته رابلل چې خوشبینه واوسي. ما د راتلوونکي په اړه خبرې کولې. خو په ما پسې به یې دروغ تړل او راپسې ویل به یې چې یوه خشنه نظامۍ یم یا به یې په انټرنټ کې ګنګوسې راپسې خپرولې چې سپین پوستانو ته سپینکي وایم. دا ټول دروغ وو. جون میاشت کې چې بلاخره په رسمي توګه باراک د دیموکرات ګوند له خوا ولسمشرۍ ته نوماند شو نو ما د کمرو په مخ کې په مینه‌سوتا ایالت کې په ټوکه باراک ته یو سوک ورکړ. بیا وروسته خبریالانو هغه سوک ته د یوې ترهګرې د سوک نوم ورکړ او بیا یې اعلان کړل چې موږ خطرناکه موجودات یو. حتا په یوه خبري شبکه کې وویل شول چې زه د اوباما مور یم او بیا یې ګنګوسه خپره کړه چې ما له باراک سره واده نه دی کړی.

شخصیت مې ډېر تخریبېده، کارتونونه مې ایستل کېدل، له ما یې یوه وېروونکې څېره جوړوله چې ډېره دنګه او بدماشه یم او د نارینه نارینه‌توب ترې اخیستلای شم. نوره له دې ګنګوسو ډېره زیاته ستړې شوې وم. تل به مې خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دليلونه ويل چې نژادپاله نه يم، امريکايي يم. احساسول مې هر څه چې کوم نو نشم کولای چې د هغې بې اعتبارۍ مخه ونيسم چې د دښمنانو له خوا راپسې رامنځته کېږي. زه يوازې يوه تور پوستې او ځواکمنه مېرمن وم. مگر ځينو نورو راته د يوې خشنې او تونډخويه مېرمنې په توگه کتل. دې خبرو ډېره غوسه کړې وم او ژوند يې راته تريخ کړی و. گواکې داسې هم ښکارېدل چې دښمنان څه راپسې ووايي، زه ورو ورو په هماغسې څه بدلېږم. احساسول مې چې په لومه کې ښکېل يم او د تېښتې لار نه لرم.

کله کله به دوکمنه شوم او د دې ټولو توهينونو او رټنو پړه به مې د باراک په انتخاباتي کمپاين باندې ورواچوله او ويل به مې چې د دې هر څه لامل د باراک انتخاباتي کمپاين دی. دې ته مې هم پام شوی و چې د نورو نوماندانو له مېرمنو څخه زما فعاليت زيات دی او همدا لامل هم دی چې دومره ډېر بريدونه راباندې کېږي. ما هوډ درلود چې د دې ټولو بريدونو پر وړاندې ودرېږم او چوپه پاتې نه شم يا له باراکه وغواړم چې له ما ملاتړ وکړي. خو د کمپاين مسئولينو به راته ويل او ټينگار به يې راته کاوه چې ښه دا ده چې چاته ځواب ورنه کړم، غلې پاتې شم او صبر وکړم. دوی په پرلپسې توگه راباندې ټينگار کاوه چې سياست همدا دی. يعنې سياست خپله ځانگړې دونيا درلوده چې هېڅ قانون پکې نه رعايتېده. روحيه مې ډېره کمزورې شوې وه. له همدې امله يوه شپه باراک شيکاگو ته راغلی و. کور ته هم راغلو. موږ په پخلنځي کې سره کېناستو. ما په دې اړه خپلې ټولې خبرې باراک ته وکړې او ورته کړل مې چې چې نور له تاسو سره کار نه کوم. که داسې وي چې ټولې تلويزيوني شبکې او انټرنټي سايټونه وايي چې زه ستا انتخاباتي کمپاين ته زيان رسوم نو غوره دا ده چې ځان گوښه کړم.

بيا مې ورزياته کړه چې زه، مليسا او کيټي نور د دې رسنيو له لاسه تر پوزې راغلي يو او د سفر لپاره هم کافي بوديجه نه لرو. دا مې هم ورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټولو رسنیو او تلویزیوني شبکو تر نظر لاندې کړې یم، تل راپسې دروغ تړي او ګونګوسې راپسې جوړوي. زه نه ورته تسلیمېدلای شم او نه هم له ځانه دفاع کولای شم، نوره ستړې شوې یم، ښه دا ده چې کور کې پاتې شم او د نجونو ساتنه او پالنه وکړم. یعنې د عادي مېرمنې نقش ولوبوم او یوازې سترو مراسمو ته درشم او درته موسکه شم. باراک زما ټولې خبرې په زغم واورېدې. پوهېدم چې دی هم ډېر ستړی دی او غواړي لږ ویده شي. له دې مې کرکه راغلې وه چې زموږ په سیاسي ژوند او کورني ژوند کې درز پیدا شوی و. دی هم له ستونزو، سیمینارونو او خبرو اترو سره لاس او ګرېوان و او ما نه غوښتل چې ده ته اضافي بوج شم. باراک لږ حیران شوی و. ماته یې وکتل او راته ویې ویل: «میشل، ته ښه پوهېږې چې موږ ته هغه مېرمن یې چې زیاته اغېزه لرې. البته که غواړې ځان ګوښه کړې زه دې درکوم. هر څه چې کوې هغه وکړه.» بیا یې راته وویل: «ته د انتخاباتي کمپاین هېڅ پوروړې نه یې مګر که غواړې دې لارې ته ادامه ورکړې نو زیاتو مالي سرچینو ته به هم اړتیا ولرې چې زه به حتماً یوه لاره ورته پیدا کړم او مالي سرچینو نه به مو بې غمه کړم.»

کله مې چې د ده خبرې واورېدې لږ څه آرامه شوم. مګر همداسې مې احساسول چې د هغه لومړي ټولګي د ماشومې په څېر یم چې د سباناري په لیکه کې یې پر مخ باندې کلک سوک خوړلی وي.

دوې ورځې وروسته په شیکاګو کې د ډېویډ اکسلرود دفتر ته لاړم. له والري سره کېناستم او زما د څو ویناوو ویدیوګانې مو وکتلې. دوی دواړو راته وویل چې تا ډېره هڅه کړې چې د باراک ملاتړ وکړې او زه یې تشویق کړم. خو اکسلرود زما د وینا ویډیو بیا چالانه کړه. مګر دا ځل به یې کله کله دروله هم چې زه خپلو حرکاتو او د خپلې څېرې بڼې ته وکتلای شم. په دې توګه ما وکتل او پوه شوم چې په خپلو ویناوو کې له حده زیاته جدي یم. همدا لامل و چې زموږ مخالفینو ته یې موکه ورکړې وه چې زما د ویناوو په ویډیویي کلېپونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسوهنې وکړي او ما د يوې عصبي مېرمنې په توګه امريکايانو ته ورښکاره کړي. همدارنګه پوه شوم چې که باراک زما په کچه جدي غږېدلی وای نو چا پرې نيوکه نه کوله. مګر زه د يوې انتخاباتي پروسې نومانده نه وم او له ما څخه دا تمه نه کېده چې داسې جدي خبرې وکړم او خپل تندی تريو ونيسم. هغه ورځ زما ويديويي کليپونه ما، اکسلرود او والري تحليل او تجزيه کړل. په پای کې زما اوښکې راغلې. اوس پوهېدلې وم چې په هماغو کوچنيو ځايونو کې په ډېره ښه توګه ما کولای شول چې له خلکو سره ښه اړيکه برقراره کړم. مګر په سترو غونډو کې اړتيا وه چې څېره مې خوشحاله او صميمانه ښه غوره کړي. ما بايد په خپلو بدني حرکاتو زيات کار کړی وای. بيا وروسته مې انديښنه شوه چې هسې نه اوس ډېر ناوخته شوی وي.

له والري سره مې له پنځلسو کلونو زياته ملګرتيا درلوده نو ترې ومې پوښتل چې ولې دې له هر چا نه ژر راته ونه ويل چې کله ويناوې کوې نو ډېره عصبي وې او ګډوډ حرکتونه کوې.

هغې وويل چې دې موضوع ته چا دومره پام نه درلود. بيا يې پسې زياته کړه چې د انتخاباتي کمپاين غړو باور درلود چې زه په ډېره ښه توګه ويناوې کوم. مګر دا چې ستونزه رامنځته شوې وه نو د اکسلرود دفتر ته وربلل شوې وم. هر څه چې وو نو وو. زه پوه شوم چې انتخاباتي ټيم مو يوازې د دې لپاره دی چې له خپل نوماند سره مرسته وکړي او د هغې په مېرمن يا کورنۍ باندې څه کار نه لري. زموږ د انتخاباتي کمپاين غړو ماته ډېر درناوی کاوه. ځکه ځان ته يې اجازه نه وه ورکړې چې په کار کې مې مداخله وکړي او يا ماته لارښوونه وکړي.

زه خبره وم چې د انتخاباتي کمپاين په وروستيو شپږو مياشتو کې به زما ويناوې او حرکتونه کنترول کړل شي نو دوی هم موافقه وکړه چې له ما سره مرسته وکړي. په دې توګه د انتخاباتي کمپاين په وروستيو اونيو کې، د باراک

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتي ټیم زما تر لاس لاندې ډله پراخه کړه او ما ته یې یوه برنامه جوړونکې او یوه شخصي مرستیاله راکړل. کریستېن جارویس د باراک د سنا د دفتر پخوانی کار کوونکې وه. دې ته دنده وسپارل شوه چې په بحراني شېبو که له ما سره مرسته وکړي چې خپل زغم وساتم. همدارنګه ستېفاني کوتېر د عمومي اړیکو یوه متخصصه وه چې له ملیسا او کیتي سره یې کار کاوه او په عین حال کې یې ما ته هم رازده کول چې څنګه د خپلې وینا په طرز کې ښهوالی راولم. ما به چې د خپلې وینا متن لیکه نو دې برخه کې به یې هم راسره مرسته کوله. اوس مې نو کولای شول چې هر چېرې مرکه وکړم او له هرې وینا وړاندې ځان ته پام وکړم او یا له ځانه سره ساشا او مالیا هم بوزم. دې ټولو ماته د دې موکه راکوله چې خپل جدیت پرېږدم، تریو تندی خلاص کړم او موسکه شم.

له دې وروسته به چې ما وینا کوله نو ستېفاني به راته برنامه جوړوله او وړاندیز به یې راته کاوه چې د هغه څه په اړه خبرې وکړم چې ورسره مینه لرم. د مثال په توګه، له خپل مېړه او اولادونو سره مې علاقه یا هغه اړیکې چې له دنده لرونکو میندو سره مې برقراره کړې وې. همدارنګه راته کړل یې چې د خپلو خبرو په ځینو برخو کې ټوکې ټکالې هم وکړم.

کله چې لومړنې انتخابات پای ته ورسېدل، نو زه د یوې برنامې ویانده شوم. دا برنامه «لیدلوری» نومېده. زه به خلکو ته مخامخ کېناستم او له هغوی سره به مې د هغو ګونګوسو او رټنو په اړه د زړه خواله کول چې زما په اړه کېدل. په دې توګه نوې آرمتیا ته ورسېدم. دې برنامې ډېر مثبت انعکاس درلود. حتا په یاد مې دي چې یوه جوړه جامې مې په ۱۴۸ زره ډالرو اخیستې وې چې تورې او سپینې وې او زما همدا کارونه د دې باعث شول چې زیاتې مېرمنې لاړې شي او هماغه جامې واخلي.

دا چې پر خلکو مې اغېزه زیاته شوې وه نو ډېره راضي او خوشحاله وم. اوس مې نو ګردیو مېزونو کې هم ګډون کاوه او د کورني کار او بیروني کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ د تعادل د رامنځته کولو په اړه مې خبرې کولې. دا هغه موضوع وه چې زما هم ډېره ورسره جوړه وه. ډېر ښه درسونه به مو هغه وخت اخیستل چې نظامي مرکزونو ته به تلو او د نظامیانو له مېرمنو سره به مو خبرې کولې. ما به له هغوی غوښتنه کوله چې د خپل ژوند په اړه راته یو څه ووایي. زه به دوی ته غوږ غوږ وم. مېرمنو به داسې حالت کې راته خبرې کولې چې خپل ماشومان به یې هم په غېږ کې نیولي وو. دوی به ویل چې تېرو څو کلونو کې اړ شوي چې له یوې نظامي اډې بلې ته کډه وکړي چې د دې کار پایله یې داسې شوې چې ماشومان یې د موسیقۍ له یوه ښوونځي بل ته لاړ شي او یا له یوه روزنیز مرکزه بل ته بوتلل شي. دوی به له ما سره د زړه خواله کول چې په څومره سختۍ باندې د خپلو ماشومانو پالنه کوي او دا کار ورته څومره له کړاوه ډک دی. ډېریو میندو او پلرونو بیا دا ستونزه درلوده چې نه یې شول کولای چې خپل ماشومان یوه ښه وړکتون ته بوزي. دا ستونزې به بیا هغو سرتېرو ته زیاتېدې چې ځینو ځاینو لکه کابل یا موصل ته به تلل یا به یې هم په یوه سمندري بېړۍ کې ژوند کاوه. کله به مې چې د دې کسانو ژوند له ځان سره پرتله کړ نو د دوی فداکاري به راته زیاته معلومه شوه. له ځانه سره مې لوړه وکړه چې که باراک چانس پیدا کړي او ولسمشر شي نو د پوځي سرتېرو له کورنیو څخه به زیات ملاتړ وکړم.

دې ټولو پېښو راته لا زیاته انرژي راکړه چې د باراک په انتخاباتي کمپاین کې خپلې ټولې هڅې وکاروم. البته په دې لاره کې ټولو راسره مرسته وکړه. په بېلابېلو مراسمو کې مې هڅه وکړه چې په مستقیمه توگه له خلکو سره خبرې وکړم. کله به چې رای ورکوونکو له نژدې لیدلم نو پوهېدل به چې زما په اړه څومره گونگوسې دي، هغه ټولې دروغ دي. ما دا هم زده کړل چې که له خلکو سره له نژدې نه خبرې وکړم او زموږ ترمنځ واټن کم وي، نو بیا به د هغوی کینه زړه ته نه اچوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۸ کال په دوبي کې مې خپل فعالیتونه لا پسې پراخ کړل او هوډ مې درلود چې د باراک لپاره زیات بدلون او تحول رامنځته کړم. یوه مېرمن سارا هوریتس نومېده چې د ویناوالی کارپوهه وه. د لومړي ځل لپاره دې مېرمنې له ما سره مرسته وکړه چې وکولای شم په خپله ۱۷ دقیقه‌یي وینا کې خپل افکار په ښه توګه وړاندې کړم. بلاخره د کلوراډو ایالت په دېنوېر ښار کې د پېپسي شرکت په یوه سالون کې دریځ ته لاړم او د شلو زرو حاضرو کسانو او د تلویزیون د میلیونونو لیدونکو پر وړاندې مې وینا وکړه او د ځان په اړه مې د خلکو درک بدل کړ.

هغه ورځ ورور مې خلکو ته وروپېژندم. مور مې د حاضرینو په لومړی لیکه کې ناسته وه او حیران حیران یې راته کتل. ما د خپل پلار په اړه خبرې وکړې، د هغه د صبر او زغم په اړه مې خبرې وکړې او همدارنګه ومې ویل چې زه او کریګ یې ښنګه روزلي یو. همدارنګه ما هڅه وکړه چې د باراک صمیمانه انځور د امریکا خلکو ته وړاندې کړم او ورته ووایم چې ځومر پاک او شریف انسان دی. کله چې وینا مې پای ته ورسېده، نو خلکو ډېره تشویق کړم. هغه شېبه کې مې هوسایي احساس کړه. دا ماته یوه ستره او له پرتمه ډکه شېبه وه. زما دا وینا ثبت شوې او تر اوسه پورې هم په یوټیوب کې شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۸

څلور میاشتې وروسته، د ۲۰۰۸ کال په نومبر میاشت کې رای ورکولو ته ورغلم او باراک ته مې رایه ورکړه. یعنې دواړه له ساشا او مالیا سره په ګډه سهار وختي له کوره راووتلو. د رای ورکولو مرکز ته لاړو. د رایو ورکولو مرکز زموږ له کوره څو سړکه هاخوا د بیولا شوسمیت ښوونځي په ورزشي سالون کې و. نجونو د ښوونځي جامې اغوستې وې. ښوونځی د رای ورکولو لپاره ښه ځای و. له خبریالانو او د هغوی د کمرو له مخې تېر شوو او ورزشي سالون ته وردننه شوو. خلکو چې ولیدو نو د دې انتخاباتو د تاریخي ماهیت په اړه یې خبرې پیل کړې. زه خوشحاله وم چې له ځانه سره مې د ماشومانو لپاره تیار خواړه هم راوړي وو. له شک پرته چې اوږده ورځ مو په مخ کې وه او له دې پرته په بل څه پوهېدم هم نه.

باراک د ټولو سترسي ورځو په څېر ډېر خونسرده او آرامه و. د رای ورکولو لپاره بکسونه اېښې وو. باراک د رای ورکولو د چارو له مسئولینو سره ستړي مشې وکړې، هغوی ته یې لاس ورکړ او د هغوی د احوال پوښتنه یې وکړه. عاقلانه کار ښکارېده. ګواکې داسې ښکارېدل چې خپل ټول حس او خپله ټوله عاطفه له خپلو لاسونو څخه بهر ته لېږدوي. په داسې حال کې چې نجونې راته حیرانې وې، وړاندې لاړو او د رای ورکولو په لیکه کې ودرېدو.

ما څو څو ځله د هېواد په مقدماتي، ایالتي او داسې نورو انتخاباتو کې باراک ته رایه ورکړې وه. دا مې خپله یوه دنده ګڼله چې ماته یې عادي بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده. زه چې ماشومه وم او مور او پلار به مې رای ورکولو ته تلل نو زه به يې هم ورسره بېولم او اوس دا دی زه وم چې ساشا او ماليا مې هم له ځانه سره راوستلې وې چې هغوی هم د دې کار په اهميت خبرې شي.

په حقيقت کې زما د مېړه کارونه د دې باعث شوي وو چې پوه شم چې سياسي نظام او ځواک څومره سره نژدې دي. په ځلونو ځلونو مې ليدلي وو چې يو څو رايو يو نوماند د بل نوماند په ځای کېنولی او حتا يو ارزښتي نظام يې د بل ارزښتي نظام ځايناستی کړی. همدا چې زموږ په سيمه کې به ځينې کم کسان هم په خپل کور کې پاتې کېدل او رای ورکولو ته به نه راوتلل، نو همدې کمو کسانو کولای شول چې دا وټاکي چې زموږ ماشومان په ښوونځي کې څه زده کړي، يا د روغتيايي بيمې په اړه څه تصميم ونيول شي او يا دې سرتېري جګړې ته واستول شي او که نه. يعنې که رای ورکول هر څومره يو ساده او عادي کار ښکارېده مګر ډېر مهم او پرخليک ټاکونکی کار هم و.

هغه ورځ د رايې ورکولو لپاره يوه پاڼه راکړل شوه. پاڼې ته مې په ځيره وکتل، د امريکا د ولسمشر په توګه زما د مېړه انځور پکې وو، د انځور مخامخ ته يو مربع چوکاټ و. چوکاټ ته څو شېبې ځيره شوم او له ۲۱ مياشتو سخت انتخاباتي کمپاين وروسته وروستی کار همدا و چې ترسره يې کړم او هغه چوکاټ په نښه کړم.

دې حالت کې د باراک راته پام شو، ويې خندل او راته کړل يې: «تر اوسه دې خپل تصميم نه دی نيولی چې چاته رايه ورکړې؟ زيات وخت ته اړتيا لرې؟»

که د انتخاباتو ورځ کې موږ ته د باراک بريا يا نه بريا مطرح نه وای، نو بيا دا ورځ موږ ته د رخصتۍ ورځ وه. خو اوس مو دې ورځ کې ډېر اضطراب او ډېرې انديښنې درلودې. نه پوهېدم چې کومه راتلونکې به زموږ مخ کې وي. پرلپسې مياشتې مو زياتې هڅې کړې وې، ډېر سخت فعاليتونه مو کړي وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دا دی پایلې ته یې په تمه وو. شېبه شېبه راباندې ډېره سخته تېرېده. ځنې دوستان او خپلوان مو هم راغلي وو چې هغو شېبو کې له موږ سره واوسي. باراک هغه ورځ له کرېګ او خپلو ځو نورو ملګرو سره زموږ کور ته نژدې یوه لوبغالي ته لاړ چې د باسکټبال لوبه وکړي. همدا باسکټبال و چې د باراک اعصابو ته یې تسکین ورکاوه او له دې پرته بل څه پرې دومره اغېز نه کاوه. کله چې دی له کرېګ سره له کوره وتلو نو ما کرېګ ته وویل: «پام کوه چې ځان ژوبل نه کړي، ځکه ته هم پوهېږې چې باید تلویزیون کې ځرګند شي.»

کرېګ راته وویل: «سمه ده زه به د هرې هغې پېښې مسئول وم چې باراک ته پېښه شي.»

دواړو وخندل او سره لاړل. څرګنده وه چې باراک غوښتل زیاتې رایې وګټي او انتخاباتو کې بریالی شي. خو زه پوهېدم چې هغه د شپې لپاره دوې ویناوې برابرې کړې دي چې یوه یې د بریا لپاره وه او بله یې د ماتې. د تېرو کلونو د رای ورکولو چارې مې مطالعه کړې وې او پوهېدم چې په سیاست کې هېڅکله نه شي کېدای چې یو څوک دې په پرېکنده توګه خبرې وکړي. د مثال په توګه، بردلي یو تور پوستی امریکایي نوماند و چې د ۸۰ لسیزې په اوایلو کې د کالیفورنیا والي شوی و او وړاندوینو هم ښودله چې له نورو ډېر وړاندې دی مګر د انتخاباتو په ورځ بریالی نه شو چې ټول یې هېښ کړل. کله کله داسې هم پېښېږي چې رای ورکوونکی دې خپل واقعي نظر د نظرپوښتنو له کارپوهانو پټ کړي او خپله واقعي موخه هغه ورځ څرګنده کړي په کومه کې چې رایه ورکوي.

ما به چې انتخاباتي کمپاین کاوه نو له ځانه به مې بیا بیا پوښتل چې آیا کېدی شي چې امریکا په ریښتیا هم یوه تور پوستي ولسمشر ته چمتوالی ولري او که نه. آیا امریکایان داسې ځای ته رسېدلي چې تعصب پرېږدي او له نژادپاله فکره تېر شي. دا هغه پوښتنې وې چې په ځواب یې یوه یا دوې ورځې وروسته پوهېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا اقتصاد هم دومره ښه نه و او هر څه ګډوډ ښکارېدل. همدارنګه د هېواد د پانګونو یو ډېر ستر بانک لیمان برادرز هم په همدې نږدې وختونو کې زیات تاوان کړی و او د له منځه تلو په حال کې و. اوس نو ټوله نړۍ پر دې خبره شوه وه چې وال سترېټیانو د کلونو کلونو په اوږدو کې د مېشتنځایونو زیات پورونه پټ کړي وو. بهالرونکې پانې په ډېر چټکۍ راټیټې شوې وې او د تقاعد خزانه هم په بد حالت کې واقع وه. پر دې اساس په داسې اقتصادي بحران کې د باراک انتخاب ډېر مناسب و. مور چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې انتخاباتي کمپاینونه کول نو رای ورکوونکو ته به مې ویل چې مېړه مې ډېر زغم او لرې لید لري او داسې نه ده چې د ټولنې پېچلې اقتصادي او اجتماعي وضعیت دې له ده لاره ورکه کړي. دی ډېر توانمن او ځواکمن ذهن لري چې کولای شي پېچلي مسایل هوار کړي. له بل پلوه مې په زړه کې هیله کوله چې په انتخاباتو کې بریالی نه شي چې مور بېرته خپل معمولي ژوند ته وروګرزو. البته په دې مې باور درلود چې زمور هېواد ورته په هغه شېبه کې اړتیا لري. نو که ولسمشر شوی وای دا ټولې اقتصادي ګډوډۍ به ورته مخ کې پرتې وې.

څومره چې ماښام ته نږدې کېدو هومره زما لاسونه او پښې بې حسه کېدل. خواړه مې نشوای خوړلای. که څه هم مور مې یا خپلوان او دوستانو مو له مور کره راټول شوي وو مګر ما له هېڅا سره خبرې نه شوای کولای. له همدې امله بر پوړ ته لاړم چې یوازې واوسم خو هلته مې ولیدل چې باراک هم شته او غواړي استراحت وکړي. دی د خپل مېز شاته ناست و او د خپلې وینا متن ته یې کتل. ورنږدې شوم، اوږې مې ورته وموږلې او ورته کړل مې چې ښه یې.

هغه وویل: «هو».

مګر زه پوهېدم چې رښتیا نه وایي. یوه ورځ وړاندې مور ته خبر راکړی شوی و چې توت نیا یې په هاوایي کې مړه شوې. د ده نیا په شپږ اتیا کلنۍ کې مړه شوه. سرطان وه او څو پرلپسې میاشتې یې له سرطان سره خپل زور ازمویلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. د باراک مور چې مړه کېده نو باراک دا موکه نه وه موندلې چې ورشي او خدای پاماني ورسره وکړي. د نيا ليدل يې ورته ډېر مهم و چې له مړينې وړاندې يې ووينی. له همدې امله لس ورځې وړاندې يوازې ورغلی و. څو ورځې يې انتخاباتي کمپاين له همدې امله پرېښی و چې هغې ته ورشي. په وروستيو شېبو کې يې هغه تر لاس نيولې وه. باراک خپله مور هغه وخت له لاسه ورکړې وه چې نوی نوی سياسي صحنې ته ورددننه شوی و او اوس چې د سياسي فعاليت په اوج کې و نو نيا يې هم له لاسه ورکړه. همدې دواړو ستر کړی و، د ده په ژوند يې زيات اغېز کړی و نو ځکه ورته ډېرې مهمې وې خو اوس چې د ده د بريا شېبه وه دوی ورسره نه وې.

ما ورته وويل کومه خبره نشته. د کار پايله چې هر څه وي زه پر تا افتخار کوم. ډېر ښه فعاليت دې وکړ. ډېرې هڅې دې وکړې. باراک له څوکۍ پاڅېد او زه يې غېږه کې ونيولم. ويې ويل: «تا هم ډېرې هڅې وکړې او سخته مبارزه دې وکړه. مور دواړو چې څه کولای شول هغه مو وکړل.»

بيا مو د ماښام ډوډۍ وخوړله، له دې وروسته مو جامې بدلې کړې او له خپلو ځينو دوستانو او خپلوانو سره په ګډه هغه سالون ته لاړو چې انتخاباتي ټيم مو په يوه هوټل کې راته نيولی و. هلته سره کېناستو او د انتخاباتو پايلو ته په تمه وو. جو بايډن او جېل بايډن هم هماغلته نژدې کوم هوټل د خپلو ملګرو او دوستانو لپاره کرايه کړی و.

د انتخاباتو لومړنۍ پايلې له غرمې وروسته په شپږو بجو خلکو ته اعلان کړل شوې. مک کين په کنتاکي ايالت کې د انتخاباتو ګټونکی شوی و او باراک په ورمونت کې. بيا وروسته باراک په غربي وېرجينيا کې هم بريالی شو او له هغې وروسته بيا په جنوبي کارولينا کې. دې پايلو زما تمه لږ څه راټيټه کړه. اکسلرود او پلوف په سالون کې شاوخوا ګرځېدل او هر نوی خبر به چې ورته رسېده له ځنډ پرته به يې اعلاناوه. دوی راته وويل چې هېڅ شی هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندويني وړ نه دي. نور مې هېڅ ډول سياسي زغم نه درلود. موږ خپل الوت کړی و او اوس دا دی نو په تمه وو چې وګورو چېرته ناسته کوو. تلويزيون کې مې وليدل چې د ګرانت پارک په مخ کې له سين څخه لږ لرې زرګونه کسان سره راټول شوي وو. يعني دا هماغه ځای و چې انتخابات يې تر خبري پوښښ لاندې راوستلي وو او پايلې يې شېبه په شېبه په سترو الکترونيکي پاڼو کې اعلانولې. همدلته باراک هم بايد وروسته وينا کړې وای. پوليس هر چېرې ولاړ وو. د ساحلي ګارد بېړيو په سين کې ګزمه کوله، په اسمان کې چورلکې هم ګرزېدې. داسې ښکارېدل چې د شيکاګو ښار ټولو وګړو خپله ساه په سينه کې بنده کړې او نوو خبرونو ته په تمه دي.

باراک په کونکتيکت ايالت کې ګټونکی شو، بيا وروسته په پرلپسې توګه په نيو همپشاير، ماسوچوست، ماين، دلاوير او بلاخره واشنګټن ډي‌سي کې هم ګټونکی شو. کله چې اعلان شول چې باراک په ايلينوی ايالت کې ګټونکی شوی، نو ما په سړکونو کې د موټور هارنګونه او د خلکو د شورماشور غږونه واورېدل. هوټل کې مې يوه چوکۍ پيدا کړه، پرې کېناستم او سړک ته مې کتل. زموږ خونه کې چوپتيا وه. د انتخاباتي ټيم ټول مسئولين نويو خبرونو ته په تمه وو. نجونې مې ښۍ خواته ناستې وې چې يوې سرې جامې اغوستې وې او بلې مُشکي. زما چپې خوا ته باراک زما د مور ترځنګ ناست وو. مور مې په هغو تورو جامو او د سپينو زرو په غوږواليو کې ښکلې شوې وه.

باراک هغې ته مخ ورواړاوه او ورته ويې ويل: «مورې چمتو يې چې د انتخاباتو پايلې واورې؟»

مور مې د بڼو لاندې وروکتل او دواړو وخندل. مور مې بيا وروسته راته وويل چې هغه شېبه کې يې ډېر سترس درلود او د باراک کلکې روحيې ته ډېره هيښه وه. امريکا باراک ته د يوه ځواکمن شخص په توګه کتل چې پر ځان ډېر باور لري. خو مور مې هغه مسئوليت هم احساسولو چې باراک بايد په يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه اوږه ورکړې وای. هغه سړی چې نور يې نه پلار درلود او نه يې مور درلوده او اوس پاتې نه وه چې د امريکا لومړنی کس شي. شپبه وروسته مې وليدل چې باراک او مور مې د يو بل لاسونه ونيول.

په دقيقه توګه د شپې لس بجې وې چې تلويزيونونو کې زما د مېړه انځور راغی او خرګنده شوه چې باراک حسين اوباما، د امريکا څلور څلوېښتم ولسمشر شوی دی. ټول له خپلو ځايونو پورته شوو او د خوښۍ چيغې مو پيل کړې. زموږ د انتخاباتي ټيم مسئولينو د بايډن له کورنۍ سره يو ځای خونې ته راغلل او يو بل ته مو غېږې ورکړې. پرتمينه شپبه وه. داسې ښکارېدل چې وزرونه مې کړي او الوزم. باراک بريالی شوی و. موږ بريالي شوي وو. هر څه ناشوني وو، مګر بريالي شوي وو. احساسول مې چې زموږ کورنۍ د يوه جنګي توپ په واسطه بيرون ته توغول شوې او په اوبو کې غورځېدلې. بيربار ډېر و. امنيتي چارواکي راغلل او موږ يې د لفت خواته وروستلو، د ودانۍ له شاتنۍ دروازې ووتلو او په يوه زرهي موټر کې سپاره شوو. نه پوهېږم چا چې د موټر دروازه راته خلاصه کړه مننه مې ترې وکړه او که نه. نه پوهېږم چې موسکه وم که نه. زما په اند ډېره ستړې او ګنګسه وم نو همدا لامل و چې شاوخوا مې سم نه ليدل. نجونې هم ستړې وې، دوی ته مې مخکې ويلي وو چې که پلار مو کټونکی شي يا بايلونکي، هر څه چې وي، زه به تاسې د جشن پارک ته بيايم. اوس په موټر کې ناست وو او ګرانټ پارک ته تلو. دا هماغه لاره وه چې زه په بس کې ډېره پرې تللې او راغلې وم. ښوونځي ته هم په دې لاره تلم او لوبغالي ته هم. خو هغه شپه يې توپير کاوه. هر څه غلي وو. ګڼې په روياوو کې ډوبه وم. ماليا د موټر له ښيښې بهر ته کتل او په غمجن لحن يې وويل: «پلاه ولې په سړک کې هېڅوک نشته. فکر نه کوم چې څوک دې زموږ جشن ته راشي.»

ما او باراک يو بل ته وکتل او ومو خندل. مګر لور مو ريښتيا ويل. داسې ښکارېدل چې موټر مو په سړک کې يوازې دی. اوس باراک د خلکو منتخب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر و او امنيتي چارواکو د احتياط په خاطر زموږ لپاره لارې بندې کړې وې او دې موږ ته نوې‌والی درلود.

لاس مې د ماليا پر اوږه کېښود او ورته ومې ويل: «گوره گرانې، خلک هلته شته، انديښنه مه کوه».

په پارک کې له ۲۰۰ زرو زيات کسان راټول شوي وو. کله چې له موټره راښکته شوو نو په سپينو څادرونو کې ورننوتو چې د تونل په شان برابر شوي وو او موږ يې دريځ ته رسولو. د خلکو د خوشحالۍ نارې مې اورېدې. زموږ ځينې خپلوان او دوستان هم هلته راغلي وو. خو د امنيتي مسايلو په خاطر د يوې رسۍ شاته ولاړ وو. باراک مې پر اوږه لاس کېښود. گواکې غوښتل يې چې پوه شي چې اوس هم هلته يم.

څو دقيقې وروسته څلور واړه دريځ ته لاړو. ما ماليا تر لاس نيولې وه او باراک ساشا. د دريځ شاوخوا ته يو ښيښه‌يي تَجير نصب شوی و چې د مرميو ضد وو. خلکو د امريکا بيرغونه ښورول. مغزو مې د دې وړتيا نه درلوده چې شاوخوا مې هر څه درک کړم. هر څه ډېر پرتمين وو.

د باراک د هغې شپې وينا مې هېڅ په ياد نه ده. باراک وينا کوله، زموږ شاوخوا ته ښيښه‌يي دېوالونه وو، باراک له ٦٩ ميليونو زياتې رايې گټلې وې او ما او ساشا او ماليا ده ته کتل. ډېره آرمتيا مې احساسوله. له مياشتو مياشتو سختو فعاليتونو وروسته اوس د خلکو په منځ ولاړ وو. خلکو د گراند پارک په غلې فضا کې د خوښۍ او خوشحالۍ نارې وهلې. د خلکو سترگو ته اوښکې راغلې وې. هغوی خوشحاله وو او د راتلونکي په اړه يې فکرونه کول. ښايي کومه آرمتيا مې چې احساسوله لامل يې دا وو چې شپه ناوخته وه. شپه له نيمايي تېره وه او ټول په تمه وو. گواکې داسې ښکارېدل چې کلونه کلونه کېدل چې داسې شېبې ته په تمه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۹

کومه مېرمن چې نوې د امریکا لومړۍ مېرمن شوې وي، نو هېڅ داسې کوم کتاب ورته نشته چې لارښوونه یې وکړي. په واقعیت کې د امریکا لومړۍ مېرمن نه کوم رسمي مقام دی او نه هم دولتي. لومړۍ مېرمن ټاکلې دندې هم نه لري او کومه ځانګړې تنخا یې هم نشته. د یوې اضافه خونې په څېر ده چې د ولسمشر له موټر سره وصل وي.

ما د تېرو لومړیو مېرمنو په اړه ډېر کم معلومات درلودل. د مثال په توګه پوهېدم چې جکي کېندي، سپینه ماڼۍ په خپله خوښه له سره سینګار کړې وه، یا رزالین کارټر عادت درلود چې دولتي غونډو کې ګډون وکړي، نانسي رېګان ډېرې بانې تراشلې او په ډېرې سختۍ یې د طراحانو جامې منلې، او هیلري کلینټن هم د خپل مېړه په دولت کې یوه سیاسي دنده پر غاړه درلوده او له دې امله ملنډې هم پرې وهل شوې وې. همدارنګه څو کاله وړاندې د سناتورانو مېرمنو ته یوه غرمنۍ مېلمسیتا نیول شوې وه، دې مېلمستیا کې مې په حیرانۍ سره لورا بوش ولیده چې له ټولو سره یې یادګاري انځورونه واخیستل، ډېره آرامه وه او تل به یې موسکا پر خوله وه. لومړۍ مېرمنې په خبرونو کې لیدل کېدې، د بهرنیو چارواکو له مېرمنو سره به یې چیونه څښل، د رخصتیو په خاطر به یې خلکو ته د مبارکۍ پیغامونه وراستول او په ماښامنیو دولتي مېلمستیاوو کې به یې ښکلې جامې اغوستې. همدارنګه پوهېدم چې معمولاً هغوی له یوې سیاسي یا اجتماعي موضوع څخه ملاتړ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه لومړنۍ تور پوستې وم چې سپينې مانۍ ته مې د لومړۍ مېرمنې په توګه لاره موندلې وه، نو ځکه ښه پوهېدم چې زما په اړه به د خلکو نظر بل شان وي. زه داسې وم لکه له دوی څخه چې نه وم او کوم درناوی چې يوې سپين پوستې لومړۍ مېرمنې ته کېده، ماته هومره درناوی نه کېده. په انتخاباتي مبارزو کې مې ډېرې تېروتنې کړې وې او ډېر تجربې مې هم زده کړې وې، ځکه هوښياره شوې وم چې له نورو ځواکمنه او چټکه واوسم. له دې هم وېرېدم چې هسې نه زياتره امريکايان راسره همغږي نه وي او له ما سره اړيکه ټينګه نه کړي. ما دومره موکه هم نه درلوده چې له قضاوته وړاندې په خپل نوي نقش کې له دوی سره همغاړې شم او له دوی سره ځان همغږې کړم.

کله به چې د خلکو د قضاوت موضوع رامنځته کېده نو زه به ډېره زيانمنېدم. ځکه له نژادي تعصبونو مې ډېره وېره درلوده.

دا چې د امريکا لومړۍ مېرمن شوې وم ډېره هيجاني وم. خو حتا د يوې ثانيې لپاره مې هم دا تصور نه کاوه چې دا نقش به په هوسايۍ ولوبوم. داسې وه لکه د غره لمنه کې چې ولاړه وم او غواړم غره ته پورته شم. هغه پوښتنه مې بيا مخې ته ودرېده چې په ښوونځي او پوهنتون کې به راته پيدا کېده: «آيا په کافي کچه غوره يم؟» بيا مې مې ځانته ويل: «هو يم.»

کله چې انتخاباتو کې ګټوونکي شوو نو د نوي ولسمشر د معرفۍ د مراسمو لپاره ٧٦ ورځې پاتې وې. په دې موده کې ما کولای شول چې ځان د لومړۍ مېرمنې په توګه چمتو کړم. کومو دندو کې چې بوخته وم، بايد ترې ګوښه شوې وای او ځانته مې يو معناداره کار پيدا کړی وای. پوهېدم چې که په فعاله توګه يوه کار کې ځان ښکېل کړم او غوره پايلې ترې تر لاسه کړم، نو ډېره به خوشحاله شم. غوښتل مې چې کومې ژمنې مې د نظامي کسانو له مېرمنو سره کړې وې، هغه عملي کړم او دوی ته داسې موکه برابره کړم چې د خپل ژوند کيسې ووايي او زه وکولای شم چې د دوی د ملاتړ لپاره ځينې لارې پيدا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه ځینې طرحې مې هم درلودې. دا طرحې د ځینو ترکاریو د کرکېلې په اړه وې. بل دا چې غوښتل مې په پراخه کچه د ماشومانو د روغتیا او تغذیې په برخه کې هم څه مرستې وکړم.

زما هوډ دا نه و چې دا ټولې برنامې په سرسري توگه پرمخ بوزم، بلکې غوښتل مې چې په ښه او گټوره توگه یې ترسره کړم. ما پلان درلود چې یوه دقیقه او منسجمه برنامه ولرم او له یوې قوي ډلې سره یو ځای سپینې ماڼۍ ته لاړه شم. دې ته مې پام شوی و چې د خلکو عمومي قضاوتونه به وکولای شي ټول هغه کرکجن چلنونه تلافي کړي چې د ځینو افرادو له خوا په انتخاباتي کمپاینونو کې زما پر وړاندې شوي وو او زه یې ډېره غوسه کړې وم او پر ما ملنډې وهل شوې وې. پوهېدلې وم چې که خپله خپل شخصیت تعریف نه کړم، نو نور به له ما څخه ناسم تعبیر او تفسیر وړاندې کړي. نور مې نه غوښتل چې ځان گوښه کړم او د باراک سپارښتنو ته کېنم. د انتخاباتي کمپاینونو په جریان کې مې ډېرې ترخې تجربې کړې وې نو اوس پوهېدم چې خپلې تېروتنې باید بیا تکرار نه کړم.

په چټکتیا مې د نوي ژوند لپاره نوې برنامه جوړوله. له هر څه وړاندې مې باید د کډې په اړه فکر کړی وای او ساشا او مالیا لپاره مې باید په واشنگټن کې نوی ښوونځی پیدا کړی وای. ما د داسې ښوونځي پلټنه کوله چې نجونې پکې خوشحاله وي. له انتخاباتو او د پایلو له اعلانولو شپږ ورځې وروسته په الوتکه کې واشنگټن ته لاړم او د ښوونځیو له څو مدیرانو سره مې اړیکه ونیوه. په عادي شرایطو کې به مې چې د نجونو لپاره ښوونځی ټاکلو نو د ښوونځي ښوونیزو کدرونو او د ښوونځي ځای ته به مې پاملرنه کوله. خو اوس شرایط عادي نه و، نو ځکه هر څه ته مې پام کاوه چې په دې کې زموږ د ساتندویه ډلې سپارښتنې او د نجونو د تگ راتگ او ساتنې مسألې هم شاملې وې. لنډه دا چې که یو کوچنی تصمیم مې هم نیوه نو له ډېرو سره مې باید مشوره کړې وای. له نېکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغه ما وکولای شول چې په دې برخه کې د خپل انتخاباتي کمپاین کارکوونکې یعنې ملیسا، کیتي او کریستېن مرستې ته راوبلم. باید د کډې موضوع مو ډېر ژر هواره کړې وای. بیا مې باید له هغو کسانو سره مرکه کړې وای چې غوښتل یې په سیپنه ماڼۍ کې له موږ سره کار وکړي. لومړنۍ مېرمن مې چې پر کار وگماره، جوسلین فرای وه. دا زما پخوانۍ ملگرې وه او په حقوقو پوهنځي کې یې زده کړې کړې وې، ډېره هوښیاره وه او ښې برنامې یې جوړولې. هغې ومنله چې زما د برنامو د جوړونو په برخه کې د مدیرې په توگه له ما سره همکاري وکړي.

بل خوا کې باراک و چې د خپلې کابینې په اړه یې سوچونه کول. هغه هم په دې هڅه کې و چې د بېلابېلو کارپوهانو په مرسته وکولای شي د هېواد د اقتصاد د ژغورنې لپاره یوه چاره پیدا کړي. په هېواد کې مو له لسو میلیونو زیات بېکاران درلودل او د موټر جوړونې صنعت هم له گواښ او پرځېدنې سره لاس او گرېوان و. له هرې غونډې وروسته به مې چې د باراک څېرې ته کتل نو پوهېدم به چې د هېواد وضعیت له دې هم خرابه دی چې په رسنیو کې ښکاري. همدارنگه هره ورځ ده ته له ناڅرگندو سرچینو بېلابېل امنیتي گواښونه هم کېدل.

د هېواد ملي امنیت مو دنده درلوده چې کلونه کلونه پر موږ پام وکړي او موږ خوندي وساتي، نو ځکه یې موږ ته رمزي نومونه جوړ کړل. د باراک رمزي نوم «مرتد» و، زما رمزي نوم «رنسانس» و، د مالیا رمزي نوم «وړانگه» و، د ساشا رمزي نوم «د گلو گېډۍ» و او زما د مور رمزي نوم هم «د باران نڅا» و.

ساتندویه مامورانو تل ماته آغلې ویل. د مثال په توگه دوی به راته ویل، آغلې له دې خوا لاړه شه، آغلې شاته ودرېږه، آغلې ستاسې موټر به ډېر ژر دلته راوستل شي. آغلې کلمې ماته هغه بوډۍ رایادوله چې درنه ظاهري څېره یې درلوده، مگر په هر حال ما باید دا کلمه منلې وای. واشنگټن ته چې تلو او غوښتل مو چې د نجونو لپاره ښوونځی انتخاب کړو، نو د لارې په اوږدو کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نوی چلن په خپل ذهن کې ارزاوه. د یوه ښوونځي له مدیر څخه تر ملاقات وروسته ریګان هوايي ډګر ته لاړم چې له باراک سره يو ځای شوم. باراک هم په یوه خصوصي الوتکه کې له شیکاګو راته. په کومه ورځ چې واشنګټن ته تللې وم چې د نجونو لپاره ښوونځی انتخاب کړم، په همدې ورځ ولسمشر بوش او مېرمنې يې موږ ته بلنه راکړه چې سپينې ماڼۍ ته ورشو. دا تشریفاتي مراسم وو چې د منتخب ولسمشر لپاره ترسره کېدل. زه له خپل یوه ساتندوی مامور کرنلیوس سوتال سره د هوايي ډګر په يوه مخصوص ترمینل کې په تمه وم چې د باراک الوتکه راشي. کرنلیوس یو هڅور سړی و. مخکې يې فوټبال کاوه، بیا وروسته د بوش د ساتندويې ډلې غړی شوی و. هغه داسې روزل شوی و چې په هره شېبه کې يې پام وي او هوښیار واوسي. همدا چې ومې لیدل چې د باراک الوتکه راغله او کېناسته نو همدې شېبه کې له ځایه پاڅېدم. مګر کرنلیوس په ډېر حیرانتیا ماته کتل او راته کړل يې: «آغلې، لږ صبر وکړه». ده بیا ماته اشاره وکړه چې ښۍ خواته لاړه شم. هلته چې لاړم نو ومې لیدل چې د پولیسانو موټرونه او موټرسایکلونه دي، يو شمېر لوړ تور لنډکروزرونه دي، دوه د مرمۍ ضد لیموزینونه دي چې د امریکا بیرغونه پرې راځوړند شوي، یو زرهي بس ولاړ دی، یوه ګوماندويي ډله ولاړه ده چې ټوپکونه ورسره او لاس پر ماشه دي، د رادیويي څپو د پېژندنې يو ستر موټر ولاړ دی چې د راکټونو توغول کشفوي، د مسافرانو لپاره څو نور موټر دي او د پولیسو یو سکورټيي ډله ده. دا ټول په همغږۍ سره موږ ته رانژدې شول. بیا لیموزینونه د باراک د الوتکې زینو ته ورنژدې شول.

د کرنلیوس خواته بېرته راوګرزېدم او ترې ومې پوښتل داسې ښکاري چې هغه پخواني موټرونه مو ورک کړي. یعنې موږ له دې زرهي پوځ سره سفر کوو؟

کرنلیوس موسک شو او ويې ویل: «سر له اوسه به د ولسمشرۍ تر پایه هر څه همداسې وي.» البته تر اوسه پورې د باراک ساتندویه سیستم نه لیدل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله به يې ښولو ته چورلکې راتلې. چورلکو کې به سرتېري گوته په ماشه ناست وو. همدارنگه د ده په موټر کې يو ځانگړی ډاکټر هم و چې د اړتيا په صورت کې يې وينه هم ورکولای شوه. همدارنگه له رسمي معرفی وړاندې د باراک لېموزين بدل شو او يو نوی ليموزين ورکړل شو چې موډل يې نوی او ډېر مجهزه و. دې موټر د اوښکې بهوونکې گاز د توغولو سيستم درلود، ټيرونه يې نه پنچرېدل، همدرانگه د هوا سيستم يې هم پرمختللی و چې د کيمياوي يا بيولوجيکي بريدنو پر وړاندې يې د ده ساتنه کوله. زه اوس د داسې چا مېرمن وم چې له هر چا يې زياته ساتنه کېدله. که څه هم دې کار آرمتيا رابښله خو کله ناکله به يې وېرولم او مضطربه کېدلم به هم. له څو شېبو وروسته کرنليوس راته اشاره وکړه چې آغلې اوس تللای شې او زه هم د ليموزين خوا ته ورروانه شوم.

لومړی ځل څو کاله وړاندې سپينې ماڼۍ ته تللې وم. ما، ساشا او ماليا د يوه تفريحي سفر لپاره نوملیکنه کړې وه. په دې تفريحي برنامه کې د سپينې ماڼۍ ليدل هم شامل و. موږ له څو نورو کسانو سره يو ځای د سپينې ماڼۍ پرتمين دهليزونه او عمومي خونې وليدلې او لارښود مو هر څه راوښودل. د سپينې ماڼۍ ختيز سالون ته هم لاړو چې هلته سترې مېلمستياوې او مراسم نيول کېدل. د دې ستر سالون په چت کې يو کرېستالي قنديل راځوړند و. پر يوه دېوال باندې د جورج واشنگټن نقاشي شوی انځور راځوړند و. موږ ته مو لارښود وويل چې په اتلسمه پېړۍ کې، د هغه وخت د ولسمشر مېرمنې ابيگل آدامز د خپلې خونې په خلاصه فضا کې خپلې مينځل شوې جامې په تنابونو هوارولې او همدارنگه راته يې وويل چې لس گونه کاله وړاندې د امريکا په داخلي جگړو کې په هغه سالون کې سرتېري اوسېدل. د ولسمشرانو د ځينو لوڼو د واده مراسم هم په هماغه ختيز سالون کې ترسره شوي وو. همدارنگه هلته د ابراهام لينکلن او جان اف کېندي تابوتونه هم وو. هغه وخت ماليا اته کلنه وه. دا د سپينې ماڼې د خونو جلال او پرتم ته ډېره حيرانه شوې وه. خو ساشا پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلنه وه او یوازې دې ته یې پام کاوه چې په څه شي لاس ونه وهي. له ختیز سالون څخه چې راووتو نو زرغونې خونې ته لاړو چې دېوالونو یې په شین‌چکو ښکلو ورېښمو باندې پوښل شوي وو. زموږ لارښود په دې ځای کې موږ ته د جېمز مدیسون او د ۱۸۱۲ کال د جګړې په اړه معلومات راکړل. بیا راته لارښوونه وشوه چې آبي خونې ته لاړ شو. دې خونه کې فرانسوي کوچونه او مېزونه وو. دلته زموږ لارښود موږ ته د کریولند د واده کیسه وویله. څو دقیقې وروسته لارښود موږ ته وویل چې اوس به سرې خونې ته لاړ شو مګر ساشا خپه غوندې وه او ویې ویل: «هو هو، زه نورې خونې نه وینم.» ما غلې کړه مګر پر حقه وه. هغې ځای ۱۳۲ خونې، ۳۵ حمامونه، ۲۸ شومینه بخارۍ او ٦ پوړونه لرل چې هرې برخې بېله کیسه او او بیل تاریخ درلود. په یوه پوړ کې دولتي کارکوونکو کار کاوه او وتل او ننوتل. په بل پوړ کې ولسمشر او لومړۍ مېرمن له خپل سپي سره اوسېدل. مګر موږ په هغه پوړ کې وو چې د یوه موزیم په شان و او هلته د هېواد تاریخي نمونې د ننداري لپاره اېښودل شوې وې.

اوس نو له څو کلونو وروسته بیا هغه ځای ته تلم. مګر دا ځل له بلې دروازې له باراک سره یو ځای ورتلم او پلان داسې و چې لږ تر لږه څلور راتلونکی کلونه به هلته تېروو او هغه ځای به زموږ کور وي.

ولسمشر بوش او لومړۍ مېرمن د ښه راغلاست په رسمي خونه کې زموږ هرکلی وکړ چې د جنوبي برخې له چمن سره وه. لومړۍ مېرمنې په مینه لاس راکړ او راته کړل یې: «هیله کوم ماته لوراووایئ». مېړه یې هم په تګزاسي روحیه له موږ سره په مینه سټړي مشې وکړه او موږ ته یې وویل چې څنګه یئ؟ باراک په خپلو انتخاباتي کمپاینونو کې پر بوش او د هغه پر سیاستونو نیوکې کړې وې او له رای ورکوونکو سره یې ژمنه کړې وه چې د هغه تېروتنې به هېڅکله تکرار نه کړي. بوش د جمهوریپالو د ګوند غړی و نو طبیعي وه چې له جان مکېن څخه یې ملاتړ کړی و. مګر دا ژمنه یې هم کړې وه چې واک به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېره ساده ښه بل ولسمشر ته ولېږدوي او راتلونکي دولت ته به ټول اړين معلومات ورکړي.**

**حتا لومړۍ مېرمنې امر کړی و چې د چاروکو د اړيکې شمېرې مور ته برابرې شي. دا کار يې ځکه کړی و چې زه په ټولنيزو اړيکو کې له کومې ستونزې سره مخامخ نه شم. دا يې پر ما ډېره مهرباني کړې وه. ولسمشر بوش هم که په ښکاره څه نه ويل، مگر زه ډاډه وم چې زړه يې غوښتل ژر تګزاس ته لاړ شي. د دواړو په څېرو کې آرمتيا احساسېدله. کله چې سړي ګردې خونې ته د خبرو اترو لپاره لاړل نو لورا زه د يوه ځانګړي لفت خواته وروستم چې يوازې د ولسمشر د کورنۍ لپاره و. د لفت مسئول يو تور پوستی امريکايی و. دوه پوړه پورته وختو او د ولسمشر د کورنۍ استوګنځای ته لاړو. لورا اوس ٦٢ کلنه وه او خپلې دوې لونې يې په سپينه ماڼۍ کې سترې کړې وې. دې راته وويل چې مخکې ښوونکې او د کتابتون کارکووونکې وه او د لومړۍ مېرمن په نقش کې يې تل هڅه کړې چې د هېواد د ښوونکو وضعه ښه کړي او له ښوونکو ملاتړ وکړي. دې مهربانه آبي سترګې درلودې. له څه شېبې وروسته يې مخ راواړاوه او رانه وپې پوښتل: «څنګه يې ښه يې؟»**

**ورته ومې ويل چې لږ ستړې يم. په مهربانۍ او موسکا يې راته وويل چې: «پوهېږم، باوره وکړه پوهېږم چې په کوم حالت کې يې.»**

**ما او باراک اوس د يوې نوې مګر په عين حال کې د يوې کوچنۍ ټولنې غړي شوي وو چې د کلينټن کورنۍ، د کارټر کورنۍ، د مشر او کشر بوش دوې کورنې، نانسي ريګان او بټي فورد پکې شامل وو. دوی هغه يوازيني کسان وو چې پوهېدل چې زه او باراک به په راتلوونکي کې له څه سره مخامخ شو، ځکه دوی په سپينه ماڼۍ کې د ژوند خواږه او ترخه څکلي وو. که څه هم مور سره توپير درلود مګر په هغه تجربو کې همېشه سره شريک وو.**

**لورا د کور ټولې خونې راوښودلې. دې استوګنيزې ساحې شاوخوا دوه زره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



متره مربع پراخوالی درلود. دوه پوړيزه ودانۍ وه چې سپينې او لوړې پايې يې په عکسونو کې ښې ځرګندېږي. بيا يې د خوړو خونه راوښوده چې د ولسمشر کورنۍ پکې خواړه خوړل. بيا پخلنځي ته لاړو چې ځانګړي آشپز پکې ماښامی چمتو کاوه. بيا په بر پوړ کې مو د مېلمنو خونې هم وليدلې او ما له ځانه سره سوچ وکړ چې آيا مور مې هلته له مورِ سره يو ځای اوسېدلای شي. البته که د هغې خوښه وای. همدارنګه هلته يو کوچنی ورزشي کلپ هم و چې که باراک ليدلی وای نو خوښېده يې. بيا مې دوې د خوب خونې وليدې. ما په زړه کې وويل چې دا به د ماليا او ساشا لپاره ښېلې کړم. دا خونې اصلي خونې ته نژدې وې. ماته مهمه دا وه چې دوی هلته آرمتيا احساس کړي. که د دې ودانۍ ټول جلال او پرتم، ځانګړي آشپز، د لوبو ځای او حوض ته مو نه وای کتلي نو بيا ما او بارک ته چې کوم يوازينی کار پاتې کېده هغه دا و چې واقعي مور او پلار يې هېڅکله نه ترسره کوي. هغه دا چې د کال په منځ کې نجونې له ښوونځي راوباسو او له خپلو دوستانو يې رابېلې کړو او نوي ښوونځي ته يې راولو. دا په رېښتيا چې چندان سم کار نه و. دې موضوع زما فکر ډېر بوخت کړی و. مګر کله به مې چې پام وکړ چې له مورِ څخه وړاندې نور ولسمشران هم پر دې توانېدلي چې داسې کار ترسره کړي نو بيا مورِ هم کولای شو.

لورا بيا زه يوې بلې ښکلې خونې ته بوتلم چې د خوب د اصلي خونې په څنګ کې وه او ښه رڼايي يې درلوده. دا خونه د لومړۍ مېرمنې د جامو خونه وه چې له کړکيو يې د ګلونو منظره هم ليدل کېده او ګردۍ خونه هم. دا به چې دلته وه نو د مېړه يعنې ولسمشر کارونه به يې احساسول. دې ماته وويل چې اته کاله وړاندې چې سپينې ماڼۍ ته راغلې وه هيلري کلينټن همدا خونه ورښودلې وه او له هغې اته کاله وړاندې باربارا بوش هيلري ته همدا خونه او همدا ځايونه ورښودلي وو. باربارا بوش يې د مېړه مور هم وه. ما هم له کړکۍ بهر ته وکتل او له ځانه سره مې کړل چې زه هم د دې تکراري کار يوه برخه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راوروسته میاشتو کې مې د تېرو لومړیو مېرمنو ښې سپارښتنې تر لاسه کړې. هیلري راته وویل چې څنګه یې خپلې لور چلسي ته هماغلته شواخوا کې ښه ښوونځی موندلی و. له رزالین کارټر سره مې لیدنه وکړه او له نانسي ریګان سره په تلیفون کې وغږېدم. دوی دواړو راته ښې سپارښتنې وکړې. څو اونۍ وروسته لورا په ډېره مینه ما او مالیا او ساشا ته بلنه راکړه چې سپینې ماڼۍ ته ورشو. د دې لوڼې جینا او باربارا هم وې. دوی غوښتل چې موږ له سپینې ماڼۍ سره بلد کړي. دوی له موږ سره ډېر غوره چلن وکړ. ما هم دومره څه زده کړل چې کولای مې شول د امریکا راتلوونکې لومړۍ مېرمنې ته په دې اړه ښه معلومات ورکړم.

کله مو چې هاوایي کې د کرسمېس رخصتۍ تېرې کړې نو بیا مو واشنګټن ته کډه وکړه. له دې کاره مو موخه دا وه چې مالیا او ساشا له خپلو نویو ټولګیوالو سره آشنا شي. د ښوونځیو رخصتۍ هم خلاصې شوې وې او درسونه هم پیل شوي وو. موږ غوښتل چې لوڼې مو ژر نوي ښوونځي ته لاړې شي او درسونه پیل کړي. واشنګټن کې په های آدامز هوټل کې مېشت شوو چې سپینې ماڼۍ ته مخامخ و او موږ سپینه ماڼۍ ترې لیدلای شوای. د سپینې ماڼۍ انګړ ته به مو چې کتل نو لیدل به مو چې د نوي ولسمشر د رسمي معرفۍ لپاره ځانګړې څوکۍ برابرېږي. د هوټل مخامخ پر یوې ودانۍ یو ستر بیرغ راځړېدلی و چې پرې لیکل شوي وو: «مالیا او ساشا ښه راغلاست». کله مې چې دا بیرغ ولید نو احساساتي شوم او اوښکې مې راغلې.

له څېړنو او پلټنو او له څو کسانو سره له مشورو وروسته مې وپتېیله چې نجونې په سدول فرندز ښوونځي کې شاملې کړم چې یوه ځانګړې او نوموتې مسیحي ښوونځی و. ساشا په دویم ټولګي کې وه او مالیا په پنځم. له دوی دواړو سره به هر چېرې ساتندویان وو او کله به چې ښوونځي ته تلې نو دوی به ورته په تمه وو او کله به چې تفریح وه نو په خلاصه فضا یا ورزش کې به یې هم د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتنه کوله.

اوس نو مور په یو ډول حبابونو کې ژوند کاوه چې زمور له ورځني ژوند سره یې توپیر درلود. ما نور نشو کولای چې بازار ته لاړه شم او یو څه واخلم یا په پارک کې وګرزم. هر کار مې چې کاوه لومړی له امنیتي اړخه باید ارزول شوی وای. البته دا حبابونه د انتخاباتي کمپاین په مهال کې تر مور تاو شول. دې ډول حبابونو مور ته هم چندان خوند نه راکاوه، خو بله چاره هم نه وه. اوس نو زمور موټرونه سرو څراغونو ته نه درېدل او کله به چې سپینې ماڼې ته ورننوتلو، یا به ترې وتلو، نو د وادنۍ له اصلي دروازې څخه به نه وتلو یا ورننوتلو، بلکې له امنیتي دراوزو څخه به وتلو یا ورننوتلو. امنیتي چارواکو باور درلود چې مور باید ډېر کم خلکو ته ځانونه څرګند کړو.

ما هیله درلوده چې د مالیا او ساشا لپاره امنیتي حبابونه لږ پراخ وي. یعنې مقصد مې دا دی چې له مور څخه زیاته آزادي ولري. هیله مې درلوده چې واقعي دوستان پیدا کړي او نورې نجونې له دې امله ورنژدې نه شي چې دوی د ولسمشر باراک اوباما لونې دي. غوښتل مې زده کړې وکړي، خوشحالي وکړي، تېروتنې وکړي، له خپلو تېروتنو درسونه واخلي او مخ پرورړاندې لاړې شي.

کله چې د چلسي کلینټن پلار د امریکا ولسمشر و نو دې په سدول فرندز ښوونځي کې زده‌کړې کړې وې او مور هم فکر وکړ چې همدا به ښه ښوونځي وي. د ښوونځي مسئولینو به هغو زده کوونکو ته چې ځانګړي به وو باامنه تږولګي به یې ورته برابرول چې اوس ساشا او مالیا کولای شول له فیس پرته ترې ګټه واخلي. سربېره پر دې په دې ښوونځي کې مسیحي نظریې هم واکمني کوله چې یو انسان پر بل انسان برتري نه لري. دا زما لوڼو ته یو ښه نصیحت هم و چې د خپل پلار د مقام او شهرت په خاطر په نورو زده کوونکو کې د برترۍ حس پیدا نه کړي.

نجونې مو ښوونځي کې شاملې کړې، د ښوونځي لومړۍ ورځ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېده، کله چې په لومړۍ ورځ تلې، نو ما او باراک هوټل ته بوتلې. هوټل زموږ د اوسېدو په ځای کې و. له ماشومانو سره مو سهاری وکړ. یعنې د سهار چای مو یو ځای سره نوش و جان کړ. بیا مو له نجونو سره مرسته وکړه چې ګرمې جامې واغوندي. باراک هغوی ته نصیحت وکړ چې په لومړۍ ورځ په ښوونځي کې ټولو ته موسکې شي، له هر چا سره په مینه چلن وکړي او د ښوونکو خبرو ته ښه غوږ ونیسي. کله چې نجونو بکسونه شاته واچول، نو پر دوی یې ټینګار وکړ چې هېر نه کړي چې مغرورې شي او پر نورو ځانونه بر وبولي. مور مې هم په دهلېزه کې له موږ سره یو ځای شوه. ټول یو ځای لفت ته وختلو.

له هوټل څخه بهر ډله خبریالان له خپلو کمرو سره ولاړ و. خو زموږ ساتونکو پرې نه ښودل چې موږ ته رانژدې شي. باراک تېره شپه له شیکاګو راغلی و او غوښتل چې نجونې له ما سره یو ځای ښوونځي ته ورسوي، خو امنیتي ډلې یې خنډ شوې او ورته کړل یې چې دا کار ونه کړي. پر دې اساس، هغه په ډېر ناراحتۍ مالیا او ساشا په غېږ کې ونیولې او له هغوی سره یې مخه‌ښه وکړه.

موږ ته لوړ لنډکروزر ولاړ و، زه، نجونې او زما مور پکې کېناستو. زرهي موټر و. حرکت مو وکړ او ښوونځي ته ورسېدو. که څه هم هیجاني وم او سترس مې درلود، خو له دې سره سره مې هڅه وکړه چې آرامه واوسم، موسکه شم او له ماشومانو سره شوخي وکړم. له څو دقیقو وروسته د مالیا ښوونځي ته ورسېدو. زه او مالیا سره له ساتونکو ښوونځي ته لاړو. ما مالیا د هغې پر نوي ښوونکي وسپارله. بیا مې ساشا هم د هغې ټولګي ته ورسوه. ښکلی ټولګی یې درلود چې لنډکي مېزونه پکې وو او سترې کړکۍ یې درلودې. ما په زړه کې دوی ته دوعا وکړه چې دا ځای ورته د آرامۍ او ښادۍ ځای واوسي.

بیا مې خپل ځانګړي موټر ته راوګرځېدم او له مور سره مې یو ځای هوټل ته لاړم. ډېرې غونډې راته جوړې شوې وې، ټولو ته ورتلم، نو ځکه ورځ کې ډېره بوخت وم. خو سوچ به مې تل لوښو کې و. دا چې نوی ښوونځی به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه وي، څنګه وخت به پکې تېروي، څه به خوري، او نور زده کوونکي به هغوی ته څه ډول ګوري یا دا چې هغوی به د نورو زده کوونکو په منځ کې ښه احساس ولري؟ کله چې ساشا لومړی ورځ ښوونځي ته تله نو خبریالانو یې انځور اخیستی و. انځور په داسې حالت کې اخیستل شوی و چې ساشا په موټر کې ناسته وه، خپل کوچنی مخ یې د موټر له ښیښې سره لګولی و او بهر ته یې کتل. دې آرامه حالت درلود. له شک پرته مور نجونو ته ډېره تمه درلوده او دې موضوع ډېره بوخته کړې وم او حتا څو ورځې، څو اونۍ او څو کلونه مې په دې اړه فکر کاوه چې دوی به له خپل نوي ژوند سره همغږې شي او که نه.

بېړه مو وه چې ژر کډه وکړو. د کډې کولو چارې مو ژر ژر مخ پر وړاندې تلې. سل ګونه فوري او ضروري تصمیمونه مې باید نیولي وای. سپینه ماڼۍ کې د اوسېدو لپاره مې باید هر څه برابر کړي وای، د غاښونو له کریمو نیولې آن تر صابونه پورې او داسې نور... مخکې مو د ولسمشر د معرفۍ مراسم وو، له هغې وروسته یوه مېلمستیا وه، شاوخوا یو سلو او پنځوس کسه زموږ خپلوان او دوستان راتلل، د دې ټولو لپاره مې باید مناسبې جامې برابرې کړې وای. خپلې ځینې دندې مې ملیسا او د کورنۍ ځینو نورو غړو ته وروسپارلې. همدارنګه مایکل سمېټ مې هم راسره کړ. هغه یو ماهره او بااستعداده کورنۍ طراح و. په شیکاګو کې زموږ دوستانو موږ ته راښودلې و چې له موږ سره د نوي کور او ګردي دفتر په سینګارولو کې مرسته وکړي.

له بل پلوه دولت یو لک ډالره ولسمشر ته ورکړي وو چې کور پرې سینګار کړي او سپینې ماڼۍ ته خپله کډه ولېږدوي. خو باراک دا پیسې نه وې منلې او ویلي یې و چې دا پیسې باید موږ پرې کړو. پر دې اساس، هغه پیسې مو مصرف کړې چې د کتاب لیکلو له امله یې اخیستې وې. هغه تل همدا شان و، یعنې په مالي مسایلو کې یې ډېر احتیاط کاوه او د ځان لپاره یې ځانګړي معیارونه درلودل. تور پوستان یو پخوانی متل لري چې وایي: «دوه برابره باید ښېګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې چې بېرته د هغې نیمایي ګټه دې په برخه شي». موږ د لومړنۍ تور پوستې کورنۍ په توګه په سپینه ماڼۍ کې د خپل نژاد استازولي کوله او په ښه توګه پوهېدو چې که لږ تېروتنه هم وکړو نو خلک یې غټوي او زموږ پر وړاندې بیا ترې ګټه اخلي.

ما د کور له سینګار یا ډېکور یا د ولسمشر د معرفۍ د مراسمو څخه زیاته پاملرنه دې ته کوله چې د امریکا د لومړۍ مېرمنې په توګه کوم کارونه ترسره کولای شم. څنګه چې پوهېدلې وم اړ نه وم چې څه ترسره کړم. یعنې کوم دنده نه وه راته ځانګړې شوې. ځکه خپلواکه وم او واک مې درلود چې هره برنامه غواړم ترسره یې کړم. پر دې اساس غوښتل مې چې ډاډه شم چې زما له خوا هره هڅه د نوي دولت له سترو موخو سره مرسته کولای شي.

کله چې نجونې درې لومړۍ ورځې خوشحاله له ښوونځي څخه کور ته راغلې نو تر زیاتې کچې ډاډه شوم. ساشا به خپلې کورنۍ دندې کور ته راوړلې. دا کار یې مخکې هېڅکله نه کاوه. مالیا هم د ښوونځي په کنسرت کې نوم لیکنه کړې وه چې په هغه ورځ کې ترانه ووایي. موږ ته ویل شوي و چې کله د نورو ټولګیو زده کوونکي دوی لومړی ځل ووینی نو لږ به حیران شي او تعجب به وکړي. خو ټولو زده کوونکو له دوی سره په مینه چلن کړی و. څومره چې له ساتونکو سره یو ځای ښوونځي ته تلې نو هومره ورسره روږدې کېدې. له یوې اونۍ وروسته دوی له دې مسألې سره دومره عادي شوې چې ویې منله له ما پرته ښوونځي ته لاړې شي. البته مور به مې تل له دوی سره وه. همدا لامل و چې د ساتونکو او موټرونو شمېر یې هم کم شو.

مور مې نه غوښتل له موږ سره واشنګټن ته راشي، خو ما دې کار ته اړ کړه. نجونو دې ته اړتیا درلوده، ما هم همداسې، زما زړه غوښتل چې باور وکړم چې هغه هم موږ ته اړتیا لري. څو تېرو کلونو کې هغه تل زموږ په ژوند کې وه، په ځانګړې توګه دا به زموږ د سترس د راکمېدو لامل کېده. هغې په خپل یو اویا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلن ژوند کې له شیکاګو پرته په هېڅ ځای کې ژوند کړی نه و. دې نه غوښتل چې په یوکلید سړک کې خپل کور او خپله سیمه پرېږدي. له انتخاباتو وروسته يې يوه خبریال ته ویلي وو: «زه مې له لور او د هغې له کورنۍ سره مینه لرم، خو خپل کور مې هم خوښېږي. سپینه ماڼۍ ماته د موزیم په شان ده. په یوه موزیم کې څوک څنګه ویده کېدلی شي؟»

هڅه مې وکړه چې هغې ته ووایم چې له مور سره واشنګټن ته راشي چې جالبه کسان ویني او نوره به اړ نه وي چې پخلی وکړي یا خونې جارو او پاکې کړي. دا مې هم ورته وویل چې د سپینې ماڼۍ په پورتني پوړ کې به له خپل کور څخه پراخ ځای ولري. خو داسې ښکارېدل چې ګڼې زما دا خبرې هغې ته هېڅ کومه معنا نه لري. هغې تجملاتو او شیکو شیانو ته هېڅ تمایل نه درلود.

بلاخره له کرېګ سره مې اړیکه ونیوله او هغه ته مې وویل: «زما له خوا باید له مور سره خبرې وکړې. هیله کوم، راضي یې کړه چې له مور سره راشي.» دې کار مې پایله درلوده. کرېګ د اړتیا په صورت کې کولای شول چې نور راضي کړي. په دې توګه په راتلوونکو اتو کلونو کې زما مور له مور سره په واشنګټن کې وه. خو تل به یې ویل چې استوګنه یې لنډمهاله ده او تر هغې چې نجونې له خپل نوي ژوند سره روږدې کېږي نو له مور سره به وي. هغې نه غوښتل چې کوم حباب ترې تاو شي یا کوم حباب کې ایساره شي. دې نه غوښتل چې په زرې موټر کې سپره شي. زړه یې نه غوښتل چې څوک یې ساتنه وکړي او له رسنیو او خبریالانو څخه به لرې ګرزېده. حتا ټینګار یې کاوه چې جامې یې خپله ووینځي. دې کار یې د سپینې ماڼۍ کار کوونکي حیران کړي وو. هغه زمور په شان نه وه، کله به یې چې زړه غوښتل نو له سپینې ماڼۍ به وتله، نژدې پلورنځي ته به تله او د ځان لپاره به یې ځینې شیان اخیستل. کله ناکله به یې نوې خورلڼې موندلې چې هغوی سره به یې ژمنه کوله او ورتله به. هر کله به چې چا دې ته ویل چې د میشل اوباما مور ته ورته یې نو دې به خپلې اوږې پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځولې او ویل به یې: «دا خبره، ډېر کسان راته کوي.»

د ولسمشر د معرفۍ مراسمو ته زموږ د کورنۍ ټول غړي راغلي وو. زما تره او زما ترورياني او زما د تره زامن او لوڼې هم راغلي وو. حتی په هايدپارک سيمه کې چې موږ څومره دوستان لرل ټول له خپلو مېرمنو او دوستانو سره دې مراسمو ته راغلي وو. موږ دوې غونډې په پام کې نيولې وې، يوه د مشرانو لپاره او يوه هم د ماشومانو لپاره. د ماشومانو لپاره مو يو کنسرت هم په پام کې نيولی و او د لوړې له مراسمو وروسته مو بېله غرمنۍ هم ورکوله.

د انتخاباتي مبارزې د وروستيو مياشتو يوه ګټه دا وه چې زموږ کورنۍ د جو بايډن له کورنۍ سره زيات صميميت پيدا کړ. که څه هم باراک او جو څو مياشتې وړاندې يو د بل سياسي سيالان وو مګر اوس داسې وخت راغلی و چې دوی سره ملګري شوي وو او ملګرتيا يې پالله. ما همدا لومړی ځل چې د جو مېرمن يعنې جېل وليده نو ډېره مې خوښه شوه. ډېره خوشرويه او درنه مېرمن وه چې ډېر ژر يې زما په زړه کې ځانته ځای پيدا کړ. هغه په ۱۹۷۷ کال کې له جو بايډن سره واده کړی و او د هغه د دوو زامنو مَيره شوې وه. د جو لومړۍ مېرمن او د هغه يوه تي‌خورې لور په يوه ترافيکي پېښه کې وژل شوي وو. څو کاله وروسته د دوی يوه لور هم شوې وه. جېل په همدې نژدې وختونو کې د ښوونې او روزنې په برخه کې دوکتورا اخيستې وه او دلاوير ايالت کې يې په يوه ښوونځي کې د انګليسي ژبې درس ورکاوه. جو بايډن چې څو کلونه سناتور و او همدارنګه کله يې چې په انتخاباتي فعاليتونو کې فعاليت کاوه نو په دې ټوله موده کې جېل زما په شان چلن کاوه او غوښتل يې چې هر څنګه کېږي بايد د پوځيانو له کورنيو سره مرستې وکړي. البته د جو مشر زوی بيو بايډن د امريکا د ملي ګارد غړی و او په عراق کې يې دنده درلوده. دا مهال يې لنډه رخصتي اخيستې وه او واشنګټن ته راغلی و. د ده پلار د ولسمشر مرستيال کېده، نو ده هم غوښتل چې د خپل پلار د لوړې په مراسمو کې ګډون وکړي. د ولسمشر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیال پنځه لمسیان هم مراسمو ته راغلي وو چې د خپل نیکه او خپلې نیا په څېر صمیمي و، ډېر ژر له مالیا او ساشا سره بلد شول او ورسره لوبې یې کولې. مورې هم ډېر ورته خوشحاله وو چې بایدېن ماشومان زمورې له لونو سره داسې لوبې کوي او سره ملګري شوي.

په کومه ورځ چې د ولسمشر د معرفۍ مراسم و نو هوا ډېره سړه وه او شدید باد لګېده. هغه ورځ سهار، زه، باراک، نجونې، مور مې، کرېګ او کلي، مایا او کنراد او کای ماما ټول په ګډه کلیسا ته لاړو. که څه هم ساړه ډېر و مګر بیا هم شاوخوا دوه میلیونه کسان د هېواد له ګوټ ګوټه پارک ته راغلي وو او چمتو وو چې د معرفۍ مراسم پیل شي. راغلي خلک د یوه سمندر په څېر وو چې له هماغه پیله یې جوش او خروش درلود. د خلکو لیکې نږدې یو نیم کیلومتر غځېدلې وې او د امریکا له کانګرس څخه ولاړ و او آن د واشنګټن د لمانځنې تر ودانۍ پورې رسېدل.

له کلیسا وروسته، زه او باراک سپینې ماڼۍ ته لاړو چې له جو، جېل، ولسمشر بوش، دېک چېني، د ولسمشر له مرستیال او د هغوی له مېرمنو او نورو سره یو ځای شو. دوی ټول د چای او قهوې څښلو په خاطر هلته راغلي وو چې بیا په ګډه سره د لوړې د ادا کولو لپاره کانګرس ته لاړ شو. باراک مخکې له مخکې هسته‌يي دیپو ته د مستقیم لاسرسي کودونه تر لاسه کړي وو او له دې سره یې هم آشنایي درلوده چې څنګه ترې ګټه واخلي. له هغې شېبې وروسته به چې هر چېرې تلو نو یو نظامي مرستیال به له یوه ۲۵ پونډې بکس سره له ده سره و چې پېچلي ارتباطي کودونه او اوزار به پکې وو. دا بکس د فوټبال د هستوي توپ په نامه مشهور شوی و.

زما له نظره د ولسمشر د معرفۍ مراسم ډېر عجیبه او اوږده مراسم وو چې ما په ښه توګه نه شول درکولای. له مراسمو وړاندې یوې ځانګړې خونې ته لاړو چې نجونې لږ خواړه وخوري او زه او باراک څو دقیقې تمرین وکړو او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل لاس په کوچنی مقدس کتاب کېږدي چې یو سلو پنځوس کاله وړاندې یې په ابراهیم لینکولن پورې اړه درلوده. هغه شېبه کې زموږ ډېر خپلوان، دوستان او همکاران له هماغه خونې بهر په یوه ځانګړی ځای کې په خپلو څوکیو ناست وو. ښایي په تاریخ کې دا لومړی ځل و چې د ولسمشر د معرفۍ په مراسمو کې د نورو پېژندل شوو حکومتي چارواکو تر څنګ دومره ګڼ شمېر تور پوستان ناست وو چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د تلویزیون له پردو لیدل کېدل. دې ورځې زیاتره امریکایانو ته بله معنا درلوده په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې د مدني حقوقو د ټولنې غړي وو. باراک ښه کار دا کړی و چې د دویمې نړیوالې جګړې تور پوستی پیلوټ یې هم دې مراسمو ته رابللی و. همدارنګه هغه تور پوستي زده کوونکي یې هم رابللي وو چې په ۱۹۵۷ کال کې یې له قانوني پرېکړې سره سم د سپین پوستو په ښوونځیو کې نوملیکنه کړې وه او میاشتې میاشتې ورسره ظلمونه او بد چلنونه شوي وو. دا مهال نو د دې ټولو کسانو وېښته سپین شوي وو، کې او کوپ وو او د لیتل راکناین د ډلې په نامه یادېدل. باراک ویل چې دا یې خوښېږي چې د لیتل راک ناین ډلې په شان همداسې په جرأت سره د سپینې ماڼۍ د زینو په پوړیو کې پورته شي.

بلاخره غرمې ته نژدې مهال کې له نجونو سره یو ځای د ملت پر وړاندې ودرېدو. هغه ورځ مې په جزییاتو په یاد ده. د لمر وړانګې د باراک پرمخ پرتې وې. کله چې د سترې محکمې رییس جان رابرتز مراسم پیل کړل نو ټول غلي شول. د دې لپاره چې ساشا مراسم ووینې نو په یوه څوکۍ درېدلې وه. ما د لینکولن کتاب پورته کړ، باراک خپل چپ لاس پرې کېښود او لوړه یې وکړه چې د امریکا له اساسي قانون څخه به په بشپړه توګه دفاع کوي او خپله ټوله هڅه به کوي چې د هېواد ستونزې هوارې کړي. ډېره پرتمینه شېبه وه. باراک په خپله وینا کې وویل: «نن دلته د دې لپاره راټول شوي یو چې هیله مو پر وېرې غوره بللې او همدارنګه یووالی او همغږي مو پر بې اتفاقۍ او دښمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره بللي.»

ما هغه ورځ حقيقت بيا بيا د هغو خلکو په څېره کې وليد چې په هغه سړو کې مراسمو ته راغلي او ولاړ وو. ګڼ شمېر خلک وو چې سره راټول شوي وو او زموږ کورنۍ يې په غېږ کې نيولې وه. موږ لوړه وکړه او له خلکو سره مو ژمنه وکړه چې موږ به ستاسو ملاتړ کوو او تاسې به زموږ. ماليا او ساشا اوس اوس پوهېدلې چې دا څه معنا لري چې نور ورته ګوري. زه په دې موضوع هغه وخت پوه شوم چې د ولسمشرۍ رياست په ليموزين کې کېناستم، د سپينې ماڼۍ خوا ته مو حرکت وکړ او د معرفۍ د مراسمو رسم و ګذشت مې وليد. څو شېبې وړاندې ما او باراک له جورج بوش او لورا بوش سره خدای پاماني وکړه او هغوی د ولسمشرۍ رياست په چورلکه کې کېناستل، واشنګټن يې پرېښود او موږ لاسونه ورته وښورول. اوس مو د غرمې ډوډۍ هم خوړلې وه. زه او باراک د کانګرس په مرمين سالون کې له سلګونو مېلمنو سره ناست وو او د مرغابۍ غوښه مو خوړله. په مېلمنو کې د کابينې نوي غړي، د کانګرس غړي او د سترې محکمې قاضيان هم وو. نجونې له بايډن ماشومانو او د خپلو خپلوانو له ماشومانو سره په څنګ خونه کې ناستې وې او هغه خواړه يې خوړل چې ډېر يې خوښېدل، لکه سور کړی چرګ او مک برګر او پنېر. نجونو د معرفۍ په رسمي مراسمو کې ښه چلن درلود. سترې او بې قراره نه شوې، له ستړيا ډېرې ونه ښورېدې او هېر يې نه شول چې موسکا يې په خوله وي. له دې وروسته څنګه چې زموږ لېموزين موټر له سکورټي ډلې سره يو ځای له پنسيلوانيا واټه تېرېده نو اوس هم زرګونه خلک د واټ دواړو خواوو ته ولاړ وو او موږ يې په تلويزيونونو کې کتلو. دې خلکو موږ په موټر کې نه ليدلو ځکه د موټر ښيښې تورې وې. لږ وروسته زه او باراک له موټره ښکته شوو چې د رسم و ګذشت ځينې مراسم په پلې توګه ترسره کړو او خلکو ته لاسونه وښورو. ماليا او ساشا مو موټر کې يوازې پرېښوې. څنګه چې موږ ورسره نه وو نو چا ورته پام نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زه او باراک بیا لېموزین ته وروختو نو نجونو شورماشور جوړ کړی و، خندل یې، خپل خولی یې لرې کړې وې او شوخي یې پې سره کوله. بلاخره ستړې شوې او په څوکی کې وغځېدې. د موټر په ټیپ کې د بیانسه سندره چلانه وه، هغه یې اورېده. هغه شپه کې ما او باراک ښکلي او آرامه احساسات درلودل. اوس موږ د امریکا لومړنی کورنی وو. خو موږ سره د تېر په شان و او کوم تغیر مو نه و کړی.

د ولسمشری د رسمي معرفی په ورځ کې چې څومره لمر لوېده، هومره هوا هم یخېده. زه او باراک له جو بایډن سره د مانۍ په مخ کې په ځانګړي ځای کې دوه ساعته نور هم کېناستو او د خلکو رسم و ګذشت ته مو کتل چې د موسیقي آلات هم ورسره و او زموږ په مخ کې په پنسیلوانیا سړک کې تېرېدل. له پنځوسو ایالتونو خلک راغلی وو. زما یوې کارمندې راته یوه کمپله راوړه چې په خپلو پښو یې واچوم، ځکه ډېر ساړه و او ساړه مې کېدل. راغلي مېلمانه هم یو یو تلل چې ځانونه د لمر لوېدو جشن ته چمتو کړي.

شاوخوا اوه بجې وې چې د موسیقي غړوونکو وروستی ډله زموږ له مخې تېره شوه او دا مراسم پای ته ورسېدل. زه او باراک په تیاره کې د سپینې مانۍ د نوو اوسېدونکو په توګه دې مانۍ ته ورننوتلو. د هغه ځای کارکوونکو، مانۍ په بشپړه توګه پاکه کړې وه او د بوش وسایل او توکی یې بهر کړي وو او زموږ هغه یې راوړي وو. همدارنګه د تېر ولسمشر سپیانو د مانۍ فرشونه ډېر لړلي وو، خو د مانۍ کارکوونکو په پنځو ساعتونو کې ښه مینځلي وو چې هسې نه د مالیا حساسیت بیا راوګرزي. زموږ موبل او فرنیچر هم دننه وړل شوي او هلته ځای پر ځای شوي وو. هر چېرې زینتي ګلونه هم لیدل کېدل. په لفت کې کېناستو او بر پوړ ته لاړو. هلته مو ولیدل چې جامې مو په الماریو کې په ښه توګه اېښودل شوې او یخچال هم له هغو خوړو ډک شوی چې زموږ خوښېدل. د سپینې مانۍ اکثره کارکوونکي او خدمتکاران تور پوستان وو چې عمرونه به یې یا زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره وو او یا به هم له موږه لږ څه مشران. دوی موږ ته برچپک ولاړ وو چې هر څه ترې وغواړو راېې وړي او یا هم کوم کار ورته ووایو چې ترسره یې کړي.

زما دومره ساړه کېدل چې حتا خوراک مې نه شوای کولای. د ولسمشر د معرفۍ لپاره لس جشنونه وو. نن یې لومړی و، نو موږ باید له یوه ساعته په کمه موده کې ځانونه چمتو کړي وای چې دې لومړي جشن ته لاړ شو. یادېږي مې چې له څو خدمتکارانو برسېره، ځینې نور کسان مې هم هلته ولیدل چې نه مې پېژندل. دهلېزونو کې چې گرزېدم، نو یوازیتوب مې احساس کړ. د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې به کله چې چېرته تلم نو ځینې کسان لکه ملیسا یا کیتي یا کریستېن به راسره وې، مگر اوس په ناڅاپي توگه یوازې شوې وم. نجونې د مانۍ بلې خوا ته تللې وې. مور مې، ورور مې کرېگ او مایا اوس هم له موږ سره وو. مگر دوی یې هم د شپې د جشن لپاره په موټرو کې بېولي وو. سینگارگرې ته په تمه وم چې وېښتو ته مې ښکلی ډیزاین ورکړي. جامې مې په کوټبند کې راځړېدلې وې. باراک هم تللی و چې شاور ونیسي او خپلې جامې واغوندي. دا ورځ زموږ لپاره یوه پرتمینه ورځ وه چې په خوا او خاطر کې مو هم نه راتله او زه هیله‌منه وم چې د هېواد لپاره مو هم همداسې واوسي. هر څه د ماراتون منډو په څېر وو. یوازې پنځه دقیقې مې درلودې چې شاور ونیسم او ځان چمتو کړم. د غوښې څو سرې کړې ټوټې او کچالو مې وخوړل چې سم کاس برابر کړي وو. وېښته مې جوړ راجوړ کړل او لږ مې سینگار وکړ. بیا مې خپلې ورېښمینې جامې واغوستلې چې د جیسون هو په نامه یوه سړي راته گنډلې وې. پر یوه اوږه مې ښکلي گلونه راټومبل شوي وو. هر گل کې کوچني کرېستالونه ځای پر ځای شوي وو. دامن مې اوږد و چې پر ځمکه څښېده.

تر هغه مهاله مې زیاتې محفلي جامې نه وې اغوستې، مگر کومې جامې چې جیسون راته گنډلې وې که څه هم ښکلې او لطیفې وې خو له دې سره سره یې زما د ځان هېڅ کومه برخه هم نه راایسته. دا جامې د هغو بدلونونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحولاتو بیانوونکې وې چې په کورنۍ کې مې نژدې وختونو کې پېښېدې او زه یې د نڅا په مېلمستیاوو کې د یوې شهزادګۍ په توګه نه څرګندولم بلکې د یوې ځواکمنې مېرمنې په توګه یې ښکاره کولم چې غواړي له یوه پړاوه بل پړاو ته لاړه شي. اوس نو زه د امریکا لومړۍ مېرمن وم او د جشنونو وخت و.

هغه شپه زه او باراک د ولسمشر د معرفۍ لومړني جشن ته لاړو چې د عوامو لپاره و او د سیمې د جشن په نامه یادېده. بیانسې په خپل ښکلي غږ پخوانۍ سندره وویله چې «بلاخره» نومېده. موږ خپله دا سندره د نڅا د لومړۍ سندرې په توګه انتخاب کړې وه. بیا نورو کورنیو ایالتي جشنونو ته لاړو، او له دې وروسته د دفاع وزیر جشن او د ځوانانو جشن او له هغې وروسته شپږو نورو جشنونو ته هم لاړو. په دې هر یوه جشن کې به کمه موده پاتې کېدو او بیا به بل جشن ته تلو. باراک به هر جشن کې یوه لنډه وینا او له ټولو راغلو ګډونوالو مننه کوله. هر کله به مې چې د ده سترګو ته کتل نو آرمتیا به مې پکې لیدله. اوس هم موږ هماغسې نیمایي برخې وو چې د شلو کلونو په اوږدو کې مو یو بل بشپړاول او اوس مو هم هماغه اساسي او فطري مینه سره لرله. دا هغه څه وو چې غوښتل مې نورو ته یې هم وروښایم.

څومره ساعتونه چې تېرېدل نو ما به ستړیا احساسوله. د دې جشنونو ډېره ښه برخه وروستۍ برخه وه چې په سپینه ماڼۍ کې به د سلهاوو کسانو په شتون کې یوه ځانګړې مېلمستیا نیول کېده. بلاخره دې مېلمستیا کې مې راحتي احساسولای شوای او له دې اندېښنو راوتلم چې څنګه ښکارم او ډاډه وم چې دې مېلمستیا کې به خپل بوټونه هم باسم او راحته بوټونه به په پښو کوم.

د سهار شاوخوا دوې بجې وې چې دې مېلمستیا ته راورسېدم. سالون رڼا و او رڼایي وه. خلکو ښکلې او شیکې جامې اوغوستې وې او نځل یې. د جاز یوه ډله د سالون په پای کې په موسیقي غږولو بوخته وه. زما د ژوند د بېلابېلو پړاوونو دوستان هم هلته راغلي وو. زما د پرینستون دوستان، زما د هاروارد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان، زما د شیکاګو دوستان، د رابینسون کورنۍ او د شیدلز کورنۍ. په دقیقه توګه همدا هغه کسان و چې زړه مې غوښتل له هغوی سره جشن ولمانځم او ترې وپوښتم چې «یو دې راته ووایي چې موږ څنګه دې ځای ته راورسېدو؟»

مګر هر څنګه چې وو موږ پر دې توانېدلي وو چې ځان وروستۍ کرښې ته ورسوو او اوس مو باید د راتلونکي په اړه فکر کړی وای. پوهېدم چې د راتلونکې ورځې پر سهار یعنې یو یا دوه ساعته وروسته د ولسمشر د رسمي معرفۍ د دعا مراسمو ته باید تللي وای او بیا مو د هغو دوه سوه کسانو هرکلی کړی وای چې سپینې ماڼۍ ته راتلل. دې شپه کې باراک راوکتل او ګواکې داسې ښکارېدل چې زما سوچونه لولي او ویې ویل چې اړینه نه ده چې ته د دعا مراسمو کې واوسې.

هغه شپه کې مېلمانه زما خواته راغلل، خپل یو مالي ملاتړی او د یوه ستر ښار ښاروال او همدارنګه نور کسان مې ولیدل چې ناري یې وهلې «میشل، میشل» زه دومره ستړې وم چې نږدې وه په ژړا شم. کله چې باراک نږدې راغی چې وګوري څه پېښه ده نو زما زغم پای ته ورسېد او له هغه ځایه وتښتېدم. نور مې واقعاً هغه انرژي نه درلوده چې د لومړۍ مېرمنۍ نقش ته ادامه ورکړم او حتا خپلو ملګرو ته لاس وښوروم. کوم چارواکي چې راپسې وو، هېڅ ځان مې پرې پوه نه کړ، ژر لفت کې کېناستم او خپلې کوټې ته لاړم. له څنډ پرته خپلې ناپېژاندې کوټې ته وردننه شوم، بوټونه مې وایستل، جامې مې بدلې کړې، په خپل ناپېژانده کټ کې پرېوتم او له حاله لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۰

خلک معمولاً پوښتنې کوي چې سپينه ماڼۍ کې ژوند څنګه دی او څه خوند لري. زه يې ځواب کې وايم چې سپينه ماڼۍ کې ژوند داسې دی لکه په يوه ښکلي او لوکس هوټل کې چې ژوند کوې، خو توپير يې دا دی چې له تا پرته بل هېڅوک او هېڅ کورنۍ هلته نشته. هر چېرته تازه ګلونه اېښودل شوي او تقريباً هره ورځ تازه ګلونه راوړل کېږي او هره خوا کې اېښودل کېږي. د دې ځای ودانۍ لږ پخوانۍ او لږ څه وړووکې ده. ډېل دېوالونه لري، غولي کې يې کلک فرشونه وېړ شوي چې دومره ډېل دي چې په خونه او يا سالون کې هر ډول غږ فوراً جذبوي. کړکۍ سترې او پرتمينې دي او ښيښې يې د بمونو پر وړاندې هم کلکې دي. دا کړکۍ اکثره مهال د امنيتي مسايلو په خاطر تړل شوي چې د دې باعث کېږي چې هلته سکوت زيات وي. دا ځای ډېر پاک او سوتره دی او بېلابېل کارګران لري، لکه لارښود کارګر، آشپز، خدمتکاران، بڼوالان، برقي، نقاش او نلدوان. دا ټول کسان باادبه او غلي دي چې ډېر نه ليدل کېږی او معمولاً دې ته په تمه دي چې ته له خونې بهر شې او بيا دوی کوټې ته وردننه شي، ځينې شيان بدل کړي يا هم کټ ته د نژدې ګلدانۍ ګلان لرې کړي او تازه ګلان پکې کېږدي.

دا ځای ډېرې سترې خونې لري، حتا تشنابونه يې هم پراخه دي او سترې الماري لري چې ما وړاندې چېرې نه دي ليدلي. کله به چې ما او باراک يوه خونه ځانونو ته برابروله نو حيران به و، ځکه ډېر موبل او فرنيچر او نور زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



اضافي توکي به مو له هغه ځايه ايستل. خوب خونه کې يو ستر کټ و چې څلور پايې يې درلودې، د سېرې پردې يې درلودې خو له دې کټ سره سره ها خواته يوه ستره شومينه بخارۍ هم وه. همدارنګه د ناستې لپاره څو مېزونه او څوکې هم وې او د قهوې څښلو مېز هم هلته نژدې و. موږ پنځو واړو ته پنځه حمامونه وو او نور لس اضافي حمامونه هم وو. ما د خپلو الماريو تر څنګ يوه ځانګړې خونه هم درلوده چې د جامو اغوستلو لپاره وه. هماغه خونه چې لورا بوش وروستلې وم او د هغې د کړکيو له شا څخه يې د سرو ګلانو د بڼ منظره راښودلې وه. همدا خونه ما د ځان لپاره د کار خونه کړه. ټيشرټ او پتلون به مې اغوستي و، دې خونه کې به ګرزېدم او مطالعه به مې کوله يا به مې هم تلويزيون ليده او له نېکه مرغه د چا پام به هم راته نه و او نه به يې ليدلم.

ما درکول چې ډېره نېکمرغه يم چې داسې ځای کې ژوند کوم. زموږ د استوګنې اصلي اپارتمان زما د پلار او مور د کور له دويم پوړه ډېر ستر و. کله مو چې يوکليد سرک کې ژوند کاوه نو زموږ د خوب له خونې بهر د مونه يوه نقاشي وه چې په دېواله کې مو راځړولې وه او د خوړو خونه کې مو يوه برونزي مجسمه وه چې يوه فرانسوي نقاش او مجسمه جوړوونکې جوړه کړې وه چې دګا نومېده. زه د شيکاګو په جنوبي برخه کې اوسېدم او اوس مې دوې لوڼې درلودې چې په داسې خونو کې ويدې کېدلې چې يوه مشهور کورني طراح رغولې وې او دوی کولای شول چې هر څنګه يې زړه غواړي هغسې سهارې وکړي او د سهار ډوډۍ وخوري. آشپزان مو هم لرل چې لوڼو به مې هر څه ورته ويل نو دوی به پخول او برابرول.

کله ناکله به مې چې د شاوخوا شيانو په اړه سوچ کاوه نو په رېښتيا چې ګنګسېدلم به. له خپلې خوښې سره سم مې هڅه کوله چې د دې ځای ځينې تشريفات او آداب راکم کړم. د مثال په توګه ما خدمتکارانو ته وويل کله چې هر سهار نجونې له خوبه راپاڅېږي نو بايد هغه څه وکړي چې په شيکاګو کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول، یعنې خپل کټ باید خپله ټول او منظم کړي. همدارنګه مالیا او ساشا ته مې هم ویلي وو چې د تل په څېر باادبه او مهربانه واوسي او له حده زیات څه ونه غواړي. دا راته ډېره مهمه وه چې نجونې د هغه ځای د آدابو او تشریفاتو بندیوانې نه شي. نو له همدې امله مې دوی ته اجازه ورکړه چې په دهلیزونو کې توپ بازي وکړي. یا به مې ورته ویل چې پخلنځي ته لاړې شي او څه چې غواړي هغه وخوري. دوی ته مې دا هم وویل چې کله بهر ته ځي او لوبې کوي نو اړینه نه ده چې اجازه واخلي. یوه ورځ له غرمې وروسته مهال و. کوټه کې له کړکۍ سره ولاړه وم، بهر ته مې چې وکتل نو دوی په پلاستیکي پتنوسنو کې ناستې وې او ورسره لوبې یې کولې. دا پتنوسونه یې د پخلنځي له کارکوونکو اخیستي وو. ما چې دوی ولیدې نو خندا راغله.

حقیقت دا وو چې ما او نجونو حمایتي ونډه درلوده. یعنې موږ ټول هغه امکانات او تجملات د دې لپاره کارول چې خوشحاله واوسو او زموږ خوشحالي د دې باعث شي چې باراک خوشحاله شي او وشي کولای چې په آرامه خیال د هېواد بېلابېلو مسایلو او مشکلاتو ته رسیدګي وکړي. په واقعیت کې هر څه چې په سپینه ماڼۍ کې دي، دا ټول د ولسمشر د روغتیا، کار او فعالیت لپاره دي. د هغه ځای د ټولو کارکوونکو او خدمتکارانو دنده دا وه چې له ولسمشر سره د یوې ګرانبیه ګاڼې په شان چلن وکړي. همدا لامل و چې کله ناکله به یې ماته تېر تریخ تاریخ رایاداوه چې د یوې کورنۍ ټول وګړي به په دې لټه کې و چې د یوه شخص اړتیاوې پوره کړي. ما د دې نظریې خلاف نظریه درلوده، ما غوښتل چې لونې مې د خپلې کورنۍ په اړه سوچ وکړي. البته باراک ته هم چې دومره توجه کېده دومره ترې راضي نه و. مګر وضعه یې نه شوای کنترولولی او په دې برخه کې یې کوم کار نشو ترسره کولای.

اوس یې تر لاس لاندې پنځوسو کارکوونکو کار کاوه چې د هغه الکترونیکي لیکونه به یې لوستل او بیا به یې ځوابول. څو چورلکې به هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



برچپکې ولاړې وې چې هر هغه ځای ته یې بوزي چې غواړي یې. همدارنګه یوه شپږ کسیزه ډله هم ورسره وه چې تل به یې اړین اطلاعات راټولول او باراک ته به یې په واک کې ورکول چې هغه وکولای شي معقولانه تصمیمونه ونیسي. څو سرآشپزانو هم د ده خوړو ته پام کاوه چې ښه روغتیا ولري. څو نور کسان هم و چې په ناپېژانده توګه به بېلابېلو مارکېټونو او دوکانونو ته تلل او غذایي توکي به یې اخیستل. دوی به موږ ته سالم خواړه برابرول.

له کله راهیسې مې چې باراک پېژندلی و، نو پوهېدم چې د کورنیو وسایلو او غذایي توکو د پېرلو او اخیستلو هېڅ شوق نه لري او له دې کاره هېڅ خوند نه اخلي. داسې سړی نه و چې ځانته پټه خزانه ولري او یا هم چمنونه برابر او وربېي. یا دا چې د استراحت په وخت کې د ځان لپاره ساده خواړه برابر کړي. اوس چې له دې کورنیو مسئولیتونو او اندېښنو معاف شوی و نو خوشحاله و او ده کولای شول چې ذهن یې مهمو کارونو کې بوخت کړي او سترو مسایلو او ستونزو ته رسیدګی وکړی چې شمېر یې هم زښت زیات وو.

له ټولو جالبه راته دا وه چې اوس هغه درې نظامي مرسیتالان لرل چې دنده یې دا وه چې د جامو الماری یې منظمې کړي او ډاډه شي چې بوټونه یې رنګ شوي، جامې یې اتو شوې او ورزشي جامې یې پاکې او ستره دي او که نه. په هر حال خنګه چې موږ مخکې په یوه اپارتمان کې ژوند کاوه او ده یوه کوچنۍ کاري کوټه درلوده، خو په سپینه ماڼۍ کې مو ژوند له هغه ژوند سره ډېر توپیر درلود.

یوه ورځ سهاري ته ناست وو. باراک په افتخار راته وویل: «ګورې چې څنګه منظم شوی یم. په الماریو کې مې دې جامې لیدلي». زه ورته موسکه شوم او ورته کړل مې: «هو ومې لیدلې، مګر تا خو نه دي مینځلې او تا خو نه دي منظمې کړې، ته په دې کارونو کې هېڅ ونډه نه لرې.»

باراک د خپلې ولسمشرۍ په لومړۍ میاشت کې یو قانون لاسلیک کړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منصفانه تنخا په اړه و او د هغو کارګرانو ملاتړ یې کاوه چې جنسیتي، نژادي یا سِني تبعیض ورسره کېده. ده هغه شکنجې هم لغوه کړې چې محبسونو کې به ورکول کېدې او هڅه یې وکړه چې د یوه کال په موده کې ګوانتانامو محبس هم وتړي. کله به چې د سپینې ماڼۍ لپاره کارکوونکي پر کار ګمارل کېدل نو ډېره لابي به ورته کېدله چې دا کار یې هم بند کړ. تر ټولو مهمه یې لا دا چې کانګرس ته یې یوه مهمه اقتصادي لایحه ورواستوله. خو هېڅ یوه جمهوریپال موافقه رایه ورنه کړه. زما په اند ده سمه تګلاره درلوده او هڅه یې کوله چې کومې وعدې یې په انتخاباتي کمپاینونو کې ورکړي، هغه ټولې په واقعیت واړوي. له دې ټولو جالبو او بېلابېلو دندو سره سره کله به چې شپه شوه نو دی به په خپل وخت کور ته راته. دا بدلون ماته د ډېرې حیرانتیا وړ و چې په سپینه ماڼۍ کې ژوند ما او زما لوڼو ته ډالۍ کړی و. ښایي چې اوس یې له پخوا زیات کار کاوه. مګر فعالیتونه یې ډېر منظم وو. ټیک شپږ نیمې بجې به په لفت کې سپرېده او بر پوړ ته به راته چې د خپلې کورنۍ تر څنګ خواړه وخوري. البته کله ناکله به له څنډ پرته ګردي دفتر ته هم ورګرزېده.

په معمولي توګه، مور به مې د شپې ډوډۍ له موږ سره خوړله. هغه به هر سهار له مالیا او ساشا سره ښوونځي ته هم تله خو د ورځې په اوږدو کې یې خپلې ځانګړې برنامې هم درلودې او د شپې به یې هم غوره دا ګڼله چې یوازې واوسي او تلویزیون وګوري.

په سپینه ماڼۍ کې مې په څو لومړنیو میاشتو کې احساس کړل چې اړینه ده چې هر څه ته پام وکړم. لومړی درس راته دا و چې پوه شوم چې دلته ژوند ډېر لګښتونه خواړي. هلته یوازې د خدمتکارانو، کارکوونکو او همدارنګه د اوبو او برېښنا پیسې دولت پرې کولې. نور لګښتونه چې هره ورځ به زیاتېدل هم زموږ پر غاړه وو. که څه هم هلته د هر څه کیفیت ښه و خو موږ به هره میاشت زیاتې پیسې د خوړو او تیشو پېپرنو په خاطر لګولې. هر مېلمه به چې راته او له موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به د شپې پاتېکېده نو لګښتونه یې زموږ پر غاړه وو. که کله ناکله به د باراک کومې اوستوایي مېوې ته زړه کېده چې په سهارې کې یې وخوري او یا د ماښام لپاره به یې سوشي ته زړه کېده، نو کارکوونکو به ژر برابرول، خو کله مې چې بیا حسابونه وکتل، نو دا توکی به یې یا په ډېره لوړه بیه اخیستي وو او یا به یې هم له بهرنیو هېوادونو راوارد کړي وو.

په لومړنیو څو میاشتو کې مې احساس کړل چې هر څه ته باید رسیدګي وکړم. البته اصلي تمرکز مې پر ساشا او مالیا وو. له دوی نه به مې پوښتنې کولې او ورته ویل به مې چې له نورو ټولګیوالو سره مو څنګه اړیکه لرئ او دوی ستاسو په اړه څه نظر لري. کله به یې چې نوې ملګرې یا نوي ملګري غوره کول نو ما به تندی نه تریوواوه بلکې خوشحالېدم به. ما ته اجازه راکړل شوې وه چې له خپلې شخصي شمېرې ګټه واخلم او له خپلو خپلوانو او نژدې دوستانو سره اړیکه ونیسم. اوس مې ملیسا د دفتر مرسیتاله وه او زما د ژوند پر هر څه خبره وه. ما به چې کله د تره له زامنو او لوڼو او همدارنګه پوهنتوني دوستانو سره اړیکه نیوله نو د دې له طریقه به مې نیوله. د ملیسا شمېره او برېښنالیک مې خپلو زیاتو خپلوانو ته ورکړي وو او ټولې غوښتنې به هم د دې له لارې کېدې چې البته شمېر یې کم هم نه و. تل به زموږ پخوانیو دوستانو او لرې خپلوانو له موږه غوښتنې کولې. د مثال په توګه دوی به پوښتل چې آیا باراک کولای شي چې د یوه چا فراغت غونډه کې وینا وکړي یا به یې له ما غوښتل چې په خپلواکو شخصي موسساتو کې وینا وکړم یا به یې موږ دواړو ته بلنه راکوله چې یوې ځانګړې مېلمستیا ته لاړ شو یا د نقدي مرستو د راټولولو په مراسمو کې ګډون وکړو. اکثره تقاضاوې د ښه نیت له مخې وې، مګر موږ زښته ډېر بوخت وو او نه مو شول کولای چې ټولو ته مثبت ځواب ورکړو.

د نجونو په برخه کې بیا خبره بل شان وه. زما کارکوونکو له هماغه پیله د هغوی د ښوونځي له مدیر او ښوونکو سره خبرې کړې وې او په ښوونځي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د مهمو مراسمو تاريخونه مخکې له مخکې ليکلي وو. همدارنگه د ښوونکو پوښتنې يې هم ځواب کړې وې چې د ټولگي او په ځانگړې توگه د سياسي او خبري موضوعاتو په اړه وې. د ټولنيزو فعاليتونو لپاره به چې کله نجونې له خپلو نورو ټولگيوالو سره له ښوونځي بهر وتلې نو زما مرستيالو به د ټولو زده کوونکو د ميندو او پلرونو د تليفون شمېرې اخيستې او له هغوی سره به يې لازمه همغږي جوړوله. ما هم هماغه شان چلن درلود لکه په شيکاگو کې چې وم يعنې هڅه مې کوله چې د خپلو لوڼو د نوو دوستانو له والدينو سره آشنا شم او هغوی ته بلنه ورکړم چې له موږ سره د غرمې ډوډۍ وخوري. البته دا آشنايي به کله ناکله ډېرې ستونزمنې هم وې، ځکه هغوی به معمولاً د هغه څه له مخې زما او د باراک په اړه قضاوت کاوه چې په تلويزيون يا خبرونو کې به يې اورېدلي وو او ما به خپله زياته هڅه کوله چې خپله واقعي څېره دوی ته ورڅرگنده کړم.

همدارنگه د نجونو لپاره مهالوېش هم په ډېرې سختۍ جوړېده. د مثال په توگه مخکې له دې چې ساشا د جوليا د زېږېدو کليزې ته لاړه شي نو له دې وړاندې به امنيتي چارواکي ورتلل او هره څه به يې پلټل. يا کله به چې ماشومان ماڼۍ ته راتلل چې زموږ له ماشومانو سره لوبې وکړي نو ما ته به دا ډېره سخته وه چې د ميندو يا پلرونو يا سرپرستانو څخه يې د ټولنيز امنيت شمېرې وپوښتم. زړه مې نه غوښتل هر هغه چا ته په امنيتي ليد وگورم چې نوې به ورسره آشنا کېدم. خو ماليا او ساشا ته دې مسايلو چندان اهميت نه درلود. همدا چې د دوی دوستان به له امنيتي پلوه وارزول شول نو د پذيرايۍ سالون ته به راوستل شول، ماليا او ساشا به ژر ورنژدې شولې، هغوی به يې تر لاسونو ونيول او دننه به يې راوستل او لوبې او خنداوې به پيل شوې.

ژر مې پام شو چې يوه ماښامنۍ مېلمستيا بايد جوړه کړم. فبروري مياشت کې هم يو رسمي جشن و چې هر کال لمانځل کېده. له دې وروسته د کرسمېس د چرگې د هگۍ جشن و چې له ۱۸۷۸ څخه پيل شوی و او زرگونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو پکې ګډون کاوه. همدارنګه یوه غرمنۍ مېلمستیا هم وه چې په پسرلي کې د سناتورانو او د استازو د مېرمنو په افتخار جوړېده. دا مېلمستیا هغې مېلمستیا ته ورته وه چې لورا بوش جوړه کړې وه، ډېره راحته پکې خندېده او له مېلمنو سره یې انځورونه اخیستل.

زه پر دې باور وم چې که مېلمستیاوو او ټولنیزو برنامو کې ګډون وکړم نو دا به د دې باعث شي چې له هغو ګټورو کارونو پاتې شم چې غوښتل مې ترسره یې کړم. له همدې امله مې وپتېیله چې له دې وروسته دا مېلمستیاوې او برنامې لږ لنډې او مختصرې جوړې کړم او دودونه لږ بدل کړم. ورو ورو ما او باراک په دې برخه کې څو ګامونه واخیستل. د مثال په توګه، د تور پوستو هنرمندانو ځینې انتزاعي هنري آثار مو په خپل استوګنځای کې پر دېوالونو راوځړول. یا مډرنه او اوسني موبل او فرنیچر مو پر پخواني موبل او فرنیچر ورزیات کړل. باراک په ګردي دفتر کې د وینستون چرچیل مجسمه لرې کړې او د هغې پر ځای یې د مارتین لوترکینګ مجسمه کېښوده. همدارنګه د ماڼۍ کارکوونکو او خدمتکارانو ته مو وویل چې که کومو ورځو کې رسمي مراسم ونه لرو نو کولای شي غیررسمي جامې واغوندي او هوسا شي.

ما او باراک غوښتل چې په سپینه ماڼۍ کې کارکوونکو او خدمتکارانو ته لږ څخه زیاته آزادي ورکړو او د هغه ځای له مړاوی او رسمي حالته ووزو. د مثال په توګه، موږ هغه کسان هم مېلمستیاوو ته راوبلل چې درېشي به یې نه کوله او نېکټایي به یې نه کاروله. موږ غوښتل چې په مراسمو کې د ماشومانو شتون زیات شي. د مثال په توګه موږ د کرسمېس د چرګې د هګۍ په جشن کې اجازه ورکړه چې د ښوونځي زده کوونکي، د نظامي کورنیو ماشومان، د کانګرس د استازو ماشومان او لمسیان او د پېژندل شوو څېرو ماشومان راشي او په دې جشن کې ګډون وکړي.

ما نه غوښتل چې په جشنونو او مراسمو کې د پرانیستې یو ښکلی سېمبول

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوسم. غوښتل مې چې ګټور کارونه ترسره کړم. له همدې امله هڅه مې کوله چې د سپینې ماڼۍ په بڼ کې ځینې کارونه ترسره کړم. د ښوالۍ په چارو چندان نه پوهېدم خو د سم کاس په مرسته اوس پوهېدم چې ځمکني توت په جون میاشت کې ډېر خوندور او اوبور دي. یا هغه کاهو چې لږ تتې پاڼې لري ډېر مقوي دي. یا کولای شو چې تخم پزي کې کرم پوخ کړو. سم کاس هغه څوک و چې زموږ په کورنۍ کې یې روغتیایي خواړه دود کړل. لوښو مې اوس سلاډ، مَټر او د کرم او پوڅې (پنیر) ساندویچ خوړل او نور یې د غذایي شرکتونو خوندورو تبلیغاتو ته پام نه کاوه ځکه هغوی د روغتیایي خوړو په اړه اعلانات نه کول.

د دې لپاره چې روغتیایي خواړه وخورو نو یوه لاره یې داده چې هر څوک په خپل بڼ یا پالېز کې ترکاري وکري. ما هیله لرله چې دا کار د یوه ستر بدلون لامل شي. د باراک د دولت ټوله پاملرنه د سلامتۍ پر بیمې وه او که ما پیغامونه خپاره کړي وای چې په خپلو بڼونو یا پالېزونو کې ترکارۍ وکرئ نو دا به له روغتیایي ژوند سره غوره مرسته وه. د لومړۍ مېرمنۍ په توګه دا طرحه ماته یو ډول چالش و. ما بڼ ته د یوه ټولګي په سترګه کتل چې ماشومان کولای شي هلته لاړ شي او د روغتیایي خوړو په اړه ډېر څه زده کړي. البته مشاوران مې اندېښنه کې وو چې خلک به د دې کار پر وړاندې څه ډول غبرګون وښيي.

په واقعیت کې په پالېز کې کار تر یوې اندازې پورې یوه پلمه وه چې د تغذیې موضوع په پراخه کچه مطرح کړم. په ځانګړې توګه ما په ښوونځیو کې غوښتل چې ماشومانو ته ووایم چې غذایي توکي څنګه تولیدېږي، څنګه لېبل پرې لګول کېږي، څنګه عرضه کېږي او د خلکو پر روغتیا څومره اغېزه کوي. کله مې چې په دې اړه په سپینه ماڼۍ کې خبرې کولې نو د غذایي موادو ستر شرکتونه غلي وو. هغوی کلونه کلونه په دوديزه بڼه خپلې چارې پرمخ وړې وې. په واقعیت کې زه خپله هم نه پوهېدم چې دا طرحه به کوم ځای ته ورسي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس سم کاس سپینې ماڼۍ ته راغلی و او د ده په مرسته مې کولای شول چې دا کار ترسره کړم.

خوشبینۍ مې په هماغه لومړنیو میاشتو کې د سیاسي دخالتونو له امله خپله بڼه بدله کړه. اوس موږ په واشنګټن کې ژوند کاوه او د دیموکراتانو او جمهوریپالو د احمقانه شخړو په مقابل کې ولاړ وو. د ولسمشر له رسمي معرفۍ څو اونۍ وړاندې، د راډیویي برنامو ویاند راش لیمبا په څرګنده او مستقیمه توګه وویل چې هیله لرم چې باراک په انتخاباتو کې ناکامه شي. اوس مې هم په خپلو سترګو لیدل چې د کانګرس جمهوریپال نه غواړي چې له باراکه ملاتړ وکړي چې اقتصادي کړکیچ مهار کړي او مالیې راکمې. کله چې باراک سپینې ماڼۍ ته لاړ نو حسابونو وښودله چې د امریکا اقتصاد په ډېرې چټکې مخ پر ځوړ و. یوازې په جنوري میاشت کې شاوخوا ۷۵۰،۰۰۰ دندې له منځه تللې وې. باراک هڅه کوله چې د دواړو ګوندونو ترمنځ یووالی او همغږي رامنځته کړي او څرګنده کړي چې امریکایان یو بل سره یو لاس دي. مګر جمهوریپال ګوند تل هڅه کوله چې د باراک په مخ کې خنډونه رامنځته کړي.

د فبرورۍ د ۲۴ نېټې په شپه کې باراک د کانګرس د ګوندونو ترمنځ یوه ګډه غونډه جوړه کړه. دې غونډې ته د سترې محکمې قاضیان، د کابینې غړي، د پوځ جنرالان او د کانګرس استازي هم رابلل شوي و. خو کله چې باراک وینا وکړه، نو څوک به چې ورسره موافق و، هڅولو او تشویقولو به یې او څوک به چې د ده له نظریو سره مخالف و، نو غلي او ګورم به ځای پر ځای ناست وو. هغه غونډه کې زه هم وم. د یوه څوارلس کلن ماشوم او د یوه تقاعد شوي سرتېري منځ کې ناسته وم. څوارلس کلن هلک مو ځکه راغوښتی و چې ولسمشر ته یې له پېرزوینو ډک لیک رااستولی و او تقاعد سرتېری هم د جګړې یو اتل و. له غونډې وروسته بالکون ته لاړم او له بالکونه مې د غونډې ګډونوالو ته وروکتل چې سپین پوستانو تورې درېشې اغوستې وې، تور معلومېدل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګي تنوع هېڅ ځرګ نه ځرګندېده.

کله چې باراک له څو ساتونکو او یوه فلمبردار سره غونډې ته راغی نو ټول شته کسان پاڅېدل، څو دقیقې یې لاسونه وپړکول او هغه یې تشویق کړ. ما کلونه کلونه وړاندې دا مراسم په تلویزیون کې لیدلي وو خو اوس مې خپل مېړه لیده چې د هرې لایحې او هر قانون د تصویبولو لپاره یې د کانګرس د غړو له نیمو ځخه د زیاتو رایو ته اړتیا درلوده. هغه شپه باراک په خپله وینا کې وویل چې د هېواد اقتصاد ناهیلې کوونکی دی. بیا یې د جګړو او د ترهګریزو بریدونو د ګواښونو په اړه خبرې وکړې او دا یې هم وویل چې امریکایان دې ته په غوسه دي چې ولې دولت له بانکونو سره مالي مرسته کوي. خو په عین حال کې یې خلکو ته هیله هم ورکړه او ویې ویل چې موږ په به ګډه دا سخت دوران شاته پرېږدو. ما له بالکون ځخه په ښه توګه لیدل چې د کانګرس جمهوریپال غړي، زیاتره مهال غوسه دي، لاسونه یې په سینو اېښي او ګورم ناست دي. هڅوی د هر هغه کار مخالفت کاوه چې باراک به ترسره کاوه. خو په واقعیت کې دوی هېره کړې وه چې د هېواد د ټولو ستونزو جرړه د دوی پخوانی جمهوریپال ولسمشر و.

په ژوند کې ډېر ښه شیان او ډېرې ښېګڼې شته. زه چې کله نجلۍ وم نو د ژوند د ښو شیانو او ښېګڼو په اړه مې مبهم تصورات درلودل. کله به چې د ګور خویندو کور ته ورتلم چې لوبې ورسره وکړم او لیدل به مې چې د دوی کور ډېر ستر دی، نو بخیلي به راتله. له ځانه سره به مې انګېرل چې که زما کورنۍ هم یو ښکلی موټر ولري نو څومره به ښه وي. کله به مې چې ولیدل چې زما ملګرې څومره ښکلې باربي نانځکې او د لوبو بېلابېل توکي لري نو ما به هم غوښتل چې هغسې شیان ولرم. دا په داسې حال کې وه چې مور به مې هم ماته له زړو ټوټو او ارزانبیه توکو نانځکې جوړولې. ماشومتوب کې سخته وي چې د یوه څه په ارزښت پوه شې. ځنګه چې اوس موږ په سپینه ماڼۍ کې ژوند کاوه نو ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راته جلال او پرتم کمېده او نوره راته دومره ستره ماڼۍ نه ښکارېده. په خپل استوګنځای کې مې ځينې بدلونونه راوستل. د مثال په توګه، که څه هم په ماڼۍ کې ستر ستر پخواني قنديلونه وو، مګر ما پکې څو نور ګروپونه هم نصب کړل چې زموږ د کور په شان وي. همدارنګه د ماليا او ساشا په خونو کې مې هم هغه توکي کېښودل چې باراک په خپلو بېلابېلو سفرونو کې ورته اخيستي وو، لکه د ماليا لپاره کيلي‌بندونه او د ساشا لپاره ښيښه‌يي توپونه چې په منځ کې يې نانځکې او نور شيان وو.

د مور مې هم سپينه ماڼۍ چندان نه خوښېده، ځکه رسمي حالت پکې وو او د يوه موزيم په څېر وه، خو ژر متوجه شوه چې هغه ځای کې داسې بېلابېل شيان شته چې کېدی شي ورته جالب او زړه راښکوونکي واوسي، د مثال په توګه د سپينې ماڼۍ د کارکوونکو وقار او متانت چې کلونه کلونه يې هلته د هرې کورنۍ خدمت کړی و. ما به چې دا کسان ليدل نو خپل يو مشر خپلوان به مې يادېده چې تري نومېده او په يوکليد سړک کې يې ژوند کاوه، بند لرونکی پتلون به يې اغوسته او د خپل کور د مخې چمنونه به يې لنډول. ما هڅه کوله چې زما چلن د ماڼۍ له خدمتکارانو او کارکوونکو سره د درناوي له مخې وي. هغوی زموږ د سيال ګونډ غړي وو خو په ښکاره يې څه نه ويل. دوی ورو ورو وپوهېدل چې څه وخت موږ يوازې پرېږدي او يا کله له موږ سره ټوکې وکړي. کله ناکله به دوی په پخلنځي کې د خپلې خوښې وړ ورزشونو په باره کې غږېدل او کله به يې هم هغه نوې ګونګوسې يادولې چې زما په اړه به ويل کېدې. کله ناکله به يې د خپلو لمسيانو په اړه هم راته خبرې کولې. کله به چې ماښام پلو په تلويزيون کې د باسکټبال لوبې وې نو کله ناکله به باراک هم ورتله، له دوی سره به کېناسته او څو شېبې به يې لوبه کتله. د ساشا او ماليا جو ډېره خوښېدله، ځکه ډېره صميمي وه. نجونې به هم کله کله له ښوونځي وروسته پخلنځي ته تلې او هلته به يې له جوارو پولې پخولې. د ماڼۍ د اکثرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکوونکو زما له مور سره جوړه وه او کله ناکله به یې خونې ته هم ورتللې.

سپینه ماڼۍ کې د کال سنتر برخه هم وه چې چارواکو به یې د سهار له خوا له خوبه هم راپاڅولم. له څه مودې وروسته ما وکولای شول چې د دې برخې له کارکوونکو سره هم صمیمي شم. له دوی سره به غږېدم هم، د هوا په اړه به مې له دوی سره خبرې کولې او دوی ته به مې ویل چې له باراکه څو ساعته وړاندې وېښه شوې یم او اوس دا دی د رسمي مراسمو لپاره ځان چمتو کوم. موږ یو خدمتکار درلود چې تور پوستی و، وېښته یې سپین شوي و، جېمز رمزي نومېده چې د کارتر د دولت راهیسې یې به سپینه ماڼۍ کې کار کاوه. هغه به کله کله د جټ مجلې یوه ګڼه راته راوړله او په ډېر غرور به یې راته ویل: «آغلې اوباما په دې ګڼه کې ستاسو په اړه څه لیکل شوي.» همدې دوستیو او صمیمیتونو زموږ لپاره ژوند ډېر ښکلی کاوه.

ما فکر کاوه چې په سپینه ماڼۍ کې زموږ استوګنځی ډېر ستر او ډېر پرتمین دی او له دې ځایه ښکلی ځای په نړۍ کې هم نشته، خو کله چې په اپرېل میاشت کې انګلستان ته لاړم او له ملکې الیزابت سره مې ولیدل نو داسې نه وه. له انتخاباتو وروسته زما او د باراک لومړی سفر انګلستان ته و. د ولسمشرۍ په ځانګړې الوتکه کې مو لندن ته الوتنه وکړه. دې ځای کې یوه غونډه جوړېده چې د دېرشو سترو اقتصادي هېوادونو رهبرانو پکې ګډون کاوه. د امریکا اقتصادي کړکېچ او ځوړتیا پر ټولې نړۍ منفي اغېز کړی و او د نړۍ د بازارونو چندان خونده نه وه. د باراک اصلي دنده دا وه چې د تېر دولت تېروتنې او سرسري کتنې پاکې کړي او د نړیوال بازار ښه بېرته ورغوي. ساشا او مالیا نورې په خپل ښوونځی کې بلدې شوې وې. ما هم هر څه خپلې مور ته پرېښودل. که څه هم پوهېدم چې د دې لپاره چې زما مور ښه نیا واوسي نو سختګیري باید ونه کړي، لکه پر نجونو ژر فشار رانه وړي چې ژر ویدې شي، یا ورته ووایي چې دا وخوره دا مه خوره. زما ښه یادېږي چې کله زه او کرېګ ماشومان وو، نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مور څخه مو زياته خپله نيا خوښېده.

د شل کسيزې اقتصادي ډلې کوربتوب د بريتانيا لومړي وزير گوردون براون کاوه. په دې ډول غونډو کې به معمولاً د انگلستان ملکې د نړۍ رهبران باکينگهام ماڼۍ ته وربلل. په دې ماڼۍ کې ما او باراک نوې څېرې وليدلې، خو له دې ليدنو کتونو وړاندې مورږ له ملکې سره په خصوصي توگه هم کتلي وو.

ما له هغې وړاندې له سلطنتي کورنۍ سره کومه ليدنه نه وه کړې. مشاورانو مې وويل چې ملکې ته تعظيم هم کولای شې او لاس هم ورکولای شې. مورږ له يوې لوړې او وسپنيزې دروازې ماڼۍ ته وردننه شوو، د ماڼۍ شاوخوا کې بېلابېل کسانو ولاړ و، مورږ ته يې کتل، د ماڼۍ ساتونکي هم وو، کله چې باکينگهام ماڼۍ ته وردننه شوو، نو ومې ليدل چې څومره پراخه ده. دا ماڼۍ د سپينې ماڼۍ پنځلس برابره ده او ۷۷٦ خونې لري. زه او باراک څو وارې نور هم دې ماڼۍ کې مېلمانه شوو. په راتلونکو سفرونو کې مو په يوه پرتمين هوټل کې استوگنه کوله. مورږ به په رسمي مېلمستياوو کې په طلايي قاشوغو او پنجو خواړه خوړل. کله چې له خپلې مور او لوڼو سره هلته تللې وم نو لاربښود يوه ورځ د سرو گلونو ماڼۍ ته بوتلو چې شاوخوا يو هکتاره يې پراخوالی درلود او زر گونه گلان پکې وو. ما چې کله دا گلان د سپينې ماڼۍ له گلانو سره پرتله کړل نو د سپينې ماڼۍ گلان راته ناچيزه ښکاره شول.

مورږ ته وويل شول چې ناست‌خونې ته لاړ شو. هلته ملکه او شاهزاده فيلپ راته په تمه وو. د انگلستان ملکه دويمه اليزابت هغه مهال دوه اتيا کلنه وه، زړه شوې وه، کوچنی ځان يې درلود چې ښکلې ښکارېده، گلابي جامې يې اغوستې وې او يو مشکي دستگول يې لاس کې و. مورږ هغې ته لاسونه ورکړل او انځورونه مو ورسره واخيستل. بيا مو د بريتانيا د اقتصاد او وضعيت او داسې نورو مسايلو په اړه خبرې وکړې. ما د ملکې څېره په ځلونو ځلونو په تاريخي کتابونو، فلزي سکو او پيسو او همدارنگه تلويزيون کې ليدلې وه. خو هغه شېبه دې ته ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې ناسته وم او په درناوي مې ورته کتل.

هماغه ورځ د شل کسیزو رهبرانو غونډه له غرمې وروسته جوړه شوې وه. شلو رهبرانو خپلې مېرمنې هم له ځانونو سره راوستلې وې چې په غونډه کې یې ګډون کاوه. ما او باراک هم په دې غونډه کې ګډون وکړ او له دوی سره مې قهوه وڅښله او خواږه مې ورسره وخوړل. د آلمان له لومړۍ وزیرې انګلا مېرکل، د فرانسې له ولسمشر نیکولای سارکوزي، د عربستان له پاچا، د ارجنټاین له ولسمشر، د جاپان او ایتوپیا له لومړنیو وزیرانو سره مې وکتل او له هغوی سره مې خبرې اترې وکړې. هڅه مې کوله چې ډېرې خبرې ونه کړم، ځکه هسې نه چې کومه تېروتنه وکړم. هلته مې ولیدل چې د بېلابېلو هېوادونو رهبران کله کله د خپلو اولادونو په اړه خبرې کوي او د بریتانیا د هوا په اړه کله ناکله یو بل سره ټوکې کوي. د مېلمستیا په پای کې مې پام شو چې د انګلستان ملکه زما څنګ کې ناسته ده. سپینې دستکشې یې په لاس کړې وې او تر او تازه ښکارېده. بیا راته موسکه شوه او راته کړل یې: «ډېره دنګه یې.» ما وخندل او ورته ومې ویل چې: «د بوټو تلي مې لوړ دي، مګر زه هم لوړه یم.» بیا ملکې زما بوټونو ته وکتل او راته کړل یې: «داسې ښکاري چې دې بوټونو کې ناراحته یې.» ملکې ته مې وویل: «هو، په دې بوټونو کې مې پښې خوږېږي.» بیا نو دې راته وکتل او ویې خندل. زه له دې سره دومره په خبرو کې ګرمه راغلې وم چې حتا د الماسو تاج مه یې هم ونه لید چې کله کله به یې پر خپل سر اېښوده. څنګه چې دې غونډې ته د ولسمشر په ځانګړې جټ الوتکه کې تللې وم او ویل مې چې ځه کوم رسمي سفر نه دی نو په مهربانۍ مې د ملکې پر اوږه لاس هم کېښود. زه نه پوهېدم چې دا کار یوه ستره تېروتنه ده. څو ورځې وروسته دا کړنه په پراخه توګه د نړۍ په رسنیو کې خپره شوه. د دې شېبې انځور رسنیو اخیستی و او هر چېرې خپرېدو. ټولو ورته لیکلي وو: «د لوړپوړو چارواکو له خوا د رسمي آدابو تر پښو لاندې کول. میشل اوباما ملکه غېږ کې نیولې ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنيو کې زه بې فرهنګه معرفي شوې وم چې نه پوهېدم په رسمي غونډو کې څنګه چلن وکړم. زما په اند ملکه له دې چلنده خواشينې نه شوه او حتا رانژدې هم شوه او زما پر شاه يې لاس هم کېښود. خو زه ډېره ناراحته وم چې د باراک آبرو مې وړې وه.

بلې ورځې ته باراک بايد يوې سترې کوونکې اقتصادي غونډې ته ورغلی وای. ما هم غوره وګڼله چې په ايزلينګتون سيمه کې د نجونو يوه دولتي ښوونځي ته لاړه شم. دې ښوونځي کې ۹۰۰ زده کوونکو زده کړې کولې چې له نوي سلنې څخه زياته برخه يې تور پوستې يا نژادي لږکۍ وې. د ښوونځي پنځه سلنه برخه هم د کډوالو لونې وې. ښوونځي کې نژادي تنوع وه، مالي سرچينې يې کمې وې، مګر له ښوونيز پلوه په لوړه کچه کې وو. ما غوښتل چې نه يوازې د ښوونځي له چارواکو سره خبرې وکړم بلکې غوښتل مې له هغو زده کوونکو سره هم خبرې وکړم چې هلته يې ژوند کاوه او زده کړې يې کولې. په بهرنيو سفرونو کې ما تل هڅه کوله چې همدا کار وکړم. د دې ښوونځي ودانۍ له پخو خښتو رغېدلې وه. سيمه يې يوه نوموړکې سيمه وه. کله چې ورغلم، دوه سوه زده کوونکې په يوه سالون کې راټولې شوې وې چې د ننداړو له ليدلو وروسته زما وينا واوري. زه په يوه عادي څوکۍ کې ناسته وم. لومړی د شکسپير يوه ننداره وړاندې شوه چې نڅا او سندرې پکې وې. ما هم ننداره وکتله. خو شاوخوا ته مې چې وکتل نو ومې ليدل چې باحجابه نجونې هم شته چې قهوه‌يي رنګ لري او انګليسي يې دويمه ژبه ده. دې نجونو ته د بېوزلۍ، جنسيت او د پوټکي د رنګ له امله زياته پاملرنه نه کېده او د ټولنې له خوا رټل کېدې هم خو دوی بايد ډېره هڅه کړې وای چې ټولنه کې څرګندې شي. له درونه ولړزېدم. دوی زما په څېر وې. ننداره چې پای ته ورسېده، د دريځ شاته لاړم، له دوی سره څو کلمې وغږېدم. احساسات مې پارېدلي وو. مشاورانو مې چې کوم يادښتونه راکړي وو، ورته ومې کتل، مګر ژر مې هيسته کړل او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادښتنو پرته مې خبرې پیل کړې. ومې ویل: «که څه هم د امریکا لومړۍ مېرمن یم. مګر تاسو ته ډېره ورته یم. ځکه د کارګرانو په سیمه کېستره شوې یم. یعنې په داسې کورنۍ کې لویه شوې یم چې کمه تنخا مو درلوده. خو ډېر ژر پوه شوم چې که ښوونځي کې زده کړې وکړم او لوستې شم نو په ټولنه کې به خپل واقعي مقام ومومم.»

هغه مهال له دوو میاشتو زیاته موده کېده چې د امریکا لومړۍ مېرمن وم. مګر احساسول مې چې هغو ټولو تجملاتو له خپلې واقعي بڼې څخه لرې کړې وم. خو کله مې چې هلته له هغو نجونو سره خبرې کولې نو زما پخوانی هویت زما له اوسني نقش سره غاړه غړۍ شو او له یو بل سره یې پیوستون پیدا کړ. آیا په کافي اندازه ښه یې؟ هو یم. ما د ښوونځي زده کوونکو ته وویل چې تاسې ارزښتمنې یئ، پر ځان ایمان ولرئ او خپلې موخې تعقیب کړئ. کله چې زما خبرې پای ته ورسېدې، نو پاڅېدم او یوه یوه نجلۍ مې په غېږ کې ونیوله.

کله چې واشنګټن ته ورسېدم او خپل کور ته لاړم پسرلی رارسېدلی و. لمر به هره ورځ په آسمان کې لږ زیات پاتې کېده او لږ څه ناوخته به لوېده. چمنونه غوړېدلي وو او شنه او تر و تازه ښکارېدل. کله به چې له کړکۍ سره ولاړه وم او انګړ ته به مې وکتل نو سره او ارغواني ګلان به مې لیدل چې ورو ورو یې د فوارو په شاوخوا کې وده کوله. ما او زما مرستیالانو تېرو دوو میاشتو کې ډېر کارونه کړي وو چې زما نظریې د بڼ او بڼوالۍ په برخه کې په واقعیت بدلې کړو. خو ګواکې داسې ښکارېدل چې دا کار دومره آسانه هم نه دی. موږ باید د بڼونو ملي سازمان او د سپینې ماڼۍ مسئولین دې ته راضي کړي وای چې د ځمکې له ځینو برخو چمنونه لرې کړي. زموږ دا وړاندیز په پیل کې له مقاومت سره مخ شو. لس ګونه کاله کېدل چې د سپینې ماڼۍ ویکتوري ماڼۍ د الینور روزولټ له نظریو سره سمه زرغونېده او چا نه غوښتل چې په هغې کې کوم بدلون رامنځته شي. حتا سم کاس راته ویل: «هغوی فکر کوي چې موږ لېوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي يو.»

خو بلاخره موږ وکولای شول چې خپله خبره ریښتیا کړو. موږ ته د تېنس د ځمکې شاته يوه ټوټه ځمکه راکړل شوه. سم کاس يو ښه ځای غوښته. لنډه دا چې د جنوبي چمنونو په لمرينه برخه کې موږ ته شاوخوا ۱۵۰ متر مربع ځای راکړل شو چې له ګردي سالونه او همدارنګه د نجونو د لوبو له ځای او زانګوګانو څخه دومره لرې نه و. له ساتونکو سره مو خبرې وکړې چې هسې نه په هغه برخه کې له امنيتي امله کومه ستونزه رامنځته نه کړو. همدارنګه خاوره مو هم وارزوله چې وګورو چې هسې نه زهري مادې لکه سرب او سيماب ونه لري او د کار لپاره مناسبه وي. بلاخره کار مو پيل کړ.

يو لومړنی ښوونځی و چې بنکرافت نومېده او په دوو ژبو پکې زده کړې کېدې. څنګه چې زه له څو ورځو وروسته له اروپا راګرزېدلې وم، نو د دې ښوونځي ځينو زده کوونکو ته مې بلنه ورکړه چې کروندې ته راشي. دا ماشومان څو اونۍ وړاندې هم راغلي وو او په بېل وهلو او د خاورې په برابرولو او د ځمکې په کرلو کې يې له ما سره مرسته کړې وه. زموږ کرونده هغې برخې ته نژدې وه چې سيلانيان به ورته راتلل او سپينه ماڼۍ به يې له نژدې کتله. زما زړه غوښتل چې هغوی هم زموږ د کار پايله ووينې. البته سل په سلو کې نه کېدل چې د بوټو له ودې ډاډه واوسو. په هر حال رسنۍ مو هم رابللې وې چې دې کار ته خبري پوښښ ورکړي. همدارنګه پلان داسې وو چې دې مراسمو ته د سپينې ماڼۍ سرآشپزان او د کرنې وزير هم راتلل. سم ته مې وويل چې هيله ده چې زموږ کار پايله ورکړي.

کله چې د پنځم ټولګي زده کوونکي راورسېدل نو زه شوم او دوی شول، ټولو به ګونډې وهلې او تخمونه به مو په خاوره کې کرل. ماشومانو د سبو په اړه له ما ځينې پوښتنې وکړې. همدارنګه دوی هيجاني وو او راته ويل يې چې ولسمشر چېرې دی او ولې راځي نه. له ماشومانو سره مې کار ډېر خوښېده. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مې چې له دوی سره کار کاوه نو د لومړۍ مېرمنې په توګه به مې چې څه اندېښنې درلودې ټولې به مې هېرولې. دوی زما په اړه قضاوتونه نه کول او یوازې ورته یوه دنګه او مهربانه مېرمن وم. لنډه دا چې هغه ورځ سهار مو د کاهو، پالکو، ګلپي، بروکلي او مټرو تخمونه وکرل. نه پوهېدو چې آیا رازرغون به شي او که نه یا وده به وکړي او که نه. په هر حال موږ باید خپله هڅه کړې وای او بیا مو باید هیله پیدا کړې وای چې باران او لمر هم زموږ مرستې راشي او زموږ کاره ګټه‌ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۱

د مې مياشت وه. دې مياشت کې يوه يکشنبه باراک وپتېيله چې ما ورسره بهر ته بوزي چې د ماښام ډوډۍ وخورو. څلور مياشتې يې تېرېدې چې ولسمشر شوی و. په دې موده کې يې هڅه کوله چې هغه ژمنې عملي کړي چې په انتخاباتو کې يې ورکړې وې. اوس يې غوښتل چې زما ژمنې هم پوره کړي. ما غوښتل نيويورک ته لاړ شو، ماښامی وخورو او يوه ننداره وگورو.

کوم کلونه چې شيکاگو کې وو او د شپې به په گډه بيرون ته تلو، نو دا شپې موږ ته په هره اونۍ کې ډېرې سپېڅلې او مهمې شمېرل کېدې. دا يوه تفريح وه چې موږ په ژوند کې رامنځته کړې وه او هر څنگه شرايط به چې وو دا کار به مو کاوه. زما دا خوښېدل چې له خپل مېړه سره رستوران ته لاړه شم، هلته تته رڼا خپره وي، په يوه کوچني مېز ورسره کېنم او ورسره خبرې وکړم. هيله ده چې تل همداسې وي. باراک ډېر زغم لري، په ځيره مې خبرې اوري او ښه اورېدونکی دی. کله چې خاندي، نو خپل سر لږ شاته کړي چې زما يې دا حالت ډېر خوښېږي. زه يې د سترگو پر پړکا مينه يم او د ده په چلن کې مينه او مهربانۍ دي. کله چې سره کېنو او په آرامۍ خواړه خورو يا څه څښو نو هماغه تېر خوشحاله دوران ته ورستېښېږو. هماغه گرم دوبي ته چې له يو بله سره مو مينه پيدا شوه.

هغه شپه مې تورچکې جامې واغوستې، لبسيرن مې هم ووهل او وېښته مې هم لږ سينگار کړل. دا چې له مودو وروسته مې غوښتل له خپل مېړه سره يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوسم نو هیجاني وم. البته په دې وروستیو کې مو څو مېلمستیاوې هم نیولې وې او له هغې وروسته د کېندي د ننداړو مرکز ته هم تللي وو. مګر دې ټولو رسمي حالت درلود. دا شپه یوازې زه او باراک وو. باراک هم تورچکه دریشي اغوستې وه. مګر نکټايي يې نه درلوده. ما خپله مور او خپلې لوڼې ښکل کړې. له هغوی سره مې خدای پاماني وکړه، چمن ته ښکته شوم، په چورلکه کې کېناستم چې موږ اندروز نظامي هډې ته بوزي. له هغې ځایه یوه کوچنۍ ځانګړې الوتکه کېندي هوايي ډګر ته آلوته او بیا له هغې ځایه په چورلکه کې منهتن ته تلو. امنیتي چارواکو زموږ د خوندیتابه لپاره برنامه جوړه کړې وه. بیا له منهتن څخه تر ګرېنویچ ویلیج پورې په زرې موټر کې لاړو چې امنیتي ساتونکي هم راسره وو. کومې څلورلارې ته به چې ورسېدو او موټر به وو نو دوی به هارنګونه کول، نور موټر به يې درول چې موږ تېر شو. خو ما د دې کار په خاطر د ګناه احساس کاوه. د دې ښار په سړکونو کې زموږ شتون، د دې ځای عادي جریان ګډوډ کړی و. نیویارک ستر او له بیروباره ډک ښار دی او عجیبه پرتم لري چې انسان د هغې پر وړاندې ځان ډېر کوچنی ویني. زما یوه ښوونکې وه چرني نومېده چې څو کاله وړاندې ورسره دې ښار ته راغلې وم او هر څه ته حیرانه شوې وم. باراک هم زما په څېر احساس درلود. هغه کلونه کلونه وړاندې د کلمبیا پوهنتون محصل و. همدا پوهنتون و چې د باراک استعداد پکې غوړېدلی و او سترې هیلې يې په مغزو کې پیدا شوې وې.

دې ځای ته له راتلو وړاندې باراک له سم کاس سره مشوره کړې وه او د هغه له مشورې سره سم يې یو کوچنی او ګوښه رستوران پیدا کړی و چې بلوهیل نومېده او محلي خواړه يې لرل. سم کاس دا رستوران ځکه ورښودلی و چې داسې خواړه زما خوښېدل. کله چې رستوران ته لاړو موږ ګوښه ځای غوښته، نو راته لارښوونه وشوه چې یوه ګوښه ځای ته لاړ شو. د نورو مېزنو شاته چې څوک ناست و هڅه يې کوله چې موږ ته پاملرنه ونه کړي. له موږ وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک به چې رستوران ته راتلل نو امنيتي چارواکو به په الکترونيکي دستګاوو تلاشي کول. له دې موضوع څخه ما بيا شرم احساس کړ.

ښناک مو راوغوښتل. خبرې مو پيل کړې او د خپل ژوند د معمولي مسايلو په اړه غږېدو. شاوخوا څلور مياشتې کېدې چې په سپينه ماڼۍ کې اوسېدو مګر تر اوسه هم نه وو توانېدلي چې خپل تېر هويت له خپل اوسني وضعيت سره همغږی کړو او هغې ته معنا ورکړو. هغه مهال د باراک ټول پېچلي فعاليتونه زما پر ژوند اغېزمن وو. د مثال په توګه، ده به غوښتل چې د نجونو په رخصتيو کې يو بهرنۍ سفر ولرو. بيا به د سپينې ماڼۍ چارواکو راته برنامه جوړوله. مګر ما به هڅه کوله چې خپلې شخصي برنامې هم ولرم او د سپينې ماڼۍ په مسايلو کې دخالت ونه کړم. په هر حال باراک له بېلابېلو ستونزمنو مسايلو سره مخامخ و چې بايد هوار کړي يې واى. جنرال موتورز شرکت غوښتل چې په څو راتلونکو ورځو کې خپله پرځېدنه اعلان کړي. شمالي کوريا يوه هستوي آزموينه ترسره کړې وه او باراک غوښتل چې څو راتلونکو ورځو کې مصر ته لاړ شي چې په يوه ناسته کې د نړۍ له مسلمانانو سره خبرې اترې وکړي. ګواکې داسې ښکارېدل چې تل له کړکېچ سره مخامخ دی. له همدې امله کله به چې زموږ پخواني دوستان زموږ ليدو ته سپينې ماڼۍ ته راتلل نو زما او باراک نه خوښېدل چې د سياسي او ځينو نورو مسايلو په اړه خبرې وکړو، زيات مو دا خوښېدل چې هماغه د ماشومانو د معمولي مسايلو، بوختياوو يا تفرېحاتو او دې ته ورته شيانو په اړه خبرې وکړو.

لنډه دا چې هغه ورځ په هغه ګوښه رستوران کې، له تتې رڼا لاندې مو ښناک وڅيښ، خواړه مو وخوړل او خبرې مو سره وکړې. که څه هم په هغه فضا او چاپېريال کې مو احساسات چندان واقعي نه وو. د سپينې ماڼۍ دننه هم وضعه همداسې وه. يعنې هلته پرتمينه ماڼۍ ده چې د امنيتي چارواکو له خوا په بشپړه توګه تر نظر لاندې نيول شوې. د چارواکو هم خوښېږي چې موږ هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلنونه ډېر کم ترسره کړو چې د ګوابښونو احتمال يې شته. د مثال په توګه، د زينو په ځای له لفته ګټه واخلو يا د دې پرځای چې په آزاده هوا کې پلی تګ وکړو غوره دا وګڼو چې زرې موټر کې سپاره شو. البته موږ پوهېږو چې دوی له ښه نيته دا کار کوي. موږ دوی ته درناوی لرو، مګر حقيقت دا دی چې هلته بنديان شوي وو. که د کورنۍ کوم غړي به مو غوښتل چې بالکون ته لاړ شي نو مخکې يې بايد امنيتي چارواکي خبر کړي وای چې هغوی هغه سيلانيان يوې خوا بلې خوا ته کړي وای چې هلته چکر ته راغلي وو. دا کار د امنيت په خاطر کېده چې امينت ټينګ شي. کله کله به مې زړه ته راتېر شول چې ځه بالکون کې قهوه وڅښم، مګر وروسته به مې وليدل چې کېدی شي دا کار مې امنيتي چارواکو ته ستونزه رامنځته کړي نو ترې تېره به شوم. په دې توګه زما او د باراک فعاليتونه ورو ورو کمېدل او کمېدل. په همدې خاطر ډېری مهال به هغه سالون ته ورتلو چې د سپينې ماڼۍ په بر پوړ کې و. باراک به د منډې په ماشين کې تګ کاوه. دلته به زموږ استاد هم و چې کرنل نومېده. ما هم هره ورځ د استاد تر نظر لاندې ورزش کاوه او وزنونه به مې پورته کول.

هغه شپه چې موږ ماښامی کاوه، نو د تولې په اړه مو خبرې وکړې چې ماليا غږوله او همدارنګه د ساشا په اړه هم وغږېدو چې له زړې نانځکې سره يې ډېره مينه درلوده او کله به چې د شپې ويده کېده نو په خوا کې به يې ورسره څملوله. ما باراک ته د خپلې مور کيسه هم وکړه چې يو وخت يې عکاس انځور اخيسته خو له انځور اخيستلو وړاندې يې ورته مصنوعي باڼه نه و اېښودلي. باراک به د تل په څېر خپل سر شاته کاوه او خندل به يې. د خپلې کورنۍ د نوي غړي په اړه مو هم خبرې وکړې چې يو سپی و، بو نومېده او سناتور کندي موږ ته ډالۍ کړی و. له دې سپي سره به په چمنونو کې نجونو لوبې کولې، قابونه به يې لرې غورځول او سپي به ورته راوړل، يا به يې ورته غږ کاوه چې دوی پيدا کړي. په کور کې له بو سره د ټولو جوړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره کله مو چې خواړه پای ته ورسېدل او تلو نو هلته چې څوک وو راته پاڅېدل او موږ ته یې لاسونه وپړکول. موږ سره یې ډېره مینه وکړه. که څه هم ضروري نه وه. ښایي هم له دې امله خوشحاله شوي وو چې موږ له هغه ځایه تلو. په هر حال موږ باید منلي وای چې د خپل حضور په خاطر مو نورو ته ستونزې راټوکولې.

تیاتر ته له تللو وړاندې، پولیسان هلته تللي وو او د تیاتر ټول لیدونکي یې تلاشي کړي وو. چې پایله یې دا شوې وه چې ننداره ۴۵ دقیقې ناوخته پیل شي. د اګوست ویلسون ننداره وړاندې کېده چې د پیتسبورګ ښار د یوه ښوونځي په اړه وه. دې ښوونځي کې هم له ورځې زده کړې کېدې او هم له شپې. همدارنګه دا ننداره د هغو میلیونو تور پوستو امریکایانو په اړه هم وه چې د هېواد له جنوبه د هېواد غربي پلو ته راغلي وو. دا هماغه کډوالي وه چې زما خپلوانو هم ترسره کړې وه. د باراک تر څنګ ناسته وم. لږ احساساتي شوې هم وم او د یوې لنډې مودې لپاره مې خپل ورځني مسئولیتونه شاته پرېښي وو.

بلاخره شپه ناوخته وه چې واشنګټن ته لاړو. تګ مو هم د راتګ په شان وو، یعني په هماغه الوتکو کې لاړو او هماغه لارمې مو ووهلې. نه پوهېدم چې څومره موده وروسته به بیا داسې یو ځای شو او له ژونده به خوند واخلو. خو په راتلونکو ورځو کې د باراک سیاسي سیالانو په ځانګړې توګه جمهوریپال ګوند له دې امله پر موږ نیوکه وکړه چې ولې نیویورک ته تللي یو. دوی ویل چې په دې کار ډېر لګښتونه راغلي. د باراک مشورتي ټیم هم له موږ څخه هیله وکړه چې رسنیو او نړیوال سیاست ته زیاته پاملرنه وکړو. لنډه دا چې ډېرې ترخې نیوکې راباندې وشوې. دا نیوکې د دې باعث شوې چې ځانځاني او شرم احساس کړم. مګر ما او باراک خوشحاله هم وو چې توانېدلي وو یو څو ساعته له سیاسته او د هغې له ښکېلتیاوو ځانونه خلاص کړو، ګوښه ځای ته لاړ شو، هلته له خوندور غروبه خوند واخلو، ښه وخت تېر کړو، خوندور خواړه وخورو او له یوې ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نندارې خوند واخلو. موږ په دې هم پوهېدو چې د امنيتي چارواکو او سيمه‌يزو پوليسو ساعتونه ساعتونه وخت مو نيولی او همدارنګه د تياتر کارکوونکي، د هوټل ګارسونان او په سړکونو کې موټرونه مو په زحمت کړي، نو دې ټولو ته مو پام وو او دا هر څه مو منل او ګناه مو احساسوله، نو ځکه ځينو کسانو زموږ دا چلن ستايه او په ډېره ښه سترګه يې راته کتل چې دا احساس خو لرو چې خپله ګناه ومنو.

اوس نو په انګړ کې پالېز هم زرغون شوی و. کله به چې بالکون ته لاړم او بهر ته به مې وکتل نو پر پالېزه به مې سترګې ولګېدې چې د چمن په لوېديزه خوا کې و او ترکارۍ پکې زرغونې شوې وې. پالېزه کې د ګازرو او پيازو پاڼې راوتلې وې، پالک زرغون شوي وو او شاوخواوو ته يې رنګارنګه ګلان تاو راتاو وو.

د جون مياشتې په وروستيو کې مې د بن ګرافت ښوونځي هماغه زده کوونکي مانۍ ته راوبلل چې په خاورو کې ګونډې ووهي، کاهوګان راوشکوي، او مټر له ساقو څخه راپرې کړي. زموږ سپی يعنې بو هم زموږ شاوخوا کې ټوپونه وهل چې بيا سترې شو او لمر ته اوږد وغځېد. کله چې پيداوار راټول شول نو سم کاس او د ښوونځي زده کوونکو له هغو کاهوګانو او مټرو څخه په پخلنځي کې سالاد جوړ کړ چې وروسته مو د چرګ له غوښې سره يو ځای وخوړ. کله مو چې دا شيان وخوړل، نو په پای کې مو د ځمکنيو توتانو څخه جوړ شوی کېک هم نوش جان کړ. زموږ د ترکاريو پر پالېز د لسو اونيو په اوږدو کې دوه سوه ډالره لګښت راغلی و. پيسې هم په تخم او کود لګول شوې وې. د دې کروندې بېلابېل پيداوار له پنځه څلوېښتو کيلو څخه زيات وو. له دې يوې ټوټې ځمکې ښکلی پالېز جوړ شوی و خو ما داسې احساسول چې ځينو له ما څخه ډېره تمه درلوده. په ځانګړې توګه کارلرونکو مېرمنو چې له ځانونو سره يې ويل چې ما خپلې ټولې لاسته راوړنې او تجربې يوازې د محدودو ترکاريو پالنې ته وراړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتی مبارزو راښودلي وو چې هر څه ترسره کوم نو د بېلابېلو کسانو له خوا په بېلابېلو بڼو تفسیرېږي. ځینو ویل چې ما تندی تریو نیولی وي او غوسه وم. له بلې خوا زه هغه څوک وم چې غوښتل مې د تازه او سالمو خوړو خوړل دود کړم. په انتخاباتو کې د باراک له بریا څو میاشتې وړاندې مې د یوې رسنۍ خبریال ته ویلي وو چې که په انتخاباتو کې بریالي شوو نو زما اصلي دنده به په سپینه ماڼۍ کې دا وي چې په خپله کورنۍ کې د کور رییسه واوسم. دا خبره مې د ټوکې په شان کړې وه خو رسنیو ډېره ستره کړه. د ځینو امریکایانو خوښه شوه او فکر یې کاوه چې د خپلو ماشومانو په ښوونه او روزنه کې په نظم ټینګار کوم. مګر ځینو داسې سوچ کړی و چې غواړم یوازې په کور کې واوسم او د کورنۍ په چوکاټ کې له خپلو ماشومانو سره ایساره شم.

په واقعیت کې په ژوند کې ما هوډ درلود چې هر کار تر سره کوم، باید موخه ولري او سنجېدلی وي. په دې کې زما د مورولۍ نقش هم شامل دی چې غوښتل مې مورولي د یوې برنامې له مخې پر وړاندې یوسم. البته په پالېزه کې د ترکاریو کرکېله د رسنیو له خوا مثبته وارزول شوه او د هېواد له ګوټ ګوټه راته لیکونه راتلل چې د دې څرګندونه یې کوله چې کار مې سم دی. اوس مې غوښتل چې د تغذیې موضوع په پراخه توګه مطرح کړم او د هغې په اړه شته ستونزو ته یوه بشپړه حللاره ومومم. کله چې باراک ولسمشر شو د امریکا د ماشومانو یو پر درې برخې زیاتي وزن درلود او چاغ وو. د تېرو درېرشو کلونو په اوږدو کې په ماشومانو کې چاغي درې برابره شوې وه. همدارنګه ماشومان د وینې له لوړ فشار او دویم ډول شکر څخه هم رنځېدل. د پوځ مسئولینو ویل چې د سرتېرو د معافیت یوه اصلي موضوع د دوی چاغښت دی. د دې لامل د تازه مېوو لوړه بیه او په دولتي ښوونځیو کې د ورزشي او تفریحي برنامو کموالی وو. ماشومان به ډېری مهال یا تلویزیون ته کېناستل یا کمپیوټر ته او یا به یې هم کېموونه کول. ځینو نورو ځاینو کې به امنیتي ستونزې وې او کورنیو به غوره بلله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ماشومان يې کور کې پاتې شي. دا حال په ما او کرېگ باندې هم تېر شوی و او په کور کې به پاتې وو. خلکو دا ستونزې هم درلودې چې تازه پيداوار يې په آسانه طريقه نه شوای تر لاسه کولای. په رستورانونو کې به تل تيار خواړه خلکو ته ورکول کېدل. تلويزيون کې کارتون هم کار خراب کړی و او ماشومانو ته يې د خوړو غذايي توکو، په ماکروويو کې د تيارو غذايي توکو او کنسر شوو خوړو په اړه خبرتياوې خپرولې. ځينې شرکتونه وو چې ماشومانو ته به يې نوشابې جوړولې، زه به چې کله د دې شرکتونو پر وړاندې ودرېدم نو دې شرکتونو او هغو کروندگرو به زما مخالفت ته راودانگل چې دې شرکتونو ته يې خواړه پيداوار برابرول. يا کله به چې کوم ښوونځي ته لاړم چې د سالمو خوړو په اړه تبليغات وکړم نو هغه ستر شرکتونه به راسره په جګړه شول چې د ښوونځيو له کافيترياوو به يې ملاتړ کاوه. د امريکا د متحده ايالتونو په ښوونځيو کې چې څومره خواړه پلورل کېدل کلنۍ ګټه يې شپږ ميلیارده ډالره وه. همدا ګټه د دې باعث کېده چې د عمومي روغتيا کارپوهان ونشي کړلای چې په دې برخه کې کوم کار وکړي.

اوس د دې وخت رارسېدلی و چې يو کار بايد شوی وای. زه لومړنۍ مېرمنه نه وم چې دې ستونزې ته مې پاملرنه کړې وه، بلکې ديموکراتانو او جمهوريپالو په سيمه‌يزه او هېوادنۍ کچه د روغتيايي خوړو په اړه تبليغات کول او همدا موضوع د دې څرګندويه وه چې دوی خو لږ تر لږه په دې برخه کې ګډه همږي سره لري. ما له خپلې مشورتي ډلې سره د ۲۰۰۹ کال تر اوايلو پورې له بېلابېلو کارپوهانو سره ليده کاته وکړل چې کورني او بهرني پکې شامل وو. هڅه مې دا وه چې په دې برخه کې يوه طرحه وړاندې کړم او څنګه چې د غټانو د عادتونو بدلول سخت دي نو ومې پتېيله چې پر ماشومانو فوکس وکړم. غوښتل مې چې ماشومان له هماغه پيله روغتيايي خوړو ته مخه کړي.

زما پلان داسې وو چې په اونۍ کې درې ورځې به مې د امريکا د لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمنې په توګه دنده ترسره کوله او نورې ورځې به مې خپلې کورنۍ ته ځانګړې کړې وې. د ښوونځي رخصتۍ هم پيل شوې وې او نجونې په کور کې وې. موږ به هره ورځ خپل ځينې دوستان رابلل او په هماغه سيمه کې به مو سيمه‌يز سفرونه کول. يوې نژدې درې ته لاړو او هلته مو غارونه وليدل. د پيسو چاپولو اداري ته لاړو او د پيسو چاپولو چاپ مو له نژدې وليد. د واشنګټن په جنوبي برخه کې مو فردريک داګلاس موزيم وليد او له دې سره مو هم آشنايي پيدا کړه چې يو غلام څنګه عالم کېږي. له نجونو مې وغوښتل چې د هر سفر يو يو ګزارش وليکي او څه يې چې زده کړي، هغه بيان کړي. خو هغوی شورماشور جوړ کړو او زه ترې تېره شوم.

چې هر تفريحي سفر ته به تلو نو له وړاندې به مو له امنيتي چارواکو سره خبره کوله او ځان به مو ورسره همغږی کاوه چې زموږ له ورتګه وړاندې هغه ځای وارزوي او که څه ستونزه وي هواره يې کړي. که څه هم دې سفرونو کې له موږ سره باراک نه و مګر بيا هم امنيتي چارواکو ته موږ د مزاحمت باعث کېدو. خو زما زړه غوښتل چې تر کوم بريده شوني وي، نو تر هغې دې زما ماشومان هم د نورو په شان آزادي ولري.

ماليا يوه ملګرې درلوده، دوی دواړو غوښتل آيسکريم واخلي، نو ماليا هم له خپلې ملګرې سره د دې د مور او پلار په موټر کې سپره شوې وه چې آيسکريم واخلي خو ساتونکو يې اجازه نه وه ورکړې چې دا کار وکړي. زه او باراک هم هلته نه و او په خپلو کارونو بوخت وو. بلاخره هغه يې هلته يو ساعت تم کړې وه چې له موږ څخه ورته اجازه واخلي. زه هغه ورځ ډېره غوسه وم. پر امنيتي چارواکو مې نيوکه وکړه. نوره ګنګسه شوې وم. د سپينې ماڼۍ په ټولو دهلېزونو او هره خوا کې امنيتي چارواکي ولاړ وو او زموږ ساتنه يې کوله. له کړکۍ نه به مې چې بهر کتل نو د امنيتي چارواکو موټرونه به مې ليدل. لنډه دا چې هر چېرې دوی وو. خو د ماليا په برخه کې مې دوی ته نه شوای ويلی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره چې د خپلې ملګرې په موټر کې سپره شي له ما نه باید اجازه واخلي. پر دوی مې اعتراض وکړ او ورته ومې ویل چې دا کار یې زموږ د کورنۍ لپاره هېڅ ګټه نه لري او که غواړي چې د ماشومانو ساتنه وکړي باید د هغوی په شان فکر او حرکت وکړلای شي. بیا مې پر دوی ټينګار وکړ چې امنیتي چارواکي باید خپل قوانین بدل کړي چې له هغې وروسته ساشا او مالیا وکولای شي له کومې مخکینۍ برنامې پرته له سپینې ماڼۍ بهر ته لاړې شي. یعنې دوی ته دومره پراخه برنامه جوړه نه شي چې ډېرې تم شي او له هغې وروسته ووزي. ما او باراک نه شول کولای چې له همغږۍ پرته هر هغه څه ترسره کړو چې زموږ زړونه یې غواړي. خو ما هوډ درلود چې د خپلو ماشومانو لپاره مبارزه وکړم چې لږ تر لږه زموږ په شان بندیوانې نه وي.

په انتخاباتي کمپاینونو کې یو ځل خلکو زما جامو ته پاملرنه کوله. البته رسنیو هم دې موضوع ته لمن وهله او په انټرنټ کې بېلابېل مطالب زما په اړه لیکل کېدل. ښایي لامل یې زما لوړه ونه وه یا دا چې له هېڅ نوي سټایله نه وېرېدم او هغه مې ازمویلو. هر ځل به مې چې د لوړو بوټونو پر ځای ټيټ بوټونه په پښو کول نو دا موضوع به په رسنیو کې خپرېده. په لیلام کې به مې چې هر ډول جامې، ګاڼې او بلوزونه پېرل یا به مې سپینې جامې اغوستې نو د زیاتو غبرګونونو باعث به شول. کله به مې چې د کانګرس په غونډو کې ګډون کاوه نو بې لستوڼو جامې به مې اغوستې، یا کله به چې سپینه ماڼۍ کې رسمي انځورونه اخیستل کېدل نو تورچکې جامې به مې اغوستې چې دا هر څه به رسنیو ته ښه موضوعات وو او هر چېرې به یې پرې خبرې کولې.

د ۲۰۰۹ کال په دوبي کې له خپلې کورنۍ سره د تفریح لپاره ګرندکانیون ته لاړو. هلته هوا د سانتي ګراد ۴۱ درجې وه. کله چې هلته ورسېدو او زه د ولسمشر له ځانګړې الوتکې راښکته شوم نو زما انځورونه واخیستل شول او بیا وروسته زیات بریدونه او انتقادونه راباندې وشول چې ولې مې خپل وقار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



متانت نه دی ساتلی. یعنې داسې ښکارېدل چې ګڼې زما ظاهر او زما جامې زما له خبرو مهم وو. یاد مې دي چې کله مې په لندن کې د ښوونځي له نجونو سره خبرې وکړې نو پای کې مې وژړل او له دریځه راښکته شوم. خو د خبریالانو لومړی پوښتنه له ما دا وه چې جامې مې کوم خیاط طراحي کړي.

سخته خوا یې رابده کړه. خلکو مې هم جامو ته پاملرنه کوله، ما هم د دوی له دې پاملرنې ګټه واخیسته او د ځینو کسانو لکه د پوځیانو له مېرمنو سره مې انځورونه واخیستل چې هغوی هم ولیدل شي. وګ مجلې چې کله د باراک انځور چاپ کړ له دې وروسته یې وړاندیز وکړ چې زما انځور هم د خپل مجلې په مخ کې چاپ کړي. خو ځینو مشاورانو مې راته وویل چې د اقتصادي کړکېچ په وخت کې کېدی شي چې دا کار هم ما د یوې ولخرجې او هوسبازې مېرمنې په توګه خلکو ته ورمعرفي کړي. مګر په پای کې ما هغوی ته مثبت ځواب ورکړ. جامې مې خپله انتخاب کړې چې جیسون وو او نارسیسو رودریګز طراحي کړې وې. دا کسان پېژندل شوي لاتین تباره طراحان وو.

د مود په اړه چندان زیاته نه پوهېدم. دومره بوخته وم چې هغو جامو ته مې هېڅ اهمیت نه ورکاوه چې اغوستلې مې. د انتخاباتي کمپاینونو په جریان کې به مې په شیکاګو کې له یوه پلورنځي ځخه جامې اخیستې. هلته مې په ناڅاپي توګه له یوه پلورونکي سره وپېژندل چې مردیت کوپ نومېده. هغه د بېلابېلو طراحانو په اړه ښه معلومات درلودل. همدارنګه د جامو د رنګ او د هغې د بافت په اړه هم په ډېر ځه پوهېده. کله چې باراک په انتخاباتو کې بریالی شو نو ما له مردیت ځخه وغوښتل چې واشنګټن ته راشي او زما د جامو د چارو مرستیال شي. هغه هم ومنله او راغی. په دې توګه هر کله به چې چېرته تلم نو د خپلو جامو د ډول په اړه به مې له ده سره مشوره کوله مګر پر دې هم پوهېدم چې خپلو انتخابونو ته هم باید پام وکړم او د یوې تور پوستې مېرمنې په توګه مې نشول کولای چې ځل بلي یا هم ډېرې غیررسمي جامې واغوندم. پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساس په ډېر احتیاط مې هر ځل هڅه کوله چې له پخوانیو طراحانو او همدارنګه له هغو طراحانو هم ګټه واخلم چې چندان مشهوره نه وو. کله ناکله به د طراحانو له خوا ځینې جامې ماته په پور راکول کېدې چې کله به مې واغوستلې نو بیا به مې ملي آرشیف ته ډالۍ کړې چې د سپینې ماڼۍ اخلاقي اصول رعایت کړم او له خپل مقامه ناوړه ګټه وانه خلم.

د ټولو جامو او اضافي شیانو لګښتونه ما خپله پرې کول او تر هغې مهاله پورې مې د جامو او نورو شیانو لپاره دومره زیاتې پیسې نه وې لګولې. هر کله به مې چې بهرنۍ سفر درلود نو مردیت به مې راغوښته او هغه به د کوربه هېواد په اړه ښه معلومات راکول چې خلک یې کومې طرحې، کوم رنګونه او کوم سټایلونه خوښوي. همدارنګه ده به د مالیا او ساشا د جامو په اړه هم راته وړاندیزونه کول او لګښتونه به یې راډېرول. ځکه نجونې هم د رسنیو او خلکو تر نظر لاندې وې. کله به مې چې باراک ته کتل چې خپله هماغه توره دریشي تل له خپلې الماري رااخلي او اغوندي یې او حتا وېښته یې هم ږومنځې ته اړتیا نه لري، نو د هغه په حال به غِبطه راتله. ښایي چې ستره ستونزه یې دا وه چې کورتۍ وکاږي یا یې واغوندي یا نکتایي ووهي او که نه.

هر کله به چې مردیت نوې جامې راته جوړولې، نو د جامو کوټې ته به تلم، اغوستې به مې او بیا به خمه چمه یو خو او بل خوا اوښتم او رااوښتم، لاسونه به مې دې خوا او هغې خوا ته کول چې وګورم چې هغو جامو کې راحته یم او که نه. که جامې به تنګې وې، نو له ځنډ پرته به مې بېرته مردیت ته ورسپارلې. کله به چې چېرته تلم نو بېلابېلې جامې به مې سره وړلې چې هسې نه په ناڅاپي توګه په جامو مې خواړه توی شي یا یې کومه برخه یې وشلېږي، داسې وخت کې باید ما اضافه جامې درلودلای. همدارنګه همېشه به مې یوه جوړه ځانګړې جامې هم راسره ګرزولې چې د خواشینۍ په مراسمو کې به مې اغوستې، د مثال په توګه کله ناکله به باراک ته خبر ورکول کېده چې د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېرو، یا سناتورانو یا د نړۍ د رهبرانو د خاورو سپارلو په مراسمو کې ګډون وکړي. داسې حالت کې به له ما سره ځانګړې جامې وې.

پر مردیت سربېره، جاني رایټ هم راسره وو چې یو خندنی سړی و، زما وېښته به یې سینګارول او تل به تند تند غږېده. درېیم کس کارل رای و چې زما څېره یې سینګاروله او آرامه آرامه غږېده. دې درې واړو په ظاهري توګه داسې سینګارولم چې رسنۍ راپورې ونه خاندي او د دوی د ملنډو نه شم. هېڅکله مې فکر نه کاوه چې د خپلې ظاهري بڼې او څېرې لپاره به مې درې کسان نیسم چې سینګار مې کړي. خو نن پوهېږم چې دا یو حقیقت دی چې باید ورسره همغږې شم. هره هغه مېرمنه چې د سیاستوالو په رسمي او غیررسمي یا نورو محفلونو کې ګډون کوي نو له شک پرته چې زیاتره به یې د مردیت، جاني او کارل په څېر کسانو ته اړتیا لري.

خبره نه وم چې تېرو لومړیو مېرمنو د خپلو وېښتو، سینګار او جامو په برخه کې څه کول. رېښتیا چې ووایم کله مو چې په سپینه ماڼۍ کې استوګنه پیل کړه نو په هماغه لومړیو میاشتو کې مې د تېرو لومړیو مېرمنو د لیکل شویو کتابونو لوستل پیل کړل، مګر ډېر ژر مې پرېښودل، ځکه نه مې غوښتل په هغو توپیرونو پوه شم چې د دوی او زما ترمنځ وو.

سپټمبر میاشت کې زه او هیلري کلینټن په یوه خونه کې کېناستو او ښه غرمنی مو وکړ. په انتخاباتو کې د باراک له بریا وروسته، کوم اختلافونه او کدورتونه چې باراک او هیلري په انتخاباتي کمپاینونو کې سره لرل، دواړو هېر کړي وو او یوه ښه کاري اړیکه یې سره رامنځته کړې وه چې باراک بیا د بهرنیو چارو د وزیرې په توګه هم وټاکله.

هیلري په تېرو وختونو کې د امریکا لومړۍ مېرمن شوې وه او له دې سره سره یې په یوه حقوقي شرکت کې د وکالت دنده هم درلوده او همدارنګه له خپل مېړه سره یې هم د ښوونې او روزنې او روغتیا د ښه کېدو په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستې کړې وې. هغه په ډېره مینه واشنګټن ته راغلې وه چې له دولت سره مرسته وکړي خو ډېرې شدیدې نیوکې پرې شوې وې. په رسنیو کې لیکل شوي وو چې رای ورکوونکو ستاسې مېړه انتخاب کړئ نه تاسې. په دې توګه هیلري له ډېرو خندونو سره مخ شوې وه.

ما هڅه کوله چې د تېرو لومړیو مېرمنو له تجربو درسونه واخلم او په مستقیمه توګه د باراک په کارونو کې دخالت ونه کړم. په همدې خاطر زما مشاوران او همکارن تل د باراک له مشاورانو سره په اړیکه کې وو او ما به چې هر کار کاوه نو له دوی سره په همغږۍ کې ترسره کېده. حتا یو ځل مې غوښتل چې خپل پېکی لږ لنډ کړم. زما همکارانو لومړی د باراک له مشاورانو سره مشوره وکړه چې ډاډه شي چې کومه ستونزه خو به نه رامنځته کېږي.

څنګه چې د هېواد اقتصادي وضعیت له کړکېچ سره مخامخ و نو د باراک مشاورانو تل هڅه کوله پر ما پام وکړي چې هسې نه داسې کار ترسره کړم چې خلک یې ولخرچي وانګېري. البته ما همېشه هڅه کوله چې د ماشومانو لپاره تفریحی فعالیتونه جوړ کړم. یادېږي مې چې هغه مهال مې د باراک له مشاورانو سره اړیکه ونیوله او ترې ومې پوښتل چې په سپینه ماڼۍ کې د ماشومانو لپاره د هالووین جشن جوړولای شم. د باراک د دولت ارشد مشاور اکسلرود او د باراک مطبوعاتي مشاور رابرت ګیبز ځواب راکړ چې دا کار ډېر لګښت غواړي، د خلکو پام هم وراوړي او د دې باعث کېږي چې باراک د خلکو له سترګو ولوېږي. مګر ما ونه منله او دوی ته مې وویل چې کومو سیمه‌یزو او د پوځي کورنیو ماشومانو چې سپینه ماڼۍ نه ده لیدلې نو د هالووین جشن به ورته ډېر جالب وي او کمه بودیجه هم غواړي.

بلاخره د اکتوبر میاشتې په وروستیو کې مو د سپینې ماڼۍ چمن ته یو کدو راوړ چې پنځه سوه کیلوګرامه وزن یې درلود. زه له ډېرې خوښۍ په کالیو کې نه ځایېدم. د ارکستر ډله هم راغلې وه. اسکلېټي جامې یې اغوستې وې او جاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسيقي يې غږوله. له ها بل پلو نه له بالکون نه يوه توره غنه لاندې راتله. ما پلنګي جامې اغوستې وې، پرتوږ مې تور و، بلوز مې خالونه درلودل او غوږونه مې اوږده وو. د سپينې ماڼۍ مخ کې ولاړه وم. باراک له دې سره روږدی نه و چې عجيبې او غريبې هالوويني جامې واغوندي. يوازې سپورتي پتلون او بلوز يې اغوستي وو او زما تر څنګ ولاړ وو. هغه شپه له ۲۰۰۰ څخه زياتې شهزادګۍ راغلې وې چې وېرووونکې جامې، د سمندري غلو جامې، د اتلانو جامې، د سرګردانه ارواوو جامې او د فوټبالرانو جامې يې اغوستې وې، د ماڼۍ په شاوخوا چمنونو کې ګرزېدې او خوشحالي يې کوله. د ماڼۍ خدمتکارانو هم پر هغوی کوچنۍ کڅوړې وېشلې چې بسکېټ، وچه مېوه او خواږه پکې وو او د ولسمشرۍ ماڼۍ مهر يې خوړلی و. دا جشن يو پرتمين جشن وو.

زموږ پالېز بېلابېل فصلونه شاته پرېښودل او موږ د هغې په اړه په زياتو شيانو وپوهېدو. کوم ختکي مو چې کرلي وو چندان ښه نه و، بې رنګه وو او اوبه يې نه درلودې. شديدو بارانونو زموږ خاوره مينځلې وه او ورسره وړې يې وه. الوتونکو به زموږ ځمکني توتان خوړل او لټکو به بادرنګ. مګر موږ د ملي پارک د خدماتو د بڼوال جېم او د سپينې ماڼۍ د ځمکو د سرپرست په مرسته وکولای شول چې پالېز اصلاح کړو. ځمکې ته مو بيا کودونه ورکړل او له سره مو پکې کرکېله وکړه. اوس نو زموږ په ماښامي کې هغه ترکارۍ شاملې وې چې په خپل پالېزه کې مو کرلې وې لکه بروکلي، ګازر او کاهو. کله ناکله به مو د کروندې د پيداوارو يوه برخه د سيمې هغه خپلواک سازمان ډالۍ کوله چې کډوالو ته به يې خواړه ورکول. همدارنګه له خپلو ځينو ترکاريو څخه به مو اچار جوړول او بيا به مو په هغو بوتلونو کې اچول چې زموږ له شاتو څخه پاتې شوي وو. دا اچار به مو بيا ځينو چارواکو ته د ډالۍ په توګه ورکول. په پيل کې زموږ دې کار ته ډېر کسان بدبينه وو خو ورو ورو زموږ په اړه د دوی نظر بدل شو او له ترکاريو څخه دا ډک پالېز د سپينې ماڼۍ د کارکوونکو او خدمتکارانو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افتخار او غرور سرچینه وګرزېد.

په راتلونکو میاشتو کې مو د ماشومانو د روغتیا له کارپوهانو سره اړیکه ټینګه کړه چې له راسره مرسته وکړي چې دا طرحه په ټولنه کې لږ څه پراخه پلې کړو. موږ به میندو او پلرونو ته ګټور معلومات ورکول چې د خپلې کورنۍ لپاره روغتیایي خواړه برابر کړي. بیا مو له ستېفاني کاټېر څخه مرسته واخیسته چې دا برنامه لا پسې بشپړه کړو. مګر د باراک مشاوران په امریکا کې د موټر جوړونې او د بانکونو د پرځېدا په چارو کې ښکېل وو او زما له دې برنامې سره یې مخالفت کاوه. خو ما د هیلري تجربو ته په کتو سره هڅه کوله چې سیاست باراک او د هغه ډلې ته پرېږدم او په بله جبهه کې خپل فعالیتونه ترسره کړم. په عین حال کې مې دا هڅه نه کوله چې د جوسو د تولید او د ښوونځیو لپاره د خواړو د برابرولو له شرکتونو سره دښمني وکړم. یوازې مې د ماشومانو له میندو او پلرونو سره خبرې کولې چې څنګه کولای شي خپل ژوند بدل کړي او ژوند کې یې روغتیا په برخه وي.

یوازې مې له هغو روغتیایي مجلو سره مرکې کولې چې له ماشومانو، میندو او پلرونو سره په اړیکه کې وې. سمسورو ځایونو او لوبغالو ته به تلم، هلته به مې نرمشي حرکتونه کول، ورزش به مې کاوه او ماشومانو ته به مې ښودل چې ورزش د انسان بدن تر او تازه کوي. د تلویزیون په کارټوني برنامو کې به څرګندېدم او د ترکاریو په اړه به مې خبرې کولې. له خبریالانو سره به مې په دې اړه خبرې کولې چې زیاتره امریکایان تازه غذایي توکو ته لاسرسی نه لري او خلکو ته به مې ویل چې پر ماشومانو مو روغتیایي خواړه وخوړئ چې چاغ نه شي. ځکه چاغي د روغتیا لپاره ستونزې رازیږوي.

د ۲۰۱۰ کال فبروري میاشت راورسېده، سپینه ماڼې کې مې غونډه نیولې وه، هوا سړه وه، واوره او باران اورېدل. د وینا دولتي مېز ته لاړم او خپله برنامه مې د «راشئ حرکت وکړو» تر سرلیک لاندې اعلان کړه. سالون له ماشومانو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابينې له وزيرانو، ورزشي اتلانو، ښاروالانو، روغتيايي رييسانو او همدارنګه د ښوونې او روزنې او غذايي توکو د توليد له مسئولينو ډک و. څو خبريالان هم راغلي وو. زموږ د برنامې پلان دا و چې په ماشومانو کې چاغښت ختم کړي. باراک هماغه ورځ ژمنه وکړه چې د ماشومانو د چاغښت د درملنې لپاره به يوه ځانګړې ډله جوړه کړي. همدارنګه د غذايي توکو درې اصلي توليدوونکو اعلان کړل چې په خپلو خوړو کې به د مالګې، بورې او غوړو کچه تر شونې بريده راټيټه کړي. د امريکايي نوشوابو انجمن ژمنه وکړه چې د خپلو نوشابو محتويات به په ډېر دقت سره د نوشابو په قوطيو يا بوتلونو ليکي. د ماشومانو له متخصصو ډاکټرانو مو هيله وکړه چې ډاکټران دې ته وهڅوي چې د بدن وزني ځانګړنې په خپلو ضروري ارزونو کې شامل کړي. ديزني، ان‌بي‌سي او د وارنر ورونو شرکتونو هم ومنله چې ځانګړې برنامې جوړې کړي او په هغې کې ماشومان دې ته وهڅوي چې له روغتيايي ژونده پيروي وکړي. د دولس ګونو ورزشي ټيمونو مديرانو هم وويل چې د لوبو شپېته دقيقه‌يي برنامې به جوړوي او موخه به يې دا وي چې له ماشومانو سره مرسته وکړي چې زيات ورزش وکړي. دوی وويل چې په دې اړه تبليغات هم کوي.

البته دا د کار پيل و. موږ په پام کې لرل چې د ترکاريو د کر موضوع په کليوالي او ښاري سيمو کې پراخه کړو، خلکو ته د غذايي موادو د بسته‌بندۍ په اړه دقيق او سم معلومات ارايه کړو، يو نوی غذايي هرم طراحي کړو او ماشومانو ته يې په واک کې ورکړو. د دې ټولو موخو پر مخ بېولو سازماندهۍ، هڅو او هاند ته اړتيا درلوده او زه هوډمنه وم چې ترسره کوم به يې. غوښتل مې له خپل عجيب ټولنيز انځوره کار واخلم او د هغو سترو موخو په لاره کې يې وکاروم چې په سر کې مې درلودې. دا هغه لاره وه چې د هغې په مرسته مې کولای شول چې خپلې ټولې وړتياوې د خپل هېواد خلکو ته څرګندې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۲

د پسرلي يوه سهار کې زه، باراک او نجونې لانديني پوړ ته وغوښتل شوو. هلته راته وويل شول چې د جنوبي برخې چمنونو ته لاړ شو. چمن کې موږ ته يو څوک په تمه و چې نه مو پېژانده. يو سړی و چې مهربانه څېره او خاورين بريت يې لرل. موږ ته يې وويل چې لويد نومېږم او زياته يې کړه: «ښاغلی ولسمشر، آغلې اوباما موږ فکر وکړ چې تاسې او نجونې يوې کوچنۍ تنوع ته اړتيا لرئ. نو له همدې امله مې تاسې ته يو سيار ژوبڼ راوړی دی- بيا موسک شو او زياته يې کړه- تر اوسه پورې هېڅ لومړۍ مېرمنې هم په داسې تفريحي کارونو کې ګډون نه دی کړی.»

سړي بيا خپلې چپې خوا ته اشاره وکړه. موږ چې چپې خوا ته وکتل نو ومو ليدل چې کابو شپېته متره لرې د سرو ونو په سېره کې څلور ښکلي او غټ ژوي ولاړ دي. يو زمری و، يو ببر و، يو پړانګ و او بل هم يوه ډنګره او خالخالي چيتا. ما په حيره ژوو ته وکتل خو ومې ليدل چې د هېڅ يوه غاړه کې رسۍ نشته. ډېره راته هيښنده وه. ځان سره مې کړل چې ښه تنوع ده چې ژوي آزاد وګورو. سړي ته مې وويل: «دا چې زموږ د تفريح او سرګرمۍ په فکر کې يې مننه درنه کوم مګر ښاغلی لويد، دا ژوي خو هېڅ زنځير او رسۍ نه لري. د ماشومانو لپاره خو خطرناکه نه دي؟» لويد په ځواب کې وويل: «نه، په دې اړه مو فکر کړی.» د تاسو او د ماشومانو د خونديتابه په خاطر مو هغوی ته آرام بښوونکي درمل ورپېچکاري کړي او اوس تاسې ته کوم خطر نه لري. ستاسو کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي چې دا حیوانات په داسې حالت کې وګوري چې آزاده دي. له لیدلو یې خوند واخلئ. بیا یې زیاته کړه: «هیله کوم، ورنژدې شئ. نژدې ورشئ.»

ما او باراک نجونې تر لاسونو ونیولې. چمن ته ورښکته شوو، پر چمن پرخه پرته وه. حیواناتو ته ورنژدې شوو. کله چې حیواناتو ته ورنژدې شوو، نو ما د دې حیواناتو ستره واقعي جثه په ښه توګه ولیدله. زمري په آرامۍ حرکت کاوه. بیا پړانګ موږ ته سترګې راواړولې. د ببر غوړونو لړ ټکانونه وخوړل، مګر په همدې شېبه کې چیتا ناڅاپه زموږ خوا ته راغله. پر موږ یې برید وکړ. زه وډاره شوم. ساشا مې تر لاس ونیوله او شاته وتښتېدم. فکر مې کاوه چې باراک به هم همدا کار وکړي، مالیا به تر لاس ونیسي او وبه تښتي. شورماشور کې مې دې ته پام شو چې هغو درېیو نورو ژوو هم زموږ خوا ته راودنګل.

لوید چې چېرې ولاړ وو له هماغه ځایه یې راچیغې کړل چې: «آغلې، اندېښنه مه کوه، موږ د دې موضوع فکر هم کړی دی.» بیا خنګ ته شو او څو ساتونکي له خپلو وسلو سره څرګند شول. په همدې شېبه کې ساشا له ما څخه لاس خوشي کړ او بلې خوا ته وتښتېده. زه له ډېره ډاره ځای پر ځای مېخ شوې وم. ومې لیدل چې وحشي حیواناتو پر باراک او نجونو برید کړی او ساتونکي هم له ټوپکو سره ولاړ دي او ژوي په کولیو ولي. له ډېره ډاره مې چیغې کړې او ومې ویل: «ستاسو نقشه همدا وه؟ هسې نه چې دا هر څه ټوکې وي؟»

چیتا په ساشا برید وکړ او په خپلو تېرو منګولو دې ته چمتو وه چې هغه ووهي. یوه ساتونکي نښان ونیو او یوه آرامبښوونکې ګولۍ یې د چیتا پر خوا وروتوغوله. خو ښه خطا شوه، مګر د ګولۍ توغولو چیتا ترهوره کړه او د دې باعث شوه چې بل پلو وتښتي، مګر له څنډ پرته مې بیا ولیدل چې بله ګولۍ د ساشا پر لاس ولګېده. همدې شېبه کې له خوبه پاڅېدم. په خولو کې لنده خیشته وم. زړه مې ډېر سخت ټکانونه کول. کابوس و. باراک مې هم تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده و او ژور خوبونه یې کول.

همدارنګه ما احساسول چې زموږ کورنۍ د شاتګ په لور روانه ده او هره ورځ په یو ډول نه یو ډول لا پسې محدودېږو. د سپینې ماڼۍ په امنیت مې په بشپړه توګه باور درلود. خو له دې سره سره مې بیا هم زیانمني احساسوله. په واقعیت کې هر څه د نورو په لاس کې وو، د ماشومانو له امنیته نیولې او زما او د باراک د برنامو او کارونو تر همغږیو پورې. په دوی کې داسې کسان هم وو چې لږ تر لږه زما نه شل کال کشران هم وو. زه په یوکلید سرک کې ستره شوې وم او زده کړې مې و چې فردي خپلواکي له هر څه مهمه ده، نو ځکه مخکې ما خپل ټول کارونه خپله ترسره کول. خو په سپینه ماڼۍ کې داسې کار ناشونی و. هلته زما ټول کارونه نورو ترسره کول. مخکې له دې چې چېرته لاړه شم چارواکو به ټوله لاره وهله چې دقیق مهال محاسبه کړي او حتا تشناب ته زموږ تګ به هم قیدېده. هغوی ساشا او مالیا د لوبو لپاره بولې چې له خپلو ټولګیوالو سره لوبې وکړي. ما نور موټر نه چلاوه یا مې له ځان سره نغدې پیسې یا کیلي‌ګانې نه ګرزول. تلیفون ته زما مرستیالانو ځواب ورکاوه. هغوی به زما پر ځای غونډو ته تللې او زما له خوا به یې د بیانیو متنونه برابرول او لیکل. دا هر څه غوره او ګټوره وو. یعنې ماته یې وخت راکړی و چې د نورو سترو کارونو په اړه سوچونه وکړم. خو کله ناکله به داسې هم کېدل چې جزییات به رانه هېر شول.

کله چې د یوه ولسمشر مېرمن واوسې نو له ټولو زیاته به متوجې شې چې دونیا له ګډوډیو او ناامنیو ډکه ده او ورانۍ او بدمرغۍ له خبرتیا پرته پر هر چا رانازلېږي. ښکاره او پټ لاملونه او ځواکونه چمتو دي چې آرمتیا دې له منځه یوسي. هره شېبه باید له خبرونو ځان خبر کړې. زلزلې هاییتي له منځه وړې. د لوییزیانا په سواحلو کې له اوبو څخه څو زره متره لاندې په یوه نفتي ځای کې یو پیپ چاودلی او یو میلیون بشکې خام نفت په مکزیک خلیج کې ګډ شوي او اوبه یې ککړې کړي. مصر کې انقلاب شوی. د اریزونا د یوه سوپر مارکېټ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارکېنګ کې یوه وسلوال سړي پر خلکو ډزې کړي او اووه کسه يې وژلي چې وژل شوو کسانو کې د کانګرس یوه غړې هم شامله ده.

هره پېښه ستره وه او مهمه او همدارنګه په مورږ پورې يې اړه درلوده. کوم خبرونه چې زما مشاورانو او زما ډلې هره ورځ رااستول نو له شک پرته چې باراک هم پرې خبرېده او پر وړاندې يې غبرګون ښوده. هغه د داسې کارونو لپاره هم رټل کېده چې حتا هېڅ کنټرول يې پرې نه درلود او نه يې هم کومه اړه پرې لرله. کوم هېوادونه چې لرې وو او ګډوډۍ پکې وې، ده باید حللاره ورته وړاندې کړې وای. له ده دا تمه هم کېده چې هغه سوړه پټه کړي چې د سمندرګي په تل کې رامنځته شوې وه. هغه باید د ټولو بلواوو او بې نظمیو مخه نیولې وای او هر څه يې باید رغولي وای. دا کار که د اونۍ په ورځو کې کېده او که د کال په اونیو کې.

زه هم لومړۍ مېرمن وم، ما خپله ټوله هڅه کوله چې پرې نه ږدم چې د نړۍ ورځنۍ ستونزې زما پر کار اغېز وکړي. خو کله ناکله به مې د چارو واګې له لاسه وتلې. مهمه دا وه چې زه او باراک څنګه کولای شو له ستونزو او ګډوډیو سره مخامخ شو. مورږ د خپل هېواد استازي وو او دا زمورږ پر غاړه وه چې هره ستونزه او هر کړکېچ رامنځته کېږي نو مورږ له ځنډ پرته باید په صحنه کې حاظر شو او هوار يې کړو. زمورږ د دندې یوه برخه دا وه چې د آرمش، ثبات او خردمندۍ بېلګې واوسو. د مکسیکو په خلیج کې د نفتو د پیپ د چاودنې موضوع د امریکا په تاریخ کې یوه ډېره بده پېښه ګڼل کېږي چې بلاخره په بریا مهار شوه. له دې وروسته زیاتره امریکایانو بیا هم باور نشو کولای چې د مکسیکو خلیج ته لاړ شي او هلته خپله رخصتي تېره کړي. ځکه دوی باور درلود چې دا سیمه امن نه ده. پایله دا شوه چې هلته سیمه‌یز اقتصاد ته زیات زیان ورسېد. په همدې اساس مورږ فلوریدا ته کورنۍ سفر وکړ او باراک او ساشا په اوبو کې ولمبل. د دوی د لمبا انځورونه مو رسنیو ته ورواستول چې هغوی ته څرګنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو چې ولسمشر له خپلې لور سره په هغه اوبو کې لمبا کوي. همدې کوچنې کار خلکو ته دا ستر پيغام وروړساوه چې د هغې سيمې په اوبو کې نور هېڅ ستونزه نشته.

هر کله به چې يوه فاجعه يا کومه غميزه رامنځته کېده نو زموږ د کورنۍ يو يا دوه غړي به هلته ورتلل او امريکايانو ته به يې دا پيغام وررساوه چې په دردونو او رنځونو کې ورسره شريک يو. ما ډېره هڅه او هاند کاوه چې د مرسته کوونکو او داوطلبانو مخه د هرې ستونزې هواري ته وروا ړوم او دا کار په رسنيو کې مطرح کړم. په هايتي کې چې په ۲۰۱۰ کال کې زلزله وشوه نو له دې زلزلې درې مياشتې وروسته زه او جېل بايډن هغه ځای ته لاړو. هلته مو ډېرې خرابۍ او ډېرې ګنډوالې وليدې چې زړګونه مېندې، پلرونه او ماشومان يې تر هغو خاورو لاندې ژوندي خښ شوي وو. په دې پېښه ډېرې خواشينې شوو. څو بسونه مې وليدل چې د موسيقۍ سيمه‌يزه ډله پکې ناسته وه او هغو ماشومانو ته يې موسيقي غږوله چې بې سرپرسته شوي وو. ماشومانو که څه هم خپل پلرونه او مېندې بايللي وو مګر بيا يې هم په سترګو کې هيلې وې. ريښتيا چې غم او خواشيني تل له صبر او زغم سره مل کېږي.

هر کله به چې شونې وه نظامي روغتونونو ته ورتلم او هلته به مې هغه سرتېري ليدل چې په جګړو کې به زخميان شوي وو. لومړی ځل والتر ريد طبي مرکز ته لاړم. پلان مې داسې جوړ کړی و چې هلته نوي دقيقې پاتې شوم، مګر کابو څلور ساعته مې له سرتېرو سره خبرې اترې وکړې او له دوی سره مې زړه سوی وښود.

والتر ريد دويم يا درېيم روغتون و چې د افغانستان او عراق د جګړې سرتېرو ته ځانګړی شوی و. د جګړو زياتره سرتېري به د آلمان په لندشتول روغتون کې هم معالجه کېدل. د دوی درملنه به چې وشوه بيا به امريکا ته راتلل. ځينې به څو ورځې په روغتون کې وو او ځينې به بيا په مياشتو مياشتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې روغتون کې ډېرو تګړه جراحانو کار کاوه او د زخمیانو درملنه به یې کوله. البته امریکایي ځواکونو اوس پرمختللي زرهي وسایل کارول چې لږ تلفات وراوښتل او زموږ د سرتېرو تلفات د تېر په پرتله ډېر راکم شوي وو. خو د عراق او افغانستان په جګړو کې بیا خبره بل ډول وه. دې هېوادونو کې امریکا لس کاله جګړه وکړه چې دښمن به زموږ پر پوځ انتحاري بریدونه کول او یا به یې هم پټ بمونه او مینونه ورته ایښي وو نو له همدې امله زموږ پوځ ډېر سخت زیانونه ولیدل.

که څه هم ما هڅه کوله چې په ژوند کې هر څه ته چمتوالی ونیسم خو نه کېده او ما نشو کولای چې ځان چمتو کړم، نظامي روغتون ته لاړه شم، هلته زخمي سرتېري ووینم او یا هم د دوی کورنو ته ورشم او ویې ګورم. د نظامي روغتونو په شاوخوا کې به د سرتېرو د کورنیو لپاره لنډمهالي کورونه جوړېدل چې هلته ژوند وکړي او په روغتون کې خپلو ناروغانو ته ورشي او له دوی سره راشه درشه وکړي. دا کورونه وړیا وو. پلار مې هم دوه کاله په پوځ کې دنده ترسره کړې وه، مګر زه د نظامي مسایلو یا د نظامي افرادو په اړه په هېڅ نه پوهېدم. نظر مې دا و چې جګړه تل یوه وحشتناکه او غیرانساني ښکارنده (پدیده) ده چې ما نشوای زغملی. البته اوس مې نظر په بشپړه توګه بدل شوی دی.

کله به چې یوه روغتون ته تلم چې هلته د جګړې له زخمیانو سره لیدنه وکړم نو نرسانو به مخصوصې جامې راکولې چې وایې غوندم او لاسونه مې ضد عفوني کړم. همدارنګه دوی به د سرتېرو په اړه ځینې معلومات هم راکول. ناروغانو ته به هم مخکې ویل کېدل چې زه یې لیدلو ته ورځم. ځینو به نه منله چې زه ورسره ووینم. نه پوهېږم ولې یې داسې کول، ښایي چندان ښه به نه ول یا به یې هم سیاسي دلایل لرل چې له دې کاره به یې ډډه کوله.

له دوی سره زما خبرې اترې ډېرې خصوصي وې. هلته له ما سره هېڅ کومه یوه رسنۍ یا مشاوران نه وو. کله به مې چې د زخمي سرتېري د کورنۍ یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورزشي ټیم کوم انځور د ده له کټ سره لیده نو د ده د کورنۍ یا ورزش په اړه به مې ورسره خبرې کولې. کله ناکله به مې له دوی څخه د افغانستان د جګړې په اړه هم پوښتنې کولې. دوی ته به مې ویل چې څه ته اړتیا لرئ. البته دوی کې اکثره داسې کسان وو چې د چا زړه سوي ته یې اړتیا نه درلوده.

یو ځل له یوه سره پوستر سره مخامخ شوم چې په خونه کې چسپول شوی و او په تور مارکر پرې لیکل شوي وو:

هغو کسانو ته خبرداری چې دې خونې ته راځی.

«که په غم او خپګان کې دې خونې ته راننوزې او له ما سره زما د زخمونو په خاطر خواخوږی کوې نو هیله کوم چې مه راځه. دا زخمونه د هغې دندې له امله دي چې زه مینه ورسره لرم. زه له خپلو خلکو سره مینه لرم او د دوی لپاره جنګېدلی یم. همدارنګه د دې لپاره جنګېدلی یم چې هېواد مې آزاد وي او زه ورسره مینه وکړم. زه سرسخته سړی یم او ډېر ژر به روغ او جوړ شم.»

دې لیکنې د لوړ مورال څرګندونه کوله. افتخار لیکنه وه. داسې روحیه ما په ټولو نظامیانو کې لیدله. یوه ورځ له یوه سرتېري سره مخ شوم چې جوړ او روغ جګړې ته تللی و، جګړه له هېواد بهر وه، ده خپله حامله مېرمن هم پرېښې وه مګر موده وروسته زخمي شوی او ټول بدن یې فلج شوی و چې لاسونه او پښې یې نه شوای ښورولای. له ده سره چې غږېدم نو پر سینه یې ټي‌روی ماشوم هم ورپروت و. یو بل سرتېری و چې یوه پښه یې نه درلوده او له ما یې د ځانګړو امنیتي چارواکو په اړه پوښتنې وکړې چې ما هم په دې اړه معلومات ورکړل. ده هیله درلوده چې له پوځ وروسته به امنیتي چارواکی کېږي، خو اوس معیوب شوی و او د بلې دندې په اړه یې فکر کاوه. کله ناکله به چې کوم جنګي زخمي خبرې نشوای کولای یا به بې حرکته او ویده و نو څنګ ته به یې چې څوک و، له هغوی سره به مې خبرې کولې، لکه مېرمن، مور، پلار یا خپلوان او دوستان یې. دوی اکثرو خپل کارونه او ژوندونه پرېښي وو او خپل ناروغ ته راغلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پالنه یې وکړي. د زخمیانو میندو ته به مې لاس ورکاوه او دوی ته به مې دوعا کوله. د پوځي کورنیو ایثار او فداکاري هېڅکله نشم هېرولای.

یوه ورځ د تگزاس ایالت سن‌انتونیو ښار ته تللې وم. هلته یوه روغتون ته لاړم خو مخکې له دې چې یوې خونې ته وردننه شم، نو شورماشو مې واورېد او ومې لیدل چې نرسان ډېر تگ راتگ کوي. کله مې چې پوښتنې وکړې نو پوه شوم چې په خونه کې د تگزاس د کلیو یو هډور سړی دی چې ځان یې سوزېدلی او ډېر زخمونه لري. هغه ډېر سخت خوږېده او هڅه یې کوله چې کمپله لرې کړي، ودرېږي او ماته د پوځ د اعلا سرقومندان د مېرمنې په توگه نظامي سلام وکړي.

د ۲۰۱۱ کال په لومړیو کې یوه شپه مو ډوډۍ خوړلې وه، مالیا او ساشا هم خپلو خونو ته تللې وې چې کورنۍ دندې یې ترسره کړي. زه او باراک د خوراک ځښاک په خونه کې یوازې وو. یادېږي مې چې هماغلته لومړی ځل و چې باراک د اُسامه بن لادن نوم پر خوله راوړ او ویې ویل: «فکر کوم چې پیدا کړی مو دی. ځای یې پیدا شوی. احتمال شته چې پرې برید وکړو او هغه لاسته‌ړلی ونیسو. خو تر اوسه هم سل په سلو کې ډاډه نه یم چې څه به وشي.»

د باراک یو مهم کار دا و چې بن لادن یا ونیسي او یا یې هم له منځه یوسي. دا موضوع دوو ډلو ته مهمه وه، یو هغو زرگونو سرتېرو ته چې په عراق او افغانستان کې یې له القاعدې سره جگړه کوله او بل د هغو کسانو کورنیو ته چې خپل خپلوان یې د سپټمبر د یوولسمې په پېښه کې بایللي وو. د باراک له جدي حالته پوه شوم چې دا موضوع ډېره خطرناکه او حساسیت پاروونکې ده. همدارنگه پوهېدم چې په دې اړه لا نور جزییات باید ترې ونه غواړم او باراک اجازه نه لري چې پټ امنیتي معلومات راکړي. هغه هم په ښه توگه کولای شول چې سیاسي او کورني مسایل سره بېل کړي. دی به چې کله له موږ سره و نو ذهن به یې په بشپړه توگ له موږ سره و او کله به مو چې د شپې ډوډۍ خوړله

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د مېز پر سر به معمولاً د ماشومانو د ښوونځي په اړه غږېدو. د مثال په توګه، مالیا د هغو حیواناتو په اړه څېړنه کوله چې نسلونه یې ورکېدل. دې به په دې اړه خبرې کولې، موږ به اورېدې او د یوې شېبې لپاره به مو سیاسي مسایل هېرول.

خو کله به مو چې د شپې ډوډۍ خوړله نو لیدل به مې چې د باراک مرستیالان له خونې بهر په دهلېزونو کې ګرزي راګرزي او د خپلو معلوماتو کوچنۍ کتابچې د باراک پر کوچني مېز کېږدي. په واقعیت کې دا د سپینې ماڼۍ د قوانینو یوه برخه وه چې هره ورځ به دوې کتابچې موږ ته اېښودل کېدې چې یوه به ماته وه، او بله به باراک ته. د باراک کتابچه به ډېره ډبله وه او چرمي پوښ به یې درلود. دې کتابچو کې هغه مطالب و چې موږ باید د شپې لوستلي وای. ما او باراک به چې کله نجونې ویدې کړې نو خپلې خپلې کتابچې به مو راواخیستې، هر یو به یوې خوا ته لاړو او کتابچې به مو ولوستلې. لوستلو به یو یا دوه ساعته وخت نیوه. په دې کتابچو کې به زیاتره د کارکوونکو ګزارشونه، د راتلونکې ورځې د وینا مسودې او یا تصمیمونه وو چې باید موږ په خپلو برنامو کې شامل کړي وای.

د «راشئ حرکت وکړو» پروژې یو کال تېر شوی و. په دې موده کې یې لږ لږ پایله ورکړې وه. د ښوونځیو کافیتریاوو اوس یوازې دا جازه درلوده چې ماشومانو ته یوازې روغتیایي خواړه ورکړي. همدارنګه غوښتل مو چې سیمه‌یزو سرآشپزانو ته بلنه ورکړو چې په ښوونځیو کې روغتیایي او خوندور خواړه پاخه کړي. د غذایي توکو ستر زنځیري شرکت وان مات هم له موږ سره یو ځای شوی و او ژمنه یې کړې وه چې په خپلو غذایي توکو کې به د بورې، مالګې او غوړو کچه راټیټه کړي او د هغې په بیه کې به هم کمښت راولي. همدارنګه د هېواد له ۵۰۰ ښاروالیو مو غوښتنه وکړه چې د ماشومانو د چاغښت مسألې ته پام وکړي.

۲۰۱۰ کال کې زما ټوله هڅه دا وه چې د ماشومانو د تغذیې او په دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځیو کې د روغتیايي خوړو د کیفیت په برخه کې یوه لایحه جوړه او بیا د کانګرس له خوا تصویب شي. دا د تېرو دېرشو کلونو په اوږدو کې لومړی ځل و چې غذايي مسألې ته پاملرنه زیاته شوه. په کُلي توګه په سیاست کې مې ښکېلتیا نه خوښېده. مګر ماشومانو کې د چاغښت مسألې ته حاضره وم چې هر څه ترسره کړم. څو څو وارې مې له باراک او د ده له مشاورانو سره په دې اړه خبرې وکړې. همدارنګه د تلیفون له لارې مې له سناتورانو او د مجلس له استازو سره هم خبرې وکړې او هڅه مې کوله چې هغوی پر دې باور کړم چې زموږ ماشومان روغتیايي خواړه وخوري. که نوې لایحه تصویب شوې وای، نو بیا د ۴۳ میلیونو ماشومانو په ورځنیو خوړو کې تازه مېوې او ترکارۍ، تازه حبوبات، تازه او روغتیايي او د کمو غوړو درلودونکي لبنیات ورزیاتېدل. له دې سره سره د ماشومانو په خوړو کې چاکلېټ باب هم راکمېدل او په ښوونځیو کې چې دوی ته کومه بودیجه ورکول کېده، دوی په هغې کولای شول چې د ترکاریو پالېزونه جوړ کړي او خپل سیمه‌یز پیداوار تولید کړي. له شک پرته چې دا زما لپاره یوه ستره بریا وه چې د ماشومانو له چاغښت سره د مبارزې په لار کې مې ترسره کوله.

کله چې په منځنیو انتخاباتو کې څرګنده شوه چې جمهوریپال به د مجلس کنټرول په لاس کې واخلي نو باراک او مشاوران یې د لایحې د تصویب لپاره په ستر جنجال کې ښکل شول، ځکه دوی پوهېدل چې په مجلس کې به یې ځواک ډېر ژر راکم شي. بلاخره د ډسمبر میاشتې په لومړنیو کې لایحه وروستي پړاو ته لاړه. یوولس ورځې وروسته زه د باراک تر څنګ ودرېدم. د یوه سیمه‌یز ښوونځي ماشومان هم راغلي وو. باراک لایحه لاسلیک کړه. بیا یې په ټوکه خبریالانو ته وویل چې که لایه مې تصویب کړې نه وای، نو د شپې باید په کوچ کې ویده شوی وای.

په واقعیت کې د ماشومانو لپاره د روغتیايي تغذیې د ایجاد طرحه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایحه وه چې د باراک ټولې هغه بیمې یې بشپړولې چې په ۲۰۱۰ کې تصویب شوې او د دې باعث شوې چې زیاتره امریکایان د بیمې تر پوښښ لاندې راشي.

زما بله برنامه د جېل بایډن په همکارۍ وه. د دې زوی بیو هم نوی له عراقه راغلی و. زما په باور امریکایان د خپلو سرتېرو او د دوی د کورنۍ پوروړي وو او ما او جېل غوښتل چې د دوی زیاته قدرداني وکړو او له بندیانو څخه د لا زیات ملاتړ په خاطر غوره لارې پیدا کړو. باراک هم د اعلی سرقومندان په توګه هماغه کال ځینې برنامې پیل کړې وې چې د دولت تر نظر لاندې وې.

ده له ټولو سازمانونو غوښتلي و چې د سرتېرو له کورنیو زیات ملاتړ او له دوی سره زیاته مرسته وکړي. زه هم د سترو شرکتونو مدیرانو ته ورغلم او غوښتنه مې ترې وکړه چې ځینې زاړه سرتېري او د هغوی مېرمنې پر دندو وګماري. جېل هم د پوهنتونونو له مسئولینو وغوښتل چې د پوځیانو اولادونو ته یوه ونډه په پام کې ونیسي. همدارنګه موږ په پام کې لرل چې د هغو سرتېرو رواني حالت هم ورغوو چې جګړې یې کړې وې او بیا هېواد ته راغلي وو. سربېره پر دې، په پام کې مو لرل چې د هالیوود له لیکوالو او فلم جوړوونکو سره خبرې وکړو او ترې وغواړو چې د پوځیانو د ژوند په اړه فلمونه او سریالونه جوړ کړي.

له کله راهیسې مې چې باراک پېژانده نو د شپې به د باراک ذهن ډېر فعالېده او نوښتونه به یې کول. داسې وختونو کې به یې د یوې موضوع یا یوې ستونزې په اړه نوي لیدلوري پیدا کول او یا به یې کومه نوې نظریه مونده. له غرمې وروسته به د ده مشاوران د ده کار خونې ته ورتلل چې دوسیې به هم ورسره وې او دوسیو کې به معلومات او اطلاعات وو. کله به چې باراک وږی کېده نو خدمتکار به یې انځیر او وچې مېوې وروړل. ده نور سګرېټ نه څکول. کله کله به یې یوازې نیکوټین لرونکې ژاولې تر ژبه لاندې اېښودې. زیاتره شپې به د سهار تر یوې یا دوو بجو پورې ویښ و چې مطالعه به یې کوله، ګزارشونه به یې لوستل، د خپلې وینا مسودې به یې لیکلې او خپلو برېښنالیکونو ته به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب وايه. په همدې حال کې به يې تلويزيون هم په ټيټ غږ چالان کړی و او ورزشي سيالۍ به يې ليدلې.

کلونه کلونه کېدل چې ما او نجونو باراک ته رايه ورکوله او د رای ورکوونکو له ډلې يې وو، مگر اوس يې درې سوه ميليونه نور رای ورکوونکي هم درلودل. ده به چې کله د شپې نجونې ښکل کړې او بيا به يې زه ښکل کړم او موږ ته به يې شپه پخير وويل نو په ډېره مينه به دولتي کارونو ته ورغلو. ما به له ځانه سره ويل چې آيا خلک پوهېږي چې څومره ښه چانس لري چې باراک يې انتخاب کړی دی.

باراک ته معمولاً د ورځې يو سلو پنځوس زره ليکونه راتلل. ده د خپلې ولسمشرۍ له پيله ويلي وو چې له دې ليکونو څخه دې کابو لس ليکونه انتخاب کړل شي چې هغه ځواب ورکړي. هغه به په دقيقه توگه ليکونه لوستل او ځوابول به يې. د ليکونو په حاشيو کې به يې خپلو چارواکو ته ځينې يادښتونه هم پرېښودل چې ورته رسيدگی وکړي. زياتره ليکونه به د سرتېرو، بنديانو، سرطاني ناروغانو چې د خپلې درملنې لگښتونه به يې نه شول پوره کولی او د هغو خلکو وو چې خپل کورنه به يې د قسطونو د نه ورکولو له امله بېرته بايللي وو. البته همجنسبازانو او جمهوريپالو به هم ځينې ليکونه ورته رااستول چې باور به يې درلود چې باراک د هېواد د له منځه وړلو په حال کې دی. د ځينو ميندو او پلرونو او نيا او نيکونو او تنکيو زلميانو ليکونه به يې هم لوستل او دا به يې خپله دنده گڼله چې د هغوی ستونزو ته رسيدگي وکړي. دا به په داسې حال کې وو چې زه او نجونې په ويدې وو او ده به هماغسې خپل فعاليتونه کول.

دوشنبې او چارشنبې ورځو کې به لس کلنې ساشا د يوه پوهنتون په يوه حوض کې د لمبا تمرين کاوه. زه به هم کله ناکله ورسره تلم. کله به چې ورسره لاړم نو هغې برخې ته به لاړم چې نور ميندې او پلرونه به هم پکې ولاړ وو او حوض به يې د ښيښې له شا ليده. ما به هم دې ته کتل. خو امنيتي چارواکو راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



توصیه کوله چې ونه پېژندل شم. مګر کله ناکله به ځینې کسانو شورماشور جوړ کړ او ویل به یې چې: «هې دا خو میشل اوباما ده.»

ساشا ډېره ښه لامبوزنه وه. د څونګښې لمبا یې خوښېده او د پتنګ لمبا یې هم زده کوله. دې به د لمبا په مهال کې کله ناکله لمبا دروله او د خپل اوستاد خبرې به یې اورېدلې. یا به یې هم له خپلو هم ټیمانو سره خبرې کولې. دا مې ډېر خوښېدل چې نجونې د ټولنې په هماغه عادي فضا کې ووینم او هڅه مې کوله چې د هغوی اړیکه د دونیا له خلکو سره خوندي وساتل شي. کله به چې دوبنۍ رخصتۍ شوې، نو موږ به کورنیو سفرونو ته تلو. دې سفرونو کې به نجونو د تاریخ په اړه زیات څه زده کول. د ۲۰۰۹ کال د دوبي په رخصتیو کې مو دوی د مسکو کرملین ماڼۍ او د روم واتیکان ښار ته بوتللې. په دې اوه ورځني سفر کې یې د روسیې له ولسمشر سره ولیدل، د روم په پانتویون او کولزیوم معبدونو کې یې چکر وواهه. بیا کنیا ته لاړو. کنیا مو ولیده. دا هغه ځای و چې زیات افریقایان به د غلامانو په توګه ترې وړل کېدل.

ډاډه یم چې نجونو هرې پېښې ته له خپل نظره کتل. له یوه دوبني سفره چې راوګرزېدو، څه موده وروسته د ساشا ښوونځي ته لاړم، ښوونځي کې د ښوونکو او د زده کوونکو د کورنیو د انجمن د دفتر په شاوخوا کې ګرزېدم چې د یوه دېوال پر یوه مقاله مې سترګې ولګېدې چې د دوبنیو رخصتیو په اړه وې. دا مقاله د ساشا وه چې پکې لیکلي یې وو: «زه روم ته لاړم، له پاپ سره مې ولیدل. د هغه د بټې ګوتې یوه برخه پرې شوې وه.»

زما بیخي یادېږي نه چې د هغه بټه ګوته ځنګه وه. اصلاً مې ونه لیدله. مګر داسې ښکارېدل چې ماشومان له موږ ځخه زیات جزییاتو ته پاملرنه کوي.

که څه هم موږ هڅه کوله چې نجونې د باراک له سیاسي نړۍ ځخه بېلې کړو مګر په عین حال کې پر دې هم پوهېدو چې ساشا او مالیا باید له ځینو شیانو خبرې شي. په هر حال هغوی زموږ په همدې دونیا کې ژوند کاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلابېلې پېښې پکې وې. دوی په خپلو سترګو لیدل چې کله ناکله یې پلار د هېواد د ځینو بېړنیو مسایلو د هواري په خاطر وربلل کېږي او په ښکاره ورته توهین کېږي. کومو کسانو چې زما مېړه ته توهین کاوه ماته د هغو وحشي زمریانو او پړانګانو په څېر وو چې په خوب کې مې ولیدل چې پر مونږ برید کوي.

د یوې تلویزیوني برنامې یو ویاند و چې سوداګري او پېر او پلور یې کاوه. ۲۰۱۱ کال کې مې په خبرونو کې واورېدل چې دې کس غوښتل چې د جمهوریپال ګوند له خوا ولسمشرۍ ته ځان نوماند کړي. هغه به په تلویزیوني چینلونو کې د باراک په بهرني سیاست نیوکې کولې او ملنډې به یې پرې وهلې. همدارنګه په ځغرده به یې ویل چې باراک امریکایی نه دی. دا ګونګوسه وړاندې هم ځینو کسانو خپره کړې وه چې ویل یې د باراک د هاوایي پېژندپاڼه جعلي ده او په کنیا کې پیدا شوی. ټرمپ هم هڅه کوله چې ووایي چې په ۱۹۶۱ کال کې په هونولولو مجله کې راغلي چې باراک امریکایی نه دی. د ده ثبوت دا و چې باراک کوم وړکتون ته تللی، د هېچا په یاد نه دی چې ووایي چې له مونږ سره په وړکتون کې یو ځای و.

د محافظه‌کارانو په خبري رسنیو کې هم د ټرمپ بې اساسه ادعا په ډېر خوند خپرېده. دوی هڅه کوله چې د باراک څېره نومبدې کړي خو په عین حال کې دا هر څه خطرناک هم وو. یعني ناپوهه کسان تحریکېدل چې د ولسمشر پر ضد خطرناکه کارونه ترسره کړي. زه له دې موضوع ډېره وېرېدلم. ډارېدم چې هسې نه یو لېونی پیدا شي، وسله واخلي او زمونږ لوڼو پسې راشي. ډونالد ټرمپ په خپلو دې ګستاانه او احمقانه خبرو زما کورنۍ ته ستره ستونزه راټوکولې وه. د ده دا کار به هېڅکله هېر نه کړم.

خو په هر حال، مونږ ژوند ته ادامه ورکړه او په خپلې ساتونکې ډلې مو باور وکړ. کله چې باراک وپتېیله چې په ټاکنو کې ګډون وکړي، نو له همدې مهاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امنيتي ګواښونو سره مخامخ شوو. ګواښنې راته کېدې. انتخاباتي کمپاينونو کې به خلکو زه تر لاس نيولم او راته ويل به يې: «مور ټول دعا کوو چې تاسې او ستاسې کورنۍ ته څوک زيان در ونه رسوي.»

هغه وخت زه او باراک ډېر کم کليسا ته تلو. څکه خبريالان به هلته هم راپسې راتلل. په دعا کې به هم راپسې وو. دوی به په لوړ غږ پوښتنې کولې يا به يې پر موږ نيوکې کولې. همدا مهال کشيش جرميا رايت د باراک د انتخاباتي فعاليتونو په جريان کې تر بريد لاندې راغی او ځينو هڅه وکړه چې شايعه خپره کړي چې باراک مسلمان دی او ځان پټوي. موږ وپتېيله چې خپل ايمان په خپل کور کې وساتو. نو څکه هر شپه مو له ماښامه وړاندې دعا کوله. په هماغه سپينه ماڼۍ کې مو هره شنبه د نجونو لپاره د دعا او راز و نياز مراسم هم برابرول. خو زه د کليسا په هغه معنوي فضا پسې خپه شوې وم. دا په داسې حال کې وه چې باراک به مې هره شپه ليده چې له خوبه وړاندې په آرامۍ له ځانه سره دعا وايي.

دا يوه ګنګوسه وه چې باراک کنيايي دی امريکايي نه دی. دا ګنګوسه ډېره ژر خپره شوه. پايله يې څو مياشتې وروسته وه. يو سړي و چې د جمعې په شپه خپل موټر ماڼۍ ته نژدې ودراوه. بيا يې خپله نيمه خودکاره وسله د موټر له ښيښې راوايسته او پر ماڼۍ يې ډزې پيل کړې. د ماڼۍ پر پاسني پوړ يې څو ګولۍ واورولې. يوه ګولۍ د ګردۍ خونې پر يوې کړکۍ ولګېده او بله يې پر بلې. زه به کله ناکله دې خونه کې کېناستم او قهوه به مې څښله. بله ګولۍ د سپينې ماڼۍ پر بام ولګېده. هغه شپه زه، باراک او ماليا بهر ته وتلي وو. خو ساشا او مور مې په کور کې وو. خو دوی هېڅ خبرې شوې هم نه وې. زيان هم نه و واراوښتی. له دې وروسته نژدې دوې اونۍ تېرې شوې چې د ګردۍ خونې د کړکۍ ښيښې بدلې شوې. ما به بيا بيا هغه سوري ته کتل چې ګولۍ ښيښه کې رامنځته کړی و. فکر مې کاوه چې له څومره زيانونو سره مخامخ يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو ورو په بشپړه توګه پوه شوم چې خپله آرمتیا باید وساتم، نور چې څومره کرکه له موږه لري، هېڅ ری پرې ونه وهم او هغه ګواښونه چې کېدی شي موږ ته متوجې وي، هېڅ سوچ پرې ونه کړم. یوه ورځ مالیا د ماښی شاوخوا ته تللې وه چې تېنس لوبه وکړي. د یوه زده کوونکي مور د تمرین په ځای کې دې ته ورنژدې شوې وه او ورته ویلي یې وو چې: «نه وېرېږې چې دلته لوبه کوې؟» اوس مې لور هر څه زده کړي وو. دا پوهېده چې څه ووایي، نو په ډېر درناوي یې هغې مېرمنې ته ویلي وو: «که ستاسو موخه دا وي چې آیا هره ورځ د مړینې په اړه فکر کوم او که نه، نو باید درته ووایم چې نه.»

څو کاله وړاندې هماغه مېرمن د ښوونځي په یوه غونډه کې راته راغله او ښنه یې رانه وغوښتله چې زما لور یې هغه ورځ اندېښمنه کړې وه. دا څرګندوي چې دې څو څو وارې په خپلې تېروتنې فکر کړی و.

پوهېدم چې د هر خطر او هرې بریا په څنګ کې ځینې زیانونه او خنډونه هم شته. اوس زما ماشومانو د نورو ماشومانو په پرتله زیات توپیرونه درلودل. دوی ستر او ښکلی کور درلود، د خوړو اندېښنه یې نه درلوده او د ښوونې او روزنې په برخه کې ټول امکانات ورته برابر وو.

زه د هېواد د لومړۍ مېرمنې په توګه سترو مسئولیتونو ته متوجې هم وم. ما باید د تور پوستو ټولنه پر دې آګاه کړې وای چې زما په شان نورې ډېرې مېرمنې هم شته. یعنې دا چې ما د یوې ښاري تور پوستې نجلۍ په توګه په ستر پوهنتون کې زده کړې کړې وې، مدیره شوې وم او بیا سپینې ماڼۍ ته تللې وم خو دا هر څه دومره ځانګړي نه وو. دا یوه داسې لاره ده چې زموږ ډېرو مېرمنو یې توانایي او وړتیا درلوده چې دا لاره ووهي او زیاتو بریاوو ته ورسي. همدارنګه مور مې هم همدا ویل چې زه او کرېګ بریاوو ته رسېدلی او پرمختګ کولای شو. له دې سره سره موږ دومره تکړه او ځانګړي هم نه وو خو بیا مو هم ځانونه یو ځای ته ورسول. د شیکاګو په جنوبي برخه کې زموږ په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر انسانان وو. یوازې باید له دوی سره مرسته شوې وای چې ځانونه یې موندلي وای.

ما تل د هغې روزنیزې لارې په اړه سوچ کاوه چې زما شخصیت ترې رغېدلی و. د روبي تروری په اړه مې سوچ کاوه چې پیانو یې په یوه بېله طریقه راښودله. دې ماته راښودلي وو چې خپلې اوږې پورته ونیسم او د زړه له تله پیانو وغږوم. یا پلار مې رازده کړي وو چې څنګه سوګ وار کړم او د کرېګ په شان فوټبال وکړم. همدارنګه برین ماور ښوونځي کې زما ښوونکو ښاغلو مارتینز او بنت داسې وو چې هېڅکله یې زما نظریه بابېزه نه ګڼله یا زما مور چې ډېره ستره ملاتړې مې وه چې په ښوونځي کې یې زما ټولګی بدل کړ او زه یې له یوه ټولګي بل ته بوتلم. همدا شان په پرېنستون پوهنتون کې چرني چې تل یې هڅولم، ما ته یې زړه راکاوه او تل د دې باعث کېده چې فکرونه مې وروزم یا سوزان شر او والري چې له کلونو کلونو راهیسې اوس هم زما ښې ملګرې دي او ما ته یې څرګنده کړې چې څنګه یوه دنده لرونکې مور واوسم.

زما تل خوښېدل چې له نورو سره مرسته وکړم او کله به مې چې څوک لیدل چې له یوه کار سره علاقه لري نو هڅول مې. که چا به له رانه لارښوونه غوښته، نو زما به له لاسه چې هر څه کېدل نه مې ترې دریغول.

کله چې سپینې ماڼۍ ته لاړم نو شل زده کوونکې مې راوبللې چې زموږ په یو میاشتنیو غونډو کې ګډون وکړي. په دې غونډو کې به مو سره خبرې اترې کولې، علمی سفرونه به مو کول او د ځینو مسایلو لکه د مالی مدیریت او د حرفې د ټاکلو په برخه کې به مو غونډې نیولې. البته دا هر څه به د تړلو دروازو تر شا او د رسنیو له جنجاله لرې وو.

هره تنګۍ نجلۍ به مې یوې مشاورې ته وروسپارله چې د خپل ژوند کیسه ورته ووایي. زما مشاورې دا وې: والري، کریس کامرفورد، جېل بایډن او همدارنګه د سپینې ماڼۍ څو نورې اجرایي مدیرانې. په راغلو نجونو کې به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي کورنيو نجونې او د بې کوره شوو کورنيو نجونې هم وې. دوی به چې کله له ښوونځي فارغېدې له مور سره به پاتې کېدې. دا نجونې ډېرې هوښيارې او ځيرکې وې چې ما د خپلو لوښو په څېر منلې وې او له هغوی سره صميمي شوې وم. هغوی ته به مې د پوهنتون او داسې نورو ځايونو ګټې بيانولې. پولی به موې خوړلې، خندل به مو او د راتلونکي په اړه به مو خبرې کولې. اوس نو له دوو کلونو زياته موده کېده چې په سپينه ماڼۍ کې مې ژوند کاوه. ما او باراک هڅه کوله چې خپله حبابي محدوده پراخه کړو او د هغې ځای سوړ او رسمي حالت راکم کړو. کله چې به ځيني بهرني چارواکي زموږ ليدلو ته راتلل نو موږ به د ښوونځي زده کوونکي هم رابلل چې رسمي ښه راغلاست ووينې. کله به چې موسيقي غږوونکي د ماښام مراسمو لپاره راتلل نو هيله به مې ترې کوله چې د ځوانانو لپاره هم يوه ځانګړې برنامه جوړه کړي چې له موسيقي سره آشنا شي. له دې لارې د ښوونځي ماشومان له سترو هنرمندانو لکه جون لجېند سره آشنا کېدل. زه او باراک به تل په لومړۍ ليکه کې موسيقۍ ته نڅېدلو. مور به مې هم په مراسمو کې چندان ګډون نه کاوه خو کله به يې چې د موسيقۍ غږ واورېد لانديني پوړ ته به راښکته شوه.

سپينه ماڼۍ کې مو د نڅا او نورو هنرونو غونډې نيولې، سربېره پردې په دې ماڼۍ کې مو په ۲۰۰۹ کال کې يوه مشاعره هم جوړه کړه چې موسيقي يې هم لرله ځوان هنرمن مانويل ميراندا موږ ته موسيقي وغږوله. له دې مشاعرې مو ډېر خوند واخيست.

موږ هڅې کولې چې ماشومان فعاليتونه او هلې ځلې وکړي. کله به چې د فوټبال سيالۍ وې نو زه به له ماليا او ساشا سره يو ځای ورتلم او د نورو ميندو او پلرونو تر څنګ به کېناستم. خو کله به چې چا رانه هيله کوله چې انځور راسره واخلي نو په درناوي به مې دا کار رداواه. کله به چې ماليا تېنس لوبه کوله، نو زه به ورتلم او له ځانګړې خونې څخه به مې د دې لوبه ليده. کله به يې چې لوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای ته ورسېده زه به ورغلم او په غېږ کې به مې ونیوله.

خو باراک دا ټول عادي فعالیتونه له خپلو برنامو لرې کړي وو. البته کله ناکله به یې د نجونو په ورزشي مراسمو کې ګډون کاوه، خو ډېر کم. دی به چې داسې مراسمو ته راته نو ډېر ساتونکي ځواکونه به هم ورسره وو.

یوه ورځ زه او باراک په ګډه ښوونځي ته لاړو چې ساشا یوه برنامه پکې درلوده. د ښوونځي په انګړ کې د وړکتون ماشومان وو چې زانګوګانو کې زنګېدل. له ماشومانو تېر شوو. پټ ساتونکي مو پر بامونو ولاړ وو چې تورې جامې یې اغوستې وې. ساتندویه ډله هر چېرې له موږ سره وه. کله چې ساشا او مالیا د خپلو دوستانو مېلمستیاوو ته تللې، یا به موټر کې کېناستلې یا به په بازارونو کې ګرزېدلې دوی به یې تل ساتنه کوله او مور به مې هم ورسره وه. اوس به چې کله نجونې د زېږدو کلیزې ته تلې نو چې راوتې به خپلو ساتونکو ته به یې کېکونه هم راوړل. موږ ورو ورو له خپلې ساتونکې ډلې سره روږدي شوو. البته چې کله به له خلکو سره وو دوی به غلی وو، رسمي چلن به یې کاوه او زموږ ساتنه به یې کوله. خو کله به چې په الوتکه کې کېناستو یا به په ځانګړو ځایونو کې وو نو له دوی سره به مو خبرې کولې او ما به په ټوکه ورته ویل چې ډېر مهربانه یئ خو د ډبرې په شان ځېرې لرئ. وروسته له دوی سره ډېر صمیمي شوو، دومره صمیمی چې کله به یې نژدې خپلوان مړه شول نو ما به غمشریکي ورسره کوله او کله به یې چې ماشومان بریالی کېدل، زه به هم ورسره خوشحاله وم. پوهېدم چې دروند مسئولیت یې منلی او دا چې حاضر دي خپل ځان تر موږ ځار کړي نو زما لپاره ډېر ارزښتمن وو.

اوس نو ما هم د نجونو په شان هم شخصي ژوند درلود او هم رسمي او متوجې شوې وم چې داسې زیاتې لارې چارې شته چې که ترې ګټه واخلم نو پرته له دې چې ولیدل شم یا وپېژندل شم بازار ته تللی شم او یو څه اخیستلی شم یا کوم ځای لیدلی شم. د مثال په توګه زموږ سپي بو په کور کې د لوبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول وسایل دانګې وانګې کړل، له دې وروسته یوه ورځ سهار د لوبو د وسایلو یو پلورنځي ته لاړو او د سپي لپاره مو د لوبې ځینې نور وسایل واخیستل او له دوکانه راووتلو. هر کله به چې په پټه او بې شورماشوره ښار ته تلم نو بریا به مې احساسوله. یوه بله ورځ مې د بېسبال خولۍ پر سر کړه. تورې عینکې مې پر سترګو کړې. یوه پلورنځي ته لاړم. ساتونکې ډله هم راسره وه چې ورزشي جامې یې اغوستې وې. په پلورنځي کې تاو راتاو شوم. د ښاغلو کریم او د ښاغلو بورسونه مې واخیستل. همدارنګه د ساشا او مالیا لپاره مې د لوبو ځینې وسایل پیدا کړل چې وامې اخیستل او یو ښکلی کارت مې هم واخیست چې د واده کلیزه کې یې باراک ته ورکړم. خپله ماجراجویي مې ورو ورو زیاته کړه. کله ناکله به مې له خورلڼو سره رستوران یا د دوی کور ته ورتلم. کله به پارک ته تلم او د سین په غاړه کې به مې چکر واهه. البته امنیتي چارواکي به هم په پټه توګه زما شاوخوا کې ګرزېدل او راباندې پام به یې وو. په راتلونکو کلونو کې حتا دې حالت ته ورسېدم چې له سپینې ماڼۍ به راووتم، لوبغالو ته به لاړم ورزش به مې کاوه، یا تر ټولو مهمه دا چې له واورو ځخه ډکو غونډیو ته به ورتلم او هلته به مې سکي کوله. دا هغه تجربې وې چې مخکې مې نه درلودې. سکي کولو ته څو ځلې ولاړم، څو ځلې له خپلو لوڼو سره او څو ځلې له خپلو دوستانو سره. هلته به مې د سکي کولو خولۍ پر سر کوله. عینکې به مې په سترګو کولې او له زیاتو نورو خلکو سره یو ځای به مې سکي کوله او خوند به مې ترې اخیسته.

دوستۍ ته مې تل ارزښت ورکاوه. په دې توګه پر دې توانېدم چې تل میشل رابینسون پاتې شم او خپل تېر ژوند له خپل نوي ژوند سره پیوست کړم. په واشنګټن کې مې د ساشا او مالیا د ځینو ټولګیوالو له میندو سره ملګرتیا پیل کړه. دا هغې مېرمنې وې چې ما ته یې اهمیت راکاوه، نه زما سیاسی او اجتماعي دریځ ته. البته داسې ډېر کسان نور هم وو چې غوښتل یې له موږ سره اړیکه ولري مګر زما چندان ورسره جوړه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۱۱ کال کې مې هڅه وکړه چې خپلې ټولې نوې او زړې ملګرې سره راټولې کړم. په دې توګه هره میاشت به مې خپلې دولس صمیمي ملګرې ټاکلې او بیا به مې د ولسمشر دوبني پارک ته راسره بوولې چې د ډېوید پنډغالي نومېده. دا ځای د واشنګټن په سل کیلومترۍ او د شمالي مریلیند په غرونو کې اباد شوی و.

دا ټولې ملګرې مې زما په شان وې چې هم یې کورني مسئولیتونه لرل او هم یې دندې ترسره کولې. موږ ټولې له دې سره روږدې شوې وو چې خپل ژوند له خپلو ماشومانو او خاوندانو ځار کړو. مګر ما کله ناکله دا هڅه هم کړې وه چې خپلو غوښتنو ته اهمیت ورکړم او د ځان لپاره هم څه ترسره کړم. اوس خوشحاله وم چې هغه مېرمنې مې هم دې کار ته هڅولې. یعنې ما به ورته ویل چې د څو ساعتونو لپاره هم چې کېږي نو خپل ماشومان، خاوند او همکاران هېر کړئ. په دې توګه موږ به د اونۍ په پای کې په ډېوېډ پنډغالي کې استراحت کاوه او ټولو مېرمنو به خپلې دوستۍ لا پسې ټینګولې. دې پنډغالي بېلابېلې کوټې درلودې چې له لرګیو جوړې شوې وې او شاوخوا کې یې ځنګلونه وو. څو شپې او ورځې به مو هلته تېرولې، د ورځې به په بایسکل ګرزېدو، روغتیایي خواړه به مو خوړل، خبرې به مو سره کولې او خپلې تجربې به مو سره شریکولې.

خورلنې به مې تل راسره وې، کله ناکله به بې ځایه قضاوتونه هم کېدل یا به زما د نوکانو په اړه خبرې کېدې یا به مې د جامو په رنګ نیوکې کېدې خو دوی به راته د زړه ډاډ راکاوه او ویل به یې چې منفي فکرونه له ځانه لرې کړم.

دوې ملګرې مې درلودې چې د ۲۰۱۱ کال په مې میاشت کې له دوی سره د ماښامي په خاطر یوه روستوران ته لاړم چې د ښار په مرکزي برخه کې و. باراک او مور مې له نجونو سره وو. د اونۍ پای کې به ډېر بیربار وو. یوه شپه وړاندې موږ په سپینه ماڼۍ کې د خبریالانو په ماښامي مراسمو کې هم وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باراک یوه وینا هم وکړه. ده په خپله لنډه وینا کې د دونالډ ټرمپ پر تلویزیوني برنامې ملنډې ووهلې. ټرمپ خپله برنامه کې ویلي وو چې باراک امریکایي نه دی. جالبه دا وه چې مراسمو کې ټرمپ هم ناست و او د باراک خبرې یې اورېدې.

هغه شپه چې کله له خپلو خورلڼو رابېله شوم نو کور ته لاړم. کور ته لس بجې ورسېدم. هلته چې ورسېدم نو پوه شوم چې د سپینې ماڼۍ فضا بل خېل ده او له ځانه سره مې کړل چې حتماً کومه غیرعادي پېښه شوې. له ساتونکو مې وپوښتل چې ولسمشر چېرې دی؟ هغوی وویل: «آغلې فکر کوم بر پوړ کې دی او د وینا لپاره ځان چمتو کوي چې خلکو ته وینا وکړي.»

دې ته مې پام شو چې ښایي هماغه پېښه شوې وي چې میاشتې میاشتې او حتا کلونه ورته په تمه وم. له میاشتو میاشتو معلوماتو راټولولو او د احتمالي خطرونو له راکمولو وروسته بلاخره امریکایي وسلوالو د پاکستان په ایبټ آباد کې پر یو کور برید وکړ او اُسامه بن لادن یې سره له کورنۍ ووژل. کله چې خونې ته ورسېدم نو ومې لیدل چې باراک په درېشۍ کې راووت چې سره نکټایي یې هم وهلې وه او ما ته یې وویل بلاخره هغه مو نابوده کړ او چا زیان هم ونه لید. اُسامه بن لادن وژل شوی و او هېڅ کوم امریکایي سرتېري ته هم مرگ‌ژوبله نه وه اوښتې. ما غېږه ورکړه. باراک ستر رېسک ته غاړه ورکړې وه. که ماته یې خوړلې وای ښایي خپل مقام یې بایللی وای. مگر له نېکه‌مرغه عملیات په بریالۍ توگه پای ته رسېدلي وو.

د ماڼۍ د شاوخوا کورنو، مغازو او روستورانو خلک له خپلو کورنو، هټیو او روستورانو راوتلي وو او خوشحالۍ یې کولې. شورماشور دومره زیات و چې مالیا یې هم له خوبه راویښه کړه. د امریکا په ټولو ایالتونو کې خلک سړکونو ته راوتلي وو او غوښتل یې چې دا خوشحالي ولمانځي. گډو غمونو او خوشحالیو دوی ته پیوستون ورکړی و. دوی پوهېدل چې ټول سرتېري چې له هېواده بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې کوي، ټول پلرونه او ټولې میندې چې خپل عزیزان یې له لاسه ورکړي، د سپټمبر د یولسمې پېښې د ترهګریز برید د قربانیانو ټول خپلوان او لنډه دا چې ټول امریکایان خوشحاله وو. که څه هم زه پر دې باور یم چې دا ښه کار نه دی چې د یوه چا پر مړینه خوشحالي وشي او جشنونه ونیول شي مګر بیا هم هغه شپه او هغه شېبه کې امریکا آرمتیا احساس کړه او څرګنده یې کړه چې دا توانایي لري چې له ګواښونو سره مبارزه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۳

داسې ښکارېدل چې ګنې زمان الوزي او په ډېرې چټکۍ له موږه لرې کېږي. داسې چې موږ هېڅ پسې رسېدلی نه شوای. په سپينه ماڼۍ کې مو چې هره ورځ، هره اونۍ، هره مياشت او هر کال تېرول نو ډېر کارونه به مو لرل، هېڅ وزګارېدلو نه او تل به بوخت وو. د اونۍ د ورځو حساب کتاب رانه ورک و. کله به چې ماښامې ته کېناستم او له ځانه به مې وپوښتل چې غرمنۍ مې چېرې خوړلې، نو نه به پوهېدم. هر څه په بېړه و. بېړه هم ډېره زياته بېړه او زمان هم د فکر کولو لپاره ډېر کم و. کله ناکله به په يوه ورځ کې څو رسمي مراسم وو، څو به غونډې وې چې ټولو کې به مې ګډون کاوه او بيا به تلويزيوني برنامه کې هم څرګندېدم. بېلابېلو ايالتونو ته به تلم او زرګونو کسانو ته به مې وينا کوله او يا به مې ماڼۍ ته ماشومان رابلل او رېسمان بازي به مې ورسره کوله. کومو ورځو کې به مو چې مېلمستياوې نه درلودې وزګاره به وم، د جامو او سينګار غم به راسره نه و نو له وخته به مې ګټه اخيسته او د ماليا او ساشا وضعو ته به مې رسيدګي کوله. خو وروسته به بيا هر څه له سره پيلېدل: وېښته سينګارول، مناسبې جامې اغوستل او په عمومي غونډو کې ګډون کول او وينا کول.

په ۲۰۱۲ کال کې چې څومره انتخاباتو او د باراک بياځلي ټاکل کېدلو ته ورنژدې کېدو نو هومره مې احساسول چې بايد استراحت ونه کړم، هڅې وکړم، هاند وکړم چې باراک بياځلي انتخاباتو کې بريالی شي. زما نه ژوند د امريکا تېرو لومړيو مېرمنو ته ورته و او نه هم کيسه. هغوی هېڅکله زما د ژوند په اړه فکر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشو کولای چې څنګه مې تېر کړی او څنګه يې تېروم. هڅه مې کوله چې له ځانه ښه مخينه پرېږدم. که څه هم د لومړۍ مېرمنې په توګه مې څه ناڅه ښه محبوبيت پيدا کړی و خو بيا مې هم نشو کولای چې د ځينو هغو کسانو نيوکې وزغمم چې د پوستکي د رنګ له مخې يې زما په اړه قضاوت کاوه. له همدې امله ډېره هڅه مې کوله ډېر تمرين وکړم چې يوه ښه او بشپړه وينا ارايه کړم. همدارنګه خپلو کارکوونکو ته مې هم ويل چې برنامې ښې پلان کړي او ځانونه ښه ډاډه کړي چې هر څه سم دي. پر خپلو مشاورانو مې هم ټينګار کولو چې د «راځئ حرکت وکړو» پروژې ته زيات خلک رامات کړي. ښه پام مې کاوه چې هسې نه فرصتونه ضايع کړم، خو کله کله به مې ځانته دا فرصت هم ورکاوه چې آرامه ساه وکاږم.

ما او باراک د انتخاباتي فعاليتونو لپاره يوازې څو مياشتې وخت درلود. موږ بايد ډېر سفرونه کړي وای، ځکه ډېر اندېښمن وو، د دې انتخاباتي مبارزې لګښتونه هم ډېر زيات وو (باراک او د ماساچوست پخواني والي ويت رامني بايد يو يو ملیارده ډالر د خپلو انتخاباتي کمپاينونو لپاره راټول کړي وای. رامني د جمهوريپال ګوند له خوا ولسمشرۍ ته نوماندېدلو). د روغتيايي بيمې قانون او همدارنګه د اقليمي بدلونونو له کنوانسيون سره د امريکا يو ځای کېدلو او ځينو نورو زياتو مسايلو له همدې انتخاباتو سره اړيکه درلوده. څومره کسانو چې په سپينه ماڼۍ کې کار کاوه همدې متزلزله وضعيت کې وو. ما حتا د احتمالونو په اړه هم فکر نه کاوه چې ګنې باراک دې په انتخاباتو کې ناکام شي مګر په زړونو کې بيا دواړه وېرېدو خو هېڅ يوه جرأت نه کاوه چې دا وېره پر خوله راوړي.

د ۲۰۱۱ کال دوبی د باراک لپاره له اضطرابه او سترسه ډک دوبی و. ځينې جمهوريپال استازي به يوازې هغه وخت د دولتي پورونو د پاڼو صادرولو ته حاضر و چې باراک د خپلو برنامو له تصويب او پلي کولو تېر شوی وای. دې برنامو کې روغتيايي بيمه هم وه. خو هغه نه غوښتل چې له خپلو برنامو تېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه بیا نو کارګرې او زیارګالې طبقې ډېرې زیانمنېدلې. له احصاییې سره سم، اقتصادي ودې ثابته وضعه پیدا کړې وه او هېواد د ۲۰۰۸ کال له کړکېچه راوتلی و. خو ځینې نورې چارې تر اوسه هم دومره ثابتې نه وې. د اُسامه بن لادن له وژلو وروسته د باراک مینوال زیات شوي وو. خو دولتي پورونو او د اقتصادي ځوړتیا په اړه اندېښنو د باراک وضعه خرابه کړې وه او مینوال یې راکم شوي وو.

ځو میاشتې وړاندې مې یو پلان نیولی و. غوښتل مې جنوبي افریقا ته لاړه شم. نو دا ګډوډ حالت مې پرېښود او جنوبي افریقا ته لاړم. ساشا او مالیا هم په ښوونځي کې رخصتې وې، نو له ما سره تللای شوای. مور مې او د کرېګ ماشومان هم له مور سره لاړل. د پېغلو افریقایي رهبرانو په کنفرانس کې مې وینا وکړه. له سیمه‌یزو افریقایي رهبرانو او د امریکا سفارت له کارکوونکو سره مې وکتل او همدارنګه د روغتیا او ښوونې په مراسمو کې مې هم ګډون وکړ. بوتسوانا ته مې هم یو لنډ سفر وکړ. د هغه ځای له ولسمشر سره مې هم وکتل. بیا مې د ایډز ناروغۍ یو کلینیک هم وکوت. په ژوهانسبورګ کې د نژادي تبعیض موزیم ته لاړو. د دې ښار یوې تور مېشتې سیمې ته لاړو، هلته مو له ماشومانو سره نڅاوې وکړې او د هغوی تر څنګ مو کتابونه ولوستل. بیا مو له دېزموند توتو سره وکتل چې اسقف، افسانوي دینپوه او سیاسي فعال و چې په جنوبي افریقا کې یې د نژادي تبعیض د لغو کولو لپاره ډېرې هلې ځلې کړې وې. توتو اوس نهه اویا کلن و، هېور ښکارېده، تل یې موسکا پر خوله وه او کله یې چې واورېدل چې زه د اندامو د تناسب د دودونې په خاطر په یوه ورزشي لوبغالي کې یم نو هلته راپسې راغی او د یو شمېر ښادو او خوشحالو ماشومانو پر وړاندې یې ټینګار وکړ چې له مور سره سویډني لمبا وکړي.

د جنوبي افریقا دې ځو ورځني سفر زما روحیه ډېره لوړه کړه. په ۱۹۹۱ کال کې هم له باراک سره لومړی ځل کنیا ته راغلې وم، خو دې سفر ورسره بشپړ توپیر درلود. دا ځل کله چې د رهبرو افریقایي پېغلو په کنفرانس کې د شپږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اويا پېغلو پر وړاندې ودرېدم نو له سترګو مې اوښکې راغلې. هغوی ډېرې هيله بښوونکې وې. هغه مهال د افريقا شپېته سلنه نفوس تر پنځه ويشت کالو کم عمر درلود. اکثره دې پېغلو په خيريه بنسټونو کې کار کاوه او نورې مېرمنې يې روزلې چې کار زده کړي او د دولتي فساد مخه ونيسي.

مګر ډېره هيښنده واقعه زموږ د سفر په دويمه ورځ وه. زه او زما کورنۍ په ژوهانسبورګ کې د نېلسون منډېلا بنسټ په ودانۍ کې وو او د منډېلا له مېرمنې ګراچا ماچل سره مو ليده کاته کول چې مشهوره بشردوسته وه خو يو وخت مو پام شو چې منډېلا هم غواړي چې هماغه نژدې ځای کې په يوه کور کې له موږ سره وګوري.

ما هم په خوشحالۍ ومنله او ژر ورغلو. منډېلا دا مهال دوه نوي کلن و او د ينې (کبد) د ناروغۍ په خاطر په روغتون کې بستر شوی و. کله چې شپږ کاله وړاندې منډېلا واشنګټن ته راغلی و نو باراک ورسره کتلي وو. له هغه سره يې يو انځور هم اخيستی و چې بيا يې د خپل دفتر پر دېوال راوځړاوه. زما لور ساشا اوس لس کلنه او بله لور مې ماليا اوس ديارلس کلنه وه. د دوی دې ته پام شوی و چې دا واقعه ډېره مهمه ده چې پلار يې د داسې چا انځور په خپل دفتر کې راځړولی. د منډېلا ليدنې ته لاړو. نجونې هم پوهېدې چې مهم کس ته ورځو. مور مې هم راسره وه. مور مې که څه هم تل آرامه وه خو کله يې چې منډېلا وليد نو هيجاني شوه.

زما پر باور، هېڅ داسې ژوندی شخص نه و چې د نېلسون منډېلا په کچه يې دې د نړۍ پر خلکو معناداره اغېز کړی وي. کله چې دی پنځه دېرش کلن ځوان و نو د لومړي ځل لپاره يې د افريقا ملي کانګرس ته لاره ومونده او د جنوبي افريقا د تبعيضي سياست پر وړاندې ودرېد. په داسې حال کې چې د جنوبي افريقا د دولت ټول چارواکي سپين پوستي وو. څلور څلوېښت کلن و چې ونيول شو، ولچک ورواچول شول، زولانه شو او زنداني يې کړ. ګناه يې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې سیاسی فعالیتونه یې کول. کله چې په ۱۹۹۰ کال کې له زندانه راخلاص شو نو یو اویا کلن و. اوه ویشت کال یې زندان زغملی و، شکنجې یې تېرې کړې وې او یوازیتوب یې ګاللی و. بلاخره یې د دولت له رهبرانو سره مذاکره وکړه او هغوی ورسره همغږی شول چې په جنوبي افریقا کې یوه ریښتیانۍ دیموکراسي راشي. لنډه دا چې د دې هېواد لومړنی ولسمشر هم شو.

د منډېلا کور په هغه سړک کې و چې شاوخوا ته یې ډېر ونې وې. کور یې د مدیترانې د کورنو په شان و. کله چې له ګراچا ماچل سره د منډېلا خونې ته ورننوتلو نو دی په یوه ستره او رڼا خونه کې په راحته څوکۍ کې ناست و. قهویي کمیس یې اغوستی و. وېښته یې سپین او کم شوي وو. یوه سپینه کمپله یې پر خپلو پښو اچولې وه. د خپلوانو څو نسلونه یې شاوخوا ته ناست وو او زموږ ښه هرکلی یې وکړ. د ده نیک، ښه او صمیمانه چلن ماته خپل نیکه رایاد کړ چې زه ماشومه وم او هغه ژوندی و. د منډېلا په لیدو مې ډېره آرمتیا احساسوله.

ډاډه نه یم چې منډېلا پوه شو چې موږ څوک یو او د څه لپاره ورته راغلي یو. خبرې یې سمې نه اورېدې او حواسو یې هم سم کار نه کاوه. ګراچا ماچل په غوږ کې ورته وویل: «دا د امریکا د ولسمشر مېرمن، میشل اوباما ده.»

نېلسون منډېلا په ځواب کې وویل: «هو، ښومره ښه.»

نېلسون منډېلا د خپلو ویناوو، لیکونو او کتابونو له امله د بشر په ذهن کې تلپاتې شوی و. پنځه ورځې وروسته چې متحده ایالتونو ته راوګرزېدم نو منډېلا په اړه مې بیا هم فکر کاوه. هغه شپه چې کله په الوتکه کې امریکا ته راتلو نو ساشا او مالیا د خپل ماما له لوښو سره په یوه کمپله کې وېدې شوې وې. مور مې په څوکۍ کې چورتونه وهل. د الوتکې په وروستۍ برخه کې د الوتکې خدمتکاران او امنیتي ساتونکي ناست وو او فلم یې کاته. د الوتکې ماشین بنګاری کاوه. ما هم یوازیتوب احساساوه او هم نه. د پېغلو افریقایانو په اړه مې سوچونه کول چې په کنفرانس کې مې لیدلې وې او پوهېدم چې د دې لپاره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنې ستونزې او ناخوالې هوارې کړي نو ډېر صبر او ډېرو هڅو ته اړتيا لري.

منډېلا د هغو عقايدو له امله زندان ته لاړ چې باور يې پرې درلود او د خپلو اولادونو او لمسيو غټېدل يې ونه ليدل. مگر پوهېده چې بلاخره بريالی به شي. هغه رازده کړل چې پرمختيا او پرمختگ ورو جريان دی او د څلورو يا اتو کلونو په اوږدو کې دومره زياته پايله نه ورکوي. دا زموږ دنده ده چې د بدلون او پرمختگ تخمونه وکرو او صبر وکړو او پوه شو چې ښايي گټه يې په خپل ټول عمر کې هم ونه گورو.

د ۲۰۱۱ کال په پسرلي کې، باراک سنا ته درې ځلې ځينې لايحې وړانديز کړې چې د امريکايانو لپاره يې زرگونه دندې رامنځته کولې او ځينو ايالتونو ته يې پيسې ورکولې چې زيات ښوونکي جذب او پر دندو وگماري خو دې درېيو ځلونو کې هم جمهوريپالو د ده وړانديز شوو لايحو ته رايې ورنه کړې.

حتا د سنا د اکثريتو جمهوريپالو رهبر مېچ مېک‌کانل کال وړاندې يوه خبريال ته ويلي وو: «زموږ اصلي موخه دا ده چې باراک د دويمې دورې لپاره ولسمشر نه شي.» ښکاره وه چې هغوی ته د خلکو غوښتنو او د هېواد ادارې کوم اهميت نه درلود بلکې غوښتل يې چې واک يوازې د دوی په لاس کې وي.

د جمهوريپالو دې چلن زما غوسه راپاروله، ناهيلې کېدم به او کله ناکله به يې له هر څه نه زړه راتور کړ. پوهېدم چې باراک هم له ما څخه ښه وضعيت نه لري. خو هغه همداسې په سرسختۍ کار کاوه او هڅه يې کوله چې څومره کولای شي هومره خنډونه له مخې لرې کړي. دی تل خوشبينه و او په خوشبينۍ يې باور درلود. اوس نو پنځه لس کلونه کېدل چې په سياست کې ښکېل و. زما په اند باراک د يوه پخواني مسي لوښي په څېر و چې اورونو له خرابۍ ژغورلو، نور يې هم کلکاوه او ځلا يې ورښله.

د ۲۰۱۱ کال په هماغه مني کې ما او باراک بياځلې انتخاباتي مبارزه پيل کړه. بيا به غونډو ته ورتلو، خلکو ته به مو لاسونه ورکول او د دوی ستونزو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېښنو ته به مو غوږ نیوه. له خلکو مو انرژي اخیسته. د کانګرس د ۲۰۱۰ کال منځنۍ ټاکنې په بشپړه توګه ګډوډ وې او له باراک سره چل ول کېده. داسې چې د باراک ګوند حتا نه شو کولای یو قانون هم تصویب کړي.

که څه هم ستونزې وې، مګر داسې څه هم وو چې موږ ته یې هیله راکوله لکه د ۲۰۱۱ کال تر پایه پوري ټول امریکایي سرتېري له عراقه راووتل او له افغانستان څخه هم د امریکایي سرتېرو د راوتلو لړۍ راپیل شوه او جریان یې درلود. د روغتیايي بیمې لایحه هم د پلي کېدو په حال کې وه او اوس ځوانانو کولای شول چې زیاته موده د خپلو میندو او پلرونو له بیمې ګټه واخلي او شرکتونو هم دا توان نه درلود چې د ناروغانو د درملیزې بیمې د پوښښ لپاره یو چوکاټ وټاکي. ما به تل ځانته ویل چې دا هغه حرکتونه دي چې موږ مخ پر وړاندې بیايي او دا هغه ګامونه دي چې موږ یې د سترو موخو د ترلاسي لپاره وهو.

که څه هم یوه سیاسي ګوند توطیې کولې چې د باراک ماته ووینې، خو موږ له دې پرته بله چاره نه درلوده چې مثبت فکر وکړو او خپلو کارونو ته ادامه ورکړو. همدا وه چې دواړو په سختۍ کار کاوه. خپلې برنامې مې هم نه هېرولې، هغه مې هم ترسره کولې. بله دا چې «راځئ چې حرکت وکړو» پروژې هم ښې پایلې ورکړې وې او موږ پر دې توانېدلي وو چې ځینې زنځیره‌یي روستورانونه دې ته اړ کړو چې خپله غذایي مینو بدله کړي او هغه خواړه پکې ځای کړي چې لږ کالوري او کم سودیم لري. همدارنګه موږ له دوی هیله کړې وه چې ماشومانو ته روغتیايي او سالم خواړه ورکړي.

د لومړۍ مېرمن ځواک ډېر اغېزمن دی او ما ورو ورو زده کول چې څنګه کولای شم چې په ښه توګه ترې ګټه واخلم. اجرایي ځواک مې نه درلود، سرتېرو ته مې هم امرونه نه کول او په سیاسي ناندریو کې مې هم ځان نه ښکېلاوه. زما دندې له ما دا غوښتنه کوله چې په ځینو چارو کې ولسمشر رانرم کړم. خو لږ لږ مې لیدل چې ځواکونه مې زیاتېږي. یوه نمونه وم چې په ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ډېر اغېز کولای شو. د مثال په توګه عجيبې جامې به مې اغوستې، ماشومانو ته مې له خندا ډکې کيسې کولې او خپل دا مطلب مې خلکو ته وررساوه چې د ماشومانو په غذايي ترکيب کې سوديم ښه نه دی. هر چېرې مې له ستړې کوونکو او اوږدو ويناوو ډډه کوله.

زه د کارګرې طبقې په يوه کورنۍ کې زېږېدلې او هلتهستره شوې وم. د خلکو په فرهنګ کې مې ژوره ريښه درلوده. خلک مې ښه پېژندل. نو له همدې امله کله به چې انتخاباتي شعارونو ته اړتيا پېښېده باراک به له ما ګټه اخيستله. له تېر سره زما توپير دا و چې اوس مې شيکې جامې اغوستې، کله ناکله به مې له ګاڼو هم کار اخيسته، خو هغه مجلې مې تل لوستې او هغه کومېډي سريالونه مې تل ليدل چې په خلکو پورې يې اړه درلوده او موږ ته يې زموږ فرهنګ راپېژنده.

لنډه دا چې له امريکايانو سره مې د اړيکې داسې لارې موندلې وې چې باراک او مشاوران يې پرې نه پوهېدل. د مثال په توګه له يوې مشهورې ورځپاڼې يا يوې مشهورې تلويزيوني شبکې سره به مې مرکې نه کولې او د دې په ځای به تلم، په هغو وېبلاګونو کې به مې ګډون کاوه او د هغو وېبلاګونو له چلوونکو سره به مې مرکې کولې چې زياتره مخاطبان به يې مېرمنې وې. همدارنګه خپل پيغامونه به مې د انټرنټ له لارې خلکو ته لېږل، لکه د ټوېټر له لارې. يادېږي مې چې لومړی ټوېټ مې په ۲۰۱۱ کال کې وکړ او دې ټوېټ زما پيغام ډېر ژر هر چېرې خپور کړ. دا راته يوه تازه موندنه وه چې نوی ځواک يې راکاوه.

اوس مې ځينې چلونه هم زده کړي وو. که خبريالان او د دوی فلمبرداران او عکاسان به راپسې ګرځېدل نو کولای مې شول چې ځان خواته يې راوکاږم او هغو ځايونو ته يې بوزم چې ما غوښتل. د مثال په توګه يوه ورځ ما او جېل بايډن د نقاشۍ وسايل لکه بورس، رنګونه او داسې نور شيان راواخيستل، د واشنګټن په شمالي برخه کې يوه کور ته لاړو چې پر يوه نظامي پورې يې اړه درلوده، موږ غوښتل چې د دې کس د کور په بهرني دېوال کې نقاشي وکاږو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور خاوند پنځه ویشت کلن و. افغانستان کې یې هم دنده ترسره کړې وه. هلته یې پر چورلکې برید شوی و، زخمي شوی و، پوښتې یې ماتې شوې وې او مغزو یې هم زیان لیدلی و. دې کس زیاتې درملنې ته اړتیا درلوده چې ورغېږي. که څه هم زموږ د نقاشۍ کار ډېر جالب نه و مګر زموږ موخه نقاشي نه وه بلکې غوښتل مو جاني اګبي رسنیو ته ورښکاره کړو چې خلک یې ووینې او له حاله یې خبر شي. د دې کس د کور په لومړي پوړ کې کارونه روان وو چې لږ آسنتیاوې پکې رامنځته شي او دا سړی وکولای شي چې په آسانۍ خپل کور ته په ویلچر کې وردننه شي او بېلابېلو برخو لکه، پخلنځي، سالون او داسې نورو ځایونو ته یې ورشي. د دې کور د ودانۍ چارې یوه خیریه بنسټ منلې وې. دې بنسټ دا شان زرګونه کورنه رغول چې کارونو یې جریان درلود. دا کورونه یوازې هغو نظامي چارواکو ته رغېدل چې جګړو کې یې زیانونه لیدلي وو او زخمي شوي وو. څنګه چې خبریالان تل په ما پسې وو نو دلته هم له خپلو کمرو سره راپسې راغلل او زما او د جېل د نقاشۍ فلم یې واخیست. خو دوی خبر نه و چې موږ لومه ورته اېښې. دوی مو په لومه کې راښکېل کړل. ځکه اړ شول چې له آګبې او د ده له کورنۍ سره هم مرکه وکړي او په دې توګه زه خپلې موخې ته ورسېدم.

د ۲۰۱۲ کال د نومبر په شپږمه نېټه، یعنې د انتخاباتو په ورځ وېرې بیا زما وجود کې غځونې وکړې. د نورو رای ورکولو په پرتله دا رای ورکونه زما لپاره آسانه وه. ما فکر کاوه چې رایه نه ورکوم بلکې نظرپوښتنو کې ونډه اخلم چې د باراک د شخصیت او په سپینه ماڼۍ کې له کورنۍ سره د ده د چلن په اړه دي. که څه هم بوخته وم، نجونې راترغاړې وې، د دوی پالنه او روزنه مې کوله یا مې د زده کوونکو د انجمن غونډو کې ګډون کاوه، له دې سره سره مې درې ورځې انتخاباتي کمپاین ته هم ځانګړې کولې چې بېلابېلو ښارونو ته به تلم او خپلې ویناوې به مې کولې. باراک هم زیات فعالیتونه کول او نظرپوښتنو څرګندوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه په ډېر کم اختلاف له میت رامني څخه واړندې دی. باراک په خپله لومړۍ انتخاباتي مناظره کې ښه نه و ځلېدلی، نو ځکه مشاوران او مالي ملاتړي یې اندېښمن وو. ما د خپلو کارکوونکو په څېره کې ستړیا لیدله. خو دوی هېڅکله نه څرګندوله چې ستړي دي او دې ته یې اندېښنه وه چې هسې نه په څو راتلونکو میاشتو کې باراک له دولته بهر شي.

که څه هم پر باراک باندې عصبي فشارونه زيات وو مګر ډېر آرامه و او هر څه یې زغمل، خو په وروستۍ اونۍ کې یې رنګ وتښتېد، مړاوی شو، حتا لږ څه وزن یې هم بایلود او ډنګر شو. ځکه نه یوازې یې انتخاباتي کمپاینونه کول بلکې دولتي چارو کې هم بوخت و او زیات مسایل ورترغاړې وو لکه بنغازي کې په امریکایي دیپلوماتانو برید شوی و او همدارنګه د سندي توپان ته یې هم باید رسیدګی کړې وای چې ختیز سواحل یې وران کړي وو.

د هغې ورځې پر ماښام رای ورکول پای ته ورسېدل او رای شمېرنه پیل شوه. زه د کور درېیم پوړ ته لاړم چې جامې بدلې کړم، لږ سینګار وکړم او بیا راتلونکې شپې ته د غونډو لپاره ځان چمتو کړم. مردیت زما او زما د مور او د نجونو جامې برابرې کړې وې او جاني او کارل هم باید زما وېښته راجوړ کړي وای. باراک هم له خپل عادت سره سم، لومړی د باسکتبال لوبې ته تللی و او بیا په خپل دفتر کې ناست و چې خپل یادښتونه سره برابر او تنظیم کړي.

زما په خونه کې چې تلویزون و غلی مې کړ. غوښتل مې چې د رایو پایله په مستقیمه توګه یا له باراکه واورم او یا هم له ملیسا څخه.

بیا مې ځان په کارونو بوخت کړ. بلاخره اته بجې شوې او زه پوه شوم چې د انتخاباتو لومړنۍ پایلې معلومې شوې. موبایل مې راواخیست، له ځانه سره مې کېښود او دې ته په تمه شوم چې کېدی شي، ډېر ژر والري، ملیسا یا زموږ د انتخاباتي کمپاین نوې رییسه تینا راسره اړیکه ونیسي. مور مې د لومړي پوړ په پخلنځي کې وه او مجلې یې لوستې. جاني هم زما وېښته راجوړول. همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنګ راتللو ته په تمه وم. نیمه ګړۍ نوره هم تېره شوه، مګر هېڅ خبر رانغی. سر کې مې خوړو څړیکې وکړې. ګومان مې وکړ چې حتماً کوم بد خبر دی چې څوک راسره اړیکه نه نیسي. په داسې شېبو کې به تل بدبینه کېدم. فکر مې کاوه چې ښايي موږ د دې وړتیا نه درلوده چې بیاځلې حکومت کې پاتې شو.

همدا شېبه باراک په زینو کې راپورته شو. زما خواته راغی، ښه ډاډه راته موسک شو او راته کړل یې: «هر څه پای ته ورسېدل، موږ بریالی شوو.»

زما موبایل خاموشه و، خو زه نه وم پرې خبره. لاندیني پوړ کې خوشحالۍ وې، شورماشور و او تلویزیون شېبه په شېبه په دې اړه خبرونه خپرول. له څو اصلي ایالتونو پرته باراک په نورو ټولو ایالتونو کې بریالی شوی و. د ۲۰۰۸ کال په څېر ځوانانو، تور پوستانو او ښځو ټولو ده ته رایه ورکړې وه او دی یې په انتخاباتو کې بریالی کړی و. که څه هم جمهوریپالو موږ ته ډېر خندونه جوړ کړي وو خو ماته یې خوړلې وه. زه پوه شوم چې موږ په کافي اندازه غوره یو چې خلکو رایه راکړې. ویت رامني هم په هماغه شپه خپله ماته ومنله. زموږ ځلور کسیزه کورنۍ بیا هغه شپه صحنې ته لاړه او خلکو ته مو لاسونه وښورول. اوس مې په خوښۍ کولای شول چې ساشا او مالیا ته په هغه ښوونځي کې نوملیکنه وکړم چې درسونه یې پکې ویل. همدارنګه خپل دوستان او مشاوران مې هم خوندي کول او خپلې هیلې او نظریې مې هم پلې کولې. ما او باراک په انتخاباتي کمپاینونو کې خلکو ته ویلي وو چې موږ هماغسې باانرژي او پرشوره یو او غواړو چې د امریکا د راتلونکي لپاره هڅې وکړو.

له دې څخه پنځه اونۍ وروسته په کونتیکوت ایالت کې سندي هوک ښوونځي ته یو وسلوال ورننه شو او پر ماشومانو یې ډزې وکړې او ویې وژل. زه هغه شېبه سپینه ماڼۍ کې وم او یوه لنډه وینا مې کوله او له هغې وروسته پلان و چې د ماشومانو یوه ځانګړي روغتون ته ورشم چې دا پېښه وشوه. تینا ورکش کړم او دا هولناکه خبر یې راکړ او راته کړل یې چې باراک په ګردي دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دی او راته ویلي یې چې څومره ژر کېږي هومره ژر ورشم.

د اتو کلونو په اوږدو کې دا لومړی ځل و چې باراک د ورځې په منځ کې خپل دفتر ته وربللم. کله چې د ده دفتر ته وردننه شوم نو یو بل ته مو غېږ ورکړه. هر وخت به چې کومه پېښه کېده نو ده به له خپلو مشاورینو غوښتل چې د هغه پېښې په اړه ټول معلومات ورکړي چې وکولای شي ښه سنجېدلی ځواب وړاندې کړي. د سندي هوک د دې زړه بوږنوونکي جنایت په اړه یې هم بشپړ معلومات تر لاسه کړي وو. د لومړي ټولګي شل زده کوونکي او د هغوی شپږ استادان وژل شوي وو. د ده خواشیني د هغو میندو او پلرونو له خواشینۍ کمه نه وه چې خپل ماشومان یې له لاسه ورکړي وو. باراک هم زما په څېر له ماشومانو سره مینه درلوده. دی یو زړه سوانده پلار هم و چې له خپلو ماشومانو او د نورو له ماشومانو سره یې مینه درلوده. هغه ورځ کله چې مالیا او ساشا کور ته راوګرزېدې نو ما او باراک بې واکه کلکې په غېږ کې ونیولې. موږ هېڅ نشول کولای چې د هغې پېښې په اړه دوی ته څه ووایو. پوهېدو چې د امریکا په ګوټ ګوټ کې اکثره میندې او اکثره پلرونه په اندېښنو او خپګانونو اخته شوي وو. باراک په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې هڅه وکړه چې د قربانیانو کورنیو ته داسې الفاظ وړاندې کړي چې زړونه یې تسکین شي. ده په دې کنفرانس کې اعلان کړل چې د وسلو د نه پېر او پلور قانون به تصویب کړي.

په تېرو څلورو کلونو کې کله به چې کومه موضوع پېښېده نو ما به هڅه کوله چې خلکو ته ډاډګېرنه ورکړم. د مثال په توګه، د چا کورونه به چې په آلاباما توپان کې له منځه تللې وو نو له دوی سره به مې همدردي کوله. همدارنګه چا به چې د افغانستان په جګړه کې خپل عزیزان بایللي وو نو په غېږ کې به مې نیول یا د هغو پوځیانو له کورنیو سره به مې لیدنه کوله چې د تګزاس د نظامي هډې په چاودنه کې یې ځانونه بایللي وو. ما به دې ټولو ملاقاتونو کې هڅه کوله چې خلکو ته آرمتیا ورکړم او له دوی هیله وکړم چې صبر ولري. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې باراک وپتېیله چې د سندي هوک له فاجعې وروسته هلته ورشي چې د قربانیانو د جنازې په مراسمو کې وینا وکړي، نو دومره شوکه شوم چې ومې نه شول کولای ملګرتیا ورسره وکړم. نه پوهېدم چې څنګه داسې یوه څوک آرامه کړم چې خپل شپږ کلن ماشوم یې په ښوونځي کې بایللی. د دې پر ځای د اکثرو میندو او پلرونو په څېر په خپلو اولادونو ورسرېښ شوم. مخکې له دې چې باراک د قربانیانو مراسمو ته لاړ شي، د نجونو په ښوونځي کې د نڅا او نمایش پروګرام و. په دې پروګرام کې ساشا هم برخه درلودله نو باراک هم سالون ته راغی او په وروستۍ لیکه کې کېناست. ښې ننداري ترسره شوې، یوه ننداره د شهزاده او ځنګله وه چې ښکلې منظرې یې درلودې او ساشا په کې د یوه موږک نقش لوباوه. دې د موږکانو په څېر جامې اغوستې وې، اوږده غوږونه یې لرل او ښکلې لکۍ یې درلوده. ډېره ښه موسیقي هم غږېده. ما په ساشا ډېر افتخار کاوه. د باراک د ولسمشرۍ دویمه دوره، د ډېرو اړخونو له پلوه آسانه وه. موږ په تېرو څلورو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې وړ کسان پر کار ګمارلي وو او ښې برنامې او ښه پلانونه مو جوړ کړي وو چې له تېروتنو مخنیوی وکړو. د ولسمشر د معرفۍ رسمي مراسم د ۲۰۱۳ کال په جنوري میاشت کې ترسره شول. دا ځل مو د ۲۰۰۹ کال پر خلاف له لسو جشنونو یوازې دوه جشنونه جوړ کړل. اوس مو نو څلور نور کاله هم په مخکې درلودل چې باید هڅه مو کړې وای چې استراحت وکړو او د راتلونکي کار د ادامې لپاره کافي انرژي ولرو. کله چې باراک لوړه وکړه نو له دې وروسته د پوځیانو د رسم و ګذشت مراسم وو. د تېر ځل په پرتله مې دا وارې له مراسمو زیات خوند اخیسته. زرګونه کسان واشنګټن ته راغلي وو. میلیونونو کسانو د تلویزیون له لارې لیدلو. مراسمو ته چې څومره کسان راغلي وو په دې کسانو کې یوه پنځلس کلنه نجلۍ هم وه چې هایدي پندلتن نومېده او په بس کې واشنګټن ته راغلې وه. هغه له خپل مور او پلار او خپل کوچني ورور سره په شیکاګو کې اوسېدله، په ښوونځی کې هم اول نومره وه او کله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر چا له دې پوښتل چې په راتلونکې کې غواړې څه شی شې، نو دې به ويل چې: «هيله لرم چې هاروارد پوهنتون کې شامله شم.»

د ولسمشر د معرفۍ له رسمي مراسمو اته ورځې وروسته، هايدي پندلتن په يوه عمومي پارک کې په شيکاګو کې پر ډزو وويشتل او ووژل شوه. دا پارک د دې ښوونځي ته نژدې و. دا له خپلو ملګرو سره د لوبغالي په يوه سرپټي ځای کې دربدلې وه چې باران ودرېږي او بيا لاړه شي. خو دا مهال هلته د غلو يوه وسلواله ډله تېرېده چې فکر يې کړی و چې دوی يې دوښمنان دي، نو په ولاړو کسانو يې وسلې راايستلې وې، ولاړ کسان ترې تښتېدلي و، په تښتېدلو کې هايدي هم وه چې د تېښتې په حالت کې د شا له خوا يوه اتلس کلن غله پر ډزو ويشتلې وه. د دې دوې نورې ملګرې زخمي شوې وې.

کله چې باراک د کونتيکوت د ښوونځي د زده کوونکو د غمشريکۍ مراسمو ته لاړ زه د هايدي د خښولو مراسمو ته ورغلم. ما غوښتل هڅه وکړم چې په سړکونو کې د ماشومانو د وژلو مخه ونيسم او د وسلو د نه پېر او پلور د قانون تصويب لپاره چټک ګامونه واخلم. هايدي زما په شان له کارګرې کورنۍ وه او زما د وړکتوب په شان د دوی کور هم د شيکاګو په جنوبي برخه کې وو. د جنازې په مراسمو کې يې مور ژړل او ماته يې وويل: «ما چې څه کولای شول، د دې لپاره مې ترسره کړل، مګر هغه مې بايلوده.» مور يې کلوپاترا نومېده چې ډېره خواشينې وه، نری غږ يې درلود خپل وېښته يې لنډ کړي وو او د يوه شرکت د خدماتو په برخه کې يې کار کاوه. هغه ورځ يې په غاړه کې ګلابي ګل رااچولی و. د دې مېړه ناتانيال نومېده چې دواړو به تل هڅه کوله چې د خپلو ماشومانو روزنه وکړي او هېڅکله دوی پرې نه ږدي چې په سړکونو کې هسې چټي خپل وخت تېر کړي. دوی خپل ماشومان په کليسا کې د نڅا مراسمو ته هم بېول. همدارنګه ورزش ته يې هم وخت ورکړی و او خپلو اولادونو ته يې د واليبال په يوه لوبغالي کې نومليکنه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هایدي پندلتن د هغو درېیو قربانیانو له ډلې وه چې د شیکاګو په تاوتریخوالي کې یې ژوند بایللی وو او شپږ دېرشمه قرباني وه چې په هغه کال کې له کوره بهر د تاوتریخوالي ښکار شوي وو. د دې پېښو اکثره قربانیان تور پوستان وو. کله چې هایدي خاورو ته سپارل کېده نو زیات کسان کلیسا ته راغلي وو. کلوپاترا د خپلې لور کیسې کولې. د هایدي دوستانو او ټولګیوالو د دې خاطرې بیانولې. له ما پرته دې مراسمو ته د دې ښار والي او ښاروال، جسي جکسون او همدارنګه والري هم راغلي وو او ټول خواشیني وو. د ترانې ډله هم راغلې وه چې په خپله ترانه یې کلیسا په لړزا راوسته. کله چې هایدي خاورو ته وسپارل شوه، نو ما له دې څخه څو ورځې وروسته د هغې مور او پلار ته بلنه ورکړه چې راشي او د ولسمشر د کلنۍ وینا په وخت کې زما تر څنګ کېني. بیا مې دوی ته بلنه ورکړه چې د سپینې ماڼۍ په نورو جشنونو کې هم ګډون وکړي. کلوپاترا وروسته د تاوتریخوالي له مخالف خوځښت سره یو ځای شوه او د هغوی به غونډو کې به یې هم ګډون کاوه.

په ۲۰۱۱ کال کې مې د ښوونځي د نجونو یوه دېرش کسیزه ډله آکسفورد پوهنتون ته بوتله چې دا پوهنتون وګوري. ما غوښتل چې له دوی سره اړیکه برقراره کړم او هغوی ته څرګنده کړم چې په راتلونکې کې دې پوهنتون ته ورتلی شي. زه ولې بریالۍ وم او د بریا راز مې په څه کې و؟ زه ځکه بریالۍ وم او د بریا راز مې دا و چې که ماشومه وم، که به په ښوونځي کې وم او که په کور کې نو سترې هیلې به مې لرلې او له خپل کار سره به مې علاقه لرله. همدارنګه په سپینه ماڼۍ کې ما د «راځئ چې بریالي شو» په نامه برنامه هم جوړه کړه. له دې برنامې څخه مې موخه دا وه چې ماشومان تشویق کړم چې هڅې وکړي او پوهنتون ته لاړ شي. بله موخه مې دا وه چې د ښوونځیو له مشاورانو زیاته ګټه واخلم او داسې یو کار وکړم چې تکړه ماشومانو سره په ښوونځي کې دولتي مالي مرسته وشي. زړه مې غوښتل چې په ښوونځي کې داسې ښوونکي واوسي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځي داسې مشاوران وي چې د خپل سطحې چلن له امله د دې باعث نه شي چې د ماشومانو زړه له ښوونځي تور شي. ما چې کومې نجونې له ځانه سره آکسفورډ پوهنتون ته بېولې وې او کوم ماشومان مې چې سپينې ماڼۍ ته راوستلي وو چې زموږ پالېز او ترکارۍ وګوري او همدارنګه هغه زده کوونکي چې د موسيقۍ، شعر او سټايل کارځايونو ته راتلل نو ما پر ټولو ټينګار کاوه چې تاسو ټول وړتيا لرئ. تاسې ټول مهم يئ. پر ځان باور ولرئ او وړاندې لاړ شئ. ما چې له کومو ماشومانو سره خبرې کړې وې، نو په درسونو کې يې ښه پرمختګ کړی و او ښې درسي نومرې يې اخيستې وې. زه په دې پايله وروسته خبره شوم، څکه يوه ښوونکي په دې ماشومانو څېړنه کړې وه او بيا يې ماته خپله څېړنه راوښوده. دې څرګندوله چې که ماشومان وهڅول شي او زړه ورکړل شي نو د دوی ذهني ځواک به قوي شي.

کله چې هايدي پندلتن خاورو ته وسپارل شوه نو له دې وخته دوه مياشتې وروسته بيا شيکاګو ته لاړم. زما د مشاورانو د ډلې ريسه تينا وه. دا مېرمن مخکې وکيله وه او کلونه کلونه يې په شيکاګو کې ژوند کړی و. ما له تينا هيله وکړه چې مالي ملاتړي پيدا کړي چې په کوڅو او سړکونو کې د تاوتريخوالي مخه ونيسو. تينا هوښياره او فعاله نجلۍ وه، په ټولو غونډو کې به يې ګډون کاوه او ښه اغېز يې درلود. هغې له پنتاګون او د بېلابېلو ايالتونو له واليانو سره بحثونه کړي وو چې بډې يا رشوت په ادارو کې له منځه يوسي او له تقاعد شوو سرتېرو او د هغوی له مېرمنو ملاتړ وکړي. څنګه چې تينا په شيکاګو کې له بشرپالانو سره اړيکه ونيوه او همدارنګه د دې ښار له ښاروال سره يې هم مشورې وکړې نو په څو اونيو کې يې وکولای شول چې دري‌دېرش ميليونه ډالر راټول کړي. موږ دا ټولې پيسې د دې لپاره ولګولې چې تاوتريخوالی راکم کړو.

تېر کال کې د دې ښار د جنوبي برخې په ويليام هارپر ښوونځي باندې وسلوال بريد شوی و چې په پايله کې يې ۲۹ زده کوونکي پر ګوليو لګېدلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اته کسان ژور ټپيان شوي وو. ما او زما مرستيالانو ته دا يوه ډېره خواشينوونکې پېښه وه او ډېر ورته هيښ وو. دا ښوونځی په انګل وود سيمه کې واقع و چې د پېغلتوب راهيسې زما په ياد دي چې دا يوه ډېره ناامنه سيمه وه. کله چې زه دې سيمې ته لاړم نو ساتوونکي مې هم راسره وو. کورنو ته مې چې کتل نو دودونه پرې پراته ول او تک تور معلومېدل. کله چې د دې ځای په کوڅو کې تېرېدم نو پام مې شو چې هلته شراب پلورنځي هم فعاله دي. هغه ښار ورو ورو پر يوه بېوزله ښار بدلېده او زه پوهېدم چې ټول خلک يې، ټولې هټۍ يې، ټول د تېلو پمپونه يې او همدارنګه ټول ښوونځي يې له دې وېرېږي چې که بېوزلي ښار کې واکمنه شي نو په دې سيمه کې به کارو بار راکم شي. هغه ورځ ما د ويليام هارپر د ښوونځي په کتابتون کې د يوه ټولګي له ۲۲ تور پوستو زده کوونکو سره وکتل او له دوی سره مې خبرې وکړې. هغوی ووېل چې په سړکونو کې له لوپرانو وېرېږو. په دې ماشومانو کې ځينې داسې ماشومان هم و چې ميندې يا پلرونه يې نشه‌يان وو. په دوی کې داسې کسان هم و چې يو وخت يې لوپری کولې. د دې ښوونځي د ځينو زده کوونکو د کورنيو ځينې غړي په ډزو کې فلج شوي وو چې په ويلچرونو کې به ناست وو. يوه مرستندوی راته ووېل چې کله هوا لمريزه وي نو ټولو زده کوونکو ته انديښنه ورلوېږي او په خپګان اخته کېږي. ځکه لوپران په داسې ورځو کې ډېر فعاله کېږي او زياتې ډزې کوي. د دې ځای ماشومانو زده کړي وو چې کله هوا صافه او لمريزه وي نو په کور کې پاتې شي. يا که غواړي چې ښوونځي ته لاړ شي نو له هغو لارو لاړ شي چې له لوپرانو سره مخامخ نه شي. ما د دې ماشومانو صبر او زغم وستايه او هيله مې وکړه چې خومره ژر شوني وي هومره ژر دې د دوی ستونزې هوارې شي. په دې زده کوونکو کې يوه زده کوونکي په خپلو معصومانه کتو راته ووېل: «ښه شول چې راغلئ. آيا تاسې په ريښتيا کولای شئ چې د دې ځای د ستونزو په هوارېدلو کې له موږ سره مرسته وکړئ؟» ما يې په ځواب کې ووېل: «ريښتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید ووایم. زه پوهېږم چې دا سیمه زیاتې ستونزې لري خو دومره ژر هېڅکله نشي کېدای چې ختمې شي او تاسې ترې خلاص شئ. ځکه په واشنګټن که زیاتره کسان نه پوهېږي چې دلته داسې ستونزې شته او تاسې ترې کړېږئ.»
پوهېدم چې حکومتي چارواکي په ډېرو ورو مسایلو کې سره ښکر په ښکر دي. ما هغوی ته وویل چې سیاست ډېر چټل څه دی او د کرکې وړ دی. له دې خبرې پرته ما دوی ته بل څه نه درلودل. ما یوازې دا کولای شول چې دوی ته هیله ورکړم.

هغه ورځ نژدې یو ساعت ماشومانو راته د خپلو ژوندونو وېرونکې کیسې وکړې. ما هغوی ته وویل چې تاسې له دې پېښو مه خواشینې کېږئ، ځکه همدا پېښې کېدی شي تاسې ته یوه انګېزه درکړي چې متحد شئ او د دې ستونزو پر وړاندې ودرېږئ. دوی ته مې ډاډ ورکړ چې که داسې وکړئ نو بریالي به شئ. شاوخوا شپږ اونۍ وروسته د ویلیام هارپر د ښوونځي د زده کوونکو یوه ډله د هغه ځای د شتمنو سیمه‌یزو او نېکو انسانو په مرسته سپینې ماڼۍ ته راغلل چې له ما او باراک سره وګوري. هغوی هاروارد پوهنتون هم ولید او د هغې په اړه یې ځینې معلومات ومومندل. ما هم دوی ته هیله ورکړه چې یوه ورځ به تاسې هم وکولای شئ چې هغه پوهنتون ته ورشئ.

ما چې کله له زده کوونکو سره خبرې کولې نو هېڅکله مې دوی ته دا هیله نه ورکوله چې ګنې زه د دوی ستونزې هواروم. زما پام و چې موضوع دومره ساده نه ده، مګر فکر کوم چې همدا چې په کتابتون کې کېناستم او د تور پوستو ماشومانو کیسو او ستونزو ته مې غوږ ونیوه، نو تر یوې کچې مې دوی ته آرمتیا وروبښله. البته دوی ته مې داسې لارې چارې هم وروښودې چې د دوی روحیه لوړه شي او ښایي چې د دوی په ژوند کې مې کوچنی بدلون هم راوستی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲٤

**د ۲۰۱۵ کال پسرلی و. نجونې له ښوونځي رخصت شوې. ماليا راته وويل چې يو ملګری مې دی چې مينه راسره لري او غواړي په دې رخصتۍ کې راته مېلمستيا وکړي نو ورشم او که نه. که څه هم ماليا شپاړلس کلنه وه او د ښوونځي لومړۍ دوره يې هم پای ته رسولې وه مګر بيا هم موږ ته ماشومه وه، يوازې ونه يې لوړه شوې وه چې حتا له ما سره برابره وه خو چال چلن يې هماغه د نوي پېغلتوب و. دې دا سوچونه هم کول چې پوهنتون ته لاړه شي. ښه زده کوونکې وه، ډېرې هڅې يې کولې او پر خپل ځان يې باور درلود. خپل پلار ته ورته وه چې جزيياتو ته يې زياته پاملرنه کوله. له فلم او فلم جوړونې سره يې علاقه ډېره شوې وه او کله چې تېر کال ستيون سپيلبرګ سپينې ماڼۍ ته راغلی و دې ډېرې پوښتنې ترې وکړې. هغې هم ماليا ته وړانديز وکړ چې د کار زده کوونکې په توګه دې د دوی له نوي سريال سره همکاري وکړي. اوس نو زموږ لور په هغه ځای کې وه چې د خپل ژوند لاره پيدا کړي.**

**ماليا او ساشا د امنيتي چارو له امله اجازه نه درلوده چې د بل چا په موټرو کې سپرې شي. البته ماليا هغه مهال لېسنس درلود او کولای يې شول ښار کې موټر وچلوي. البته کله به يې چې موټر چلاوه امنيتي چارواکي به تل ورپسې وو. کله چې دا لس کلنه وه او موږ واشنګټن ته راغلو، نو له هغه وخت راهيسې هېڅکله به بس يا مترو يا د چا موټر کې نه وه سپره شوې. خو په هغه شپه کې، موږ په استثنايي توګه دې ته د دې کار اجازه ورکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره هغه ورځ مازیگر مهال هلک په خپل موټر کې په مالیا پسې راغی او د سپینې ماڼۍ دروازه کې لومړی امنیتي چارواکو تلاشي کړ او بیا ماڼۍ ته رادننه شو او سالون کې کېناست. مالیا ما او باراک ته وویل چې «کومه خبره نشته». له مالیا سره زه هم لوځې پښې او باراک په کورنیو څپلکو کې په لفت کې سپاره شو او له هغې سره ښکته لاړو. دا لږ څه ترهوره ښکارېده. مشکي دامن او یو ښکلی جاکټ یې اغوستی و چې ښکلې پکې ښکارېده.

ما او باراک په عادي توگه له ځوان سره ستړې مشي وکړه، هغه ته مو لاس ورکړ او څو انځورونه مو ورسره واخیستل. کله چې مالیا وتله نو موږ په غېږ کې هم ونیوه. موږ چندان اندېښنه نه درلوده، سترس مو هم نه درلود، ځکه ډاډه وو چې ساتوونکي یې هر چېرې تعقیبوي او تر څو چې له مېلمستیا وروسته روستوران ته ځي دوی به ورپسې وي.

موږ د خپل موقف له امله باید احتیاط کړی وای. مگر مالیا ویل چې دا کار زیاتی دی او د منلو وړ نه دی. په هر حال موږ په سپینه ماڼۍ کې د ژوند په اړه بېل نظر درلود او زموږ لوڼو بېل. نجونې ورو ورو د بلوغ دورې ته رسېدې.

کله چې دوی ثانوي دورې ته لاړې نو ما ځینې محدودیتونه پرې وضع کړل او دوی ته به مې وویل چې د شپې تر یوولسو بجو پورې به کور ته راځئ بیا وروسته مې یوولس بجې ورته دولس کړې چې کور ته راشي. کله به چې د دوی د امنیت په اړه راته اندېښنه پیدا کېده نو له ساتونکو به مې نه پوښتل، بلکې د دوی د دوستانو له میندو او پلرونو څخه به مې پوښتنې کولې. البته تل پوهېدم چې دوی چېرې ځي او څوک د دوی مسئول دي. لوڼو مې تل د خپل پلار مقام ته کتل او پر دې خبرې وې چې هېڅکله باید کومه تېروتنه ونه کړي او که یې وکړي، د ورځپاڼو د لومړۍ پاڼې خبر به شي. ما او باراک په نوي زلمیتوب کې څو څو ځلې اشتباه او احمقانه کارونه ترسره کړي وو، مگر هغه وخت موږ ته چا چندان پام نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مالیا اته کلنه وه، نو باراک یې په شیکاګو کې له کټ سره کېناست او ترې ویې پوښتل: «آیا ښه ده چې ولسمشر شي.» او مالیا په ډېرې خوشحالۍ وویل: «هو.» خو دا هېڅکله نه پوهېده چې په سپینه ماڼۍ کې نوې ځواني او ځواني څومره ستونزمنه او سخته ده. نه پوهېده چې کله کوم جشن او مېلمستیا ته ځي نو ساتونکي به یې ورسره وي. نه پوهېده چې که په پټه سګرېټ وڅکوي نو څوک به یې په پټه انځور واخلي او په انټرنټي سایټونو کې به یې خپور کړي.

زموږ لوڼې په ځانګړي دوران کې سترېدلې. په ۲۰۰۷ کال کې اپل شرکت خپل ملفونونه پلور ته وړاندې کړل او د درېیو میاشتو په اوږدو کې یې یو میلیون دانې وپلورل. اوس د باراک د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې یاد شرکت خپل یو میلیارد آیفونونه پلورلي وو. یعنې زموږ لوڼې د ټولنیزو رسنیو یوه نوې پړاو ته وردننه شوې وې. کله به چې دوی له ښوونځي وروسته یا د اونۍ په پای کې د واشنګټن شاوخوا ته له خپلو دوستانو سره تلې نو خلکو به همدا چې لیدې ورته راتلل به او ترې غوښتل به یې چې سلفي انځور ورسره واخلي.

ما او باراک ډېره هڅه کوله چې نجونې مو په عام محضر کې څرګندې نه شي او کله به چې رسنیو له موږ سره خبره کوله چې زموږ له لوڼو سره خبرې وکړي نو د دوی دا غوښتنه به مو ردوله. د دوی ساتونکو به هم ورزشي جامو کې ګرزېدل او هڅه به یې کوله چې په پټه د دوی ساتنه وکړي.

موږ څو کوکري کور ته ځکه راوستل چې زموږ د کور فضا یوه معمولي کور ته ورته شي. خو د خپلو لوڼو شخصي حریم ته مو تل پام کاوه او خبریالان مو له دوی لرې ساتل. کله چې باراک ولسمشر شو نو د هغه د ولسمشرۍ له پیله نجونې په ځینو مراسمو کې له باراک سره یو ځای څرګندې شوې وې. لکه د شکرانې په اختر کې د فیل‌مرغ ښنلو په مسخره مراسمو کې. هغه ورځ مې یاد ده چې نجونې ډېرې بې تفاوته او زړه نازړه وې چې په دې مراسمو کې یې ګډون وکړ او د خپل پلار تر څنګ ودرېدې. دوی له فیل‌مرغ سره انځورونه هم واخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یو.اس.آ ټوډې ورځپاڼې بله ورځ ولیکل: «داسې ښکاري چې مالیا او ساشا نه غوښتل چې فیل‌مرغ یې د پلار له خوا وبښل شي نو ځکه گورم وې.»

په هر حال مور په ټولو مراسمو کې نشول کولای چې خپلې نوې پېغلې شوې نجونې کنټرول کړو چې د رسنیو پر وړاندې ځنگه چلن ولري. اوس هغوی غټې شوې وې او د دې احتمال وو چې زموږ ځینې برنامې د دوی نه خوښېدې او ورته جالبې نه وې. د مثال په توگه کله به چې مور غوښتل چې د پل مک کاتني سندرې واورو نو دوی به خپلو خونو ته لاړې او هلته به یې د خپلې خوښې ور موسیقي اورېده. یا به د ساشا او د دې د دوستانو خوښېدل چې په پخلنځي کې هغه خواږه او خواږه برابر کړي چې په تلویزیون کې به پخېدل. کله به چې زموږ لوڼې ځینې ځایونو ته تلې او چا به نه پېژندې نو ډېرې به خوشحاله وې. که هغه به یوازې سفرونه و او که ډله‌یز.

د باراک له ولسمشرۍ وړاندې زموږ کورنۍ سفرونه ډېر خوندور وو. هاوانا ته تللي وو، هلته نجونو بسکټبال لوبه کړې وه، چین ته تللي وو، د چین په دېواله گرزېدلي وو او په ریو ښار کې مو د مسیح ستره مجسمه لیدلې وه. خو اوس مو په سپینه ماڼۍ کې ژوند کاوه او کله به چې اونۍ پای ته ورسېده او رخصتۍ ته به تلو نو منهتن ټاپو ته به ورتلو. هلته به مو چې کله خواږه خلاصېدل، بیا به مو له بهر رستورانتونو راغوښتل خو ناڅاپه به په سړکونو کې له سلگونو کسانو سره مخ کېدو چې خپل ملفونه به یې راایستلي وو، له موږ سره به یې انځورونه اخیستل او خوشحالۍ به یې کولې. مگر دا شیان زموږ د لوڼو لپاره چندان جالب او خوندور نه وو.

یوه پېغله وه، کریستین نومېده، دېرش کلنه کالیفرنیایۍ وه چې د نوې کار زده کوونکې په توگه زما دفتر ته راغلې وه. زما د سفرونو مدیره جارویس وه، دې او کریستن په گډه زما په سفرونو او ژوند کې مهم کارونه ترسره کول. هغوی د ښوونځي او زموږ د کورنۍ تر منځ اړیکه ټینگوله. د ښوونځي له ښوونکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مربیانو سره به په اړیکه کې وې. دوی زما د لوبو د مشرو خویندو په څېر وې او د مالیا او ساشا هم ډېرې خوښېدلې. نجونو به چې هر څه کول نو لومړی به یې له دوی سره مشوره کوله لکه جامې اغوستل، په ټولنیزو رسنیو کې ګډون یا هم له کوم ملګري سره چکر او داسې نور...

یوه ورځ مالیا غوښتل چې کولمبیا پوهنتون کې وګرځي، نو په کریستین مې وسپارله او امنیتي چارواکو ماته لاربووونه چې د پوهنتون د ودانۍ څمکتل (تاکاوۍ) ته لاړه شم او هلته منتظره شم. څمکتل کومه کړکۍ نه درلوده او ما هم کوم کتاب نه و راسره راوړی چې وخت مې ښه تېر شي. نو کېناستم او له ځانه سره مې فکر وکړ چې زما ژوند کومه لاره وهلې ده. څه راپېښ شول چې هغه ساده او راحته ژوند مې پرېښود چې ثابته تنخا مې لرله او داسې له جنجالونو ډک ژوند مې غوره کړ. په شیکاګو کې د کلیسا انګړ رایاد شو چې پنځه ویشت کاله وړاندې له باراک سره هلته تللې وم او هغه د سیمې له خلکو سره د کلیسا په څمکتل کې خبرې کړې وې. هغه شپه ده ډېرې نوې خبرې کولې او هغو خلکو ته یې ویلي وو چې په ډېرو هڅو ښه ژوند جوړولی شو. هغه مهال څو میاشتې کېدې چې باراک مې پېژانده، خو پوهېدم چې نور نو زما او د ده برخلیک یو دی او سره بېلېدی نه شو.

اوس مې احساسول چې خوشحاله یم او پرمختګ مې کړی. په ۲۰۱۵ کال کې مې همداسې د والتر رید روغتون په اړه فکرونه کول چې ورشم او ناروغان ووینم. داسې ښکارېدل چې اوس هلته ډېر کم زخمي سرتېري بستري کېدل. متحده ایالتونو اوس بهر ته ډېر کم نظامي پوځونه لېږل. د دې کار پایله دا شوې وه چې د زخمیانو په شمېر کې کمښت راغلی و او ډېرې داغداره مېندې راکمې شوې وې. زما په اند دا یو پرمختګ و. همدارنګه داسې ګزارشونه هم خپرېدل چې په هېواد کې د ماشومانو د چاغښت کچه راټیټه شوې. په ځانګړې توګه له دوو کلونو تر پنځو کلونو پورې ماشومانو کې. همدارنګه کله چې سترې محکمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روغتیایي بیمې ملاتړ وکړ نو د باراک هڅو هم دا پایله ورکړه چې درملیزه بیمه د ټولو امریکایانو لپاره یو شان وي. دا یوه بریا وه او ما احساسول چې پرمختګ مو کړی. یا دا چې د باراک په دوره کې اقتصادي جریان ډېره وده وکړه او ډېر بدلونونه پکې راغلل چې دې خپله د دې څرګندونه کوله چې راتلونکې ته هیله شته.

په کونتیکوت ایالت کې د ښوونځي له فاجعې یو نیم کال وروسته زموږ د استازو مجلس حتا ډېر کوچنی ګام هم نه و پورته کړی چې د وسلو د پېر او پلور د کنترول لپاره څه ترسره شي. بن لادن مړ شوی و، مګر داعش همداسې خپلې ترهګرۍ ته ادامه ورکوله. په شیکاګو کې د انسانوژنې کچه لوړه شوې وه. د میسوري یوه پولیس چې مایکل براون نومېده یو تور پوستی تنکی ځوان یې وژلی و. د وژل شوي کس جسد ساعتونه ساعتونه پر سړک پروت و. د لکوان مک دونالډ په نامه یو تور پوستی و چې پولیسو شپاړس ګولۍ ویشتلی و او ځای پر ځای یې وژلی و. دې او دې ته ورته مثالونو څرګندوله چې په امریکا کې یو داسې څه شته چې نه شي بدلېدی. کله چې باراک لومړی ځل ولسمشر شو نو شنونکو اعلان کړل چې له نژادي تبعیض څخه وروسته دوران ته رسېدلی شو چې په هغې کې د پوست رنګ او د خلکو ترمنځ تبعیض نشته. خو دوی تېروتلي وو. نژادپرستي زموږ په هېواد کې همداسې جاري وه. د ۲۰۱۵ کال په وروستیو ورځو کې زه او باراک جنوبي کارولینا ته لاړو چې د کلمنتا پینک لي کشیش د خاور سپارلو په مراسمو کې ونډه واخلو. هغه د هغو نهو کسانو له ډلې و چې په نژادپرستانه ډزو کې وژل شوي وو. ټول قربانیان تور پوستان و. یوه ناپېژانده سپین پوستي د دې کسانو په ډله کې نفوذ کړی و چې بیا وروسته د دوی د مقدس کتاب د تلاوت په غونډه کې هم شامل شوی و خو په یوه غونډه کې چې د ډلې ټولو غړو خپل سرونه ټیټ کړي وو چې مقدس کتاب ولولي او دعا وکړي سپین پوستي په ټولو ډزې کړې وې. د ډزو په وخت کې یې ویلي وو چې: «زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار ځکه کوم چې تاسې زموږ پر ښځو تېری کوئ او غواړئ چې زموږ هېواد لاندې کړئ.»

باراک په دې مراسمو کې یوه له درده ډکه ویرنه وویله او له ویرنې وروسته یې له خلکو وغوښتل چې د قربانیانو ارواوو ته دعا وکړي چې آرامې شي. له شپږو کلونو تېرېدو وروسته اوس زما او د باراک دې ته پام شوی و چې له یوه پلوه زموږ شتون په سپینه ماڼۍ کې دا معنا لري چې میلیونو کسانو ته مو هیله ورکړې او له بل پلوه دا معنا لري چې په ځینو افرادو کې مو وېره او کرکه پیدا کړې ده. دا کرکه تل خطرناکه وه او ډېرې بدې پایلې یې درلودې.

قربانیان خاورو ته وسپارل شول او دا مراسم تېر شول. له دې وروسته د ۲۰۱۵ کال د جون میاشتې په ۲٦ نېټه د امریکا سترې محکمې د امریکا په پنځوسو ایالتونو کې اعلان کړل چې همجنسبازان حق لري چې سره واده وکړي او موږ دوی ته حق ورکوو چې سره واده وکړي. دا هغه موضوع وه چې لس ګونه کاله یې په بېلابېلو ایالتونو کې اختلافات رامنځته کړي وو.

په هغه ورځ کله چې موږ د قربانیانو د ویر له مراسمو کور ته راوګرزېدو نو د ویر جامې مو وایستې او له لوښو سره مو مختصر ماښامی وکړ. بیا باراک د خپل کار خونې ته لاړ او زه هم د خپلو جامو خونې ته. هلته له کړکۍ سره ودرېدم او بهر ته مې وکتل، خو بهر مې ولیدل چې بنفشه رڼاوې دي چې انعکاس یې زموږ کړکیو ته هم راغلی. بیرون ته مې چې پام شو نو ومې لیدل چې ډېر کسان په شاوخوا سړکونو کې سره راټول شوي او جشن یې نیولی. د امریکا د سترې محکمې تصمیم ډېر کسان خوشحاله کړي وو او اوس یې جشن نیولی و. مګر موږ د څه شي غږونه نه اورېدل. ځکه سپینه ماڼۍ داسې جوړه شوې وه چې دېوالونه یې ډبل وو او کړکۍ یې ډبلې وې چې غږونه نه ترې راتېرېدل. حتا کله به چې باراک په چورلکه کې هم کور ته راتلو نو موږ به یې غږ نه اورېده چې په چورلکه کې راغلی بلکې هغه وخت به پوهېدو چې کور ته به د چورلکې د سوو تېلو بوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی. خو د چورلکې د وزرو په غړ به هېڅ خبرېدو نه .

ما چې بنفشې رڼاوې ولیدې نو د باراک دفتر ته ورغلم او ترې ومې پوښتل: «غواړې چې بهر کې رڼاوې ووینې. بېرون زرګونه کسان سره راټول شوي.»

ویې موسل او راته کړل یې: «خپله پوهېږې چې دا کارونه مې نه خوښېږي.»

ساشا په خپل کټ کې په خپل ملفون بوخته وه. ترې ومې پوښتل چې «راځه که بهر کې رڼاوې او څراغونه وینې؟»

دا مهال مالیا هم راپسې راغله او راته کړل یې: «زه یې وینم.»

زه هم له هغې سره ملګرې شوم. پرته له دې چې له چا اجازه واخلم په لفت کې لاندې ښکته شوم. لاندیني ساتونکي ته مې وویل چې غواړم سپي چکر ته بوزم او بیا په چټکۍ زینو کې ښکته شوم.

کله چې مهربانې مېرمنې کلر فاکنر ولیدم نو راته ویې ویل: «سلام، آغلې، مرسته درسره کولای شم؟» ما ورته وویل: «مننه، بیرون ته ځو رڼاوې وینو.» کلر حیرانه شوه او ورځې یې پورته کش کړې. خو کله چې دروازې ته ورسېدو او د دروازې لاستی مو تاو کړ نو ومو لیدل چې دروازه بنده ده. کله چې راوګرزېدم نو شاته مې په شخصي جامو کې یو پولیس ولاړ و. ورته ومې ویل: «دا څنګه خلاصېږي.»

کلر راته وویل: «آغلې، ډاډه یې چې بیرون ته ځې؟ هلته د ټولو تلویزیونونو کمرې په مرچه کې دي چې تاسې ښکار کړي.»

څنګه چې زما وېښته ګډوډ وو او جامې مې هم چندان برابرې نه وې نو دې ته مې وکتل: «داسې حالت کې به ورشو چې څوک مو ونه پېژني.» یوه چا راته وړاندیز وکړ چې له لاندینۍ دروازې ووزو چې د غټو موټرو او د لوژستیکی توکو د وړو راوړو دراوزه وه. ما هم هو وویل او له څند پرته مرمري زینو کې ښکته شوم. له سرو فرشونو هم تېره شوم. د جورج واشنګټن او بنجامین فرانکلین

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجسمې مې شاته پرېښودې او بلاخره آزادې هوا ته ورورسېدم. د خلکو د شورماشور غږونه له لرې اورېدل کېدل. اوس نو زه او مالیا د سپینې ماڼۍ په مخکینیو چمنونو کې ولاړې او خوشحاله وو چې بلاخره بریالۍ شوو.

د ۲۰۱۵ کال په مني کې د راتلونکې دورې لپاره انتخاباتي کمپاینونه پیل شول. جمهوریپال گوند څو نوماندان لرل چې یو پکې جان کاسیچ او بل کریس کریتسي وو. دواړه والیان وو. همدارنگه نوماندانو کې څو سناتوران هم و لکه تېډ کروز او مارکو روبیو او څو نور کسان. خو دیموکراتانو یوازې دوه کسه درلودل چې یوه هیلري کلینټن وه او بل هم بېرني سندرز. ډونالډ ټرمپ خپله نوماندي د دوبي په پیل کې اعلان کړې وه او تل یې پر مکسیکویانو بریدنه کول او هغوی ته یې تېري کوونکي ویل. ده غوښتل چې د رسنیو پام ورواړوي.

ما د لومړۍ مېرمنې په توگه خپله څلورمه پروژه د باراک په مرسته پیل کړې وه چې «پرېږدئ نجونې درس ولولي» په نامه وه. له اوو کلونو راهیسې تل په دې فکر کې وم چې پېغلې نجونې په نړۍ کې تر گواښ لاندې دي. ما پاکستانۍ پېغله ملاله یوسفزۍ لیدلې وه چې طالبانو پرې برید کړی و او بیا وروسته سپینې ماڼۍ ته راغلې وه چې زه او باراک د نجونو د زده کړو د ملاتړ په برخه کې ورسره خبرې وکړو. بیا دوه سوه او شپږ اویا نایجریایي نجونې د یوې افراطي ډلې له خوا وتښتول شوې چې بوکوحرام نومېده. د دې ډلې موخه دا وه چې نایجریایي کورنۍ ووېروي چې خپلې لوڼې ښوونځی ته پرې نه ږدي. کله مې چې پام شو چې د یونسکو له شمېرنو سره سم په نړۍ کې له ۹۸ میلیونو زیاتې نجونې ښوونې او روزنې ته لاسرسی نه لري نو ډېره هیښنه شوم. په دې نجونو کې ځینې داسې نجونې وې چې د بېوزلۍ له امله ښوونځي ته نشوای تللی. نور خنډونه د ښوونځیو لرېوالی او هغه لارې وې چې خطرناکې وې. کله به بیا مالي ستونزې وې او یا به هم جنسیتي موضوع وه چې نجونې به له سواده بې برخې پاتې کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باراک وکولای شول چې د U.S.A ، د سولې د پوځ او د کرنې د وزارت له لارې میلیونونه ډالره راټول کړي. طبیعي وه چې امریکایان د نجونو له ښوونې او روزنې څخه لرې نه و. مګر ما بیا هم د هنرمندانو په مرسته هڅه وکړه چې د نجونو د ښوونې او روزنې موضوع په نړیواله کچه رسنیزه کړم. حتا یو بل عجیب کار مې هم وکړ او هغه دا و چې په یوه کمېډي تلوېزیوني برنامه کې مې ګډون وکړ او له څو کسانو سره مې سندرې وویلې چې ډېرې ښې پایلې یې درلودې.

د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې د تېرو کلونو د کرسمېس د ورځو په شان له خپلو لوڼو سره هاوایي ته لاړم. هلته مو یو ستر کور کرایه کړ چې کړکیو یې ښه رڼا درلوده او ساحل ترې معلومېده. موږ ته د پوځیانو سمندري هډه هم رانژدې وه، نو زه هم ورغلم او له سرتېرو او د هغوی له کورنیو سره مې ولیدل. که څه هم باراک تفریح ته راغلی و مګر بیا هم له خپلو مشاورانو او مرستیالانو سره په اړیکه کې وو او د هېوادنیو مسایلو په اړه یې سره مشورې کولې. موږ به چې هر چېرې تلو نو هغه کس به هم راسره و چې د هستوي توپ بکس یې ساته.

موږ د باراک د ولسمشرۍ وروستی کال په سپینه ماڼۍ کې تېراوه. زمان په چټکه روان و. د والیانو په جشن، کرسمېس اختر او همدارنګه په سپینه ماڼۍ کې مو د خبریالانو په جشن کې ګډون وکړ. همدارنګه ما او باراک د وروستي ځل لپاره برېتانیا ته یو لنډ سفر درلود. باراک د انګلستان ملکې ته زیات درناوی درلود او ویل به یې چې کله ملکه ویني نو توت نیا یې وریادېږي. د ۲۰۱۶ کال د اپرېل په میاشت کې یوه ورځ په لندن کې د امریکا د سفیر کور ته لاړو او بیا له هغې ځایه په چورلکه کې کېناستو او وینزور کلا ته لاړو. کله چې چورلکه په ځمکه کېناسته نو ملکه او شاهزاده فیلیپ موږ ته په تمه وو او زموږ لپاره یې غرمنۍ برابره کړې وه. د سلطنتي کورنۍ د رسمي مقراراتو او دودونو له مخې زه باید د شاهزده فیلیپ تر څنګه ناسته وای چې څلور نوي کلن و او موټر یې هم چلاوه او باراک باید په شاتنۍ څوکۍ کې د ملکې تر څنګ ناست وای. خو کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر کې کېناستو نو ملکې ماته اشاره وکړه چې شاته ورشم او د دې تر څنګ کېنم. زه او باراک دوه زړي شو او نه پوهېدو چې څه وکړو. مګر ملکې وویل: «پوهېږم چې د سلطنتي قوانينو سره سم تاسې ته چټيات ويل شوي، مګر تاسې سر پرې مه خوږوئ، هر چېرې چې راحته يئ هلته کېنئ.» د دې له وينا سره سم زه هم شاتنۍ څوکۍ ته لاړم.

۲۰۱۵ کال کې د شيکاګو جنوبي برخې ته لاړم چې د زده کوونکو په فراغت غونډه کې وينا وکړم. هلته مې وليدل چې د هايدي پندلتن يادغونډه هم وه که ژوندۍ وای نو دا به هم له ښوونځي فارغېدله. په غونډه کې يوه خالي څوکۍ هم ايښودل شوې وه چې ټولګيوالو يې پکې ګلونه ايښې وو او سينګار کړې يې وه.

د لومړۍ مېرمنې په توګه مې وروستۍ وينا په جکسون پوهنتون کې وکړه چې د تور پوستانو يوه تاريخي موسسه وه. د نيويارک په سيټي کالج کې مې هم وينا وکړه او د نژادي تنوع په ارزښتونو مې ټينګار وکړ. هر چېرې به مې له خپل مقامه ګټه اخيسته او په څرګنده به مې د نژاد او جنسيت په اړه خبرې کولې او بې اهميته کول به مې او ځوانانو ته به مې هيلې ورکولې چې په راتلونکي کال کې به په داسې هېواد کې ژوند کوي چې له نژادي او جنسيتي تبعيضه به لرې وي.

وروستۍ وينا مې د هغه کال په پسرلي کې وه چې د سيدول ښوونځي په فراغتغونډه کې مې وکړه. له دې ښوونځي څخه ماليا هم فارغېده. اليزابت الکساندر هم راغلې وه. دا هغه شاعره وه چې د باراک د لومړي ځل معرفۍ په مراسمو کې يې شعر ويلی و. زه په ماليا ډېره سرلوړې شوم چې فارغه شوه. دې له يو کلن ځنډ وروسته په هاروارد کې نومليکنه کوله. ساشا هغه مهال پنځلس کلنه شوه او غوښتل يې چې د بيانسې کنسرت ته لاړه شي. پلان داسې نيول شوی و چې نجونې به د دوبي زياتره ورځې له خپلو کورنيو خپلوانو سره په مارتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلیارد ټاپو کې تېروي او زه او باراک هم وروسته هلته له دوی سره یو ځای کېدو. خو مالیا غوښتل چې له خپلو دوستانو سره اروپا ته لاړه شي.

کله چې مالیا دریځ ته لاړه چې خپل دیپلوم واخلي نو ما ولیدل چې د تورو عینکو شاته د باراک اوښکې تویې شوې. له دې څخه دوه ورځې وروسته یوه افراطي کس په فلوریدا کې د همجنسبازانو په یوه لوبغالي کې په خلکو ډزې وکړې او نهه څلوېښت کسان یې ووژل او دري‌دېرش یې زخمیان کړل.

که څه هم باراک ولسمشر و خو دې ولسمشرۍ ډېر درانه رنځونه او دردونه هم لرل. هغه ښه پلار و او د خپل پلار یې برعکس تل د خپلې کورنۍ تر څنګ و او په عین حال کې یې د هېواد چارو ته هم رسیدګي کوله او د رای ورکوونکو اړتیاوې یې پوره کولې. اوس یې د ولسمشرۍ دوره پای ته رسېدلې وه، زیات وخت یې درلود، مګر افسوس چې نجونې له موږه لرې کېدې. په هر حال راتلونکي په دوی پورې اړه درلوده.

د جولای د میاشتې په وروستیو کې په الوتکه کې کېناستو او په توپاني هوا کې مو پرواز وکړ خو په لاره کې الوتکه ولړزېده او شدید ټکانونه یې خوړل. زه یوې وینا ته تلم چې په فیلادلفیا کې مې کوله. دا وینا د دیموکرات ګوند په یوه غونډه کې وه. زما د عمومي اړیکو مدیره کارولین آلدر مورالس حامله وه چې دې ټکانونو ډېره وځوروله. ملیسا خو هسې هم له الوتنو وېرېده نو دا مهال یې هم چیغې وهلې. مګر ما یوازې په دې کې فکر کاوه چې وکولای شم په خپل وخت وینا ته ځان ورورسم او وینا وکړم. دا وینا راته مهمه وه. په ۲۰۰۸ کال کې مې چې خپله لومړۍ وینا کوله نو ډېر اضطراب مې درلود، ځکه چې له هغې وړاندې مې په ژوندۍ بڼه په تلویزیون کې خبرې نه وې کړې او په راتلونکو کلونو کې د یوې داسې تور پوستې مېرمنې په توګه معرفي شوې وم چې خشنه یم او له خپل هېواد سره علاقه نه لرم. اوس نو په هغه شپه کې وینا راته ښه فرصت و چې خپلو هېوادوالو ته ووایم چې څوک یم او ثابته کړم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ټولې خبرې هسې ګونګوسې وې او شايعې. بلاخره کله چې فيلادلفيا ته راورسېدو نو په ډېره بېړه مې ځان غونډې ته ورساوه. خپلې جامې مې بدلې کړې او د خپلې وينا متن مې ولوسته. بيا دريځ ته لاړم. خلکو ته مې هغه درسونه وويل چې په سپينه ماڼۍ کې مې د ماشومانو د سترولو په مهال کې زده کړي وو او دا چې اوس هغوی پېغلې شوې او پر ځان باور لري. د ځان په اړه مې هم خبرې وکړې او هيلري کلينټن ته مې هم اشاره وکړه چې زه پر دې باور يم چې د رهبرۍ ښې ځانګړتياوې لري او لايقه او کارنده مېرمن ده.

زه له ماشومتوبه داسې ستره شوې يم چې د زورواکو پر وړاندې ودرېږم او هېڅکله ورته تسليم نشم. اوس نو د يوه زورواکي او لوپر کس پر وړاندې درېدلې وم چې پر تور پوستانو يې ملنډې وهلې. له جنګي اسيرانو يې کرکه کړې وه او له خولې يې چې څه راوتل نو خپل هېواد ته يې توهين کاوه. ما هوډ درلود چې خپل خلک پر دې وپوهوم چې کوم شيان چې کله ناکله په تلويزيون کې د خلکو له خولې اوري، له درناوي ډک او سپېڅلي نه دي او داسې چا ته بايد رايه ورنه کړل شي. بايد خلکو ته مې ويلي وای چې امريکايانو ته کورنۍ بنسټ سپېڅلی او مهم دی. همدارنګه د هر چا شخصيت ته بايد درناوی وشي او هېچا ته توهين ونه شي.

له انتخاباتو څو اونۍ وړاندې د ډونالډ ټرمپ يو غږيز کلېپ خپور شوی و چې څرګندوله يې چې د ښځو له جنسي ځورونې دفاع کوي او په رسنيو کې بدې ردې وايي.

د ده دا خبرې مې چې واورېدې نو ډېره غوسه راغله. راتلونکې اونۍ کې مې پلان درلود چې په يوه انتخاباتي کمپاين کې د هيلري کلينټن په ګټه خبرې وکړم خو د هغې د وړتياوو د شمېرلو پر ځای مې دا احساس کړه چې د ټرمپ توهينونو ته ځواب ورکړم.

په داسې حال کې چې په والتر ريد روغتون کې وم او مور مې عملياتېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په همدې حالت کې مې د وينا لپاره ځينې يادښتونه وليکل. د ټرمپ په شان ډېرو خلکو پر ما ملنډې وهلې وې چې د ښځې په توګه يې رټلې وم او له دې امله يې راته توهين کړی و چې تور پوستې يم. همدارنګه ډونالډ ټرمپ مې له هيلري کلينټن سره په مناظرو کې ليدلی و چې څنګه يې پر هغې ملنډې وهلې او هغې ته يې توهين کاوه. ښځو څو ځلې داسې بې احترامۍ زغملې وې. دوی ته تليفوني مزاحمتونه شوي وو، ظلمونه او تېري پرې شوي وو، ځورول شوې وې او داسې نور ځورونکی چلنونه ورسره شوي وو او د دوی ځواک او واک ته په ټيټه سترګه کتل کېدل. دا هغه خبرې دي چې د ښځو ځواک راکموي. د ټرمپ نظرونه هم همدا وړ و چې ما نه شول زغملای. د خپلې وينااوالۍ له مشاورې سره مې خبرې وکړې، هغې زما غوسه درک کړه او د کلماتو په قالب کې يې واچوله. بيا وروسته کله چې په منچستر نيوهمشاير کې غونډه وه خپلې خبرې مې هلته بيان کړې. د خلکو پر وړاندې ودرېدم او کړل مې چې دا ناسم سياست دی؛ واقعاً چې له شرمه ډکې خبرې دي.

بيا واشنګټن ته راوګرزېدم او دعاوې مې کولې چې کاشکې چې زما خبرې يې اورېدلې وي. ما او باراک پټيلې وه چې په جولای مياشت کې خپل نوي کور ته کډه وکړو. موږ غوښتل چې تر هغې په واشنګټن کې پاتې شو تر څو پورې چې ساشا له سيدول ښوونځي فارغېږي. ماليا جنوبي امريکا ته تللې وه او له خپلو رخصتيو يې خوند اخيسته. چې هره ورځ تېرېده نو هيلري کلينټن او ډونالډ ټرمپ يوه نوي او شديد پړاو ته وردننه کېدل او د ټولو پام يې ځانونو ته وراړولی و.

د ۲۰۱٦ کال د نومبر د مياشتې په اوومه نېټه، له انتخاباتو شپه وړاندې، زه او باراک فيلادلفيا ته لاړو چې د انتخاباتي کمپاين په وروستيو غونډو کې د هيلري او د هغې د کورنۍ تر څنګ واوسو. ډېر کسان غونډې ته راغلي وو. نظرپوښتنو څرګندوله چې هيلري له ډونالډ ټرمپ څخه ډېره وړاندې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله وم چې امریکایان پوهېدل چې کوم رهبر ځانته وټاکي. زه د انتخاباتو پایلې ته هم هیله‌منه وم.

د تېرو څو کلونو په اوږدو کې لومړی ځل و چې ما او باراک د انتخاباتو په شپه کوم نقش نه درلود. زموږ لپاره په هوټل کې هېڅ ځای ریزرف شوی نه و. هېڅ کوم خبریال یا تلویزیوني شننونکي راته په تمه نه وو. اړینه نه وه چې خپل وېښته سینګار کړم او خاصې جامې واغوندم یا هم نجونې چمتو کړم. یوازې مو په مراسمو کې باید ګډون کړی وای او خوشحالي مو څرګنده کړې وای. والري ته مې بلنه ورکړه چې سپنې ماڼۍ ته راشي چې یو سینمایي فلم وګورو. نور مو باید مخه ښه کړې وای او له سپینې ماڼۍ وتلي وای. زموږ ډلې، یادښتونه برابرول چې هغو کسانو ته یې وسپاري چې له موږ وروسته سپینې ماڼۍ ته راتلل.

البته خوشحاله وم چې همداسې یوه موده نوره هم په واشنګټن کې پاتې کېدم. مګر ما او باراک د یوه روزنیز بنسټ د پرانیستلو فکر هم کاوه چې د هېواد د راتلونکي لپاره نوي رهبران وروزو او تشویق یې کړو. موږ غوښتل چې له ځوانانو او د دوی له نظریو ملاتړ وکړو. البته، استراحت ته مو هم اړتیا درلوده. خو هغه وخت وزګارېدلو چې نوي ولسمشر لوړه کړې وای. د ولسمشر له لوړې وروسته موږ بل چېرته تللی شوای.

سینمایي فلم چې پای ته ورسېد، څراغونه مو خاموشه کړل، همدې شېبه کې یو چا باراک ته زنګ راوکړ، څه یې ورته وویل چې څېره کې یې ګونځې پیدا شوې. بیا یې وویل: «نو داسې ده په فلوریدا کې پایلې لږ څه عجیبې دي.»

د خبرو له تون څخه یې امیدواري نه څرګندېده. څو شېبې تېرې شوې. تلیفون ته یې بیا زنګ راغی. دا ځل مې زړه ټکانونه خوړل. دا ځل د باراک سیاسي مشاور ډېویډ سیماس و چې د انتخاباتو له جزییاتو یې خبر درلود. د خپل مېړه له څېرې پوه شوم چې ناوړه خبر یې اورېدلی. ما دا خبر نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغملای. اضطراب مې ټول وجود کې غځوني وکړې. ومې ویل چې بر پوړ ته ځم. ژر پاڅېدم، لفت کې سپره شوم. غوښتل مې چې داسې کار وکړم چې هېڅ وانه ورېدلای شم.

ویده وم چې خبر تایید شو. امریکایانو ډونالډ ټرمپ د خپل ولسمشر په توګه ټاکلی و. ما نه غوښتل چې واقعیت ومنم.

راتلونکې ورځ چې کله له خوبه پاڅېدم، د واشنګټن آسمان خاورین و. د هغه بریا مې د ملت لپاره یو ډول ماتم باله. ساشا هېڅ نه منله چې داسې به وي. همداسې ښوونځي ته لاړه. مالیا له بولیویا زنګ راوکړ او ډېره غوسه وه. ما خپلو لوڼو ته وویل چې له دواړو سره مینه لرم او اړتیا نشته چې اندېښمنې شئ. هر څه به ښه شي.

زه نه ډېر سیاست کوم او نه هم ډېر سیاسي تحلیلونه. زه نه غواړم ووایم چې ولې داسې وشول او دا کار چا وکړ. ما یوازې دا هیله درلوده چې زیات کسان رایه ورکړي. بیا بیا مې له ځانه پوښتلي چې داسې څه لامل و چې خلکو یوه تکړه، باکفایته او کارنده مېرمن پرېښوده او داسې یو کس یې د ولسمشر په توګه وټاکه چې د ښځو ضد و. خو اوس موږ باید د خلکو رایو ته درناوی کړی وای او هر څنګه چې کېدل دا پایله مو باید منلې وای.

له باراکه وغوښتل شول چې له ملت سره لا نورې مرستې هم وکړي او د سولې او هوساینې یوه بېلګه شي. سهار مهال هغه په خپل ګردي دفتر کې له خپلو کارکوونکو سره مشوره وکړه. له غرمې وروسته یې داسې خبرې وکړې چې ډاډ او اعتماد پکې وو. ده ټولو خلکو ته وویل چې یووالی ولرئ، یو بل ته درناوی ولرئ او دیموکراسي رعایت کړئ.

هغه ورځ له غرمې وروسته ما هم له خپلو مشاورانو او کارمندانو سره یوه غونډه ونیوه. ټول سره کېناستو. زما ډله کې زیاتره هغې مېرمنې او لږکي شامل وو چې د کډوالو په کورنیو پورې یې اړه درلوده. دې کار هغوی ډېر خپه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو او اوښکې یې تویولې. دوی ویل چې موږ به ډېر زیانمن شو. مګر ما دوی ته ډاډ ورکړ او ورته ومې ویل چې په اتو کالو کې نشي کېدی چې هېواد له منځه لاړ شي. په هر حال، موږ باید واقعیت منلای وای او هیلې مو باید نه وای بایللې.

زموږ کورنۍ د ولسمشرانو څلور څلوېښتمه او په سپینه ماڼۍ کې یولسمه کورنۍ وه چې دې هېواد کې یې واکمني کړې وه. مګر موږ لومړنۍ تور پوستې کورنۍ هم وو چې دې هېواد ته مو خدمت کړی و. همدارنګه موږ لومړنۍ کورنۍ و چې په چیني لوښو کې مو خواړه خوړل او د سپینې ماڼۍ پر یوه دېوال مو د یوې تور پوستې هنرمنې ښکلې انځور راځړولی و چې آلما توماس نومېده. خو موږ چې په سپینه ماڼۍ کې کومه تلپاتې نښه پرېښوده، هغه هماغه د ترکاریو پالېز و چې اوس اوه نیم کلن شوی و او هر کال کابو زر کیلو ګرامه بېلابېلې ترکارۍ ترې تر لاسه کېدې. پر دې پالېز ډېر بارانونه شوي وو، ډېرې واورې پرې اورېدلې وې او ډېرې ږلۍ پرې تېرې شوې وې، خو همداسې ځای پر ځای و. البته مخکې له دې چې سپینه ماڼۍ پرېږدو ما د دې پالېز پراختیا دوه برابره کړه. څو څېرې مې هم پکې جوړې کړې چې لرګینې څوکۍ یې هم درلودې او ډبرین مېزونه یې هم لرل. بیا وروسته مې یوه ورځ له غرمې وروسته ټول هغه کسان دې پالېزه ته راوبلل چې د ماشومانو د تغذیې او روغتیا په برخه کې یې له موږ سره مرسته کړې وه. زما ټول مشاوران او کارمندان هم راغلي وو. که څه هم په ۲۰۱۴ کال کې سم کاس له سپینې ماڼۍ تللی و خو دې غونډې ته راغی.

غونډه کې ډېره احساساتي شوې وم، بیا مې له ټولو هغو کسانو مننه وکړه چې دې کلونو کې یې له موږ سره مرسته کړې وه. له ملیسا مې مننه وکړه چې لس کاله وړاندې مو د انتخاباتي کمپاین لپاره ټاکلې وه، د خپلو مشاورانو له مشرې تینا مې مننه وکړه، همدارنګه له کریستېن جارویس او چینا او نورو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو مې مننه وکړه. دوی زما د کورنۍ په شان وو. دا د دوی زیار و چې اوس پنځه ځلوېښت میلیونو ماشومانو هر سهار او هره غرمه روغتیایي خواړه خوړل، یوولس میلیونو زده کوونکو د «راځئ چې حرکت وکړو» د پروژې په مرسته هره ورځ شپېتې دقیقې ورزش کاوه. خلکو ډېر غوړ خواړه نه خوړل او ماشومانو حبوباتو او نورو روغتیایي خوړو ته مخه کړې وه او همدا خواړه یې خوړل.

همدارنګه ما د جېل بایډن په مرسته یو بل کار هم کړی و. دا کار له یو نیم میلیون تقاعد شوو او د هغوی له مېرمنو سره مرسته وه چې په بېلابېلو شرکتونو کې مو پر کار ګمارلي وو. همدارنګه زه او باراک پر دې توانېدلي وو چې د ټولې نړۍ د نجونو لپاره میلیارډونه ډالره راټول کړو او له دوی سره مرسته وکړو چې په ښوونځیو کې زده کړې وکړي.

د باراک له ولسمشرۍ څخه وړاندې د هېواد اقتصاد مخ پر ځوړ روان و، خو باراک پر دې وتوانېد چې هېواد له اقتصادی کړکېچه راوباسي. ده په پاریس کې د ځمکې د اقلیمي بدلون پیمان هم لاسلیک کړ او له عراق او افغانستانه یې زرګونه سرتېري هېواد ته راوبلل. همدارنګه د ایران هستوي برنامه یې هم ښې پایلې ته ورسوله او داسې یوه لایحه یې تصویب کړه چې شل میلیونه نور امریکایان یې هم د روغتیایي بیمې تر پوښښ لاندې راوستل. او همدارنګه د ده د ولسمشرۍ په دواړو دورو کې هېڅ مالي رسوایۍ رامنځته نه شوې او دې دورو کې هېڅ کوم دولتي چارواکي اخلاقي معیارونه تر پښو لاندې نه کړل.

لین مانویل میراندا یو ځوان سندر جوړوونکی و چې یو موزیکال کارتون یې د امریکا د تاریخ او نژادي تنوع په اړه جوړ کړی و. ده په دې کارتون کې د تور پوستانو او نورو لږکیو او همدارنګه د ښځو ونډه په ښه توګه څرګنده کړې وه. د باراک د ولسمشرۍ په وروستیو کې دا کس له خپلې ټولې ډلې سره واشنګټن ته راغی چې په ډله کې یې نڅاګر او سندرغاړي هم شامل وو. بیا یې خپل نمایش د سپینې ماڼۍ په ختیز سالون کې اجرا کړ. ما او باراک په لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکه کې ناست و. د میراندا موزیکال نمایش پر ما ډېر اغېز وکړ او یو ځل بیا یې موږ ته یادونه وکړه چې امریکا له ټولو نژادونو له تورو او سپینو تشکیل شوې ده او ځواکمنه ځکه ده چې دا ټول نژادونه سره یووالی لري.

زه له خپل ناروغ پلار سره په یوه عادي او کوچني کور کې ستره شوې وم. د بېوزلانو په سیمه کې مو ژوند کاوه او چندان شتمني مو نه درلوده، مگر د ښوونې او پوهې په مرسته پر دې وتوانېدم چې په داسې یوه هېواد کې اوج ته ورسم چې نژادي تنوع پکې زیاته وه. پر دې اساس، هر څه په خپله په انسان پورې اړه لري. د باراک د ولسمشرۍ په پای کې ما دا احساس درلود چې له خپل هېواد یعنې امریکا سره مینه لرم. اته کاله له دې لورېینې برخمنه وم چې د هېواد په سترو تصمیمونو کې ونډه واخلم. ما د ژوند ډېرې لوړې او ژورې تجربه کړې. ښایي چې زما لیدلوری به معمولي نه و، خو فکر کوم چې د دې کلونو په اوږدو کې به پر دې توانېدلې وم چې د امریکایانو د ژوند په ځینو اړخونو کې ښه‌والی راولم او د هېواد په پرمختګ کې ونډه واخلم. همدارنګه د داسې نسل په وده کې مې ونډه درلوده چې اوس پوهېږي چې ډېر شیان شوني دي او هر څه چې په راتلونکې کې پېښېږي، نو له شک پرته به چې دوی هم پکې ونډه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستۍ خبرې

بلاخره ما او باراک د ۲۰۱۷ کال د جنوري میاشت په شلمه نېټه له سپينې ماڼۍ سره خدای پاماني وکړه او له هغې ځايه راووتو. رسمي مراسم هم نيول شوي وو چې ډونالډ ټرمپ د ولسمشر په توګه پکې معرفي شي. ما او باراک له ده او د ده له مېرنې ميلانيا ټرمپ سره مليتيا وکړه او دې مراسمو ته ورسره لاړو.

هغه ورځ مې هر ډول احساسات درلودل، ستړې وم، پرېشانه وم، په ځان مې افتخار کاوه او هيجاني وم. لنډه دا چې هر ډول احساسات مې په وجود کې په ځپو وو خو هڅه مې کوله چې کنټرول يې کړم. ځکه پوهېدم چې کمرې هر چېرې راپسې وې او زموږ ټول حرکات يې ثبتول. ما او باراک پټېيلې وه چې د واک لېږد په ډېر درناوي سره په بشپړه توګه ترسره کړو او په ډېرې آرمتيا سره دا اته کاله پای ته ورسوو. اوس نو وروستۍ شېبې وې.

د هماغه ورځې پر سهار، د ورستي ځل لپاره باراک ګردي دفتر ته لاړ او د راتلوونکې ولسمشر لپاره يې ځينې يادښتونه پر مېز پرېښودل. بيا موږ ټول اداري پوړ ته لاړو چې د سپينې ماڼۍ له دايمي خدمتکارانو او کارکوونکو يعنې صفاکارانو، لارښودانو، سرآشپزانو، بڼوالانو او ساتونکو سره مخه‌ښه وکړو. زموږ په پرتله دا خدای پاماني ساشا او ماليا ته ډېره سخته وه.

کله چې دوی د ډالۍ په توګه ماته د امريکا دوه بيرغونه راکړل نو له دوکه په ژړا شوم. دا بيرغونه د باراک د ولسمشرۍ په لومړۍ ورځ په سپينه ماڼۍ کې په رپا راغلي وو.

کله چې د نوي ولسمشر د معرفۍ مراسمو ته لاړم او پر خپله څوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناستم نه هڅه مې وکړه چې خپل احساسات کابو کړم. اوس نو مراسمو ته د بېلابېلو نژادونو کسان نه وو راغلي، د تور پوستو او سپین پوستو تنوع نه معلومېده، ټول سپین پوستي وو، ښځې هم نه وې او ټول نارینه وو. دا هماغه صحنه وه چې په خپل کاري بهیر کې بیا بیا ورسره مخه شوې یم. په مخصوص ځای کې چې کوم درې سوه کسان ناست وو ټولو ته مې وکتل، خو نژادي تنوع پکې نه ښکارېده. په سپینه ماڼۍ کې د نژادي تنوع لپاره هېڅ هڅه نه کېده. یادېږي مې چې د باراک په حکومت کې چا دې ټکي ته اشاره وکړه چې هغه څه چې خلک په خپلو تلویزیونونو کې ویني د یوه ولسمشر د ارمانونو ځرګندونه نه کوي. مګر دا ځل شته کسانو د نوي ولسمشر ارمانونه په ښه توګه ځرګندول. زه پر داسې حقیقت پوهېدم او په همدې خاطر مې هېڅکله موسکا پر شونډو رانه غله.

بیا په سپېڅلي کتاب لاس کېښودل شو، لوړه بیا تکرار شوه، یوه ولسمشر له یوه کوره کډه وکړه او د بل هغه وسایل ورته راوړل شول. د قدرت لېږد یعنې همدا.

اوس نو زه د خپل ژوند په نوي پړاو کې یم. په دې موده کې مې چې کوم مسئولیتونه پر اوږو درانه ښکارېدل، ترې خلاصه شوم. اوس مې لونې غټې شوې. دوی بسیا دي. ماته ډېره کمه اړتیا لري. مېړه مې هم اوس د یوه ملت مسئولیت پر غاړه نه لري. زه د ځلور پنځوس کلنۍ په درشل کې یم. د ساشا، مالیا او باراک په برخه کې مې مسئولیتونه بدل شوي. کار مې هم بدل شوی او دنده هم. اوس د فکر کولو او پرمختګ لپاره زیات وخت لرم.

زما پر اند بدلون هغه جریان نه دی چې کوم ځای ته ورسېږ، یا کومې موخې ته، بلکې بدلون دا دی چې یوازې مخ پروړاندې لاړ شې. بدلون په ژوند کې یو تکامل دی چې ډېره خوشبیني ورته پکار ده. البته دا سفر هېڅ پای نه لري. سمه ده چې زه مور شوم، مګر اوس هم باید ډېر څه زده کړم او بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو اولادونو ته ورولېږدوم. سمه ده چې زه يوه مېرمن شوم، خو بايد زده کړم چې ډېره سازګاري ولرم او د دې لپاره چې ريښتيانی مينې ته ورسم نو په ځان کې بايد فروتني زياته کړم او له بل سره په ګډ ژوند کې خام کار ونه کړم بلکې د فکر له مخې بايد چلن ورسره وکړم. احساس مې دا دی چې د تېر په پرتله ځواکمنه شوې يم، خو اوس هم کله ناکله داسې پېښېږي چې د کمزورتيا احساس کوم. په ګُلي توګه، د بدلون جريان صبر، زغم او ځواک ته اړتيا لري. بايد تل د ودې، او پرمختګ په اړه فکر وشي او په هغه تګلاره کې يو څوک روان شي.

زياتره خلک رانه پوښتي چې آيا غواړې ولسمشرۍ ته نوماند شې. زه يې په ځواب کې وايم، چې نه هېڅکله نه. ځکه له سياست سره هېڅ مينه نه لرم او تېرې لس کلنې تجربې زما دا خبره نوره هم ريښتيا کړې چې سياست زما لپاره نه دی. د باراک له ولسمشرۍ وروسته په ځينو ځايونو کې داسې خبرونه اورم چې وضعه مې خرابوي. د اوسني ولسمشر يعنې ډونالډ ټرمپ چلن او د ده سياسي برنامې ډېرې ګډې وډې دي چې زياتره امريکايانو اوس پر ځانونو شک کړی چې څنګه يې ده ته رايه ورکړې.

ده د باراک زياتره سياستونه ګوښه کړي، د هېواد ډېر نژدې اقتصادي شريکان يې له ځانه لرې کړي او د ټولنې پر زيارګښو خلکو يې ملنډې وهلي. خو ښکاره نه ده چې څه موخه لري.

خو زه هېڅکله نه غواړم چې پر بدبينۍ اخته شم. په ډېرو بدو وضعيتونو کې هم هڅه کوم چې ژوره ساه وکاږم او هغه شريف انسانان ياد ته راولم چې په ژوند کې مې ليدلي او ځان هيله‌منه کړم چې ستونزې او خنډونه به له منځه لاړ شي. موږ د ديموکراسي او د خپلو رايو پر ځواک بايد باور ولرو.

ما چې کله په يوکليد سړک کې په خپل اپارتمان کې ژوند کاوه نو تل مې خوشبيني احساسوله. ځکه خوشبيني مې د خپل پلار په چلنونو او فکرونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدله، کله به یې چې ګُنګ واهه، ویل به یې چې ستونزه نه لري، خپلې ناروغۍ ته یې هم چندان پام نه کاوه. خوشبیني مې په مور کې هم لیده. کله به چې زموږ ګاونډیانو کډې کولې او بل ځای ته به تلل، مګر دا به په هماغه کور او هماغه سیمه کې پاتې کېده. همدارنګه زما او د باراک په پیوند کې هم خوشبینۍ ونډه درلوده او له ما سره یې مرسته وکړه چې پر خپلو شکونو او تردیدونو غلبه وکړم، پر باراک ایمان ولرم چې ښه خاوند راته واوسي.

ما د لومړۍ مېرمنې په توګه، خوشبیني په بېلابېلو ځاینو کې په خپلو سترګو لیدلې. د والټر رید روغتون په زخمي سرتېري کې چې د خپلې خونې پر دروازه یې لیکلي وو زه ده چا زړه سوي ته هېڅ اړتیا نه لرم او ډېر ژر به ورغېږم او جګړې ته به ورستون شم. یا دا چې خوشبیني مې د کلوپاترا پندلتون په وجود کې هم ولیده چې د لور مړینه یې پر مبارزې تمامه شوه او د وسلو د نه پېر او پلور د قانون د تصویب لپاره یې زمینه برابره کړه. همدارنګه له هر څه نه زیاته خوشبیني مې تل د ماشومانو په روح او روان کې لیدلې. هغوی چې کله هر سهار له خوبه راپاڅېږي نو خوشبینه وي، هیلې لري او خپل فعالیتونه کوي. نو موږ هم باید د دوی په خاطر هیله‌من واوسو او خپلې ودې او خپل پرمختګ ته باید ادامه ورکړو.

اوس زما او د باراک تابلوګانې په ملي موزیم کې شته چې زه پرې ویاړم. هر څوک چې زموږ د ماشومتوب ژوند ته وګوري نو ناشونې به وي چې وړاندوینه وکړي چې یوه ورځ دې زموږ انځورنه په دې پرتمین تالار کې راځوړند شي. هر ماشوم چې دا تابلوګانې ویني نو هېروي چې یو څوک دې په تاریخ کې د تلپاتې کېدلو لپاره ځانګړې څېره ولري.

زه عادي او معمولي مېرمن یم چې له حیرانتیا ډک ژوند مې تېر کړی او هیله لرم چې زما د ژوند کیسه د دې لامل شي چې نورو ته تر یوې کچې پورې لاره هواره کړي. ما ډېر ښه چانس درلود چې په آیووا کې به د خلکو کورونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتلم او هڅه به مې کوله چې له نورو سره اړیکه ونیسم. وروستۍ خبره مې دا ده چې راځئ د پوټکي د رنګ او نژاد او داسې نورو څخه پرته یو بل ومنو، د یو بل په اړه قضاوت راکم کړو او خپل تعصبات لرې کړو. تل هڅه وکړئ چې پر ځان باور ولرئ، ډاډه واوسئ، ځواکمن شئ، مخ پر وړاندې لاړ شئ او خپله کیسه ووایئ او په بزرگوارۍ د نورو غږونه واورئ. څه چې اوس یم له همدې لارې دې مقام ته رسېدلې یم.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library